د

# امام رباني

## ژوند ، خدمتونه او لاربسوونې

ليکنه

داسلامي نړۍ دنامتو ليکوال

مولیناسیدابوالحسن علي ندوي

ژباړه

محمد وزير حامد

مل :

په افغانستان کې دمجددصاحب کورنۍ

www.abulhasanalinadwi.org

## کتاب پېژند نه

دکتاب نوم : دامـام ربانـي ژوند، خـدمتونه او لارښـوونـې

ليکوال : مـولينا سيد ابوالـحسن علي نـدوي

ژبـــاړه : محـــمد وزيــر (حـــامـــد)

کمـــپوز : محمد ابراهيم نبيل محمداکرم نعماني

دچاپ کال : ۱۳۸۳ ل غبرګولی - ۲۰۰۴ م جون

دچاپ ځای : لاهـــور - پـــاکـــستان

خپـرونـکي : نفيس علمي ټولنه اکوړه خټک دارالعلوم حقانيې ته

مخامخ د سيد احمدشـهيد مکتبي خواته ت : ۰۳۳۳۵۱۹۹۰۸۸

بـــيـــه: ۹۵ روپــی

د موندلو درکونه: پيښور- سرحد بک ايجنسی خيبر بازار، دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي ، مکتبه روضة القران، مکتبه رشيديه قصه خواني، مکتبه سيد احمد شهيد اکوړه خټک، بحرالعلوم مدرسه ميرانشاه.

دزباري دبياخپرولوحق ټولنه له ځان سره خوندي بولي

www.abulhasanalinadwi.org

# د امام رباني

ژوند، خدمتونه او لاربسوونې

www.abulhasanalinadwi.org

بسم الله الرحمن الرحيم

www.abulhasanalinadwi.org

## ډالۍ

زما د هغې ارمانجنې ..... اروا تــه !

چې د نوي ژونـــد په لومـــړي پســرلي

کـــې ځوانیمرګه شوه (!) .

www.abulhasanalinadwi.org

## د خــــپروندویې ټولنې یادښت

څومره چې دنړۍ مسلمانې پرګنې په اصطلاح دننې نړۍ دعصریت ودې او پرمختګ په میدانوکې مخ په وړاندې ګامونه اخلي؛ وینو چې هومره دوی اوله دوی څخه زیات ددوی اولادونه له دیني شعایرو سره نابلده کیږي. دخپلو اسلافو لاره پریږدي اوګام په ګام دخپلو اسلامي ارزښتونو په وړاندې خپله بې اعتنایي او لاپروایي ښيي. له بده مرغه زمونږ په مسلمانه ټولنه کې اوس دغه څورونکی چاپیریال ورځ تر ورځ برلاسی مومي اوداندیښنه یې راولاړه کړې چې ددوی د ایمان، معتقداتو اوروحاني ارزښتونوددښمنانوشومي ارادې، نقشې اوموخې خدای مکړه پرې ریښتیني شي.

ددی دپاره چې په دغسې حساس پړاو او له ټولونه په ترخو او ستونزمنو شیبوکې مو خپل ځوان کول ـ نارینه اوښځینه دواړه ـ دخپل دین له غوښتنو خبر شوي وي . په ذهني اوعلمي لحاظ دنامسلمانې نړۍ له مصنوعي اغیزو او چپاو څخه خوندي ساتل شوی وي دهمدې څورله امله د نفیس علمي ټولنې د بنسټ ډبره کیښودل شوه ـــ خدای ﷻ دې استقامت، له ښه نیت سره یوځای وړیه برخه کړي ـ .



www.abulhasanalinadwi.org

نفیس تولنه چې ناپیبیلي ،ازاده دیني، علمي، فرهنګي او ادبي تولنه ده اراده لري ـ که دخدای ﷻ مرسته یې په برخه وه ـ خپل ویر لړلي ولس ته داسلام د نامتو پوهانو اوعلماوو مسلکي لیکنې اوغوره تالیفات له نورو ژبوڅخه په پښتو وژباړي اوچاپ یې کړي او پښتو چې دامهال یې لمن لهٔ ناولون، کیسو، اکسیرونو، سفرنامو، شعرونو، غزلونو او .... له ګلانوڅخه ښه ډکه بریښي: دیني برخې ته یې لکه څرنګه چې خدمت په کار وُ، ونه شو، ښایې لاملونه به یې ډیر وي چې راسپړل یې بې ګټې او تریخ تماميږي. خوپه هرحال : دنفیس علمي تولنه له تاسې سره ژمنه کوي چې په دې برخه کې به له خپل وس اوتوان سره سم خپلې هڅې ونه سپموي او یا په بله مانا دکار مرکزي ټکی به یې همدا وي .

داپه لاس کې ژباړه مودهمدې هڅو یوه بیلګه ده چې داسلام دیوه ستر بلونکي اود لار ورکو دستر لارښود ژوند پانه پرانیزي، دده دژوند داستان، خدمتونه اولارښونې بیانوي، دتجربې خبره ده چې ددغو ډول لیکنو لوستل په ذهن اوعمل دواړو ډیر ښه اغیز پرې باسي، له دې پرته دوحدةالوجود او وحدةالشهود بحثونه هم ځیري چې دژبې له ساده والي اوروان والي سره سره ددې ژباړې یوه خانګړتیاداهم ده چې ژباړن یې خپل یاد ښت دخدای ﷻ دنازولې پیغمبر ﷺ دروضې مبارکې خواته لیکلی .

دیادولو وړه ده چې تولنه به مو ـ که خدای کول ـ په نزدې راتلونکې کې په نورو ډیرو ګټورو ژباړو ونازوي چې په تلو تلوکې یې د یوڅو نومونه چې دامهال چاپ ته تیار دي دریادوو!



www.abulhasanalinadwi.org

۱ ـ تعلیم الاسلام : پښتوژباړه چې د " دیني ښوونې " په نامه به خپور شي داکتاب د ماشومانو، نجونو اونویو ځوانانودپاره ددیني ښوونو او املاء زده کولو ترټولو غوره اثر دی.

۲ ـ دیني ښوونه : دسړیو او میرمنو دپاره دغه کتاب د افغانستان څو تنو علماوو په ګډه لیکلی دعقایدو، عباداتو. اخلاقو درې جلا ګټورې برخې لري، ټولنه به یې ستاسې مخ ته له نویو ګټورو زیاتونو اوسمونو سره یوځای ږدي.

۳ ـ اسلام اونوی اقتصاد : دغه کتاب دنړۍ دنوي اقتصاد اوسوداګرۍ په هکله د اسلام داسې لارښوونې بیانوي چې په اوسنې وخت کې یې پلی کول اسانه دي، چې دامهال د پاکستان ددیني مدارسو په نصاب کې داخل شویدی.

دغه څیر دنورو ګټورو کتابونو په ژباړه کار روان دی، اوس دا ترتاسې پورې اړه لري چې دغه غریبه ډیوګۍ چې لاهم دشیشې شال نه لري څومره په خپلولورینو، رغوونکو لارښوونو ځلانده اوبله ساتی.

سوکاله اونکمرغه اوسئ.

دټولنې له خوا.



www.abulhasanalinadwi.org

بسم الله الرحمن الرحيم

# د سرېزې په نامه يوڅو کرښې!

ښاغلی مولوي صاحب رحيم الله زرمتی *

اسلامي نړۍ په کال ۱۴۲۰ هـ ق د روژې مبارکې په وروستۍ لسيزه کې د الله تعالی ديوه پاک مقبول اومسعود بنده له برکتونو، فيوضاتواوعلمي رڼا څخه بې برخې شوه؛ اوپه دې توګه داسلام پياوړی قلم دصدق او اخلاص له ګوتو ولويده ﴿ إنالله ...... ﴾ ؛ هغه قلم داسلامي نړۍ دستري علمي هستۍ اوکامل انسان علامه حضرت مولانا سيد ابوالحسن علی ندوی رحمه الله تعالی عليه و ؛ هغه مکرم بنده چې ټول ژوند يې د الله تعالی دين ته رابلنه او دعوت و، دغه بې بديله هستۍ دهندوستان لکهنو ته نږدې په خپل پلرني کلي (تکيه کلان رای بريلي) کې د۱۴۲۰ هـ ق دروژې مبارکې په وروستۍ لسيزه کې چې د۱۹۹۹ م کال د دسمبر ۳۱ مه نيټه اود جمعې مبارکه ورځ وه له لمانځه نه مخکې دسورت ياسين شريف په تلاوت کې دغه مبارک ايت ته رسيدله ﴿ إنماتنذر من اتبع الذكر وخشي الرحمن بالغيب فبشره بمغفرة واجر كريم ﴾ چې دخپلې سپېڅلې ساه امانت يې دهغې اصلي څښتن رب العلمين ﷻ ته وسپاره او د "رفيق اعلی" په مقصد يې سفر پيل کړ.

---

* دغزني دنورالمدارس مدرسې فاضل او د دعوت اوجهاد پوهنتون پخوانی استاذ

www.abulhasanalinadwi.org

څرنګه چې دی مرحوم یوه علمي پیژندل شوي څیره وه، اسلام ته دبلنې اودعوت غږ یې په ټوله نړۍ کې خور؛ عربو اوعجموته رسیدلی و ، ډیرو بختورو انسانانو یې له برکت، پوهې او اخلاص څخه ګټه واخیستله ؛ زمونږ په افغاني ټولنه کې یې که څه هم زیات شهرت نه دی لرلی خو داخبره ټوله نړۍ مني چې حضرت مولانا ندوی صاحب له هغو کم شمیره دردمندو، خواخوږو اومخلصو علماوو څخه وچې دعلم، ورع اوپرهیزګارۍ، اخلاص اوپیرزونې، میانه روي او سالم فکرله ځلاندو صفتونو سره سره داسلامي اُمت په بده ورځ اونادودو ډیرزیات غمجن ورحمه الله تعالی دده په روڼ، له معرفت اومعنویت څخه ډک زړه کې د اسلامي نړۍ دهر کونج اوهرې پیښې د دردونو، ستونزواوکړاوونو په هکله یورنګه درد، خواشیني او خوا خوږي پرته وه .

خدای ببنلی"ندوي صاحب " چې دهندوستان په علمي ټولنوکې په "علي میا" شهرت درلود، د ۱۳۳۳ هـ ق د محرم الحرام په شپږمه د هندوستان د لکهنو ولایت د"رای بریلي" په کلي کې دسیادت او علم په کورنۍ کې زیږیدلی دی، دده پلار حضرت مولانا عبدالحی الحسني"رحمه الله تعالی" هم دهندوستان د مشهورو علماوو او مولفینو څخه و چې مشهور تالیف یې "نزهة الخواطر"دی،دده دنسب لړۍ دحسني ساداتو کرامو له مولانا قطب الدین المدني"مړ ۶۷۷ هـ " سره : کېږي: کورنۍ یې له عراق څخه دغزني په لاره هندوستان ته راغلې ده: مولانا ندوي صاحب لومړنۍ اومنځنۍ زده کړې دهندوستان په بیلوبیلومدرسوکې ترسره کړې ورووستنۍ زده کړې یې د هندوستان په مشهور دارالعلوم "ندوة العلماء"کې بشپړې کړې، نوځکه دی اودهغه دارالعلوم فارغان ځانونه ندوي بولي؛ دهندوستان په مشهوروعلماوو کرامو کې چې ده علمي ګټه او ربړا ورڅخه اخستې ده یودندوة العلماء شیخ الحدیث مولانا حیدرحسن صاحب، بل مولانا حسین احمد مدني دديوبنددمشهور دارالعلوم شیخ الحدیث ،دده په احادیثو کې استاذان وو.

www.abulhasanalinadwi.org

د اسلام د دین داسې لویو رجالو او بزرگانو دمرحوم مولنا ندوي صاحب په علمي او عملي ژوند ډیره اغیزه کړې وه ؛ هغه دیني کارنامې چې دی په خپل ژوندکې په هغو بریالی شویدی ددغو بزرگانو د هڅو اودعاگانو له برکته به یې گڼله . دعربي ژب پوهنې استاذان یې شیخ خلیل صاحب او حضرت تقي الدین هلالي صاحب وو، دوی ندوي صاحب ته په عربي ژبه دلیکنې لاره په لومړي ځل خلاصه کړې وه ؛ دده په کورنۍ روزنه کې دده مور بي بي چې ډیره بیداره اوله صالحاتو څخه وه اودده مشر ورور ډاکټر عبدالعلي صاحب درنه ونډه اخیستې وه چې مولنا ندوی صاحب مرحوم به یې د ژوند ترپایه پورې ځان د دواړو داحسان پوره وړۍ گاڼه .دده مرحوم په ژوندلازیاته اغیزه دده دمرشدحضرت مولناعبدالقادر رای پوري صاحب او مولانا غلام محمددین پوري صاحب اوهم دتبلیغي جماعت بنسټ ایښودونکی حضرت مولنا محمدالیاس صاحب اودهغه زوی حضرت مولانا محمد یوسف صاحب او شیخ الحدیث حضرت مولانامحمدزکریا صاحب برکتي مجلسونو، نصیحتونو اودعاگانو کړې وه ، نوځکه یې وکولای شول چې له خدای ﷻ ورکړي لوړ استعداد څخه د اسلام دخدمت په لاره کې بې ساري گټه پورته کړي .

مرحوم ندوي صاحب په ١٩٣٤ م کال په ندوة العلماء مدرسه کې د استاذ په توگه وټاکل شو، یوخو دده دهغه اخلاص او اسلامي درد په برکت چې درلود بې اوبل په عربي ژبه دلیکلو دده غښ استعداد او پیاوړی قلم چې الله تعالی ﷻ د اسلام دخدمت دپاره وربښلي و، له دغه قلم اواستعداد څخه اسلامي امت دومره گټه واخیسته چې دده د وخت له نورو لیکوالانوڅخه به چانه وي اخیستې .ده د دعوت دلارې په ادامه کې داسلام ویاړمن خدمتونه ترسره کړي دي چې په ١٩٦١ م کال کې د ندوة العلماء د نامتو مدرسي دناظم په توگه له ټاکیدل کیدو سره سره ددمشق دعربي ژبې دټولنې دغړي په توگه، درابطة العالم الإسلامي دشورى دغړي په توگه، دمدیني منورې دپوهنتون اودهندوستان دمشهورې مدرسې "دار

www.abulhasanalinadwi.org

العلوم دیوبند"دشوراګانو د غړي په توګه ، همدارنګه د مدیني منورې د پوهنتون او دمشق پوهنتون داستاذپه توګه یې خدمتونه ترسره کړي دي، له دې ټولوسره یې خپلې مدرسي "ندوة العلماء" ته زیاته پاملرنه کوله .

دده په نوم نړیوالې نقدي جائزې هم اعلان شوي دي چې ټولې یې دخیر په لارو کې لګولي دي دځان دپاره یې ګټه نه ده ورنه اخستې ، په ۱۴۰۰ ه ق کال کې دوه نیم لکه ریاله دملک فیصل مرحوم جائزه دده دپاره اعلان شوه چې نه یوازې دهغې د منلو دپاره یې دسعودي سفر ونه کړ بلکې یولک ریاله یې د افغان مهاجرینو دپاره اونیم یو لک نورې یې نیمایي د"الصولتية " مدرسي ته او نیمایې د"حفظ مدارس" منظمی ته اعلان کړې، بیاپه ۱۹۹۹ م کال کې د عربي متحده اماراتو حکومت څه دپاسه د سل لکو روپو جائزه دده په نوم اعلان کړه اودغه یې هم د مدرسو دپاره وقف کړی "رحمه الله تعالى "

دده مرحوم دخپل عمر په ۳۲ کلنۍ کې لومړی عربي لیکنه هغه کتاب دی چې " ماذاخسرالعالم بانحطاط المسلمين "یې عنوان دی. دغه کتاب په عربي او عجمي ټولنوکې داسلام په هکله د درد یوځورږ پورته کړ اوداسې اټکل کیږي چې دده دغه عمل به الله تعالی ﷻ ته مقبول وي چې داسلام یومخلص اومنل شوي داعي یې د "راي بریلي" له ګمنامۍ څخه راویوست اوټول اسلامي امت دیوه ښه داعي اوبلونکي په توګه ومانه؛ ده پخپل وارسره په خپلوله درده ډکو ځوروليکنوسره اسلامي امت ته خپل هیرشوی سبق اوتاریخ ورپه زړه کړ، اوپه دې توګه یې ددعوت، تدریس او تصوف لړۍ دعالم اسلام له یوه سرنه تربل سره پورې وغزوله، مسلمانانو هم دده بلنې او دردمندغږ ته ښه غوږ ونیو اودیوه دردمن، مخلص اوسپیڅلي داعي غږ په توګه یې واوریده. عربي نړۍ ته یې ددوی په ژبه د زړه هغه درد چې داسلام په هکله یې درلود ورساوه اوهغوی ته یې ډیرڅه ولیکل، په تیره بیا هغه عربي هیوادونه چې

www.abulhasanalinadwi.org

دغرب له استعماري فکر څخه ډیر اغیزمن شوي دي هغوی ته یې داسلام پیغام په ډیر وضاحت، باور اوپوره جوش سره ورساوه .

هغه لیکوالان چې داسلامي بیداروالي په اړه یې لیکني کړیدي لاوس هم دده دعلمي اغیزي، اخلاص او احسان پوروړي بلل کیږي؛ دده په لیکنو او تقریرونو کې چې کوم اخلاص، اسلامي درد اوخواخوږي پرته وه دهغوله کبله به یې تندو اوسختو خبرو هم لوستونکي او اوریدونکي ځان ته راماتول . ده چې هرڅومره ترخې نیوکې په عربي نړۍ کولې له هغه سره سره په عربي نړۍ کې د واکمنو په وړاندې ترعجمي نړۍ ډیرعزتمن اوپه هغوی ډیرګران و؛ دده په لیکنوکې ډیرې ځلاندې او اغیزناکې چې زړونه یې ولړزول :

۱ ــ إسمعوها مني صريخة أيها العرب (عربو! له مانه یې سپینې واورۍ)

۲ ــ من غار حراء . ( د حــراء له غــار نــه )

۳ ــ ترشيد الصحوة الاسلامية .( داسلامي بیداري پالنه ) دي، هغه لیکنې چې ویده زړونه یې ویښ کړل، دفکر او عمل نیغې لارې یې وروښودلې .

دحضرت مرحوم ندوي صاحب لیکنې اغیزناکې،له ایمان، درد او فکر ورکوونکو معلوماتو نه ډکې دي چې زړونوته دایمان اویقین درس ورکوي، لوستونکې ته د علم، فکراودردبرسیره ددین اصلي تعبیراوتګلاره وربه ګوته کوي چې زمونږ د وخت دمشهورولیکوالانو(سلمهم الله تعالی) په لیکنوکې داسې سم اوپه زړه کیناستونکی تعبیر اوتفسیر ډیرکم لیدل کیږي، حضرت مرحوم ندوي صاحب د سیرت اوتاریخ په موضوع کې ډیرې لیکنې کړي دي چې مشهور یې ( تاریخ دعوت وعزیمت ) په شپږ ټوکه کې او ( نبي رحمت ) په یوه ټوک کې دی، دده دلیکنې لړۍ د وفات تروخته پورې روانه وه .

www.abulhasanalinadwi.org

دهغه لړليک لهمخې چې دده د ليکنو پيژندنې په هکله زبير طارق خپور کړی د غټواو وړو ليکنو شميريې يوسل او شپږ اويا(۱۷۶) ټوکو ته رسيږي. دغه ټولې ليکنې چې په هره موضوع کې دي د ورک شوي اسلامي برم اوعظمت په درد او يادو کې ډوبې دي، په ناصحانه بڼه اواسلامي فکرله سمسورتيا سره سره دپخواني اسلامي عظمت او شان يادونه تازه کوي اودهغه ساتندويه تاريخي زيرمه ګڼله کيږي ،دده داستاني ليکنې هم شته چې نه يوازې د افسانوي او طنزي هنر رنګ لري بلکې په لوړه علمي کچه يې تاريخ هم پکښې ځاي کړی دی؛ دده ليکنې د نورو ژبو پوهانو په خپلو ژبو وژباړلې اودخپلو هيوادونو فرهنګ يې پرې بډای او غني کړو . له بې قسمتۍ نه زمونږ دهيواد فرهنګپالو اوپوهانو په دغه هکله هيڅ پام لرنه نه ده کړې، الله تعالیٰدې مولوي صاحب محمد وزير حامد ته د دغې ژباړې ثوابونه او برکات ورکړي،ده د ژباړې لپاره داسې يوکتاب غوره کړی دی چې د ډيرو ليکوالا نو پام ورته نه و. استاذ فضل مولا لټون صاحب هم دده هغه لومړنی مشهور کتاب (ماذا خسرالعالم بانحطاط المسلمين)له اردوڅخه په پښتو ژباړلی دی، الله تعالیٰ دې خير ورکړي ،کاشکې چې زمونږ پوهان اوليکوالان دده ګټوروتاليفاتو ته پوره مخ ور واړوي، کيدای شي داهم دامام رباني حضرت مجددقدس الله سره يوبرالا کرامت وي.

ليکوال مرحوم دامام رباني حضرت مجدد قدس سره دجامع شخصيت علمي او روحاني اړخونه څلولي دي اودهغه تجديدي کارنامې يې په ډيرحکمت اوعلمي هوښياری سره داسې جوتې کړي دي چې ددغه کتاب له کتنې وروسته هرڅوک پوهيږي چې مجددچاته ويل کيدای شي؟ اومجددامام رباني په رښتيا سره مجدد و. مولف رحمه الله تعالیٰ ددغه لوړمقصدلپاره دحضرت مجدد قدس سره دوخت سياسي، علمي اوعقيدتي حالات څيړلي اوداخبره يې جوته کړې ده چې درسول الله ﷺ له وفات څخه يوزرکاله وروسته ديني ګډوډې، کمزوري او خرابتيا داسې کچې

www.abulhasanalinadwi.org

ته رسيدلې وه چې دپخوانيو امتونوله عادت سره سم به يو اولوالعزم پيغمبرﷺ مبعوث (تاكل)كيده خوځرنګه چې دحضرت خاتم النبيين ﷺ په بعثت سره دغه لړۍ يومخ پای ته رسيدلې ده، دده يوكامل پيرو اويومتبع ته ضرورت و چې دعلم، تقوی، عزم اوخيركتيا دپوره پانګې درلودونكی اوددين په بياتازه كولو كې ديواولو العزم پيغمبرﷺ پوره نيابت وكړي،اودهغه دنده په بشپړه توګه سرته ورسوي، ددغې ستري اودرندې دندې لپاره الله تعالیﷻامام رباني حضرت مجدد الف ثاني هستی غوره كړې وه.

دحضرت امام رباني صاحب قدس سره له نوم سره مسلمانان اشنادي اومينه ورسره لري خوپه هكله يې كم معلومات لري يايې بيخي نه لري دغه ژباړه به يې تنده ورماته كړي نوځكه د اهميت وړده. دنفيس علمي ټولنې چې له ماځخه يې دژباړې ددوهم ځل كتلو غوښتنه وكړه له خپل وس سره سم مې پكښې ګټورې زياتونې او لازمې سمونې راوستې په تيره بيا د وحدة الوجود په هغه كړكېچنه مسئله چې ددغې لارې له لارويانو پرته دبل هر نوي مزل كونكې دپښو ښويېدو ويره وي . نومړو له ماځخه دتيرې شوې غوښتنې برسيره دژباړې لپاره ديوې داسې ضميمې دليكلو غوښتنه هم كوله چې په افغانستان كې دمجدد صاحب د كورنۍ په اړه ګټوره نادر معلومات اودهيواد دسياسي سرنوشت په ټاكنه او اراضي تماميت او نورو ټولو اجتماعي علمي خدمتونو ددغې كورنۍ د مثبت او كارنده ونډې ځخه پرده پورته كړې چې په خپله ليكوال ددغې موضوع په اړه دځه ليكلو ځخه بې وسې له دې امله ښكاره كړې وه چې په دې هكله افغانانو داسې اثر نه لري چې ده ترينه استفاده كړې وای ځكه خوددغې ضميمې ليكنه به كه خدای‌كول دغه نيمګړتياځخه ناځه پوره كړای‌شی چې د كتاب خپرول يې هم ډيره موده وځنډول ،اوس نوله دوی ټولو ځخه په مننه تاسې ګران لوستونكې دكتاب لوستلو ته رابولم .

مولوي رحيم الله زرمتي

۱۳۸۲ لمريز كال دكب اوومه

www.abulhasanalinadwi.org

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د ژباړن یادښت

که دمجددالف ثاني شیخ احمد سرهندي " رحمه الله تعالی " کارنامو او هڅو ته ځیر شو بیځایه به نه وي چې ووایو مجددصاحب هم په خپل وخت کې د اسلام معجزه و، ځکه دهند په نیمه وچه کې چې د وخت پیاوړی څواکمن " جلال الدین اکبر " داسلام د له منځه وړلو لپاره کوم کارپیل کړی و اود "دین الهي" په نامه یې کومه فتنه ایجاد کړې وه که دهغې په وړاندې حضرت مجددصاحب نه وای دریدلی خدای مکړه:بیابه په دې پراخه سیمه کې دمسلمانانو نوغي نه وې پاتې شوې.

خوهمدامجددصاحب و چې دجلال الدین اکبر د" دین الـــهي" فتنې په وړاندې ودریده اوداسې ګټورې هڅې یې وکړې چې دده دهڅو په برکت د جلال الدین اکبر په کور کې د"عالمګیر اورنګزیب"په څیر نیک سیرته انسان پیدا شو چې داکبر بې دینه نظام یې له منځه یووړ او" اکبري فتنه"یې دتل لپاره ختمه کړه. څه موده پخوا مادده دژوندانه په اړه ګڼ شمیرکتابونه اوماخذونه له ډیرو ستونزو وروسته یوځای کړل؛ په نیت کې مې و چې د مجددصاحب په ژوند باندې یوه کوچنۍ رساله په پښتو ژبه ولیکم،داټول کتابورت مجدد صاحب دژوندپه اړه تفصیلي معلومات پکې وکتل په دې کتابونوکې یویې هم دمولیناابوالحسن ندوي رحمه الله تعالی کتاب و.

دندوي صاحب کتاب مې ښه په غور سره مطالعه کړ. کتاب خورا دلچسپ او په زړه پورې و ډیرښه معلومات پکې و اوپه ډیر ښکلي ترتیب سره کښل شوی و. نوماهم خپله اراده بدله کړه. دتالیف اوتولونې ستونزوته مې زړه ښه نکړ او ددې کتاب ژباړه مې مناسب، غوره اوګټوره وبلله داکتاب دخدای ببنلي ندوی صاحب د اووه توکیز کتاب یو توک دی چې په عربي کې"رجال الفکروالدعوة " اوپه اردوکې" تاریخ دعوت وعزیمت " نومیږي. چې په ډیرو نورو ژوندیو ژبو ژباړل شوی اوڅوڅو ځله چاپ شوی دی.

دژباړې په هکله باید ووایم چې ماهڅه کړې څوداسې اسانه ژبه وکاروم چې عام فهمه وي اودهرچاد پوهې وړ وي اوهرڅوک وکولی شي ګټه ځنې واخلي، خو څرنګه چې داکتاب دیوه نومیالي اومخکښ صوفي ژوندلیک دی دتصوف مسائل اصطلاحات اوباریک الفاظ ځای په ځای پکې راغلي دي نوما هغه نه دي پښتو کړي ځکه که دیوې ژبې د اصطلاح لپاره مونږ دپښتو توري وکاروو نو هغه به نوی شی وي اواصلي معنی به افاده نکړای شي. بناء په ځینې ځایونوکې مې هماغه عربي یافارسي توري راخیستي اوپښتو کړي مې نه دي، بلکې په ځینې ځایونوکې عبارات اوجملې هم ګونګې ښکاري لکه د " وحدة الوجود" په بحث کې به تاسو ورسره مخ شی ځکه دا بحث خورا ژور اوډیر دقیق دی. له اهل فن نه پرته کم خلک پرې پوهیږي لکه لیکوال چې هم په خپله سریزه کې دې خبرې ته اشاره کړې ده.

خوداچې ژباړه دهیواد نامتو صوفي عالم اوتکړه لیکوال ښاغلي مولوي صاحب رحیم الله زرمتي له پیله ترپایه نه یواځې تکي په تکي کتلې بلکې په ډیرو ځایونو کې یې ګټورې زیاتونې اواړینې سمونې هم کړې په تیره بیا دوحدة الوجود په برخه کې چې زما دپوره ډاډ سبب وګرځیده. اوبیایې په خپلوګوتود ژباړې لپاره یوګټوره ضمیمه له ډیرو پلټنواوزیاتویاداشتونوڅخه ترتیب او ولیکله چې په افغانستان کې یې دمجدد صاحب دکورنۍ په هکله یوګټوراوغوره اثر بللی شو. داځکه چې نوموړي په کابل کې د

www.abulhasanalinadwi.org

مجددصیب له کورنۍ (دکابل حضرت صاحبان) سره ډیره موده نږدې پاتې شوی او دهغوی دروښانه علمي چاپیریال په سیوري کې یې وده کړې اودهغوی په لاس دجوړې شوې علمي سرچینې"نورالمدارس"څخه فارغ شوی چې له امله به یې که خدای کول لوستونکي دموضوع په نګه والي کې له هیڅ ډول شک اوتردید سره مخ نشي زه یې ددغولورینوله امله ځان پوروړی ګڼم اوله دعاوو پرته بل داسې څه په لاس کې نه لرم چې دده پور پرې اداکړای شم.

اودایادونه ضروري بولم چې ژباړه به ډیرې کمزورتیاوې لري خوبیاهم د خوارې پښتولپاره یوه کوچنۍ هڅه ده، ځکه پښتو نن مهال ډیره وروسته پاته ده،نن په سیمه کې خورا ډیرې کمزورې ژبې د ژوندیو ژبوپه لیکه کې ولاړې دي .هغه خلک چې یو وخت یې په دې سیمه کې؛ مونږ استادان وو دوی زموږ سیپارې ویلې نن په مونږ پورې خاندي اوزه وایم چې د خندا حق لري ځکه دوی خپلې وروسته پاته ژبې پرمخ بیولې او بډایه کړې یې دي اودخپلو ژبو لمنې یې له علومو او فنونونه ډکې کړې دي اومونږ له ځینې شعرونو اویوڅه غربې ډوله ناولونوپرته نورڅه لرو؟په پای کې د نفیس علمي ټولنې له خوږو ملګرو محترم مفتي حبیب الله (قاسمي) او محترم محمد اکرم ( نعماني ) نه دزړه له کومې مننه کوم چې دکتاب د کمپوز اوچاپ ټولې چارې دوی په غاړه واخیستې .

محمد وزیر ( حامد )

مدینه منوره دروضې مبارکې خواته

د محرم الحرام اوله ـ کال ۱٤۲۵ هـ ق .

www.abulhasanalinadwi.org

# لیکلر

سرلیکونه　　　　　　مخ

دسریزې په ځای ........................ ۸
د ژباړن یادښت ........................ ۱۴
لیکلر ........................ ۱۷
دلیکوال سریزه ........................ ۲۵

## لومړۍ برخه

## اسلامي نړۍ په لسمه پیړۍ کې
## د لسمې هجري پیړۍ دتاریخي مطالعې اهمیت

۳۷ ــــ ۸۵

دلسمې پیړۍ سیاسي حالت ........................ ۳۸
دلسمې پیړۍ مذهبي ........................ ۴۳
دلسمې پیړۍ علمي حالت ........................ ۵۳
ذهني ناارامي او اعتقادي ګډ وډي ........................ ۵۹
د ناارامي او ذهني ګډ وډي اسباب ........................ ۷۳
مهدویت ........................ ٦۸
دلسمې پیړۍ لویه فتنه ........................ ۷٦

## دویمه برخه

## د اکبرد حکومت دوه متضاد دورونه

۸۵ ــــ ۱۳۱

د اکبرمذهبي ژوند ........................ ۸۵

www.abulhasanalinadwi.org

د اکبر په مزاج کې بدلون ........ ۹۱
دمذاهبو څیړنه اودمناظرې مجلسونه ........ ۹۲
د اکبر د مزاج ........ ۹۷
درباري علما درباري علما ........ ۹۹
سلطنتي غړي ........ ۱۰۳
ملا مبارک اودهغه زامن ........ ۱۰۴
د راجپوت ملکو اغیزه ........ ۱۱۳
داجتهاد او امامت محضر ........ ۱۱۴
محضر ته یوه کتنه ........ ۱۱۵
دمخدوم الملک ........ ۱۱۶
د دویمې زریزې له پاره تیارى ........ ۱۱۷
د اکبر د دینې ........ ۱۱۹
اورنمانځنه ........ ۱۲۰
لمرنمانځنه ........ ۱۲۰
دګنګااوبه ........ ۱۲۱
تصویرایستل ........ ۱۲۱
دعبادت وختونه ........ ۱۲۲
تعظیمي سجده ........ ۱۲۲
بیعت اوارشاد ........ ۱۲۲
روژه ........ ۱۲۳
له هجري تاریخ څخه کرکه ........ ۱۲۳
غیر اسلامي جشنونه ........ ۱۲۳
د زکات دمنعه کولو فرمان ........ ۱۲۴
هندو موحد دي ........ ۱۲۵
دغوښې خوراک ........ ۱۲۵
خوک ........ ۱۲۶
شراب څښل ........ ۱۲۶
دهندوانو رسم ........ ۱۲۶

www.abulhasanalinadwi.org

دالهي سنې اجراء ........................ ۱۲۷
داسلام سپکاوی ........................ ۱۲۷
د اسراء او معراج سپکاوی ........................ ۱۲۸
د نبوت دمقام اهانت ........................ ۱۲۸
له نبوي نوموښو څخه کرکه ........................ ۱۲۸
دلمانځه منځه کول ........................ ۱۲۹
داسلام په ارکانو پوري ملنډې ........................ ۱۲۹
دهند داسلامي تاریخ خطرناک کړلیچ ........................ ۱۲۹

## دریمه برخه

### د حضرت مجدد الف ثاني د ژوند حالات له پیدایښته تر خلافته

### ۱۳۲ ــ ۱۵۶

کــورنی ........................ ۱۳۲
حضرت مخدوم شیخ عبدالاحد ........................ ۱۳۸
پیدایښت اوډژوند حالات ........................ ۱۴۳
زوکړه او زده کړه ........................ ۱۴۶
دسلوک روزنه ........................ ۱۴۶
دحضرت خواجه باقي بالله نه ........................ ۱۴۸
دحضرت مجدد دلوړې مرتبې ........................ ۱۵۶

## څلورمه برخه

### مهمې پیښې اوحالات ارشاد او تربیت او وفات

### ۱۵۷ ــ ۱۹۰

دسرهند استوګنه ........................ ۱۵۷
دلاهور سفر ........................ ۱۵۸
دتبلیغ او دعوت پراخې ........................ ۱۵۹
دوخت دسلطان ........................ ۱۶۲

www.abulhasanalinadwi.org

دګواليار دبندي کيدلو.................. ۱٦۵
دګواليار په کلاکې نظربند کيدل........... ۱٦۸
د ګواليار په بند کې يو سفي سنت.......... ۱٦۹
په بنديخانه کې نعمتونه او خوندونه........ ۱۷۰
له باچا او شاهي لښکر سره ملګرتيا......... ۱۷۲
په جهانګير باندې اغيز.................... ۱۷۴
د مرګ نږدې والی او هغه ته تياري.......... ۱۷۵
د حضرت مجدد صاحب عادات.............. ۱۸۰
مبارکه خيره............................. ۱۸۷
دحضرت مجدد صاحب زامن................ ۱۸۸

## پنځمه برخه

## دحضرت مجدد تجديدي دائرې مرکزي ټکي په محمدي نبوت باندې دايمان او باورې تجديد

۱۹۱ ــ ۲۲۳

دحضرت مجدد تجديدي کارنامه............ ۱۹۱
د محمدي نبوت په ابديت............... ۱۹۴
عقل او کشف.......................... ۱۹۸
اساسي پوښتنې........................ ۲۰۰
دمحض عقل او......................... ۲۰۰
د نړۍ د جوړونکي...................... ۲۰٦
دالله ﷻ په پيژندنه.................... ۲۰۷
ددينې حقائقو په....................... ۲۱۳
دنبوت او عقل لارې سره................ ۲۱۴
دعقل خالص او تکه کيدل................ ۲۱۵
اشراقيان اونفسي صفايې................ ۲۱۹

www.abulhasanalinadwi.org

شیخ الاشراق .......................... ۲۲۱
عقل او کشف دواړه..................... ۲۲۶
دانبیاواوفلاسفه و...................... ۲۲۶
له بعثت پرته ریښتوني تزکیه.............. ۲۲۹
دانبیاو د بعثت اړتیا او دعقل.............. ۲۲۹
بعثت دخدای ﷻ د ذات.................... ۲۳۰
سهي ترتیب............................ ۲۳۲
دانبیاو درسالت.......................... ۲۳۳
دانبیاو خبرې دعقل...................... ۲۳۲
له عقل مخالف اوله عقل ماوارء........... ۲۳۴
د خدای ﷻ دتعظیم طریقه................. ۲۳۴
څرنګه چې دعقل مرتبه.................. ۲۳۵
دنبوت مقام............................ ۲۳۶
په ټولو مخلوقاتو کې..................... ۲۳۸
خلکو ته توجه کول دانبیاو................ ۲۳۹
دنبي باطن له حق سره.................... ۲۳۹
ددې خبرې تردید چې..................... ۲۴۰
دولایت کمالات د نبوت په پرتله........... ۲۴۲
دعلماوودعلومو او........................ ۲۴۲
دانبیاو عظمت دنبوت لامله دی............ ۲۴۳
په غیب ایمان دانبیا...................... ۲۴۴
دشریعت مرسته دعقائدو اصلاح............ ۲۴۵
دسنتو رواجول او........................ ۲۵۸

## شپږمه برخه

## وحدة الوجود که وحدة الشهود؟

## ۲۶۶ ـ ۲۹۲

شیخ اکبر محیی الدین ابن عربي............ ۲۶۶

www.abulhasanalinadwi.org

شیخ الاسلام ابن تیمیه ........ ۲۷۰
دوحدة الوجود دعقیدې ........ ۲۷۲
په هندوستان کې دوحدة الوجود ........ ۲۷۵
شیخ علاء الدوله سمناني ........ ۲۷۶
وحدة الشهود ........ ۲۷۷
یوه نوي تجدیدي شخصیت ته ........ ۲۷۸
د مجدد صاحب زیاتو ته ........ ۲۸۰
ذاتي تجربه او مشاهده ........ ۲۸۰
شهودي توحید ........ ۲۸۳
د شیخ اکبر په اړه ........ ۲۸۶
دوجودي توحید دمخالفت اړتیا ........ ۲۸۷
دمجدد صاحب خانګړتیا ........ ۲۹۰
له مجدد صاحب نه وروسته ........ ۲۹۱
حضرت سیداحمد شهید ........ ۲۹۲

## اوومه برخه

## له اکبر نه تر جهانګیر پورې دسلطنت سمې لارې ته په راوستلوکې دده پټې هڅې

## ۲۹۳ _ ۳۴۷

داکبراو جهانګیر د زماني میرنې ........ ۲۹۳
دجهانګیر په تخت کیناستل ........ ۲۹۷
دکار سمه طریقه ........ ۲۹۹
چې له زړه خیژي پر زړه لویژي ........ ۳۰۳
دسلطنت امیرانو په نومونو ........ ۳۰۴
تیرې شوې خطاوې ........ ۳۱۲
عقیدتمنو سلطنتي غړیو ته لیکونه ........ ۳۱۴

www.abulhasanalinadwi.org

دحالت په اصلاح کې ....................... ۳۱٦
په جهانګیر باندې اغیز ....................... ۳۱۷
دشاه جهان دور ....................... ۳۱۸
شهزاده دارا شکوه ....................... ۳۲۱
اورنګ زیب عالمګیر ....................... ۳۲۲
دحضرت مجدد دمخالفت ....................... ۳۳۲

## اتمه برخه

## دحضرت مجدد صاحب دوه ستر خلیفه ګان اودهغود پیرانو په ذریعه دده د تجدیدي کار پراخوالی او تکمیل
## ۳۴۹ ـ ۳۸۱

دمجدد صاحب مشهور ....................... ۳۴۹
حضرت خواجه محمدمعصوم ....................... ۳۵۰
حضرت سید ادم بنوري ....................... ۳۵۱
مجددیه معصومیه طریقه ....................... ۳۵۲
حضرت خواجه سیف الدین ....................... ۳۵۳
له خواجه محمد زبیر نه تر ....................... ۳۵٦
مرزا مظهر جان جانان ....................... ۳۵۸
مولانا خالد رومي ....................... ۳٦۰
حضرت شاه احمد سعید ....................... ۳٦۴
حضرت شاه عبدالغني ....................... ۳٦٦
احسنیه طریقه ....................... ۳٦٦
حضرت سید شاه علم الله ....................... ۳۷۱
شیخ سلطان بلیا وي ....................... ۳۷۳
حافظ سیدعبدالله اکبرابادي ....................... ۳۷۳
حضرت سید احمد شهید ....................... ۳۷۵

www.abulhasanalinadwi.org

حضرت مجدد صاحب کتابونه ............... ۳۷۸

## مل : په افغانستان کې د مجد د صاحب کورنی

## ۴۱۷_۳۸۱

د کابل دحضرت صاحبانو دکورنی شجره........۳۸۴
حضرت خواجه غلام قیوم صاحب ..............۳۸۹
د کابل حضرت صاحبان ..........................۳۹۱
حضرت شمس المشائخ ............................۳۹۲
حضرت نورالمشائخ ...............................۳۹۳
حضرت ضیاء المشائخ ............................۳۹۷
حضرت اغای گل صاحب .........................۴۰۰
حضرت محمدا سماعیل سرهندی...............۴۰۶
د حضرت صاحبانو دکورنی وروستی.............۴۱۴
پای.......................................................۴۱۷

www.abulhasanalinadwi.org

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ليکوال سريزه

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وخاتم النبين محمد وأله وصحبه أجمعين ومن تبعهم بإحسان ودعا بدعوتهم إلى يوم الدين .

غالبا د ۳۵ يا ۳۶ ع خبره ده چې ماته مې خپل روزونکې او مشر ورور د ندوة العلماء پخواني ناظم خداى ببنلي مولوي حکيم ډاکټر سيدعبدالعلي هدايت وکړ چې بايدامام رباني مجدد الف ثاني مکتوبات مطالعه کړم زماعمر په دى وخت کې له دوويشت يا درويشتوکلونونه زيات نه و اوتازه په دارالعلوم ندوة العلماء کې په تدريسي خدمت لګياشوى وم. دمعرفت او حقيقت دژوروضامينوله مطالعي سره ناآشنااودتصوف اوسلوک له اصطلاحاتو سره بيخى نابلده وم، په ذهن اوذوق باندې مې د ادب په ځانګړي توګه عربي ادب اوتاريخ واکمنى وه دمصراوبيروت دښکلو چاپخايونو ښائسته کتابونوله مطالعي سره عادت شوى وم محترم وروړچي دده دشفقت په لمن دتربيت په غيږکي مي وده کړې وه هم له دې حقيقته ښه خبر و خو شايد د اقبال په الفاظو يې ويل غوښتل چې :

جس گھر کا مگر چراغ هي تو — هي اس کا مذاق عارفانه .

www.abulhasanalinadwi.org

لیږ ترلیږه درې سوه کاله کیږي چې دحضرت مجددصاحب رحمه الله او حضرت شاه ولي الله له عالي کورنۍ سره زمونږ کورنۍ روحاني اوفکري تړاو لري زما دخدای ښېلي پلاردکتابونوپه ذخيره کې چې په کورکې محفوظ دی ددهلي داحمدي چاپځای چاپ شوی مکتوبات يوه نسخه وه چې درې دفترد لري محترم ورور ته داحترام او د هغه دخبرې په منلوسره مې دهغه مطالعه پيل کړه خوځوخله مې همت ځواب راکړ او کتاب به مې کيښود په ځانګړې توګه هغه مکتوبات چې خپل مرشدحضرت خواجه باقي بالله قدس سره ته يې ليکلي دي اوپه هغو کې يې خپل روحاني تجربات او پيښې بيان کړې دي زيات سخت وو اوزماهمت اوحوصله به يې راماته کړه. خووروربه مې په پرله پسې توګه راته ويل چې ته بايد"مکتوبات" دشاه ولي‌الله صاحب " إزالة الخفاء" دحضرت سيداحمدشهيد " صراط مستقيم " اودشاه اسماعيل شهيد "منصب إمامت" خامخا وګورې.اخرمې دهمت ملاوتړله اوددې ستونزمن کارسرته رسولوته تيارشوم غيرت هم راته ودريده اوجذبه هم چې ديوه مهربانه ورور په خبره عمل نشم کولای اويوداسې مبارک کتاب نشم مطالعه کولای چې لويولويوعلماو او مشانخويې په مطالعه وختونه تيرکړې دي اوپرې بوخت دي دخدای توفيق راسره مل شوځومره به چې مخته تلم زړه به مې ورسره لګيده اوله خپل وس او استعدادسره سم په کتاب هم پوهيدم.په اخرکې په خپله کتاب له لمنې ونيولم اودده په لوستلوکې مې دومره خونداولذت احساس کاوه چې په ډيرو ښوادبي کتابوکې مې نه وليدلې.

دځينې حيثيتو له کبله دا زمادژوندخورانازک دور و ځينې سخت ازماينښتونه او ذهني کشمکش مې په مخکې و خودې کتاب په دې نازکه مرحله کې ديوه کامل لارښودکار راکړ په ښکاره به مې احساوله چې زړه

www.abulhasanalinadwi.org

مې له ډاډ اواطمنان نه ډک دی چې غالباداډول د ډاډاحساس مامخکې چیری هم نه وکړی ، دا سفرچې محض د سعادت اواطاعت په موخه پیل شوی و اودامر منلو اوغیرت جذبی کار پکې کاوه په خورا ډاډ او خوشحالی سره پای ته ورسیده

څه موده وروسته مې د دویم ځل لپاره مکتوبات په دی نیت پیل کړځودده څپاره اومکرر مضامین له بیلو بیلوعنوانونولاندی رواړم ددی لپاره مې کتاب دمضامینو دیوه نوملیک(فهرست)دجوړلوکارپیل کړلکه دبیلګی په توګه دخالص توحید اودشرک د رد مضمونونه په کوموکوموځایونوکې راغلی دی دمکتوباتودنمبرو په حواله مې د هغو مخونه په یوه ځای نوټ کړل ، په رسالت اونبوت باندې په کوم کوم ځای کې خبری شوی دی دسنت اوبدعت په اړه خبری په کوموممکتوباتوکې راغلی دی دامضمون څوځایه راغلی چې بدعت حسنه هیڅ وجود نه لری ، په وحدة الوجود اووحدة الشهود باندې بحث په کومو مکتوباتو کې راغلی دی، په خالص عقل اوخالص کشف باندې تحقیقی مضامین په کوم کوم ځای کې راغلی دی ؟ اوداسی نورله څو اونیو هڅو وروسته پوره نوملیک تیارشو هغه مې دمکتوبات په هماغه نسخه کې کینبود چې بیادهغه په مرسته مضامینوته بیل بیل عنوانونه ورکړم خولکه چې هغه نسخه چادلوستلولپاره وړی وه اوبیابیرته لاس ته رانغله،نسخه خو بله هم پیداکیده ، خو دافسوس ځای داو چې ماکومې هڅې کړی وی په هغو هم اوبه تیری شوی اوهغه نوملیک ماپه ډیرو خواریوسره تیارکړی و ، وکان أمر الله قدرا مقدورا.

له دی نه څو کاله وروسته غالبا په ۴۵-۴۶کې دافکر راسره پیداشو چې مکتوبات دمضامینو اومطالبوپه لحاظ ترتیب شی اوهغه له یوه داسی نوي ترتیب اونوې تشریح سره وړاندی شی چې هغه دنوي نسل اونوي تعلیم دذهن

www.abulhasanalinadwi.org

لرونکي څوانانو لپاره د استفادې وړاوجالب وی اوله دی سره دمجددصاحب په تجديدی کارناماولوړ اجتهادي مقام باندې رڼاواچول شي نوپه دې التزام سره مې داکارپيل کړچې مخکې به يوتمهيدی مضمون وي په هغه کې به دراتلونکو اقتباساتو مرکزي فکر اودهغو علوماوتحقيقاتوغورچڼ پکې راځی چې له يوه عنوانه لاندې وې خوپه ټول مکتوبات کې څپاره وی بياله يوه معنوي ترتيب سره د مکتوبات اقتباسات وړاندې شي ، يوې خواته فارسي متن وی بلې خواته يې اردو ژباړه، بيا په حاشيه اولمن ليک کې دمشکلو الفاظو او اصطلاحاتو تشريح وي او بيادحديثو تخريج، بيادامت دعلماء او محققينوتائيدي مضامين وي، خودا کارډيرپراخه اوخورازيات اړخونه يي لرل داکار زماپه خيرکم عمره اوبوخت انسان لپاره ډيرمشکل و ځکه زه د تدريس، تصنيف اوتبليغ په دريو واړو لاروکې لګياوم نتيجه داشوه چې ترتوحيد، رسالت اونبوت پورې داکار ورسيده چې نوروبوختياو دنورکاراجازه رانه کړه خوکوم کار چې شوی و هغه هم ډيرګټور اوارزښتناک و. ددی مضمون څلور برخې محترم ملګري مولانامحمدمنظورنعماني صاحب په خپله مجله "الفرقان " ٦٦- ٦٧ هـ ٤٧-٤٨ ع کې خپرې کړي.

ددې کړی له پريکيدلو څو کاله وروسته چې کله د" تاريخ دعوت وعزيمت " لړۍ پيل شوه نودمکتوبات دنوي ترتيب اونوي خدمت په ځای دحضرت مجدد صاحب د ځانګړي سيرت اوژوندليک ليکلوفکرراسره پيداشوددی لړۍ په دريم ټوک کې د اتمې هجري پيړۍ دهندوستان ددوو نوميالیوشخصيتونو او روحاني مخکښانوسلطان المشائخ حضرت خواجه نظام الدين اولياء اومخدوم الملک حضرت شيخ شرف الدين يحی منيري دژوندحالات ليکل شوي وهغه دريم ټوک ترتيب شوی اوخپور شوی و نو ضروري وه چې دحضرت مجددالف

www.abulhasanalinadwi.org

ثاني سيرت ته پاملرنه وشي اوپه ده باندې د کتاب څلورم ټوک وليکل شی چې په دې دانقلابونوزمانه اوله فتنوډک دورکې د ځينې وجوهاتوله کبله دې ته زياته اړتياوه دحضرت مجدد دکارطريقه اوحکيمانه تګلاره روښانه کول چې په دې وخت کې څومره ضروري دي شايدبل وخت دومره ضروري نه و ځکه اوس خوخلک په لومړي ګام کې حکومتونه اولوی طاقتونه دځان دښمن وګرځوی اوپه خپله لاره کې بی اړتيا د مشکلاتو غرونه ودروي، اخرهغه کومه طريقه اولاره وه چې يوبې وزله فقير په يوه ګوښه کې ناست وخودسلطنت او هيواد تګلاره يې بدله کړه ؟ دې حقيقت ته دلومړي ځل لپاره زه دخپل محترم ورور په مجلسونواوخبروکې متوجه شوم بيامې دمولانا مناظر احسن ګيلاني هغه غوره او ولوله پاروونکی مضمون ولوست چې "الفرقان" د مجددپه نمبرکې راغلي و نوبيامې يقين پيداشو، په خپله ماپه خپلو ګنوعربي مضامينواو خطبو[1] کې داحقيقت څوځله څرګندکړی دی اوپه دې حقيقت باندې مې اطمينان اوقلبي ډاډ پسې زياتيږي .

خوچې کله دځانګړي سيرت او ژوندليک فکرراسره پيداشو نودوه خبرې به مې مخته خنډ شوی لومړی داچې دمجددصاحب له سيرت سره دوحدة الوجود فلسفه اود وحدة الشهودنظريه تړلې ده په هغوپوهيدل اوتشريح کول، علمي محاکمه اودلائل، تنقيدي بحث او وروستی ترجيح اواثبات له دې مباحثوپرته به دمجددصاحب سيرت نيمګړی وي خوچې ديخواته به مې فکرشو نوحوصلي

(۱) دبيلګې په توګه دليکوال هغه مضمون چې ده دقاهرې دجمعت شباب المسلمين په يوه استقباليه غونډه کې دمصردعلماء اودجامعه ازهر داستادانو په مخکې ويلی و اود (الدعوة الاسلامية فی الهند وتطورا تها ) ترعنوا ن لاندی په ځانګړی توګه چاپ شوی يادمدينی منوری داسلامي پوهنتون هغه تقريرچې د(منهج افضل فی الإصلاح للدعاة و العلماء ) په نامه خپور شوی دی .

www.abulhasanalinadwi.org

به مې ځواب راکړ اول خودا چې په دې موضوع باندې پوره کتابخانه تياره شوی ده چې دهغې تلخيص اوچڼ کول هم ګران دي، اوبله داچې په دې ژورو فلسفي مباحثو. مقدماتو اواصطلاحاتو له پوهيدلوپرته څوک نه شي کولای قلم پورته کړي اوبيادا علمي اوذوقي مسئله ده اوپه ذاتي تجرباتو اواحساساتو باندې ولاړه ده اوليکوال له دې کوڅې سره يومخ نابلده دی اودکتاب دلوستونکو لوی شميرهم له دی سره نااشنابلکې مينه نه ورسره لري نونه پوهيدم چې دا ستونزمن کاربه څنګه حل کوم. اوکه په کتاب کې دابحث رانه شي نو بيا خو ژوندليک نيمګړی پاتې کيږي څکه څينې خلک په دې انددي چې دمجددصاحب دتجديدي کاراصلي ډګر اودده دتجديدعظمت په همدې کې نغښتی دی.

زمادکاردويم خنډ داخبره وه چې په دې موضوع باندې دومره کارشوی او دومره زيات کتابونه ليکل شوی دي چې دمصنف لپاره په هغواضافه کول اود نوي کتاب جوازپيداکول ګران و. ترکومه ځايه چې دلومړی خبرې تړاودی نوله ډيرسوچ او فکر وروسته په ذهن کې دهغې حل پيداشو هغه داچې د" ما لا يدرك كله لايترك كله " په اصولومې عمل وکړ، دامسئله مې دشيخ اکبر د څينې همفکره پوهانوباوري علماو اوشارحينوله تشريحاتو اوپه خپله د مکتوبات په مرسته په دې ډول وړاندې کړه چې په هغه سره به لوستونکوته دانظريه په اجمالي توګه په ذهن کې ورشي بياچې څوک همت اوليوالتيالری هغه دې اصل ماخذته رجوع وکړي اويادې ددې موضوع له ماهرو علماو نه مرسته وغواړي چې په دې مسئله په علمي توګه خبروي اوعملايې ذوق لري و قليل ماهم . اوترکومه ځايه چې ددويم خنډخبره ده په هغه لړکې دعلامه اقبال يوه شعرلاربښوونه راته وکړه اودليکوال محدودي تصنيعي تجربې هم دهغه تائيد وکړاو دهغه لپاره يې شهادتونه پيداکړل دحقيقت ترجمان وايي:

www.abulhasanalinadwi.org

**گمان مبرکه بپایان رسیدکارمغان = هزارباده ناخورده دررگ تاک است .**

په حضرت مجددصاحب اودده په تجدیدکارنامه ډیرڅه لیکل شوي دي خواوس هم ډیرڅه لیکل کیدای شي اوډیرڅه لاپاتې دي، خودژبې او اسلوب ، دپو ښتنو اوحالاتو اودپوهولواوتعبیردلاروپه تبدیلي سره کله یوڅه پخوا لیکل شوي کتابونه داسې شي ته واپه بله ژبه لیکل شوي دي اواوس یې ژباړې ته اړتیا ده اوبیاله پیښو اوواقعاتونه پایلې اخیستل، داسبابو او پایلوپه منځ کې تړون پیدا کول، اوپه خپله زمانه دتطبیق کولوطریقه اولارې چارې؛ دهرلیکوال بیلې بیلې وي دلیکوال زړه ګواهي ورکوله چې که دا کارپه اخلاص اومحنت سره سرته ورسول شي نونه یواځې داچې بې ګټې به نه وي بلکې کیدای شي دخوارلسمې پیړۍ په ختمیدلودپنځلسمې پیړۍ لپاره ( چې ددې کتاب له خپریدلوسمدستي وروسته پیل کیدونکې ده ) یوه په زړه پورې تحفه، یوژوندبښونکې پیغام، او دالله ﷻ دیوه مخلص اومنل شوي بنده دداسې کارلپاره روښانه کوونکې وګرځي چې په ډیره خاموشي، تواضع اودمسکنت په حال کې یې پیل کړی و اوسرته یې رسولی و .

خو دهغه اغیزې له یوې پیړۍ واوښتې اوپه دویمه زریزه باندې خپرې شوي او زمونږ ددې پیړۍ لپاره هم چې ځمکه اواسمان یې بدل شوي دي د عبرت اوموعظت پوره سامان اوګټورمواد لري دبې وسه لیکوال قلم اوژبه دواړه دخدای ﷻ حضورته سرپه سجده دي اودحمداوشکر ترانه یې په خوله ده چې له اتلس کلن اوږده څنډه وروسته[1] یې لیکوال ته د "تاریخ دعوت

(۱) و اونوروموضوعاتوکې دی کارته ترجیح ورکړم اودخوورځو لپاره بایدخان دی کارته فارغ کړم خوداکاردومره اسانه نه و لکه فکر چې کیږی‌دموجوده عصر دغوښتنو، نو یوذهنونو، دبحث

www.abulhasanalinadwi.org

وعزيمت" دلړۍ دبياپيل کولواودهغه دځلرمې برخې دليکلودنيکمرغۍ .توفيق ورپه برخه کړ ،داځنډدومره اوږدشوچې په خپله ليکوال وويريده چې هسې نه دمرګ پيغام را مخته شي اودامهمه لړۍ ( چې دليکوال په کتابونو کې خدای ځانګړۍ مقبوليت ور کړي ) ناپوره پاتې شي.

څرنګه چې داځلرمه برخه له هغه عزتمن ذات سره تړاو لري چې د هغه ددين تجديد يوې خواته هغه شهرت اومقبوليت پيداکړي چې ددعوت او اصلاح په تاريخ کې ديوه داعي اومصلح هم نه دی په برخه شوی تر دې پورې چې دا لقب يې نوم وګرځيده او ډيرپوهه خلک يې دنوم په ځای له دې لقب سره ډير اشنادي (يعنی په دويمه زريزه کې چې ده ددين دتجديدکوم کارکړی و دهغه کارله توري (تجديد) نه دده لقب (مجدد) جوړشواوداکاردومره پراخه وبلل شو چې ديوې زريزي لپاره يې کارورکړنوځکه دی په مجددالف ثاني سره مشهور شو بل لورته دده تجديدي هڅو هغه برياليتوب ترلاسه کړ اوداسې څرګندې پايلې يې ورکړی چې داسلام ددعوت اوعزيمت په تاريخ اوددين دتجديداو احيا په تاريخ کې يې ساری پيدا کول ګران کاردي له دې امله په خپله زمازړه هم غوښتل اود (تاريخ دعوت وعزيمت) مطالعه کوونکوهم ټينګارکاوه چې دا برخه ژرتر ژره ترتيب کړای شي.

بلکې ډيرمخلصو دنظرخاوندانوملګرو او مشرانو غوښتنه اوحکم کاوه چې زه په تصنيفي بوختياو او نورو موضوعاتو کې دې کارته ترجيح ورکړم اوڅوورځو لپاره بايدځان دې کارته فارغ کړم خو داکار دومره اسانه نه و لکه فکر چې کيږي دموجوده عصر دغوښتنو،نويو ذهنونو، دبحث او تحقيق

---

اوتحقيق له نويومعيارونو سره سم داکافي اوبس نه و چې څه وليکل شي اوپه زړوتاريخونو اوژوندليکونو کې چې کوم مواد شته دی هغه له معمولی انتخاب اوتخليص سره وړاندی کړل شي.

www.abulhasanalinadwi.org

له نويومعيارونو سره سم داکافي اوبس نه و چې څه وليکل شي اوپه زړو تاريخونو اوژوندليکونو کې چې کوم مواد شته دي هغه له معمولي انتخاب اوتخليص سره وړاندي کړل شي.

مجددصاحب چې په کومه زمانه اوچاپيريال کې داتجديدي کارسرته رسولی دهغې زمانې علمې اوتاريخي، فکري اوسياسي، اخلاقي او اجتماعي او اعتقادي او کلامې طريقه مورخانه اوتنقيدي جائزي اخيستلوته اړتياوه،په هغه وخت کې کوموتحريکونو کارکاوه په هندستان اودهغه په ګاونډيو هيوادونوکې څه ډول ذهني اوديني نارامې روانه وه ؟

د اسلام اوشريعت په خلاف په عقلي اوعلمي کړيوکي دڅه ډول بغاوت نښي وي او دڅه ډول سازشونوتياری کيدلی داسلام په تاريخ کې دلومړي ځل لپاره د يوزرکاله پوره کيدو نږديوالی دبخت ازمويونکو په زړونوکې دڅه ډول اميدونو او هيلو ډيوې روښانه شوې وې اوپه دوه زړيوطبعيتونوکې څرنګه شکوک اوشبهات پيدا شوي و يوې خواته فلسفه اوعقلي علوم بل لورته اشراق اوباطنيت دنبوت اورسالت دعظمت اومقام ټيټولواوعقل اوتفلسف يا رياضت اومجاهده اونفس وژنه د الهي معرفت اونجات لپاره کافي بللوڅه ډول فتنی راپورته شوې وې دوحدة الوجود افراطي عقيدي څومره ازادي اوبې قيدي پيداکړې وه بلکې الحادي او زندقي د روازه يې پرانستی وه ؛ ؛ [1]

---

[1] د واوينو په منځ کې عبارت يعني له ... بی وسه ليکوال ... نه رانيولی تردی خايه پوری دا عبارت دمارچ په څلرويشتم کال ۱۹۷۸ء کې دمحترم مولوی معين الله صاحب ندوی نائب ناظم ندوة العلماء په تحريک اوهڅونه (چې د پيام انسانيت دختيځ پنجاب په دوره کې را سره ملګری وو ) دحضرت مجددالف ثانی له مزارسره نښتی خانقاه په جومات کې ناست و اوددی کتاب کارپيل شومصنف دتصنيف په اړه پيليزی خبری کولی او دسفرملګری اومرستيال مولوی

www.abulhasanalinadwi.org

دسنت اوشريعت اهميت دراسخينوعلماوپه کوچني تولي پورې محدودپاتې شو او يواځې دحديثوپه شروحوکې دسنت اوشريعت بيانونه پاتې وو. بدعتونو په ښکاره توګه اوکله خود ( بد عـــة حسـنـه )په نامه اوپرده کې په ټوله مسلمانه ټولنه اودهغوی په ژوند تسلط پيداکړی و او د"بــد عــةحســنـه" په خلاف هيچا اواز نشوای پورته کولای اوله ټولوزيات داچې داسلامي نړۍ دويم ستر سلطنت [1] اوپه هغه کې اوسيدونکې پراخه مسلمانه ټولنه دځوذاتی تمايلاتو، شخصي موخو، باندينواغيزو اوڅه موهوموسياسي ګټوپه اساس له مجازي دين، دمحمدي نبوت له پيروي اواسلامي تهذيب نه مخ ګرځوونکې وه اود هندي فلسفي. هندي تهذيب او "وحدت اديان " په لوري روانه وه.

اوپه دې هڅواوسازش کې دهغې زمانې ځينې ذهين اوخورا وړ افرادپه کار بوخت و اوپه وازکومې يې دانارې وهلې: نوی دورنوی ائين " نوې زريزه نوی امامت" ددې حالت دبدلولوڅه ډول هڅې شوي دې، ددې لپاره څه ډول کړنلاره غوره شوی وه، اوترکومه ځايه پکې بريالي شول بياپه يوه ګوښه ګوټ کې ناست سړي څه ډول دسړي جوړونې، روحاني تزکيې اوتربيت کارترسره کړچې په نتيجه کې يې دکارهغه غښتلي ځوانان تيارکړل چې دهندوستان په مختلفو مرکزونوکې ناست وو په افغانستان، ترکستان، او بياعراق، شام،

---

اسحاق جليس ندوی مرحوم (دتعميرحيات مدير) ليکلي . تيرکال مو داعبارت په دی سريزه کې شا مل اوتحليل کړ داصلی کتاب پيل کولوکاربياهم يونيم کال ورسته پيل شو. کتاب په نهم دذی الحجی ۱۳۹۹هـ ـ ۳۱ داکتوبر ۷۹ ع عملا پيل شو ددوو باندنيو سفرونو له کبله اوږده ځنډونه پيښ شول دتصنيف ټوله موده له دوه يادرې مياشتونه زياته نه ده .

(۱) له عثمانيه سلطنت وروسته د ساحي فوځي ځواک وسائلواو زيرمو له لحاظ هندو ستان د اسلامي نړي په نقشه کي ترټولولوي مسلمان سلطنت و چي پولي يي له ختيځ بنګال نه نيولي ان دافغانســتان ترلوديځوپولو پوري رسيدلي

www.abulhasanalinadwi.org

ترکيې اوحجازکې خپاره شول دخدایﷺ یادیې تازه کړ،دخدایﷺ دکلمې د لوړتیا هڅې یې وکړی، مړه شوي سنت یې ژوندي کړل، دشریعت د حمایت او د بدعت دورک کولوسترکاریې سرته ورساوه. دوحدةالوجودافراطي داعیانواو ازادخیاله صوفیانواغیزې یې له منځه یووړې لنډه داچې دخدای غوښتنې او شریعت د احترام کار یې په پراخه پیمانه ترسره کړ اوکم له کمه تردریو پیړیو پورې یې دا کار په داسې قوت اوانهماک سره جاري وساته چې په ټوله اسلامي نړۍ کې به دوی لیدل کیدل ،اودا درې پیړۍ په دې ارزي چې ددوی دعلمې اوروحاني قیادت پیړۍ وبلل شي او دې نړیوال اغیز ته په لیدلوسره حقیقت خوښونکی انسان په دې ویلومجبورکیږي چې :

## جهان را د گرگون کرد یک مرد خود۱ گاهی

په دې لړکې دوه نوراړخونه هم دلحاظ وړدي یوداچې دمجددصاحب د زمانې په انځورکولواوداکبرددورپه نقشه وړاندې کولوکې دملاعبدالقادر بدایوني په "منتخب التواریخ " اوهغوتاریخي ماخذونوانحصارنه شوای کیدای چې ځانګړې دیني جذبات اوبیله مفکوره لري اوداییې عادت دی چې د اکبرد زمانې ترټولو زیات تیاره تصویر وړاندې کړي په دې لړکې بایددهغو بې طرفه لیکوالانو یاداکبر ددربار دلیکوالانو خبرې اولیکنې وړاندې اوله هغوموادو واخیستل شي چې نه یواځې داکبرمخالف نه وبلکې دهغه وکیلان اودهغه دخیالاتو اوافکاروترجماني کوي اود هغه د سلطنتي ائین اوخدای ورکړیو کمالاتواعتراف کوی،

داراز د هغوبدلونونو جائزه اخیستل هم ضروري دي چې دجهانګیر له دور نه پیل اودعالمګیرپه سلطنت مکمل اوپای ته ورسیدل،په دې لړکې هم د

www.abulhasanalinadwi.org

مجددي کورنۍ د ليکوالانو دخبرو اوخوش باوره مورخينو دشهادتونو په ځای د بی طرفه مورخينوله کتابونونه موادواخيستل شي اودهغه په رڼا کې ددې دعوت ثبوت ترلاسه شي .

دخپلې زياتې بوختيا ، داخلي اوخارجي سفرونو ، دصحت کمزوري اومعاونانو له کمښت [۱] سره سره ددې هڅه شوې چې د "تاريخ دعوت وعزيمت " دابرخه چې دحضرت مجددپه سيرت باندې ده له ځينې نويومعلوماتو اوداسې موادو سره چې تراوسه کارنه دی ځنې اخيستل شوی اوځينې مهم اودغور وړ نتائجو او دعوت اوفکرسره ميدان ته راووزي، شايدمونږ ددې زمانې غوښتنې پوره کړې وي اودړاتلونکې پنځلسمې پيړۍ په هرکلې کولوکې څه مرسته کړې وي .
وما توفيقي الابالله عليه توكلت وإليه أنيب .

په اخرکې بايد په دې اعتراف وکړم چې دمجددي کورنۍ دښاخونواو مجددي طريقې دمشرانوشيوخوپه لړکې مې له محترم مولينا ابوالحسن زيد فاروقي مجددي (د شاه ابوالخيرمجددي زوی ) نه هغه ارزښتناک معلومات ترلاسه کړل چې له بلې لارې دهغوترلاسه کول ډيرګران و اومننه يې کوم .

له محترم پروفيسرخليق احمدنظامي نه هم مننه کوم چې دهغه له ذاتي کتابخانې نه مې ځينې ضروري قلمې کتابونه اوګټورمواد ترلاسه کړل .

---

[۱] په دی ځای کې په ښه نه وی که دمحترم مولوی شمس تبريزخان (رفيق مجلس تحقيقات و نشريات اسلام ) شکريه ادا نکړو چې دفارسی له زړوکتابونو نه يې موادراته برابرکړل اوداوړدو فارسی عباراتو په ژباړه کې يې له مصنف سره زياتی مرستی وکړی دارازمحترم ناصرالاسلام ندوی هم دستايني وړدی چې دکتاب په تسويداوله ماخذنه په استفاده کې يې زياته مرسته کړی ده .

www.abulhasanalinadwi.org

او ده په ډيره زړه سواندي سره له هغو نه دګتې اخيستلواجازه راکړه ليکوال د ډاکټر نذيراحمد صاحب (مسلم يونيورسټي علي ګړه) له علمي مرستې نه هم مننه کوي .

ابو الحسن علي ندوي
دائره شاه علم الله رائے بريلي
٢٦اپريل ــ١٩٨٠ ع
١٣ جمادى الاولى ١٤٠٠ه

www.abulhasanalinadwi.org

# لــومــړۍ بــرخــه

## اسـلامي نـړۍ په لسمه پيـړۍ کې
## د لسمې هجري پيړۍ د تـاريـخي مطـالعې اهمـيت

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په کال ۹۷۱هـ دشوال په میاشت کې زیږیدلی اوپه ۱۰۳٤هـ صفره کې وفات شوی دی، په دې توګه دده زمانه دلـسمې پیړۍ نه ویشت کاله اودیولسمې پیړۍ نږدې دره دیرش۳۳ کاله کیږي. دده دزمانې تاریخ لیکونکي او دده دژوندلیک څیړونکي بایدله دی دري شپیته کالو سره کار ولري چې د هجري کلیزې ددوو پیړیوله اخیرې اولومړۍ ثلث سره تړاو لري.

خوپه حقیقت کي که یوڅوک هرڅو ستر شخصیت هم وي دده له زیږیدو سره یوپه یونوي زمانه نه پیل کیږي داسې چې ناڅاپه له عدم څخه دهستۍ ډګرته راووځي. او له هغوپیښو،تاریخي عواملو، سیاسي اواخلاقي حالاتو، سلطنتونو او څواکونو څخه دې اغیزمن نه وي، چې له ده مخکې تیر شوي دي اوپه چاپیریال او تولنه باندې یې اغیزې درلودې: له دې کبله چې کله مونږ دمجدد صاحب ژوند لیک کاږو،د هغه د اصلاحي اوتجدیدي کارونو یادونه کوو، دهغه دزمانې په مزاج باندې ځانونه پوهوو. او دده دکار دسختیو او اسانتیاو پرتلیزه اندازه لګوو، نو په کارده چې دهغه مهال د اسلامي نړۍ سیاسي، دیني اوعلمي اړخونو څیړنه

www.abulhasanalinadwi.org

وکړو، چې له هغه سره په کوچنیتوب کې ده تړاو درلود اوله هغه سره په نښتې زمانه کې ده خپل انقلابی او حیرانوونکې تجدیدي اواصلاحي کارونه سرته رسولي،دی چې دهغوپه اساس ده ته مجدد الف ثاني او د دویمې زریزې نوښتگر ویل بیخی په ځای اومناسب دي؛ په دې څیړنه کې به مونږ دا تاریخي حقیقت هم په نظر کې لرو چې یوه زمانه اوانساني ټولنه دواړه د روان سیند په څیر وي، چې هره څپه یې له بلی سره تړلی وي ځکه خوکه یوهیواد هرڅومره یواځې ژوندکوی اوله نوزې نړۍ سره پریکون ولري، خوبیا هم په شاوخوا نړۍ کې له اهمو پیښو، انقلابونو،ځواکمنو غورځنگونواوپه خپل منځ کې په جگړه اخته ځواکونوڅخه یومخ بې اغیزې نشي پاتې کیدلای؛ په ځانگړې توگه چې کله داپیښې اوانقلابونه دده په هم جنسه، هم مسلکه او هم عقیده گاونډیو هیوادونوکي رامنځته کیږي.په دې اساس به زمونږ داتاریخي جائزه یواځې په هند پورې نه وي تړلي، مونږ به دلسمې هجري پیړۍ د مهال ټولې اسلامي نړۍ اوپه ځانگړې توگه شاوخوا اسلامي هیوادونوته کتنه کوو، چی له هغوسره که څه هم دهندسیاسي اړیکې نه وې خو دیني، تهذیبي اوعلمي تعلقات یې ورسره لرل او هلته چی کومې گرمې اویخې هواوې چلیدې دهغوڅپې دمسافت له لیرې والي سره سره هندته هم رارسیدې.

## دلســمې هـجري پیړۍ سیاسي حالت

د لسمې پیړۍ په لومړیو کې له څه وخته وروسته ( غالبا له سلطان صلاح الدین ایوبي مړ۵۸۹ هـ څخه وروسته ) د اسلامي نړۍ په مرکزي برخه منځني ختیځ کې سیاسي ثبات رامنځته شوی وه اودلویدیځې اسیاعربي هیوادونه له یوه داسې بیرغ لاندې راجمعه شوي وه چې دهغه پورته کوونکې ځان د اسلام ساتونکی، دحرمینو

www.abulhasanalinadwi.org

شریفینو خادم ،اودمسلمانانومحافظ باله اوکه څه هم د سیاسي مصلحتونوپه اساس وو، خوخلافت یې هم راژوندی کړی و، چې داخري عباسي خلیفه مستعصم بالله دتاتاریانو په لاس له شهادته ٦٥٦هـ وروسته په مصرکې د"عیسوی پاپانیت"په څیر پاتې شوی و.

یاووز سلطان سلیم اول دعثمانیه دخلافت موسس ٩١٨هـ -٩٢٦هـ په کال ٩٢٢هـ کې شام اوپه کال ٩٢٣هـ کې یې مصرفتح کړ چې له دوه نیم سوه کاله راهیسې د مملوکو واکمنوپه واک کې وه، دسلطان سلیم دحملې په مهال د مصر واکمن قانصوه غوري وو په دې٩٢٣ هـ کال کې سلطان سلیم دخلافت او له هغه وروسته دحرمینو د خدمت اوسرپرستی اعلان وکړ. جزیرة العرب بیا ورو ورو دشمالي افریقامسلمان او عرب هیوادونه ( له مراکش پرته ) د سلطان سلیم بیا دهغه ځای ناستی سلیمان اعظم قانوني ٩٢٦هـ – ٩٧٤ هـ (چې لویدیځ وال لیکوالان یې سلیمان ذي شان بولي ) تر واکمنی لاندې شول.

د سلیمان اعظم دواکمنی زمانه ( چې دده له پیدایښ درې کاله مخکې مجدد رحمه الله پیداشوی وو) دعثمانیه دسلطنت داوج زمانه وه، یوه لورته د اروپا په استرلیا اوهنګري کې دده دبریاو بیرغ پورته شوی وو بل لورته په ایران کې دده فوځونه په بریالیوحملوبوخت وو، له مصر اوشام سره عراق هم دده په پلنه واکمنی کې شامل شوی وو. په هغه مهال دی دنړۍ ترټولوستر واکمن و. ددریم مراد ٩٨٢ هـ - ١٠٠٤هـ) په زمانه کې د قبرص جزیره، دتونس ولایت، د ایرانی سلطنت ځینې حاصل خیزه ولایتونه اویمن داټول په عثمانیه سلطنت کې شامل شوي وو. دده په زمانه ٩٨٤هـ کې دمکې مکرمې دحرم ودانی هم تکمیل شوه، چې دا دمجددالف

www.abulhasanalinadwi.org

ثاني رحمه الله دپوهې اوشعور زمانه وه. دی به حتماپه دې مهموپيښو باندې خبروو، د هغه مهال مسلمانان که څه هم دهنداوسيدونکې وو دعثماني ترکو ( چې سخت حنفي مذهبه سنيان وو ) په دې فتوحاتو اودسلطنت په پراخوالي خامخا خوشاله کيدل.

ددې پيړۍ په پيل ۹۰۵هـ کې په ايران اوخراسان کې صفوي کورنۍ واک ترلاسه کړ، ددې واکمنۍ موسس شاه اسماعيل صفوي وو ۹۰۵هـ — ۹۳۰هـ دې کورنۍ ورو ورو په دې سيمه کې خپله واکمني مظبوطه کړه، داپه هغه وخت کې دعثمانيه سلطنت سيال سلطنت وو چې دعثماني سلطنت په مقابل کې يې اثناعشرى جعفرى مذهب حکومتي مذهب کرځولی وو له حکومت او اقتدارڅخه په پوره ګټه پورته کولوسره هغوی په ايران کې ددې مذهب زيات خپراوۍ اوترويج وکړ، اوپه دې لاره کې هغوی خورا زيات برياليتوبونه ترلاسه کړل، په دې توګه دې حکومت په خپلو سرحداتوباندې دمذهبي اختلاف په بنايوانساني ديوال ودراوه اودعثمانيانوپه پراخه حکومت کې يې له تحليل کولوڅخه ځان وژغوره عثمانيه سلطنت له قسطنطنيه څخه نيولې ترلاهور اودهلي پورې رسيده، اودصفوي کورنۍ حکومت له بغداد څخه نيولې هرات ته رسيده، ددې کورنۍ ترټولوستر واکمن شاه عباس ۹۹۵هـ ـ۱۰۳۷ هـ و چې په تاريخ کې په لوی شاه عباس سره ياديږي، دی دخپلوتعميري کارناموله کبله ددې کورنۍ شاهجهان بلل کيږي، نوموړی دحضرت مجددصاحب معا صر و. صفوي حکومت دلومړي شاه عباس په زمانه کې اخري اوج ته ورسيده، دی له ترکو سره وجنګيده اونجف اوکربلايې ترلاسه کړل، دی داکبر اوجهانګير معاصر و؛ له شاه عباس څخه وروسته ددې کورنۍ زوال پيل شو.

داسلامي نړۍ دويمه مهمه ختيځه برخه ترکستان وو چې له پيړيوڅخه داسلامي تهذيب، اسلامي علومو او فنونومرکز پاتې شوی و چې په لرغونو ادبياتوکې په (ماوراء النهر)

www.abulhasanalinadwi.org

سره یادېږي، دې سیمې دحنفي فقهې په تدوین کې له عراق څخه وروسته تر ټولو زیاته برخه لرلې ده او ګڼ شمیر ښکلي او تلپاتې کتابونه لکه شرح الوقایه او هدایه چې اوس هم دهندپه تعلیمي نصاب کې داخل دي هماغلته تصنیف شوي دي.

دارازنقشبندیه طریقه چې حضرت مجدد اودده مشایخ تړاو ورسره لري هم په دې سیمه کې راټوکیدلې اوخپره شوې ده او نورې نړۍ ته رسیدلې ده، دا زرخیز اوسړې زیږ وونکې هیواد دلسمې پیړۍ په پیل کې۹۰۵ه دازبکو دشیباني کورنۍ لاس ته ورغی اود۹۱۶ه له یوه لنډځنډپرته داتلسمی میلادي پیړۍ ترمنځه تر روسي انقلابه پورې ددوی ترنګین لاندې و، دالنډځنډداسې چې بابر دصفویانوپه مرسته په ماوراء النهر باندې حمله وکړه او دهغه وخت پلازمینه سمرقندیې ونیو په لسمه پیړۍ کې دشیباني کورنۍ ددوو واکمنو عبیدالله بن محمد۹۱۸ه ۹۴۶ه او عبیدالله بن اسکندر۹۶۴ه ـ۱۰۰۶ه پلازمینه بخارا وه؛ ددوی په برکت بخارا د دویم ځل لپاره د فکري اوسیاسي ژوندمرکز وګرځیده.

دهندترټولونیږدې ګاونډۍ هیوادچې په لویدېځه حو کې سې پروت دی افغانستان دی، دا هیواد دلسمې پیړۍ په پیل کې د ترکستان دازبکو او ایران دصفویانواوپه منځ منځ کې دسیمئیزه اوسیدونکو دتخت اوتاز مرکز و، کابل اوکندهاربه کله د مغلواوکله دایرانیانو په لاس کې وو. اوهرات چې د ایران په سرحداتو کې پروت دی زیات وخت دصفوي سلطنت تراغیزې لاندې و په کال ۹۳۸ه کې بابرکندهار ونیو، بیاچې کله هغه په هندکې دتیموري واکمنۍ اساس کیښودنوهندیې داوسیدوځای وګرځاوو چې له هغه ځایه ده په کابل بدخشان اوقندهار باندې حکومت کاوه، په دې وخت کې افغانستان دهند او ایران د دوو لویو واکمنوتراغیزې لاندې په یوځه منظم

www.abulhasanalinadwi.org

او پرامن حالت کې قرار درلود ، دی ددې دوو واکمنیو په منځ کې داسې ویشل شوی وو چې دهرات اوسیستان ولایتونه له ایران سره وو چې وخت په وخت به ازبکوحملې پرې کولې ،کابل دمغلو دسلطنت برخه ګرځیدلی و اوکندهاربه کله دمغلواوکله به د ایرانیانو په لاس کې وو دکوهستان په شمال کې دبابر دتره زوی سلیمان مرزا ( چې بابر دبدخشان والي ټاکلی و) دنیمې ازادۍ شاهي کورنۍ اساس ایښی و،د هیواد پاتې برخې دشیبانیانو په ولکه کې وې .په کال ۹۶۵هـ دایران باچاطهماسپ کندهار ونیو اوتر ۱۰۰۳هـ پورې دغه ښارد ایرانیانو په لاس کې و ۱۰۰۳هـ کې شهزاده مظفرحسین اکبرته وسپاره ترهغه وخته افغانستان د مغلودسلطنت یوایالت و ، اودا لړۍ د دولسمې پیړۍ ترنیمایې پورې پاتې وه، په افغانستان باندې دبابر تردوه سوه اوځلویښت کلنۍ واکمنۍ وروسته په کال ۱۱۵۱هـ نادر شاه افشار افغانستان ونیو.

د لسمې پیړۍ په پیل کې په هندباندې دلودهي کورنۍ واکمنه وه چې ددې کورنۍ وروستی واکمن په کال۹۳۲هـ کې دمغلي سلطنت دموسس ظهیرالدین محمدبابر ګورګاني ۸۸۸ هـ-۹۳۹هـ په لاس ووژل شو اودمغلي سلطنت اساس کیښودل شو چې دهندپه اسلامي سلطنتونوکې ترټولوپراخ، محکم، منظم اودلوی عمر سلطنت و، لودهي کورنۍ دخپل افغاني نسل اوعنعناتوپه اساس داسلام کلک پیروان اودحنفي مذهب پابندوو ، اوله نوښت غوښتنې اوسیکولرسیاست سره نابلده وو،ددې کورنۍ ترټولودینداره په علم مین، اودعلماء قدرکونکې باچاسکندرلودهي مړ۹۲۳هـ و ددی پیړۍ پنځه نیکمرغه کلونه ۹٤٦هـ -۹۵۲هـ دشیرشاه سوري په واکمنۍ کې تیرشول ده دتنظیم اوکړنلارې جوړونې لوړصلاحیت درلود دخیرښیګنې او رفاهي چاروکې یې ساری نه درلود . سخت مسلمان دعلم څښتن او خورامتقي باچا و اودهند په اسلامي تاریخ کې دده په څیرباچا ندی تیرشوی .

www.abulhasanalinadwi.org

دشیرشاه له مړینې وروسته د اکبرتر واکمنیدوپورې په هندکې سیاسي او امنیتي ناقراري وه نه حکومت په ارام وه اونه ولس دارام ساه اخیستی وه، دشیرشاه ځای ناستی سلیم شاه له خپل نابغه ( *Genius* ) پلارسره هیڅ مناسبت نه درلود، د بابرځای ناستی نصیر الدین همایون . ۹۳۸هـ — ۹۶۳هـ ونشوای کړای چې په هند باندې په ډاډه زړه واکمنې وکړي، دشیرشاه سوبمنوحملو اودخپلو وروڼو بی وفایې ډیر وځوراوه کله یې چې د ایران له واکمن طهماسپ څخه مرسته ترلاسه کړه بیایې یو څه استقرار پیداکړ، په کال۹۶۳هـ کې اکبر واکمن شو اوپوره نیمه پیړۍ یې په ډیر زور اوشورسره حکومت وکړ دمجددرحمه الله تعالی په زمانه کې چې دده عمر ۴۳ کاله و. نورالدین جهانګیر واکمني ترلاسه کړه اودهمده دواکمنۍ په زمانه کې مجدد رحمه الله وفات شو. له دې مرکزي سلطنت څخه پرته چې دهلي یې پلازمینه وه په ګجرات، بیجاپور، ګونکنډه، او احمدنګر کې سیمئیزخپلواک حکومتونه وو، چې په دوی کې وروستي درې شیعه مذهبه وو.

## دلسمي پیړۍ مذهبي او روحاني حالت

په دې وخت کې په ټوله اسلامي نړۍ کې دمذهب ریښې ډیرې ژورې غځیدلې وې عام خلک په ټولیزه توګه له خپلوعلمي اواخلاقي کړاوونو (مشکلاتو) سره سره د کلکې عقیدې لرونکې مسلمانان وو، دین خوښوونکې اواسلام دوسته وو، په دوی کې دیني غیرت اواسلامي ولولې وې، که څه هم ډیربدعتونه اوداسلام مخالف کارونه کیدل خوپه ټولیزه توګه له کفر اوالحادڅخه بیزاره وو اوکرکه یې ځینې کوله؛ ددې عمومي دیني ذوق اومزاج له کبله مسلمانوواکمنوهم داسلام شعائرو احترام

www.abulhasanalinadwi.org

کاوه، ددین دحمایت اومرستي لپاره تیار وو، دوی د ولس په زړونو کې هلته ځای پیدا کولای شوای چې ځوېږ خپل دیني تمایل نه وای ښکاره کړی یعنی ددین په حمایت کې به یې چې ګام پورته کاوه نو د ولس دمینې وړ به ګرځیدل .

دا خورا زورور واکمنان وو دخپل مخالف هر ډول ځواکمن پروایې نلرله: ددوی له فوځي ځواک څخه د اروپا لینګي هم ګړیبدل: خوځرنګه چې په ولس کې ددین ریښې ژورې تللي وي نودخپل ولس حمایت ترلاسه کول ډیر ورته ضروري و، دسلطان سلیم اول په سلطنت کې ترهغو پورې استقرار نه و څو یې چې ځان ته د خلیفة المسلمین او خادم الحرمین الشریفین لقبونه نه و غوره کړي؛ ده په دمشق کې داوسیدو په مهال له مقدسومقاماتوسره دمینې اظهاروکړ په کال ۹۲۳هـ ذی الحجة کې سلطان سلیم له دمشق څخه دحاجیانوقافله روانه کړه چې له هغوی سره دلومړي ځل لپاره دترکیې د سلطان له لوري دکعبې شریفې له پاره غلاف ولیږل شو له همدې وخته ......ترکې سلاطینو دخادم الحرمین الشریفین لقب غوره کړ چې لدې کبله دوی په اسلامي نړۍ کې زیات وقار ترلاسه کړ .

سلیمان اعظم خورا متواضع اونیک انسان و، ژوردیني جذبات یې لرل او دده دنیکې او ښه سړیتوب ډیرې بیلګې موجودې دي، ده په خپل لاس دقرانکریم اته نسخې ولیکلې چې په سلیمانیه کې موجودې دي، دی دغزلو یو دیوان هم لري چې له هغه څخه دده کلکه مسلماني ښه څرګندیږي، ده د مفتي ابوالسعود. مړ ۹۵۲هـ (دنفسیر ابوالسعودلیکوال ) په فتوی سره کعبه شریفه له سره ودانه کړه اوتعمیریې جوړکړ مکې مکرمي ته یې پاخه کاریزونه جوړکړل سلطان مرادپه کال ۹۸٤هـ کې دکعبې شریفې ودانې تکمیل کړه چې هغه ودانۍ همدا اوس هم موجود ده .

www.abulhasanalinadwi.org

داتولې دلسمې پیړی دعثمانیه کورنی دواکمنوکارنامې دي دایران په شیعه سلطنت کې هم خلکو دیني ذوق اوجذبې لرلې. صفوي سلطنت هغوته غذا ورکوله مذهب او اهل بیت سره یې مینه لرله له دې کبله یې سیاسي استحکام اوپه ولس کې مقبولیت ترلاسه کړی و، دایران ترټولو ستړواکمن لومړی شاه عباس یواځې د زیارت لپاره له اصفهان څخه ترمشهدپورې اته سوه ۸۰۰ میله مزل په پښووکړنجف ته حاضر شو اودحضرت علی کرم الله وجهه روضه مبارکه یې جارو کړه اوفانوس یې پکې ولګاوه ، شاه عباس د ایرانیانوعقائددافراط او وهم پرستي ترحده ورسول او په خلکوکې عجیبې عجیبې کیسې مشهورې وې.

دترکستان او افغانستان دخلکو دعقیدې پوخوالی، دیني صلابت، سنیت اوپه حنفي مذهب باندې دټینګارکیسې متل ګرځیدلې وې ددوی واکمن، چارواکې، د سلطنت غړې، خواص او امراء (دخپل ژوند له سطحې سره سم) تر ډیره حده دخپل ولس په څیر وو اوله هغوی سره هم غړي وو.په هندکې داسلامي سلطنتونو اساس دترکې اوافغاني کورنیو دواکمنوپه لاس کیښودل شوي دي. له دې کبله له پیل څخه دلته هم مذهب ژورې اغیزې درلودې خو په سم اوصفاډول لکه څرنګه چې دترکې اوافغاني ذهنیت دذوق ځانګړتیاده دلته له پیل څخه داهل سنت والجماعت اوحنفي مذهب (له څوساحلې سیمواود جنوبي هند دمالابار له سیمي پرته ) پیروي کیدله او له پیل څخه حنفي مذهب دهیواداساسي قانون و اوپه محکموکې نافذو دلته دحنفي فقهې خینې مهم کتابونه لکه "فتاوی تاتار خانیه" او"فتاوی قاضي خان" لیکل شوی دي [۱] دهندپه اسلامي تاریخ کې ډیرداسی وتلي واکمن تیر شوي دي چې دسنت او

[۱] داد عالمګیري له تدوین څخه ډیرمخکې شوی دی عالمګیری په اسلامی نړی کې ډیر شهرت لری په مصر، شام او عراق کې د (فتاوی هندیه) په نامه سره یاد یږی.

www.abulhasanalinadwi.org

شریعت دحمایت له کفر اوالحادڅخه دبیزارۍ، له بدعتونو اومنکراتوسره مخالفت او دهغوله منځه وړلو اوددین دساتنې لپاره یې ډیرزیات کارونه کړي دي.

په اتمه پیړۍ کې د محمدتغلق او فیروزتغلق او په لسمه پیړۍ کې دسلطا ن سکندر لودهي نومونه اخیستل کافي دي. د"طبقات اکبري،تاریخ فرشته او"تاریخ داودي" د مصنیفینوله ویناسره سم د سلطان سکندرپه زمانه کې دمذهب دومره زیاته پیروي کیدله چې داسې بریښدله چې ګواکې یونوی ژوند رامنځته شوی دی؛ په هغه باندې اسلام له خپله ځانه زیات ګران و،ده به ویل چې له ماسره په ماشومتوب کې لا داسلام مینه پیدا شوې وه، باچاله علمي مجلسونوسره زیاته مینه لرله، دده په زمانه کې هندوانوفارسي لوستل پیل کړل هندوانومنشیانو د باچا مشوره ومنله. سلطان د سالارمسعودپه ښځو (چې هرکال به ورتللې) باندې بندیزو لګاوه زیارتونوته دښځو په تګ یې سخت بندیز ولګاوه، ځینې مورخین لیکې چې: دماتم لپاره وتلواودسیتلادیوې په عبادت یې هم سخت بندیز لګولی وه[1]؛ مشتاقي لیکي: ډیرجعلي قبرونه یې چې هغه مهال پیداشوي وو له منځه یووړل دهغوی په ځای یې نهرونه وایستل اودهغونوم اونښان یې ختم کړ[2] سلطان سلیم شاه سوری به په خپله په جومات کې لمونځ کاوه اوله نشیي موادوڅخه یې ځان ژغوره دازمانه د تصوف اودصوفیانو دطریقو دعروج زمانه وه. داسلامي نړۍ یوهیواد اویوه برخه هم داسې نه وه چې هلته دې کومه طریقه وجودونلري په کور کورکې یې چرچه وه. په دې لړکې دترکستان دوه نامتوښارونه اودعلم اوروحانیت مرکزونه بخارا او سمرقند په

---

(۱) دمولوی ذکاء الله له کتاب "تاریخ هندوستان" دویم ټوک مخ ۳۷۴ څخه.

(۲) واقعات مشتاقی.

(۳) داکتاب په کال ۱۰۱۲هـ کې په احمد اباد کې لیکل شوی.

www.abulhasanalinadwi.org

افغانستان کې هرات اوبدخشان په مصرکې اسکندریه اوطنطاپه یمن کې تعز او صنعاء په حضرموت کې تریم، شحر او سیون دعلماو، مشائخو او صوفیانو لوی مرکزونه وو. په حضرموت کې "باعلوي عیدروسي" خورامنل شوي اوله کمالا توړکه کورنۍ وه په دې زمانه کې په دې لوړي کې شیخ ابوبکربن عبدالله خورا لوی شیخ اود وخت قطب بلل کیده. تریم د باعلوي کورنۍ دساداتو د اوسیدو ځای و. په دې زمانه کې شیخ سعدبن علی السوینی باندحج السعیدپه نامتواولیاو کې شمیرل کیده.شیخ محی الدین عبدالقادرعیدروسي (۹۷۸هـ-۱۰۳۷هـ) خپل مشهورکتاب (النور السافر فـی رجال القرن الـعاشر ) (۳) دده په ژوندلیک باندې پای ته رسولی دی چې په پنځلسو مخونو کې راغلی دي. په هندکې په لسمه پیړۍ کې که څه هم دقادریه او چشتیه طریقودوه شاخونه (نظامیه او صابریه ) خپاره شوي وو، او په دوی کې ګڼ شمیر لوی شخصیتونه اودحال څښتنان وو خوپه حقیقت کې دا دعشقیه شطاریه، طریقي پیړۍ ده کوم چې له نوی تعبیر سره سم په هندکې د ولایت له څښتنی طریقی چشتیې څخه ددې هیواد روحانی واګی ترلاسه کړې اوټول هندیې ایل(لاندې) کړ [۱].

دشطاریه طریقې موسس شیخ عبدالله شطار خراساني دی چې غالبا دنهمې پیړۍ په لومړیو کې یې هند ته تشریف راوړی دی. اوپه مانډوکې یې هستوګنه غوره کړه، په کال ۸۳۲ هـ کې وفات شوی دی، او دمانډو په کلا کې دننه دفن شوی دی، ده امیرانه

(۱) په دی پیړۍ کې په هندکې مداریه سلسله هم تیره شوی چې شیخ بدیع الدین مدار کمن پوری (مړ۸۴۴ هـ ) یې موسس دی، دوی دوحدة الوجود دافکارو اعلان په ډاګه سره کاوه.

ښکاره بربنډوالی ( چی یواځی مخصوص اندام به یې پټ و ) اوتوکل محض ددوی شعار وو دوخت په تیریدوسره په دې سلسله کې بې‌توالی اوبی قیدی مخ په زیاتیدوشوه تردی پوری چې مداری د نځاګر مترادف وګرځیده، په لسمه پیړۍ کې دی طریقی دخواصوپه کړیو کې خپل مقبولیت له لاسه ورکړ. د نزهـة الـخوا طر په څلرمه برخه کې دټولو طریقو ټول مشائخ راخیستل شو ی له پلټنې وروسته یواځی دوه کسان داسی پیداشول چې د مداریه طریقی بیعت یې درلود.

www.abulhasanalinadwi.org

ژوندکاوه دقوي جذب او رابنکون ښنتن و ډیروخلکوله ده ښخه ګټې ترلاسه کړې.اوبه ډیره تیزي سره دده سلسله په هندکې خپره شوه داطریقه دوه شاخونه لري د یوه تړاو یې له شیخ غوث ګوالیاري سره ده چې دده اوشیخ عبدالله شطاري په منځ کې درې واسطې دي، اودویم تړاویې له شیخ علي بن قدام جونپوري (چې په شیخ علي عاشقان سرای میري سره یادیده) سره دی؛ دده او شیخ عبدالله شطاري په منځ کې دوه واسطې دي .

غالبا دې طریقې دلومړي ځل لپاره جوګیتوب اودنیاترک کول له تصوف سره یوځای کړل اودسلوک ځینې لارې او اذکار، اودساه نیولو طریقې یې غوره کړې، اوخپلو مریدانو ته یې دهغو زده کړه ورکړه اوعلم سیمیایې هم په تصوف کې شامل کړ، ددې طریقو او اذکاروتفصیل دبهاء الدین بن ابراهیم الانصاري القادري په کتاب" رساله شطاریه " کې شته دی .[۱] دشیخ محمدشطاري په تصنیف (کلید مخازن ) کې مصنف یوه زیاتونه لیکلې ده هلته دوحدة‌الوجود قائل شوی. بت خانه اوجومات، شیخ او برهمن په خپلو کې سره مساوي بولې، اووایې چې په دې ټولوځیزونوکې دخدایﷻ تجلي بلکې ښکاره ظهورکیږي، وروستی شعریې داسې دی:

عشق شد ودر مشرب شطار برامد ـــ خـود غـوث جـهان شـد .[۲]

په"رساله عشقیه" کې کفر د"عشق جلال" اومسلماني د"عشق جمال" بلل شوی او داسې لیکي: کفر وایمان قرین یک دیګر اند ـــ هرکه راکفر نیست ایمان نیست[۳]

---

[۱] دندوة العلماء په کتا بتو ن د تصوف فن ۴۸، مخونه ۴۷، ۴۹- کې د ی د د ی کتاب قلمي نسخه وکتل شی .[۲] کلید مخازن مخونه — ۱۹۶ —۱۹۹-

[۳] رساله عشقیه مخ ۷۱.

www.abulhasanalinadwi.org

یو بل ځای لیکي : العلم حجاب اکبر گشت مراد ازین علم عبودیت که حجاب اکبر است. این حجاب اکبر اگر ازمیان مرتفع شود کفر به اسلام و اسلام به کفر امیزد و عبادت خدایی وبندگی برخیزد[۱].

ددې طریقې ترټولو نومیالی او اغیزمن شخصیت شطاري شیخ محمدغوث ګوالیاري دی چې په کال۹۷۰هـ کې مړ شوی دی، دی زیات منل شوی اودزیاتوخلکومرجع و، دده شان اوشوکت له لویو وزیرانو اوامیرانو څخه زیات و دده کلنې عائدات "نه" لکه نقریې سکې وې په ځینو روایاتو کې یوکرور یادي شوې دي، دده په فیل خانه کې څلویښت فیلان وو خورازیات خدمتګاران او جوپړیان یې درلودل، د اګري بازارته به چې ووتو نو هجوم اوازدحام به جوړشو په زین باندې سم نشوای کېښېنستلای اوهرچاته به یې سلام کاوه.

دملاعبدالقادربدایوني له ویناسره سم شیخ محمد غوث اکبرباچاپه څه چل سره مریدکړي و خوباچاډېرژرځان ورڅخه لیری کړ، له دې امیرانه اوشاهانه شان سره سره په هیوادکې دده دغریبی کیسې کیدلې، چې خوراغریب اومسکین دی، دسلام کولوپه مهال به درکوع هومره ټیټ شو د مسلمان اونا مسلمان توپیریې نه کاوه اوعلماوو په ده نیوکې اواعتراضونه کول.

---

(۱) همداماخذ مخ ۷۳.

www.abulhasanalinadwi.org

دده په تصنیفاتو کې (جواهر خمسة، معراجیه [۱]، کنز الوحدة او بحرالحیاة [۲]) دی. په هندباندې دده ډیره اغیزه وه اوچشتیه شطاریه طریقه یې عامه کړه [۳] مجدد رحمه الله دده له مړینې یوکال ورسته پیدا شوی دی، شیخ علي بن قوام جونپوري چې علي عاشقان سرای میري سره مشهورو مړ ۹۵۵هـ شیخ لشکر محمدبرهانپوري مړ ۹۹۳هـ شیخ الله بخش ګډه کمتیسري مړ۱۰۰۳هـ ددې طریقې په لویو مشائخو کې ګڼل کیږي. چې خورا زیاتو خلکو رجوع ورته کوله، دعلي عاشقان سرای میري په اړه خو ځینې سوانح لیکونکو لیکلې دي چې: له حضرت شیخ عبدالقادرجیلاني څخه وروسته دده دومره زیات کرامات ښکاره شوي چې بل څوک دده ځای ته نشي رسیدای. [۴]

د شیخ محمدغوث ګوالیاري خلیفه شیخ ضیاءالله اکبرآبادي مړ۱۰۰۵هـ د علامه وجیه الدین شاګردو، پنځه دیرش کاله داکبرپه پلازمینه اکبرابادکې واوسیده. زیات

---

(۱) هغه د ځان لپاره د معراج دعوه کړې وه چې په دې سره دګجرات علما راوپاریدل خو ملک العلماء شیخ و جیه الدین ګجراتي چې دهغه وخت د زیاتو علماو استادو ددې څه علمي توجیه وکړه چې هغه علما غلی شول.

(۲) داکتاب دامرت کنډ ژباړه ده شیخ محمداکرم په خپل کتاب (رود کوثر) کې ددې کتاب په اړه لیکي: په دې کتاب کې دهندو یوګیانواوسناسیانو حالاتواو بوختیاوې په تفصیل سره فارسي ژبې ته نقل شوی، دده په لومړي کتاب "جواهر خمسه" کې هم ددې یوخه څرک تر سترګو کیږي له دې څخه دشطاریه طریقې له هندو یوګا سره په تړاو باندې یوڅه رڼایې لویږي مخونه - ۳۴-۳۶ -

(۳) دشطاریه طریقې دمشا ئخود تفصیلي حالا تو لپاره دنزهة الخواطر څلرم ټوک وګورئ.

(۴) دنفصیل له پاره دعارف علی کتاب "العا شقیه" یا نزهة الخوا طر پنځم ټوک وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

مقبولیت یې حاصل کړ اوداکبردربارته څوځله وغوښتل شو، ملاعبدالقادر بدایوني لیکلي دي چې ماهغه ته په سنت طریقه سلام وکړخویه ده ښه ونه لګیده اود ځان توهین یې وباله اوداسلام ددی سترشعار اوډپیغمبردسنت سپکاوی یې وکړ. بدایوني دده پوره حالات نه دي بیان کړي اودده داستهزاء پیښې یې لیکلې دي[۱] له دې علماوپرته شاه عبدالله سندیلوی (۹۲۴هـ، ۱۰۱۰هـ)اودحضرت شیخ لشکر محمد عارف بالله خلیفه شیخ عیسی بن قاسم سندي (چې دحضرت مجددصاحب معاصراو نږدې همځولی وو) هم دعشقیه شطاریه طریقې نامتو مشائخ وو.[۲]

دشطاریه عشقیه طریقې له دې نومیالیومشایخو پرته په هندکې نور لوی او ستر شخصیتونه او مشائخ هم وو چې له نورو طریقو سره یې تعلق درلود، په دوی کې یو شیخ ځائین لده سهنوي[۳] دی.چې په کال ۹۹۸هـ کې مړشوی.دی ده به د" فصوص" او" نقدالنصوص " درس ورکاوه، داکبرله ده سره ډیره مینه وه، یوه ورځ یې هغه په چپه (معکوس) لمانځه ولید نوځینې روان شو[۴] دویم شاه عبدالرزاق جهنجهانوی ۸۸۶هـ ،۹۴۹هـ قادري چشتي دی،دی ښه مدرس اومصنف و اوپه خپله زمانه کې د وحدةالوجود اودشیخ اکبردمسلک ترټولو لوی علمبردار و؛ په دې موضوع باندې هغه څوکتابونه لیکلي دي، شیخ عبدالعزیز شکربار (۸۵۸هـ ۹۷۵هـ) هم دوحدة الوجود قائل اودخپل وخت لوی ولي و، ده هم د" فصوص الحکم " اود هغه دشروحو

---

(۱) دتفصیل لپاره دملاعبدالقادر بدایوني کتاب"منتخب التواریخ "یانزهة الخواطر پنځم ټوک وګورئ
(۲) نزهة الخواطر پنځم ټوک وګورئ
(۳) سهنه د ګړګانوه (ختیځ پنجاب) په ولسوالۍ کې یوکلی دی چې دهغه ځای توده چینه ډیره مشهوره ده
(۴)نزهة الخواطر څلرم ټوک.

www.abulhasanalinadwi.org

درس ورکاوه، دی دحضرت شاه ولی الله دمورلخوا په نیکونوکې هم راځي، په دې پیړۍ کې د شیخ عبدالقدوس ګنګوهي (مړ ۹۴۴هـ) دارشاد دلمر په نیمایي اسمان کې ځلیده او دده له برکته په صابریه چشتیه طریقه کې نوی ځواک او پرمختګ پیداشو، دی دوحدة الوجود قائل او دهغه اسرار یې په واز کومي بیانول.

په جونپور کې شیخ قطب الدین بینادل ۷۷۶هـ ۹۲۵هـ د قلندریه طریقې اوپه کیتهل " د انباله ولسوالۍ " کې شیخ کمال الدین مړ ۹۷۱ هـ دقادریه طریقې لاربښوونکې او مشران وو چې دوی دواړو دا دوه طریقې د بیا لپاره را ژوندی کړې، د شیخ کمال کتیهلی په اړه حضرت مجدد صیب د خپل پلار شیخ عبدالاحد له خولې څخه رانقل کړې دې چې هغه ویل: چې په کشفي نظر سره ورته وکتل شي نو په دې عالي طریقه (قادریه) کې له پیران پیر حضرت شیخ عبدالقادر څخه وروسته دده په څیر لوړرتبه او باکماله شیخ نه ترسترګوکیږي[1] په اودهـ کې شیخ نظام الدین امیتهوی چې په بندګي میا ۹۰۰هـ ۹۷۹هـ سره مشهور و دچشتیه طریقې لوی شیخ د شریعت ساتونکی او د سنت پیرو لوی ولي و؛ په "احیاء العلوم "،"عوارف" او "رساله مکیه " باندې یې عمل کړی و، دیوه سړی په لاس کې یې فصوص الحکم ولید نوهغه یې ځینې واخیست او دمطالعې لپاره یې بل کتاب ورکړ، دده په طریقه کې که څه هم سماع عامه وه خو دده به ځان ځینې ژغوره.

داد هغه وخت داسلامي نړۍ مذهبي او روحاني حالت و، اودا دهند مختلف المشرب مشایخ او طریقې وې چې په لسمه هجري پیړۍ کې یې په مختلفو ځایونو

---

[1] د تفصیل له پاره دنـزهـة الـخوا طـر څلرم ټوک وګوري.

کې خپل روحاني او روزنیز مرکزونه قائم کړي وو، اودهند دژوردیني رجحان لرونکو اوپه خدای مینو عامو اوخاصوخلکو اړیکي او وابستګي ورسره لرله،داپه دومره تفصیل سره ځکه بیان شو څو د مجدد رحمه الله د زماني فضا، تمایل او ذوق معلوم کړلی شي اوداهم وپتییل شي چې په هغه زمانه کې ددین دبیاژوندی‌کولو او تجدیدلپاره څومره امکانات اومشکلات موجود وو.

## دلسمې پیړۍ علمي حالات

که څه هم لسمه هجري پیړۍ دعلمي اختراع اونوښت، هڅاندفکر اونظر، دعلومو دنوي تدوین اوپه هغه کې دغوښتنې زیاتوني پیړۍ نشو بللی ځکه دا ځانګړتیاوې د اتمې پیړۍ ترنمیایې پورې په سترګوکیږی چی په هغه کې دشیخ الاسلام حافظ بن تیمیه مړ ۷۲هـ، شیخ الاسلام تقي الدین ابن دقیق العید مړ ۷۰۲هـ، علامه علاء الدین الباجی مړ۷۱۴هـ، علامه جمال الدین ابوالحجاج المزی مړ۷۴۲هـ، علامه شمس الدین الذهبي مړ ۷۴۸هـ علامه ابوحیان النحوي مړ۷۴۵هـ په څیرنامتو علماء پیدا شوي دي. چې هغوی په حدیثو، اصول، علم کلام، فن رجال اودعربی ژبي په علومو کې خورا ښکلي او ګران بیه کتابونه پرې ایښې دی؛ دحدیثو دفن د امام علامه ابن حجر العسقلانی صاحب فتح الباری مړ۸۵۲هـ زمانه هم تیره شوي وه چې دده دبیساري شرح بخاري په اړه ویل کیدل "لاهجرة بعد الفتح "

لسمه پیړۍ د جمعي او ترتیب، تسهیل اوتلخیص پیړۍ بلله کیږی، بیا هم ددې پیړۍ په لومړې کلونوکې ددیني علومو دوه لوی دریابونه اوداسلام نومیالي مصنفین تیرشوی دي. چې هغه علامه شس الدین سخاوي مړ۹۰۲هـ او علامه جلال

www.abulhasanalinadwi.org

الدين سيوطي (مړ ۹۱۱هـ) دی ، دعلامه سخاوي په اړه ځيني علماوايي چې په حديثو، فن رجال اوتاريخ کې له شمس الدين الذهبي وروسته دده په څيربل عالم ندی تير شوی،له ده وروسته دعلم الحديث زوال پيل شو، په اصول مصطلح الحديث کې دده کتاب"فتح المغيث بشرح الفية الحديث" او په اسماء الرجال کې "الضوء اللامع لاهل القرن التاسع " داسي کتابونه دي چې په خپله موضوع کې ساری نلري .

علامه سيوطي خوتعارف اوپيژندنې ته اړتيانلري نوموړی دګرد اسلامي تاريخ په سترو مصنفينو کې ګڼل کيږي، دده ځيني کتابونه په خپله موضوع کې د دائرة المعارف حيثيت لري دتفسير جلالين لومړۍ نيمه برخه چې دده تصنيف دی له سلهاووکلونو را په دې خوا په درس کې داخل دي، او تراوسه پورې يې دده نوم ژوندی ساتلی دی .

په دې پيړۍ کې په مصر، شام، عراق کې دعلم الحديث او اسماءالرجال، په ايران کې دعلم الحکمۍ (منطق او فلسفه)، په هند اوترکستان کې دعلم الفقه (حنفي) ډير زور وو .او همدا فنون کمال اودفضيلت معيار بلل کيده په مصر کې علامه احمدبن محمد قسطلانی د صحيح البخاري دشرح ليکوال مړ۹۲۳هـ، اوشيخ الاسلام زکريا انصاري مړ۹۲۵هـ ، په حجاز کې علامه بن حجر هيثمي د "الصواعق المحرقه " او نورو ډيرو کتابو مصنف مړ۹۷۴هـ او علامه علي متقي د کنزالعمال مصنف مړ ۹۷۵هـ اوسيدل اوبې شميره خلک يې له خپلو درسونو څخه مستفيد کول، مشهور محقق اومعتدل حنفي عالم اولوی مصنف ملاعلي قاري که څه هم دافغانستان په هرات کې زيږيدلي دی خو په مکه مکرمه کې يې هستوګنه غوره کړې وه اويوجهان يې له خپل علم څخه مستفيد کاوه، دی که څه هم ديولسمي پيړۍ په لومړيو(۱۰۱۴ هـ کې وفات شوی دی خوعلمي اوتصنيفي خدمتونه يې په لسمه پيړۍ کې کړي دي.

www.abulhasanalinadwi.org

ددې پيړۍ نامتو اديب اوتاريخ پوهه علامه قطب الدين نهرواني[۱] مکي د(الإعلام في أخبار بيت الله الحرام ) مصنف په کال ۹۹۰هـ کې وفات شوی دی چې په ختهٔ هندې وه خوړده دکمالاتو قدر دترکيې اوحجازمشرانو او امراو هم کاوه دايران ځکمې په علامه جلال الدين دواني مړ۹۱۸هـ ، ملاعمادالدين محمود طارمي مړ۹۴۱هـ ، اوعلامه غياث الدين منصور مړ۹۴۸هـ باندې وياړل کومو چې هورې دعلم حکمت داسې سيندونه جاري کړي وو چې څپې يې ترهنده پورې رارسيدلې وي، شيخ محمد بن شيخ ابى الحسن صديقي، شافعي، اشعري ، ددې زمانې په خورالويو علماووکې ګڼل کيږي چې د الاستاذالاعظم او قطب العارفين په القابو سره يادېده. د ستونزمنو مضامينو او نادرو نکاتو په حل کولو کې يې سارى نه درلود په حديثو، فقه، دايتونوپه ربط اوتفسير کې هم چا سيالي نشواى ورسره کولاى، دعلم مينوال د پتنګانو په څير پرې توئيدل له دې سره دباطن ښبتن، دطريقت شيخ، شاعر او اديب هم و[۲]په کال ۹۹۳هـ کې وفات شوی دی.

دا راز نامتو هندي محدث رحمت الله بن عبدالله سندهي حنفي مړ۹۹۴هـ چې په حجاز کې يې حديث عام کړل او دخپلې استادې اوفني مهارت په برکت يې په زړونو کې ځاى پيداکړ، ملک العلماءعلامه وجيه الدين بن نصرا لله ګجراتي چې نيمه پيړۍ يې ددينې اوعقلي علومو درس ورکړ اوشاګردانويې له يوې پيړۍ زيات د درس اوتدريس بازار ګرم ساتلى و دا دواړه دهمدې پيړۍ په وروستۍ نيمايې کې تير شوي دي اوددې پيړۍ په اخر ۹۹۸هـ کې يې داخرت سفرغوره کړ، يمن دحديثو

---

[۱] نهروالا د نهلو اړه تعريب دى چې د پټن (ګجرات ) لرغونى نوم دى اوپه ۴۱۶هـ کې سلطان محمود غزنوي فتح کړى دى.

[۲] دتفصيل له پاره د "النور السافر " ۴۱۴- ۹۳۹ مخونه وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

دروایت او اسناد ترټولو لوی مرکز و اوهوری دیمن محدث طاهربن حسین بن عبدالرحمن الاهدل په درس بوخت و او په همدي کال ۹۹۸هـ کې وفات شوی دی [۱] په دې زمانه کې هند ته د ایراني پوهانو راتګ پیل شوی چې دعلامه جلال الدین دواني، ملاعمادبن محمود طارم، اومیرغیاث الدین منصور شاګردان وو.

دهمایون په زمانه کې دمولاناجامي اوعبدالغفورلاري شاګردمولانازین الدین محمود کمان ګربهدایي هندته راغی اوباچادهغه ډیرتعظیم وکړ، داکبر په زمانه کې درې ورونه: حکیم ابوالفتح ګیلاني حکیم همایون (حکیم همام) او نورالدین قراري له ګیلانی څخه هندته راغلل اوپه دربارکی یې رسوخ پیداکړ څه موده وروسته ملا محمدیزدی له ایران څخه راغی او امیر فتح الله شیرازی هم په بیجاپور کې دیره شو اواکبر د دربار ښکلاوګرځیده دمیرغیاث الدین منصورشاګردو په۹۹۳هـ کې صدر شو هندته د ایراني علماو تصنیفات همده رواړل، ده ددې ځای‌په نصاب اودرسي طریقې دومره ژورې اغیزې وکړې چې بلاخرې ددرس نظامې مترقي صورت غوره کړه، چې دهند په علمي اودرسي کړیو کې تراوسه پورې منل کیږي [۲] په دې زمانه کې په ځانګړې توګه په دجنوبی هندکې دنیشاپور، استراباد، جرجان، زندران او ګیلان دزیاتوپوهانو اوادیبانو نومونه موندلای شي چې په دربارونو کې یې رسوخ پیدا کړی و.

(۱) دده ژوند دحالاتو له پاره د علامه محمد بن علی شوکانی کتاب "البدر الطالع" وګورئ

(۲) د تفصیل له پاره حکیم سید عبدالحی حسنی (د لیکوال پلار) کتاب "الثقافة الاسلامیة فی الهند" او د هغه اردو ژباړه: اسلامی علوم وفنون هندوستان مي" او د "هند و ستان کانصاب درس" وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

افغانستان هم له خپلې باتورې او تورزنې سره سره دعلم اودرس له پانګې څخه بې برخې نه و، قاضي محمد اسلم هروي چې په هندکې په کال۱۰۶۱ هـ کې وفات شوی په هرات کې زیږیدلی‌دی اوپه افغانستان کې یې له مولانامحمدفاضل بدخشاني څخه دعلم زده کړه کړې ده، مولانامحمدصادق حلوایې هم دافغانستان د هغه وخت له لویو علماوڅخه و ځرنګه چې هرات دایران سرحد ته نږدې پروت و نو ځکه دعلم الحکمت مرکز ګرځیدلی و چې له دې کبله یې اوسیدونکي هم په علم حکمت کې لوړو پوړیو ته رسیدلي و لکه قاضي محمداسلم هروي اودهغه نامتو زوی مولانا محمد زاهد چې دهندپه مدرسې کړیوکې په میر زاهد سره مشهور دي اوهرڅوک یې پیژني، له ډیرې مودې راهیسې دمیرزاهد درې حواشي (چې په زواهد ثلاثه سره یادیږي) دعلماو اواستادانو دتوجه وړ اوان چې دفضیلت معیارګرځیدلی دی.

دهند دعلماوو دشاګردی اواستفادې تعلق یواځې په ایراني علماو اودفن ماهرینو پورې نه وتړلی بلکې د مصر، حجاز اویمن له علماو اومحدثینو سره یې هم تړاو درلود، شیخ راجح بن داود ګجراتی مړ۹۰۴هـ په حدیثوکې له علامه سخاوي څخه استفاده کړې وه علامه سخاوي ده ته د ابن العربی په اړه د شیخ العلاء البخاری ا لحنفی رایه او مسلک ویلی وځوهغه دهندعلماءاومشائخ له ده څخه خبرکړي او د شیخ اکبر په اړه چې ددوی کوم باور اوښې رأییګ لري هغه له منځه ولاړې شي [1]. علامه سخاوي په خپل کتاب "الضوء اللامع " کې ده دخپل دې هندي شاګرد یادونه کړې ده اودهغه دعلمي کمالاتو اعتراف یې کړی دی، دخپل وخت دحدیثوامام علي بن حسام الدین المتقي دکنزالعمال مصنف په اړه ویل کیږي چې تولہ نړۍ دسیوطي د

---

[1] نزهة الخواطر څلرم ټوک

www.abulhasanalinadwi.org

احسان او ښيګڼو پوروړي ده خوسيوطي دعلي متقي داحسان پور وړی دی. دیَ د علامه ابوالحسن الشافعي البکري (دحرم مکی مدرس ) اوعلامه شهاب الدين احمد بن حجر مکي (دمکي مکرمي مفتي او محدث ) شاګرد و .

له پورتنيو کرښوڅخه دا اندازه لګولای شو چې که څه هم هند په سمندرونو او اسما نڅکو غرونو کې را حصار دی او له باندنی نړۍ سره يواځې دوه لارې لري چې يوه د بلوچستان دبولان دره ده اوبله دلويديځ سرحد دخيبر دره ده خوبياهم په علمي اوثقافتي توګه له باندنۍ نړۍ څخه يومخ ګوښې ندی پاتې شوی اودکتې اخيستنې او ورکونې لړۍ يې جاري وه،که څه هم حقيقت دادی چې دهندله افادې څخه استفاده اوله برامد څخه درامد زيات و اوداسی کيدل يو قدرتي عمل هم و چې هند ته "دين " او "علم " دواړه د ترکستان اوايران له لاری رسيدلي دی .

www.abulhasanalinadwi.org

# ذهني ناارامي او اعتقادي ګډوډي

که دهغې ذهني ناارامي او اعتقادي ګډوډي يادونه ونه کړو چې په هغه وخت کې په هند او ګاونډيو هيوادونوکې موجوده وه ؛ نو دلسمي پيړۍ سياسي، علمي او ديني جائزه به ناپوره پاتې شي ، څوددې پيړۍ سمه نقشه رامخته شي. څکه چې څوک داتيروتنه ونکړي چې دژوند په سمندرکې (چې په زرها وميله مسافت کې بهيږي)پوره سکون او ارامي وه، او ددين دزده کړې اوخپراوي داخلاقو او روحانيت دروزنې اوپر مختګ کشتي په پوره ډاډسره پکې چليداى شواى، له درنو څپو او ګردابونوڅخه يې څه ويره نه وه، کچيرته داسې واى نو ددې دور لپاره "ددين دبيا ژوندى کولو او تجديد " په ځاى "د ښوونې او روزنې " يا "نشر او اشاعت " عنوان ښه مناسب و. هنددځو مهمو وجوهاتو اولاملونو له کبله داختلاف خوښوونکو دعوتونو ،ګمراه کوونکوډلوټپلو ،اودبيلارې مذهب پالو لپاره ښه څرځاى ګرځېدلى وو . هغه لاملونه په لاندې ډول دي :

د اسلام له ديني اوتهذيبي مرکزونو " حجاز ، مصر ، شام ، عراق " څخه لرې والى اسلام به چې دلته رارسيده نودترکستان او ايران په کړ ليچونوکې به يې چکر خوړ، دعربي ژبې نه رايج کيدل اوله هغې سره نابلدتيا، په ځانګړې توګه دعلم الحديث نه خبرېدل چې په هغه سره ددين اصلي روح، دسنت او بدعت توپير، دامر بالمعروف اونهى عن المنکر اړتيا اودسهي ديني احتساب صلاحيت پيژندل کيږي ،حج او دعلم دزده کړې لپاره باندينو هيوادونو ته دسفرستونزې، اوداسلام د منونکو له مسلمان اکثريت سره نيږدې اوسيدل چې هغوى خپل مذهب ته سخته

www.abulhasanalinadwi.org

عقیده لري. دغیر اسلامی رسم او رواج سخته پابند دي اوسخت زیات تو هم پرسته دي . ددی لړی یوه کړی د تشیع هغه افراطي او خونړی شکل وه چې دایرانیانو په اغیز د جنوبي هندپه ځینې ځایونو او کشمیر کې پېداشو. دلسمې پیړۍ په نیمایي کې د احمدنګر والي برهان نظام شاه دشیخ طاهربن رضی اسماعیلي قزویني تراغیزې لاندې راغی او شیعه مذهب یې ومانه شیخ طاهر له ایران څخه دشاه اسماعیل صفوي له ویرې راتښتیدلی و او احمد نګرته راغلی و، ده په تشیع کې زیاته مبالغه وکړه تردې پورې چې داسې حکم یې صادرکړ چې په جوماتونو، خانقاو، بازارونو او لارو کې دې په ډاګه سره له دریو خلفاو څخه‌بیزاري اوتبرا اعلان کړل شي؟ ددې خدمت سرته رسوونکوته یې خورا زیاتې تنخواوې مقررې کړې داهل سنت زیات خلک مړه او ونیول شول.[۱]

بل لورته د میر شمس الدین عراقي په هڅو سره په کشمیرکې دتشیع مذهب خپور شو . ده دخپل مذهب په خپرولوکې ډیرې هڅې وکړې ویل کیږي چې څلور دېرش زره هندوان شیعه شول داهم ویل کیږي چې هغه د " نوربخشی" په نامه یونوی مذهب هم ایجاد کړی و ، په فقه کې یې یوکتاب هم لیکلی دی چې مسائل یې نه له اهل سنت سره اتفاق لري او نه له امامیه فرقې سره ، داهم ویل کیږي چې په کشمیرکې یوه نوي ډله جوړه شوې چې هغه دا عقیده لري چې سید محمد نور بخش موعود مهدي دی.[۲] په کال ۹۵۰هـ کې همایون ایران ته ولاړ څو دایران له واکمن شاه طهما سپ څخه نظامي اوسیاسي مرستې تر لاسه کړې ایراني واکمن همایون ته دشیعی مذهب د منلوورانديز وکړ، همایون ورته وویل چې په یوه

(۱) دتفصیل له پاره د محمد قاسم بیجا پوری کتاب "تاریخ فرشته" وګورئ نوموړی لیکوال د اثنا عشریه له ډلې سره تعلق لاره .

(۲) د محمد قاسم بیجاپوری تاریخ فرشته وګورئ .

www.abulhasanalinadwi.org

کاغذباندي تاسي خپل ټول معتقدات ولیکئ. اوباچا هغه نقلا ولوستل [۱] دباچا دمذهب بدلولو که څه هم کره دلیل نشته خو په دې کې هم شک نشته چې په ایران کې داوسیدو په مهال به د ایراني واکمن دښې میلمه پالنې او پراخې نظامي مرستې دمننې او تشکر په نتیجه کې دده په زړه کې داثنا عشري مذهب لپاره یوڅه ځای پیداشوی وي، هغه چې دده د پخې عقیدې څښتنومشرانو به هیڅ تمایل نه ورته درلود ځکه هغه پاخه حنفي سنیان وو او ځینو خویې له نقشبندیه طریقې سره هم تړاو درلود. د قزلباشو امراوو دهمایون دمرستې لپاره له ایران څخه راغلي وو. همایون په خپله نیک زړی، ښه او مهذب انسان ووهروخت به په اوداسه ښوریده دښې اودسي په حالت کې یې دخدای ﷻ او رسول ﷺ نومونه نه اخیستل، د اذان په اوریدو سره د کتابتون په زینه کې کښیناست اوله هغه ځای څخه دښوئیدو له کبله په ۱۵ دلومړی خور کال ۹۲۳هـ کې وفات شو.

دده په امیرانو اود سلطنت په غړو کې بیرام خان خانان دډیرو ښیګڼو او کمالاتو څښتن امیر وو. ډیرنرم زړی دجمعې او جماعت پابند و او دعلماوو اومشایخو عزت یې کاوه. خوتفضیلی (یعنی حضرت علی رضي الله عنه یې بهتر باله) وو دده مشهور شعردی چې وایې:

شهی که بگذرداز نه سپهسرا فسرا و _ اگرغلام علی نیست خاک بر سر او

میر شریف املی په علم الحکمت کې ډیر مهارت درلود هغه د اکبر په زمانه کې هندته راغی. اکبریې ډیر عزت وکړ، په کال ۹۹۳هـ کې یې دکابل اوپه کال ۹۹۹هـ کې یې د بنګال د صدارت عهده ورته وسپارله، په اجمیر اوموهان کې یې خمکې ورکړې د "مأ ثر الامراء" دلیکوال خوافی خان له وینا سره سم هغه الحادي افکارلرل تصوف یې له فلسفې سره ګډکړ اود عینیت قائل وو.

[۱] منتخب التواریخ / لومړی برخه / مخ / ۴۴۵.

www.abulhasanalinadwi.org

په هندکې دوه تحریکونه خورا تخریبي او داسلام لپاره سخت خطرناک وو، یوه یې ذکري ډله وه، دوی په دې اند وو چې دمحمدي نبوت له زرو کلونوپوره کیدلو وروسته د دویم زرلپاره دیوه نوي نبوت او هدایت ضرورت دی؟ داتحریک په بلوچستان کې راپیدا اوخپور شو دوی چې څوک پیغمبر باله د هغه په وینا دی په کال ۹۷۷هـ کې په اټک کې رابښکاره شوی دی ؟

ددې تحریک دکتاب: "ذکري څوک دی ؟" لیکوال د ذکرې فرقې د موسس ملا محمد یادونه کړې، دی لیکي! دی د دوشنبې په شپه دسهار په مهال له قطب ښار څخه په انساني شکل او د فقیري په لباس کې داټک د غرئیزې سیمې ته په یوه دنګ غره باندې په کال ۹۷۷هـ مبارک قدم کیښود او راڅرګندشو[1] ذکریان نوموړی ملا محمد وروستی نبي، د نبیانو افضل ، دلومړنیو او وروستنیو نور بولي. په قلمي موسی نامه کې راغلي: *حق تعالی گفت ای موسی بعد ازمهدی پیغمبر دیگر نیافریدم نور اولین واخرین همین است که پیداخواهم کرد* [2]

ددې ډلې په کتابونو لکه "معراج نامه قلمی "، "ثنای مهدی" (چاپ)، "سفرنامه مهدي " "ذکر الهی"، او نورو کې داسې څرګندعبارتونه راغلي دی چې په هغه کې ویل شوی چې نوموړي له ټولو انبیاوڅخه بهتر دی اوله حضرت محمد ﷺ څخه هم زیات فضیلت لري داراز خرافات اود دجل او د روهو نوري هم زیاتي کیسي پکې راغلي دي دوي خپله کلمه هم لرله چې هغه " لااله الا الله نورپاک محمد مهدي رسول الله " وه، لمونځ کوونکي یې کافر بلل او دهغوی

---

[1] ذکري څوک دی ؟ مخ ۱۳ .

[2] همدا اثر مخ ۱۱۸.

www.abulhasanalinadwi.org

سپکاوی به یې کاوه[۱] دا راز له روژی، حج او زکات څخه هم منکر وو دبیت الله په ځای یې په "کوه مراد" کې حج کاوو .. [۲].

په تاریخ خوانین بلوچ " کې راغلی دي چې د بلوچستان په ځینې سیمو کې دذکري غوندې د اسلام مخالف مذهب جاری وو، مسلمانان به یې لمونځ کوونکي بلل اودهغو سر وهل یې ضروری بلل، میرنصر خان اعظم یوې خواته محمدي شریعت پلی کړ اوبل لورته یې د ذکریانو د کفر او شرک په خلاف خونړۍ جهادي لړۍ پیل کړه تردې پورې چې له زیاتو سختو جګړو وروسته یې دابدعت له منځه یوړ[۳] دروښانیه ډله وه. دافغانانو دمخ په زوړ ځواک ته داوړی ورکولو او دمغلو دپرمختلونکی قدرت دلارې ډب کولولپاره روښاني ډلې مهم رول لوبولی دی.[۴] څکه خو ددې ډلې د پرمختګ په اړه د هغې زمانې دلیکوالانو خبرې اولیکنې دغور او څیړنې وړدي، څو معلومه شي چې تاریخي حقیقت څومره دی اوسیاسي

---

[۱] اعتقاد نامه قلمی .

[۲] دذکرې لیکوالانو کتابونه لکه ذکر توحید ، چاپاب ، زه ذکری یم، تفسیر ذکر الله (چاپ ) او نور ډیر .

[۳] تاریخ بلوچ په دې مضمون کې د " اکوړه ختمک " د " الحق " مجله له ۱۹۷۹ ع کال ګڼې څخه استفاده شوې ده چې په هغه کې د دارالعلوم دمشر استاد مولانا عبدالحق تربت بلوچستان یو مضمون دی مونږ له هغه څخه زیاته ګټه اخیستې ده ، دا راز د ذکرې مذهب دپوره تفصیل دپاره د " الحق " مجله جنوري کال ۱۹۸۰ ع وګورئ.

[۴] په هغه زمانه کې تصوف ډیر اغیز من او زیات مقبولیت یې درلود ځینې پوهانو خو څکه ویلي دي چې دا تصوف و چې افغانان یې یو موټی کړل او د یوه مذهبي غورځنګ له بیرغ لاندې یې راجمعه کړل او دمغلو په خلاف یې جنګ ته چمتو کړل او وبې کولای شوای چې د افغانانو له لاسه وتلی اقتدار بیرته هغو ته ورکړي.

www.abulhasanalinadwi.org

موخې ترکومه ځایه پورې چلیدلې دي؟ ددې ډلې دپلویانو اومخالفینو په خبروکې دومره تضاد لیدل کیږي چې پلویان یې خپل مشر "پیر روښان " بولې او مخالفین یې "پیر تاریک " بولي، ددې ډلې مشر او موسس بایزید انصاري و، چې په پیر روښان سره هم یادیده، دی دعبدالله زوی دی او په کال ۹۳۱هـ کې دبابرله واکمنی یوکال مخکې دجالندهرپه سیمه کې زیږیدلی دی، ماشومتوب او تنکی ځلمیتوب یې په کورنیو جنجالونو او د مشرانو په نه پاملرنه کې تیر شوی ده، له دې کبله یې زده کړې نیمګړې پاتې شوې دي . د ځینی روایاتو له مخې په کوم سفرکې یې له سلیمان اسماعیلیسره هم ملاقات شوی و، څوک بیا وایې چې له جوګیانو سره یې هم ملګرتیاکړې وه، دده سوانح لیکونکي لیکې چې ده خوب ولید اوله غیب څخه یې اوازونه واوریدل . دی په خفي ذکرکې منهمک شو اوڅه موده وروسته "د اسم اعظم " په ورد کې مستغرق شو، کله چې یوویشت کلنی ته ورسیده نوغیبي،اواز ورته وشو چې باید"شرعي طهارت" پریږدي، اود مسلمانو د لمانځه په ځای باید د انبیاوو لمونځ پیل کړي [1] له دې وروسته ده هر چاته مشرک اومنافق ویل پیل کړه .ځیلې(ځلویښتي) یې کولې چې لدې وروسته ده ته په ډاګه دتبلیغ کولوحکم وشو دمهرویت او رباني الهام تورهم خلکو پرې لګولی دی [2] دده مریدان ورځ په ورځ ډیریدل ده په خپلومریدانوکې ځینې خلیفه ګان هم کړل څو هغوی دتبلیغ کار نورهم پراخه کړې، خو دده په کتاب(صراط التوحید)کې چې دده کومې ښوونې راغلي دی هغه دتصوف افراطې شکل اود افراطې ځان پیژندنې نتیجه پریښې چې هغه دکامل شیخ له لارښوونې پرته او دکتاب او سنت دراسخ

---

(۱) خوشیخ بایزیدپه خپل کتاب "مقصود المومنین" کې لیکلي دی چې شریعت د ونی د ریښو په څیردی.ونه له ریښو پرته بقا نشی لرلای مخ۴۴۴ قلمی‌نسخه خانه جامعه پنجاب .

(۲) شیخ په خپله دا خبره رد کړی ده چې دی مهدي دی داخبره په هغو مباحثو کې شته چې دده او دکابل دقاضی خان ترمنځه راغلی وه، د پنجاب د جامعې قلمی نسخه.

www.abulhasanalinadwi.org

علم نشته والي په صورت کې په هغو خلکو کې ليدل کېږي چې په خپل سرریاضت کوي، دده په کتابونوکې ځينې عقايد او اصول بيان شوي چې غالباهغه يې جنګی قوانين دي، چې له هغې زمانې سره تړاو لري په کوم وخت کې چې دی له مغلو او خپلو مخالفوافغانی قبايلو سره په جګړه بوخت وو. ده د پيښور په سيمه کې ګڼ شمير افغانی پرګنې دځان مريدان کړل په ممندو کې يې هم خپل تبليغ پيل کړ، په سنديانو او بلوچو يې هم اغيز وکړ، د پيرانو اوعلماوو له سخت مخالفت سره سره هغه بياهم په هيښوونکې توګه برياليتوب تر لاسه کړ. شيخ بايزيد خپل مبلغين دګاونډيو هيوادونو واکمنو، اميرانو، او علماوو ته ور وليږل چې په دې لړکې يې يو مبلغ د اکبر دربار ته هم ور وليږه. دده دژوند وروستی دوه نيم کاله له مغلوسره په جګړه کی تير شول اوپه کال ۹۸۰ هـ کې په " کالا پانی " نومي ځای‌کې وفات شو اوپه هشتنګري کې دفن شو دده په کتابونوکې دری کتابونه اوس موجود دی چې هغه: (خيرا لبيان، مقصود المومنين او صراط التوحيد) دی. چې په دې کې ده دخپلی جوړې کړې ډلې لپاره اصول او قواعد بيان کړې دي، په دې کې خير البيان او مقصود المومنين دده دپيروانو لپاره دمقدسوکتابونو حيثت لري، اخوند درويزه دده تر ټولوسخت مخالف وچې دسيدعلی‌ترمذي (مشهور په پير بابا) مر۹۹۱هـ مريد وه.

اخونددرويزه دده په خلاف "مخزن الاسلام " نومی‌کتاب وليکه، په فارسي ژبه کې پيرروښان د "حال نامه پير دستګير " په نامه يوکتاب ليکلی دی چې دده د ژوند حالت او سوانح پکې دي. چې علی محمد مخلص له زياتونوسره ترتيب کړی دی. دداخلی اوخارجي جګړوله کبله دعلماوو دسخت مخالفت له وجې اوله دې

کبله چې مریدان یې دهندپه مختلفوبرخوکې شیندلی و ددې ډلې افراد ورو ورو کمیدل چې بلاخره تقریبا ختم شول [۱]

د"داستان ترکتازان هند" مصنف مرزا نصرا لله خان فدایي دولت یار جنگ ددې ډلې دپیژندنې په ترځ کې لیکي: روښانیه دهغه ډلې نوم دی چې دهند اوسیدونکي یوه تن بایزید نومي یې اساس ایښی و دی افغانانوته ورغی اود نبوت دعوه یې وکړه، اوځېل ځان یې روښاني پیغمبر باله، افغانان یې تابع شول اسماني صحیفوته یې ځوابونه ولیکل اودخدای ﷻ عبادت یې پرېښود، دده له ویناوو څخه ځرګندیږي چې دی دوحدة الوجودقایل و[۲] دی په دې ګروهه و چې له واجب الوجود پرته بل هیڅ شی وجودنلري . درسول الله ﷺ ستاینه به یې کوله، ده به خلکو ته زیری ورکاوه چې هغه ورځ نږ دی ده چې دځمکي ټوله کره به دده تر ولکې لاندې شی، دده له خپل کتاب حالنامې څخه ځرګندیږي چې ده ته به الهام کیده، اوجبریل ؈ ورته را ته، اوخدای ﷻ نبوت ورته ښښلی دی ، ده په خپله ځان نبی باله لمونځ یې کاوه خوقبلې ته مخ کول یې ضروري نه بلل او "فاینما تولوا فثم وجه الله" ایت شریف باندې یې استدلال کاوه، غسل کول یې ضروري نه بلل اودخپلو مخالفینو مرګ یې روا باله. [۳]

---

[۱] د اردو دائرة المعارف اسلامیه په څلرم ټوک کې د پرفیسر ډاکټر مولوی محمد شفیع مرحوم له لیکني څخه .

[۲] په هغه زمانه کې داڅه نوی خبره نه وه صوفیانو اومشایخو به زیاتر په هندکې په دې عقیده کې زیات افراط کاوه .

[۳] له دا ستان ترکتازان هند مخونه ۳۰۴ — ۳۰۵.

www.abulhasanalinadwi.org

مصنف په دې لړ کې دده ځینې داسې ویناوې هم رانقل کړي دي‌چې هغه عارفانه او صوفیانه دي چې په هغوکې دنیوکې ځای نشته، خوله دې سره سره د اسلام مخالف نظریات هم شته لکه دده په اند خدای‌ﷻ پیژندنه اوځان پیژندنه (خدا شناسي وخود شناسي) یې تر ټولو مهم افکاردي. که یوهندوهم خود شناس وي له مسلمان څخه ښه دی، له مسلمانانو به یې جزیه اخیستله اودغنیمت پنځمه به یې په بیت المال کې داخلوله، اوپه اړو خلکو به یې ویشله . دده ټول زامن ډیر پاک اوله فسق څخه لري وو، له ظلم او تیري څخه یې ځانونه ساتل، په عربي، فارسي، هندي او پښتوکې یې ګڼ شمیرکتابونه لیکلي دي . دده یو کتاب (خیرا لبیان) نومیږي چې په څلورو ژبوکې لیکل شوی دی، او هغه دی یو اسماني کتاب بولي چې دخدای‌ﷻ له لوری څخه ده ته خطاب پکې شوی دی .[۱]

له معاصرو تاریخونو څخه معلومیږي چې پیر بایزید له افغانانو څخه یولوی ځواک جوړ کړ، دسلیمان په غره کې اوسیده او دخیبر دره یې هم نیولې وه اوپه شاو خوا سیموبې هم حملې کولې د دوی دله منځه وړلو لپاره اکبر یو فوځ ورولیږه خو هغه هم و نشوای کولای دوی له منځه یوسي، دده له مرګه وروسته دده زوی د مغلي واکمنۍ لپاره خطره وو، راجه مان سنګه ، بیربل او زین خان هم د دوی په وړاندې له ناکامي سره مخ شول، بیربل خو په یوه جګړه کې مړشو مان سنګه د ۹۹۵هـ په حملوکې هم د روښانیانو په وړاندې ناکامه شو. ورو ورو د شاهجهان په زمانه کې په کال ۱۰۵۸هـ کې داډله ختمه شوه [۲]

---

[۱] دملا محسن خاني له کتاب حالنامه بایزید دردبستان مذاهب مخونه – ۳۰۶ –۳۰۹ څخه .

[۲] له داستان ترکتازان هند څخه چن شوی دی .

www.abulhasanalinadwi.org

مهد و یت ـ ددي وخت تر ټولو پاروونکي تحریک د مهدویت تحریک و ددې ډلې موسس سید محمد بن یوسف جونپوري و. چې په ۸۴۸ هـ کې زو کړی دی، دی که څه هم دلسمې پیړۍ په لومړیو ۹۱۰هـ کې وفات شوی دی خودده اغیزې دلسمې پیړۍترپایه پورې پاتې وې. دبې طرفه تاریخي مطالعې په رڼاکې داسې ویل کیدای شي په دو دریو پیړیوکې دننه د افغانستان په شمول په دې وچه کې دومره پراخه، ژور اوځواکمن تحریک بل نه دی تیر شوی. اونه بل کوم تحریک په اسلامي ټولنه باندې دومره زیاته اغیزه کړی ده. ددې تحریک په پلوی اومخالفت کې چې معاصرو او وروستیومورخینو څه لیکلي دي دهغې له مطالعي څخه مونږ دالاندی پایلی ترلاسه کولای‌شو:

۱- سیدمحمد جونپوری په باطني او خلقي توګه ډومره دلوړاستعداد او ځواکمن باطن خښتن و چې دده په څیر انسانان ډیرکم پیداکیږي. دی په تنکۍ ځوانۍ کې لاخورا میړنی اوغیرتي و، له خپل چاپیریال اود زمانې له حالا تو څخه مطمین نه و، بې له توپیره یې دامر بالمعروف اونهی عن المنکر دنده سرته رسوله. له ناروا کارڅخه به یې خلک په ډیره سختي سره منعه کول او ترټل به یې له دې امله په خپله زمانه کې د "اسد العلماء " لقب ورکړل شوی و دسلوک او تصوف زده کړه یې له شیخ دانیال څخه کړی وه ( له زیاتې ګروېږنې وروسته مو هم دشیخ دانیال په اړه څه معلومات پیدا نکړل ) زیات ریاضت اومجاهده یې وکړه، په غرونو او کندو کې ډیره موده تنهاوګرځیده چې کله دکامل شیخ لارښوونه نه وي نوډیرځله ددا ډول تنهایې پایله داسې اشارات وي چې له هغه څخه د بدلغزش اوېښې ښوئیدنې ویره وي اوکله د غلط یقین دحاصلیدلو ویره هم وی دا ډول شخص چې دتحقیق او پختن مقام ته نه وی رسیدلی، له الفاظوڅخه غلطه معنی اخلی او غیبی اشارات هم غلط تعبیروی، ده هم په دې وخت کې په یوه سفرکې

www.abulhasanalinadwi.org

دمهدی کیدلودعوه وکړه، اوله دې وروسته يې هم ډیرخله په مختلفو ځایونوکې د"مهدي موعود " دعوه اعلان کړه. اوپه ده باندې د ایمان راوړلولپاره يې دعوت پیل کړ.

۲- هغه د زیات ریاضت، باطني ځواک اود امر بالمعروف د زیاتې جذبې له کبله خورا لوړ او اغیزمن شخصیت و دده شخصیت اوخبرو به په اوریدونکو باندې دجادو په څیر اغیزه کوله، له واکمنو اوامیرانوڅخه نیولې ترعوامو اوخواصو پورې ټول به داسې په هیش کې ورته ناست وو چې له ځانه به نه وو خبر دده لپاره به يې لوړمنصبونه او غټې چوکۍ پرېښودلې له دنیا او وطن څخه به لاس په سرشول له ده سره به ملګري اوځانونه به يې ورته وسپارل. د "ماندو" په پلازمینه کې په غیاث الدین خلجي باندې داسې‌کانه وشوه، دګجرات په چانپانیر کې په محمود شاه ګجراتي باندې يې داسې اغیزه وکړه. په احمدنګر، احمداباد. بیدر او ګلبرګ کې هم داسې پیښې رامنځته شوي، خورا زیاتوخلکو دده په لاس کې لاسونه ورکړل اوپه زرهاو انسانان يې په کاروان کې شامل شول؛ دسنده په سیمه کې هم داسې بده ورځ جوړه شوه چې د خلکو تم کول ګران وو په کندهار کې هم دده وېناو قیامت جوړکړ اود کندهار والي مرزا شاه بیګ هم دده لوری ته مائل شو.

۳- دده ژوند د دنیادترک، بې پروایې اواستغنا، پرته له خدایهﷻ نور له هرشي څخه پریکون ژوندم و، په سفر اوحضر دواړوکې دده په شاوخواکې دزهد اوایثار ذکر اوعبادت فضا تر سترګوکیده. دده په مجلس کې چا خصوصیت او امتیازات نه درلودل خوراک اوهرڅه به په مساوي توګه ویشل کیدل، په دې لړکې په خپله دده او دده دکورنۍ هم څه رعایت نه کیده نو کوم نوی کس به چې داحالت ولید بې اغیزې به نه پاتې کیده .

www.abulhasanalinadwi.org

۴- دغه دعوت او تحریک ګڼ شمیر داسې بې خچه او صفا تکړه داعیان او بلونکي پیداکړل چې هغوی د "کلمة حق عند سلطان جابر" دنده په ډیره میړانه سره سرته ورسوله، دامربالمعروف اونهی عن المنکر په لاره کې یې ډیری ستونزې وزغملې او په دې لاره کې یې په اخلاص سره ځانونه قربان کړل، انسان چې ددوی حالت لولې نومتاثرکیږي،اوله مجبوری به دسیدمحمد جونپوري دتربیت اوملګرتیا داغیزو اعتراف کوې، د بیلګې په توګه تاسو دشیخ علابن حسن البیانوي "شیخ علابی" مړ۹۵۷هـ دژوندحالات وګورئ چې هغه دسلطان سلیم شاه دشیرشاه سوري دزوی په دربارکې ددعوت اوبلنې وظیفه ترسره کړه چې هغه دشاهې دربار دادابو په سر ټیټولو سره دسلام کولو پرځای په سنت طریقه سلام وکړ اودریم ځل یې دسفر دستوماني او د طاعون درنځ په حالت کې دورې وخوړلې چې له دورو څخه روغ پاتې شو نو دده بدن یې د فیل په پښو پورې و تاړه او په لښکرکې یې وګرځاوه [1]

۵ - دده د دعوت اوبلنې پنځه اصول وو:۱ـ ددنیا ترک، ۲ـ له خلکو څخه ګوښه کیدل، ۳ـ وطن پریښودل ( هجرت )، ۴ـ دصادقو خلکو ملګرتیا، ۵ ـ د ذکر دوام (د حفظ انفاس په طریقه ) ده دخدای ﷻ لیدنه (که د سر په سترګو وي یا په زړه سره، دبیداري په حالت کې وي یادخوب) ضروري او دایمان لپاره مهم شرط باله .

---

[1] د نزهة الخواطر څلرم ټوک کې دشیخ علابن حسن البیانوی ژوند لیک وګورئ یاد ملا عبد القادر بدایونی منتخب التواریخ و ګورئ مولانا ابوالکلام ازاد په خپل ځانګړي ادبي اسلوب کې دشیخ علابی دشهادت زړه بوږنوونکی داستان په مفصله توګه بیان کړی دی د "تذکرة" له ۵۳ څخه تر ۶۱ – پورې مخونه وګورئ .

www.abulhasanalinadwi.org

۶- د بیهوشي په حالت کې یادمفهوم اومعنی په سمه توګه نه فهم کولو له کبله له ده څخه د خپل ځان په اړه ډیرځله په ځرګنده توګه داسي ویناوې او دعواوې شوې (١) دي چې دهغو تاویل او توجیه ډیره ګرانه ده، له دي سره دده پیروان (په پیل کې یې که څه هم نیتونه سم اودینی جذبی سپیڅلی وی) په اسانۍ سره دجمهورو اهل سنت مخالفه ډله وګرځیدله دوی دده دا ویناوې خپلې کړی او دخپلې عقیدې اساس یې وګرځولې .

ورستیوافراطی پیروانو یې (لکه څرنګه چې قاعده هم داسې ده) په هغه کې نورې زیاتونې هم وکړې دده په تقدس اوتعظیم کې یې دومره افراط وکړ چې له انبیاوو سره یې برابر اوله ځینو څخه یې بهتر وباله او ځینې سر سخته افراطیانو خودادعوی هم وکړه چې دی له رسول اللهﷺ سره هم برابر او مساوي دی؛ که څه هم دوی په خپله سید محمد دده پیرو اود محمدي دین تابع باله، ځینو خو یې دومره افراط وکړ چې ویل به یې : که کتاب او سنت دده له قول او فعل څخه مخالف وو نوکتاب اوسنت هم داعتبار وړ ندی دا راز په دي اړه هم زیات افراط کیده چې کوم مسلمان په سترګو یا زړه سره، په ویښه یا خوب کې دالهی انوارو مشاهده ونکړې نو هغه مومن نه دی. دعامو مسلمانانواودې ډلې ترمنځ پروت خیلج ورځ په ورځ پلنیده تردې پورې چې مهدویان یوه بیله ډله شول اوله اهل سنت والجماعت څخه بیل شول،اودکوموااهدافو اوموخو دپاره چې دا تحریک پیل شوی و هغه پاتې شول چې غالبا ددې تحریک دموسس په نظر کې به هم و .

دلسمې پیړۍ ترنیمایي پورې په هند اوافغانستان باندې ددې ډلې اغیزې پرتې وې، په دکن کې ددې ډلې پیروانو ځوواکمنې ترلاسه کړې. دلسمې پیړۍ په اخرکې

---

(١) داډول ویناوې له ډیروغالي صوفیانواودسخت ریاضت کونکو عابدانوڅخه نقل شوي دي .

www.abulhasanalinadwi.org

ددې ډلې شمير او ځواک دواړه دومره زيات شول چې داسماعيل نظام شاه بن برهان نظام شاه ثاني دحکومت په زمانه (۹۹۶هـ ۹۹۸هـ) کې جمال خان مهدوي (چې د صدې له واکمنو څخه وو) په احمد نګر کې دحکومت واګې په لاس کې واخيستې اسماعيل نظام شاه چې کم عمره و هغه يې هم خپل مذهب ته راواړاوه. په لږ وخت کې دهندله شاوخواڅخه مهدويان رايوځاى شول اود جمال خان په شاوخواکې نيږدې لس زره مهدويان جمعه شول او داحمدنګرحکومت يې په مکمله توګه لاس ته ورغى، برهان نظام شاه بهرته تللى وو چې کله په ۹۹۸هـ کې بېرته احمد نګر ته راغى نو مهدوي مذهب يې ختم کړ او دپخوا په څير يې اثناعشري مذهب رواج کړ. (۱)

د لسمې پيړۍ په اخرکې په مهدوي تحريک څرګندضعف پيداشو دسيد محمدجونپوري ادعاګانو اودده د افراطي پيروانو دسختۍ اوتشدد له کبله په عقيدو کې تزلزل اواسلامي ټولنه کې ګډوډي اواضطراب پيداشو، په دې حالت باندې دهغه وخت حقاني علماوو هغه چې دقران او سنت ژور علم ورسره وو اوپه ديني علوموپوره خبر وو پريشانه اوانديښمن وو او داتحريک يې ديوې لويې ګمراهي او فتنې پيلامه بلله ځکه خودهغې زمانې لوى عالم علامه محمد طاهر پټنې(۹۱۳هـ - ۹۸۶هـ) د "مـجمع بـحار الأنـوار" مصنف په دې ډله ردونه وکړل او د دوى دمخنيوي لپاره يې متې راپورته کړې ،اودا هوډ يې وکړ چې څويې دا بدعت (چې ټول ګجرات يې اغيز من کړى و ) له منځه نه وي وړى ترهغه پورې به دې پګړى په سرنکړي، کله چې په کال ۹۸۰هـ کې اکبرګجرات فتحه کړ او له علامه محمدطاهر سره مخامخ شونو په خپل لاس يې هغه ته پګړۍ وړپه سرکړه اوورته ويې ويل : چې ددين د مرستې او حمايت او ددې نوې ډلې دله منځه وړلو( چې تادهغې په خلاف بډې راپورته کړې دي) مسئوليت زماپه غاړه ده، اکبردهغه

---

(۱) د مولوى ذکاء الله دهلوى له کتاب تاريخ هندوستان څلرم ټوک څخه خلاصه شوى .

www.abulhasanalinadwi.org

رضاعي ورورمرزاعزيز الدين دګجرات حاکم وټاکه اوپه دې کارکې يې له هغه سره مرسته وکړه،اودده په زمانه کې دهغوی زورکم شو، خوچې کله مرزاعزيزله خپل منصب څخه ګوښه شو اودده په ځای ګجرات ته عبدالرحيم خانخانان راغی، نو مهدويانو بياځواک ترلاسه کړ اوميدان ته راووتل، علامه محمد طاهر بيا پګړی وغورځوله اوپلازمېنې ته يې مخه کړه خودمهدويانو يوه ډله په هغه پسې شوه " اجين " نومي ځای ته چې رسيده هغه يې شهيد کړ.[۱]

## دناارامي او ذهني ګډوډي اسباب

د تاريخ او دتاريخ دفلسفې له مطالعې څخه برېښي چې د ذهني ناارامۍ، عکس العمل دجګړه ماروخوځښتونوپيداکيدلوځواکمن اسباب اولاملونه په ټوليزه توګه په لاندې ډول کيدای شي:

۱- د ټولنې په وينا اوکړنو، ګروهه اوژوندکې دنه سمون اوتضادله کبله په نارامه اوځيرکوطبيعتونوکې سخته بې اطمينانې پيداکيږي،او يوې خاصې مرحلې ته په رسيدو سره جګړه ماردعوتونه اوخوځښتونه رامنځته کوي اوکه خوځښت يا تحريک رامنځته نه هم شي خوله تشکيک اودوه زړيتوب سره مخامخ کيږي، په ټوليزه توګه داخوځښتونه ډيره ژر افراطي تګلاره خپله کړي چې بياله دې فاسدې او لږ ځواکې ټولنې څخه دوی زيات بيلارې او ګمراه وی؛ په سياسي لحاظ ډير خطرناک وي اوپه ټولنه کې ګډوډی رامنځته کړي داسې برېښې چې په لسمه پيړۍ کې دمال اودولت زياتوالی، دچوکيو اومنصبونوتمې اوپه هغه کې دسيالۍ جذباتو

---

[۱] نزهة الخواطر خلرم ټوک .

www.abulhasanalinadwi.org

دا تضاد رامنځته کړي و، اود دنیادارو اودنیاپرستو یوه لویه ډله پیدا شوې وه چې دیني اواخلاقي ښوونې یې له پامه غورځولې وي دچوکۍ اوقدرت ترلاسه کولو یا لذت اوخوند اخیستنې لپاره یې هرې بیلارې اوبې شرمي ته ملاوې تړلې وې. دا ډول خلک په تولیزه توګه په داسې وخت کې پیداکیږي چې کله پراخه اومحکم سلطنتونه رامنځته شي اودامن اواستقرار دوره راشي، داسې بریښي چې د سوري کورنۍ دحکومت له وروستۍ دورې اودمغلي سلطنت له قائمیدووروسته په هندي ټولنه کې داکیفیت څرګند شوی وو اوداسلام اودشریعت ډیرمخالف اعمال او رسمونه جاري شوي وو.[1] په اموي اوعباسي سلطنت کې هم داډله په ښکاره توګه څرګنده شوې وه اوداډله دلومړۍ هجري پیړۍ نامتو مصلح اوداعي امام حسن بصري مړ ۱۱۰هـ د "منافقینو" په نامه سره یادوي.

۲- دواکمنواستبداد، خپل سري، ظلم اوتیری، دشریعت له حکمونوڅخه سترګې پټول، اوڅرګنده نفس پرستي چې دین پلوه خلک انقلاب اوبغاوت ته اړ کوي.

۳- رسمیت اوظاهرپرستي چې کله اوج ته ورسیږي نوټولنه داخلاقي اوذهني تیټوالي ښکارشي اوپه علمي کړیوکې زیات جمودرامنځته شي.[2] او ښوونیز نظام

---

[1] له تاریخ څخه معلومیږي چې د سلطان سلیم شاه یا اسلام شاه د حکومت په زمانه کی به په هر ولایت کی د جمعی په ورځ ټول شاهی مسئولین او امیران را جمعه شول په یوه لوړ خای به یی یوه چوکی کیښوده په هغه باندی به یی دسلطان سلیم شاه پیزارکیښودل او ټولو به هغو ته سرونه ټیټول اودشاهی قوانینو مجموعه به لوستل کیده د سید هاشمی فرید ابادی له "تاریخ هند" دریم ټوک مخ ۴۰ څخه

[2] پروفیسر خلیق احمد نظامی ددی زمانی په انځور ډلو او د تاروغی داصلی رنځونو په اړه داسی کښلی دی : د مسلمانانو عام ولسی اواخلاقی حالت په تیزی سره مخ په زوړراوان و په "افسانه شاهان" او "تاریخ داودی" کی چې کومی عجیبی کیسی وړاندی کیږی هغه

www.abulhasanalinadwi.org

بې روحه اوله حقيقته ليرې شي، اوذهنيتونوتسکين اوتسلي له وړتياڅخه بې برخې شي نوخلک په هغوتحريکونو اوخوځښتونوکې دذهني ارامي احساس کوي چې په سمه ياناسمه توګه له مسلط نظام څخه دباندې پښه ږدي، دقران اوسنت له تعليم څخه غفلت اوله حديثو څخه مخ اړول هم ددې يوځواکمن لامل کيدای شي، له قران اوحديثوڅخه په هره زمانه کې ددين سم مزاج ترلاسه کيدای شي اوداهم ځيني معلوميدلای شي چې دامت پوهه اوعمل له اصل دين، دپيغمبرله صحابه کرامو اوتابعينو تګلارې څخه څومره ليرې اوڅومره منحرفه ده.

۴- ديوه داسې ديني شخصيت نشتوالی چې په ذهني اوباطني توګه له عامې سطحې څخه لوړوي، دځواکمن شخصيت اواغيزمن روحانيت څښتن وي، ذهنی ناارامي او روحي اضطراب ليرې کړي، اودټولنې په مړژواندي بدن کې نوې ساه پوه کړي، داسلام په ابديت، دمحمدي شريعت په صداقت اوکمال باندې پراخ امکانات پوره يقين او ويساپيداکړای شي دلسمي پيړۍ دتاريخ له مطالعې، د ژوندليکونو اوتراجموله کتابونو، دپيښنو اوواقعاتوله څيړنې څخه معلوميږي چې کم ترکمه په هندکې ددې ناارامي اوذهني ګډوډۍ اسباب دمخکينو پيړيو په پرتل زيات شوي وو اوله دې امله په دې پيړۍ کې ذهني ناارامي اوجګړه مار غورځنګونه زيات ليدل کيږي.

---

داخلاقی تېتوالی اواعتقادی بدحالی هنداری دی. دفقيرانو عيش پرست ژوند ، د زده کونکو بيلاری، په تعويذ کونکو باندی بيځايه عقيدی ، دجناتو او ديوانو کيسی ، د سليمان د چراغ داستانونه ، په يوه پخه ټولنه او کلکه اخلاقی نظام کی دا ډول نشی عام کيدلای ، په حقيقت کی مهدوي غور ځنګ ددی ذهنی تېتوالی او مذهبی جمود د ليری کولو يوکوښښ وه سلاطين دهلی کی مذهبی رجحانات ص ۴۵۱ .

www.abulhasanalinadwi.org

# دلسـمې پـيـړی لـويـه فتـنه

## له "دويمې زريزې " څخه د نوي نړيوال نظام دپيل تيروتنه

لسمه هجري پيړی له دې لحاظه زيات اهميت لري چې ددې په اختتام سره داسلامي جنتري يوزرکاله پوره کيږې اودويمه زريزه پيل کيږې. په عامو حالاتوکې دا بدلون دومره اهميت نلري دنړی په اوږده عمر اودانساني ژوندپه پراخه تقويم کې چې څرنګه په هره پيړی سره يوه پاڼه اوړي داراز دزرو کلونو په پوره کيدو سره هم ديولسمې پيړی نوې پاڼه اوښتونکې وه خوچې کله ذهنونه له سخت انتشارسره مخامخ وي، په عقائدوکې تزلزل وي، ددين له سمې ښوونې او قران اوحديثوڅخه نه يوازې غفلت اوبې خبرې وي بلکې وحشت اونفرت موجود وي، يوناني علوم دانساني عقل اخري پوړ بلل کيږې اوهغه د"حکمت " او"د پوهې دعلومو" په نامه سره يادېږي، او دانساني علومو اوکمالاتو په پراخو څنډوکې د "الافق المبين [۱]" لقب ورکړل شوی وي، خلک په نکته پرانيو بوخت وي اوله وړوخبرو لويې کيسې جوړوي اوداعلوم دنصاب اوعلمي کړيوکمال بلل کېږي، دنبوي علومو، اسماني صحيفواوقراني نصوصو تحقير اوسپکاوی کيږي، اوپه هغو ايمان لرل جهل، ړوند تقليد اودعقل دښمني بلله کيږي

اوله دې سره سره دوخت له حکومتونو اوسياسي نظامونو (چې په ګډه ويډه توګه د اقتدار لپاره له مذهب څخه کار اخلي ) څخه بيزاري د بغاوت په معنی دی. اوپه دې برسيره داسې بخت وال افراد هم پيداشي چې ښه ذهانت هم لري اودوخت په

---

[۱] د ملا باقرادماد کتاب " الافق المبين " ته نغوته وه .

www.abulhasanalinadwi.org

علومو اوحکمت باندې پسوللی هم وي اودنوې دور دموسس اورهنمايي احترام او اقتدار خوبونه هم وينې او په زړونو او دماغوکې يې دا ارزوګانې په څپو وي چې د زمانې له چلن څخه به دی هم هغه ډول ګټه ترلاسه کړي چې دده په فکر د مخکنيومذاهبو سرلارو ترلاسه کړې وې، چې دهغوله پاڅون اودعوت سره دقومونو او هيوادونو په تاريخ کې دنويو کليزو پيل شوی و، چې ددې کامياب شکل د اسلام څرګنديدل اودمحمدي بعثت رامنځته کيدل و چې په عربوکې پيل شوی و او ټوله نړۍ يې تر اغيزې لاندې راوستې وه، ددوی په فکر ددې دين په تاريخ کې اود نړۍ په کليزه کې دلومړيو زرو کلونوپوره کيدل اود دويم زر پيل يومهمه پيښه اوداسې ښکلې موقعه وه چې ژر اوپه لنډوخت کې چاته په لاس نه ورځې اوکه په شمار شي نو زرکاله انتظارغواړي، لدې کبله بايد داچانس له لاسه ونه وځي: که نه بيابه په پيړيو پيړيولاسونه مروړي او افسوس به کوي.

مونږ ته دلسمې پيړۍ په وروستي نيمايي کې داسلامي نړۍ په مختلفو برخو او په ځانګړې توګه ترټولو نارامه اودتخليق اواختراع وړتيالرونکې سيمه ايران کې ( چې دډيرو مماثلتونو په اساس سره دختيځ يونان بلل کيږي) ددې فکرعکس تر سترګو کيږي داسلام له رامنځته کيدو وروسته دالومړۍ وار و چې يوزرکاله پوره کيدل اودويمه زريزه په پيل کيدو وه دهري پيړۍ په سرکې دمجددپيداکيدل په حديث سره ثابت دی.

اوپه تاريخ کې يې ثبوت ترلاسه کيدای شي، له دې کبله ځيني ذهينو خلکو ددويمې زريزې په پيل کيدو سره له مجددکيدلوهاخوا دنو ې دين د موسس کيدلو اودنړۍ دنوې دور دفاتح کيدلوفکرونه له ځانه سره پيداکړل، اوډيروځوانانو ددې منصب لپاره ځانونه کانديدکړل اوددې لپاره يې هڅې پيل کړې، له بده مرغه چې ددې دور کوم ذهني اوفکري تاريخ ندی ترتيب شوی چې په هغه کې ددې زمانې

www.abulhasanalinadwi.org

خيالات اوافكار، هيلى او ارزوګانې بيان شوې وي، دپخوانى او وروستي دور په ځير ټول تاريخونه د حكومت له دربار څخه شاوخوا راڅرخي، اوټول يې دحكومتى انقلابونو، سوبو او ماتو، دشاهانو د ورکړو، دحكومتي چارواكو عزل او نصب، او داميرانو دعيش او عشرت داستانونه بيانوي اودهغوى د خرمستيو افسانې دي چې يوه په بله پسې تكرارېږي، كه دلسمې پيړۍ داسلامي نړۍ كوم فكري تاريخ واى مونږ به ليدلى و چې ددويمې زريزې په نږدې كيدو سره په څومره زړونو كې دخامو تمناګانومشالونه بل شوى وو. اوهغوى ديوه نوي مشرتابه اوقيادت د خيمې لپاره لګرې اومراندې برابرې كړې وي. دصفوي حكومت له رامنځته كيدو وروسته د حكومت په زور سره شيعي مذهب دټول ايران مذهب وګرځيده.

دصفوي سلطنت دموسسينو سترمشرشيخ صفي الدين كه څه هم دمسلک او ذوق په لحاظ صوفي و خوڅرنګه چې شيعيت له تصوف سره دښمني لري، دهمده د واكمنۍ په زمانه كې په همدې ايران كې دتصوف ډيوه مړه شوه هغه ايران چې په هغه كې دامام غزالي، طوسي، شيخ فريدالدين عطار نيشاپوري، مولاناجلال الدين رومي (١)، اومولانا عبدالرحمن جامي (٢) په څير انسانان پيداشوي وو اوهغه ايران چې بغداد، دهلي اواجمير ته يې د پيران پير (پير پيران) سيدناعبدالقادر جيلانى، شيخ الشيوخ شهاب الدين سهروردي، خواجه بزرګ شيخ معين الدين چشتي، اودميني شهيد قطب الدين بختيار كعكى اوشى؛ په څيرانسانان وركړي وو. بل لورته ايران دكتاب او سنت دعلم اودحديثو دفن مركز پاتې شوى و. هغه چې اسلامي تاريخ ته يې دمسلم بن الحجاج القشيري نيشاپوري، ابوعيسى ترمذي، ابوداود سجستاني، ابن ماجه قزوينى اوحافظ ابو عبدالرحمن نسائى ؛ په څير

---

(١) په اصل كى د افغانستان د بلخ اوسيدونكى و -

(٢) جامى هم دافغانستان د هرات اوسيدونكى و (ژباړن)

www.abulhasanalinadwi.org

دحديثو امامان اودصحاحو مصنفين وړاندې کړي و اوس هغه له کتاب اوسنت اوعلم الحديث څخه بيخي بيگانه او تش لمني و، اوس دهغه علم ټوله پانگه اود برتري ميدان يوناني علوم فلسفه اومنطق و دې انقلاب ددې سړي زيړونکې سيمې تړاو له عربي نبي ﷺ، صحابه کرامو رضي الله عنهم اوحديثو څخه پريکړی و، دهيواد دپوهه او نبوغ لرونکې طبقې رابطه يې که له محمدي نبوت، دختم نبوت عقيدې، او ددين اسلام له بقاڅخه پريکړې نه وه کمزورې کړې خوې وه. که دشيعي عقيدې په اساس له اهل بيت سره د دوی نسبت اومينه نه وای نو ددې هيوادد مجوسيت، له اسلام نه مخکې تهذيب او دفردوسي دشاهنامې رستم اواسفنديارلورته د ستنيدلو ويره وه.

په داسې حالت کې په نهمه او لسمه پيړۍ کې په ايران کې د شر غوښتونکو غورځنگونو او داسلام په خلاف فکري اوفلسفي سازشونوپيداکيدل دتوقع خلاف نه و چې تر ټولو مترقي اوپر مختللي بيلگه يې دنهمې پيړۍ په اخر او دلسمې په پيل کې نقطوي غورځنگ دی چې داد ايران دهغې ناارامه روح ښه ځرگندونه کوي چې کله د مزدک په شکل کې،کله د ماني په صورت کې، اوکله هم د حسن بن صباح په جامه کې ځرگنده شوې ده چې دا يو نگه خالص الحادي غورځنگ و لکه سکندرمنشي چې وايي: انطائفه بمذهب حکماء عالم راقديم شمرده اند واصلا اعتقاد بحشر اجساد و قيامت ندارد، ومکافات حسن وقبح اعمال را درعافيت ومزلت دنيا قرار داده بهشت ودوزخ همانرا مي شمارند.[١] شاه نوازخان دنقطوي غورځنگ په اړه ليکي: *علم نقطه الحادی وزندقه واباحت وتوسيع مشرب است مثل حکماءبقدم عالم گردند وانکارحشروقيامت نمايند و مکافات حسن و قبح اعمال وجنت ونار درعافيت و مذلت دنياقرار دهند*.(٢)

---

(١) تاريخ عالم ارای عباسی دويم ټوک مخ ٣٢٥ .

(٢) ما ثر الأ مراء دويم ټوک مخ ٦١٩ .

www.abulhasanalinadwi.org

دوی د ارتقاء دنظریې منونکي دي اوپه دې ګروهه دي چې جمادات او نباتات له ترقي وروسته دانسان درجې ته رسیږي.[۱] دنباتاتو په وده کې دخدایﷻ دقدرت څه دخل نشته دایواځې د ستورو او عناصرو دترکیب په نتیجه کې وده کوي[۲] قرانکریم درسول ﷺ تصنیف بولي، اوشرعي مسائل د اهل رأی دفکر زیږنده بولي. ددې ډلې پیروان په لمانځه، حج اوقرباني پورې خاندي[۳] درمضان میاشت د لوږې او تندې میاشت بولي، د اوداسه اوغسل په مسایلو پورې هم خاندي[۴] اود ابدي محرماتو حراموالی هم نه مني؛ داډله له نقلیاتو څخه انکارکوي اوعقلیاتوته خلک رابولي.[۵] ددې ډلې موسس محمود پسیخواني بلل کیږي.[۶]

---

(۱) د بستان مذاهب مخ ۳۰۰

(۲) مبلغ الرجال پانه ۲۵ الف قلمی نسخه د مولان ا زاد کلیکسون مولانا ازاد لائبریری مسلم یونیورسټی علی ګړه.

(۳) همدا اثر.

(۴) همد اثر.

(۵) داراز په دې مضمون کې د پروفیسر محمداسلم له کتاب (دین الهی اور اسکا پس منظر) داراز د ډاکټر نذیر احمد مسلم یونیورسټی علیګړه له کتاب (تاریخی و ادبی مطالعی) څخه استفاده شوی ده دزیات تفصیل او کره معلوماتولپاره د ډاکټر صادق کیا کتاب "نقطویان یا پسیخوانیان" وګوری.

(۶) محمودپسیخواني یا پسیخانی‌ګیلانی په استراباد کې په کال ۸۰۰ هـ کې ددی نوي مذهب اعلان وکړ په کال ۸۳۲هـ کې دی مړ شو، دا ډله په ایران کې د نهمې پیړۍ په پیل کې راپیدا شوه ورو ورو داډله ډیره ځواکمنه شوه ان تردې پورې چې په لسمه او یولسمه پیړیو کې په ایران اوهند کې ددې ډلې د پیروانو شمیر زرګونو ته ورسیده ایراني مورخینو اومسلمانولیکوالانو داډله دملاحده تناسخیه اواهل زندقه په نومونو سره یاده کړې ده. څرنګه چې دمحمود په اند هرڅه له خاوروڅخه پیدا شوي اودی خاورو ته نقطه وایې نودوی ته ځکه نقطویان وایې. اویا

www.abulhasanalinadwi.org

دې ډلې په لسمه هجري پيړۍ کې په هند او ايران کې په زرهاو خلک اغيزمن کړل او په ايران کې يې دپيروانو شمير زرګونوته ورسيده نقطويان په دې ګروهه او عقيده وو چې د پيدايښت له پيل څخه ترمحمود پسيخواني پورې اته زره کاله کيږي، دا اته زره کاله دعربو دمشرتابه دور و اوپه دې موده کې به پيغمبريواځې له عربوڅخه و دمحمودپيسخواني په پيداکيدلوسره دعربومشرتوب پای‌ته ورسيده [1] له دې کبله به په راتلونکو اتو زرو کلونوکې پيغمبر په عجموکې پيداکيږي [2]. دنقطويانو څه عقائد موچې مخکې بيان کړل ددوی دانظريات اساسي اوانقلابي اهميت لري زمونږ له دې بحث اودمجددصاحب له تجديدي کارنامو سره ځانګړی تړاو لري، داچې اسلام منسوخ شوی څکه نودمحمودله دين منلو پرته بله لاره نشته ددين اسلام وخت پوره شوی اوس نو يوه نوي دين ته اړتيا ده .[3]

په لسمه پيړۍ کې ددې عقيدې اعلانېدل دامعنی لري چې دوی دزريزې قائل وو او له دويمې زريزې څخه يې خپل کار په ډيرجوش اوګرمو ولولو سره پيل کاوه. شاه عباس صفوي په ايران کې دنقطوي مذهب په تورپه زرهاو خلک ووژل باچاپه دې اړه له خپلومشرانو څخه ډيرسخت وخوت دده په اندله دوی څخه زيات

---

داچې دوی قراني مطالب له خپل فکر سره سم بيانول د تورو او نقطوپه مرسته سره ترلاسه کړي دي نو څکه دې ډلې ته نقطوي يا اهل نقطه وايې، دډاکټر نذيراحمدله کتاب (تاريخي و ادبي مطالعې) څخه په لنډه توګه اخيستل شوی چې دمضمون عنوان يې دی: نقطوی ډلی ته څغلنده کتنه .

[1] د محمود يا دهغه ديوه پيرو شعر دی چې وايي :

رسيد نوبت رندان عاقبت محمود — گذ شت آنکه عرب طعنه برعجم ميزد

[2] دبستان مذهب مخ ۳۰۰

[3] همدا اثر مخ ۳۰۰

www.abulhasanalinadwi.org

خطرناک بل څوک نه وو، ځکه یې په کال ۱۰۰۲هـ کې هغوی په تولیزه توګه ووژل ددې تول وژنې پایله داشوه چې ډیرنقطویان په پټه هندته وتښتیدل، چې په دوی کې مولاناحیاتي کاشي هم و چې له دوه کاله بنده وروسته شیراز ته راغی اوپه کال ۹۸۶هـ کې په وطن کې له څه مودې اوسیدو وروسته اخرهند ته راغی په کال ۹۹۳هـ کې هغه په احمدنګرکی موجود و، شریف املي چې ډیر سترعالم و هم ددې ډلې له مشرانو سره تړاو درلود، هغه دخپل وخت له سختیو تنګ شوی و اوهند ته راغلی و، اکبرباچا له ده سره دیوه پیر په حیث چلن کاوه. ځینې محققین په دې اند دي چې میرشریف املي دمحمودپسیخواني له لیکنوڅخه ثبوت وړاندې کړ اواکبرته یې د نوي دین داختراع ترغیب ورکړ، ده دمحمود وړاندوینه بیان کړه چې په کال ۹۹۰هـ کې به یوکس پیداکیږي چې باطل دین به له منځه وړي، اوحق دین به پلی کوي.

بدایوني اوخواجه کلان (۱) دواړه په دې خبره یوه خوله دي چې شریف املي له ایران څخه وتښتیده اودشیخ حسین خوارزمي دځای ناستي مولانامحمد زاهد په خانقاکې یې پناواخیستله، اودصوفیانویه څیراوسیده، څرنګه چې دده په طبعیت کې له درویشي اوصوفیتوب سره هیڅ مناسبت نه و له دې امله هغه په خانقاکې بې حیایې اوبې شرمي پیل کړه، کله چې مولانامحمدزاهدته دهغه عقاید معلوم شول نوله خانقاڅخه یې وشاړه اودکن ته ولاړ په دې ورځوکې په دکن کې د شیعیت دور و له دې کبله خلکو په ده باندې دشیعه عالم ګومان وکړ اوډیرتود هرکلي یې وشو، کله چې خلکوته دده عقائدمعلوم شول نو بد ویل یې پسې پیل کړل لکه بدایوني چې وایي: **حکام دکن مي خواستندکه لوح هستی اورا ازنقش حیات پاک سازند عاقبت برسواری خر قراریا فته به رسوائي تشهیرش نمود ند**[۲].

---

(۱) خواجه عبیدالله د خواجه باقي بالله زوی او د مبلغ الرجال مصنف.

(۲) منتخب التواریخ دویم ټوک مخ ۲۴۶.

www.abulhasanalinadwi.org

اکبر ده ته د" هزاري " منصب ورکړ اوپه خپلونږدې مقربینوکې یې شمار کړ.[۱] اوپه بنگاله کې یې ددین الهي داعي وټاکه، اودی داکبرپه څلورونږدې ملگروکې وو ددین الهي دمریدانو په وړاندې به یې داکبرد نیابت دنده هم په غاړه وه[۲] په مأثر الامراء کې راغلي: تصوف و حقائق بسیارورزیده والحاد وزندقه رابدان خلط داده دعوای " همه اوست " می کرد و همه را الله می گفت [۳].

دابوالفضل علامي په اړه ځینې معاصر تاریخپوهان وایې چې دی هم له نقطوي ډلې څخه متاثرو، کله چې شاه عباس صفوي په نصرابادکاشان کې لوړرتبه نقطوي داعي اومسئول میرسیداحمد کاشي وواژه نودهغه دکاغذاتوپه ذخیره کې چې دکومو نقطویانو لیکونه پیداشول په هغوکې د ابوالفضل هم یو لیک و.

معاصر تاریخپوه سکندر منشي په " تاریخ عالم ارای عباسي" کې کاږي: له هند نه راتلونکوخلکوڅخه معلومه شوه چې د شیخ مبارک زوی ابوالفضل چې دهند له پوهانو څخه دی اود اکبر دربار ته ډیر نږدې دی هم ددې مذ هب پیرو دی له دې کبله یې له اکبرڅخه وسیع المشربه جوړکړ اوله شریعته یې کوږ کړ دده لیک چې د میراحمد کاشي په نامه یې لیکلی وو اودنوموړي میرپه کاغذاتوکې پیداشو دامعنی لري چې ابوالفضل نقطوي دی[۴].

---

(۱) مبلغ الرجال پاڼه ۳۲ .

(۲) منتخب التواریخ دویم ټوک مخونه ۲۴۵- ۲۴۸ .

(۳) ماثرالامراء دریم ټوک مخ ۲۸۵ .

(۴) د ډاکټر نذیر احمد له کتاب "تاریخی وادبی مطالعی " نقطوی ډلی ته یوه څغلنده کتنه څخه اخیستل شوی .

www.abulhasanalinadwi.org

خواجه کلان په خپل کتاب "مبلغ الرجال " کې د محمود پیسخواني دیادونې په ترخ کې کاږي : *شیخ ابو الفضل ناگواری بساط ان ائین خسارت قرین را در مملکت هندوستان گسترد* [۱]

له دې تاریخي شهادتونو وروسته دا اندازه لګیدلای شي چې دنقطوي تحریک داعیان چې کله هندته راغلل نوځرنګه یې ددویمې زریزي لپاره دنوي دین او نوي ائین لپاره پلاز اومسندتیارکړ چې په هغه باندې دکنبینولولپاره یوځواکمن او مناسب شخصیت په کار و اوددې لپاره ددوی په نظرکې له اکبرڅخه پرته بله څوک ښه وړ اومناسب نه و.

---

(۱) مبلغ الرجال پانه ۳۱ – داراز ۳۲ او ۳۳ پانه هم وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

# دویمه برخه

## د اکبرد حکومت دوه متضاد دورونه

### د اکبرمذهبي ژوند :

داکبردزمانې او د هندټول مورخین په دی متفق دي چې اکبردخپل حکومت په پیل کې نه یواځې یوراسخ العقیده اوکره مسلمان وبلکې په ښه عقیده اومذهبي غلوسره یې دحکومت دوره پیل شوه ،ددی خبرې داثبات له پاره داکبرد دربار نامتولیکوال اوعالم اوداکبردزمانې مورخ ملا عبد القادر بدایوني مړ۱۰۰۴ هـ له نومیالي کتاب(منتخب التواریخ ) څخه څه برخه رااخلو څوپیښې اود باچاد ژوند حالات ځینې رانقلوو .

داداکبر دهغه مهال دژوندحالت دی چې کله دی دخپلواسلافوپه څېر یودښې عقیدې مسلمان و هلته چې ده دیني تعلیم اویابیخي سوادنه درلود او د خپلې کورنۍ له رواج سره سم داولیاومزاراتوته به یې اوږده اوږده سفرونه کول په هغه وخت کې دمشائخوله زیارتونوسره مینه دافراط ترپولې رسیدلې وه ، اوبدعتونه عام شوي و. اکبر به دجمهورو د عقیدې مخالفینوته سختې سزاوې ورکولې،

www.abulhasanalinadwi.org

داولیاء الله دزیارتونوله پاره به یې نذرونه منل ،په خپله په ذکربوخت و اوله نیکو خلکوسره به یې وخت تیراوه ، دسماع په مجلس کې به یې برخه اخیسته داکبر د دینداریٔ اومذهبی افراط داثبات لپاره دملا عبدالقادربدایوني خبري نقل کول څه بدي نه لري ځکه په دي باندې ټول مورخین متفق دي اوداکبرستاینه یې کړې ده ، په دې اړه دملا عبدالقادر بدایوني په تاریخ کې دڅه عنادسوال نه شي کیدای ، اوداکبر دژوند ددویم دور( یعني ددین الهی دنظریې خپرول ، دادیانودوحدت عقیده ، له اسلام څخه لیري والی اووحشت، دنورو ادیانو په اړه ښه نظراوله اسلام سره دښمنې) په تفصیل مونږ دملاعبدالقادربدایوني دخبروپه نقل کولوکې احتیاط کوو ځکه دده دخبروپه صحت اوتاریخي بې طرفي کې په دې وروستیو کلونوکې ځینی کړیو شک پیداکړی دی [1] نوهلته بیامونږ یواځی دده په خبرو انحصارنه کووبلکې داکبردمخلصو سلطنتي غړیو، ددربارد مورخینواودهغه وخت

(۱) داکبرددویمې دورې په اړه دملاعبدالقادر بدایوني خبرې اوشهادتونه دهغه په دیني تعصب اوله اکبرسره په ذاتي دښمني اومخالفت باندې محمول کولواودهغه کتاب ( منتخب التواریخ ) بې اعتباره کولولپاره څه موده کیږي چې هڅې رواني دي. خوددې څه علمي اساس اوتاریخي ثبوت نشته ددې نیوکواساس داکبردعظمت اوهغه دپاکې په بدګوماني باندې ولاړدي چې دځانګړې ښوونې اوروزنې دیوه چاپیریال دنتیجې اویوې ځانګړې موخې له مخې رامنځته شوې دي، څوک چې پرته له تعصبه د(منتخب التواریخ ) مطالعه وکړي هغه به حتماد لیکوال د خلوص اوصداقت، دردمندي اوجرءت اوحقي ویناکولواعتراف وکړي دتاریخ پراخه مطالعه کوونکي دتاریخ اوافسانې ترمنځ توپیرکولای شی دکتاب اولیکوال صلاحیت اوورتیاپیژندلای شي اودصراف په څیرکره اوکوټه سره بیلولای شي .

الیټ په ( منتخب التواریخ ) باندې دتبصرې په ترڅ کې لیکي : ډیرکم پیښې لیکونکې به وي چې دبدایوني په څیرخپل جذبات څرګندول وکړای شي په تیره بیاچې شاهي دربارهم ځینې خوښ نه وي یادخپلوتیروتنواوښوئیدنو په ډیره صفایې سره څرګندونه کوي . [الیټ پنځم ټوک مخ ۴۸۰ ] .

www.abulhasanalinadwi.org

دبې طرفه مورخينودخبروپه تائيد  کې به دده خبرې هم راواخلو. اوس راځئ د منتخب التواريخ  خبروته د شهزاده سليم دپيدايښت په شکرانه کې باچاجميرته پلی سفروکړ په بيرته تګ کې يې په دهلي کې پړاو واچاوه اود هلی داولياو زيارتونه يې وکړل [۱] اجودهن ته ولاړ دحضرت شيخ المشائخ فريد الدين ګنج شکرزيارت يې وکړميرزامقيم اصفهاني ته يې له ميريعقوب کشميري  دفض سزاورکړه  دشعبان په لومړيو کې باچا داجمير سفروکړنږدی څوارلس ميله يې مزل وکړ اوزيارت ته حاضرشواو دنذرلپاره نغاره وکړنګول شوه له اهل الله، علماو او نيکو خلکوسره دسماع مجلس ګرم شو[۲] په عبادت ځای کې د( ياهو )او (ياهادی) په ذکر کې بوخت شو.

په کال۹۸۰ هـ کې يې د عبادت  ځای د دريوودانيو د جوړولو تفصيلي يادونه وکړه. [۳] په عبادت ځای کې به يې دهری جمعې په شپه سيدان،مشائخ ، علماء او اميران راجمعه کول باچابه په  خپله له يو ی حلقی‌سره راتلو اودمسائلوڅيړنه به يې کوله په دی زمانه کې  قاضی جلال اونوروعلماوته امرشوی وچې دقرانکريم تفسير دی بيان کړی. [۴] دکال ۹۸۶ هـ په پيښوکې دفتح پورسيکری په عبادت ځای کې دعلماواو مشائخوپه صحبت کېده جمعی شپې دوېښې تېرولو يادونه‌شوې ده. کله چېخان زمان داکبرپه خلاف بغاوت اوسرکشی‌وکړه نودهغه مقابلی ته له وتلو مخکې باچا د دهلی دټولو اولياء الله و زيارتونو ته ددعاء لپاره  حاضر شو[۵]

---

[۱] منتخب التواريخ  دويم ټوک مخ ۱۲۳ .

[۲] همدا اثرمخ ۱۸۵ .

[۳]همدااثر مخ ۲۰۰-۲۰۱ .

[۴] همدا اثر ۲۱۱ .

[۵] همدا اثر دويم ټوک مخ ۲۵۲ .

www.abulhasanalinadwi.org

کله چې دخيرالمنازل مدرسې څنګ ته تيريده نودشرف الدين حسين په اشاره فولادنومی يوه سړي باچاپه غشي وويشت باچايوخه ټپی شوچې له څوورځومرهم اوپټی، وروسته روغ شود بدايوني په وينا باچا فکرکاوه چې له دې ناڅاپي حملې څخه ددهلې د اوليااوويه کرامت سره وژغورل شو [۱]

يوځل اجميرته روان و اودنوميالی بزرګ شيخ نظام نارولي (چې دزهداو تقوی خبرې يې ترليرې ځايونوپورې رسيدلې وې) په خدمت کې حاضرشو په کال ۹۸۰ هـ کې په اجميرکې دسيدحسين ختګ سوارزيارت ته،اوله دې څوکاله وروسته په هاسنی کې دحضرت قطب جمال زيارت ته په ډيره مينه اوعقيدت سره حاضر شو او فاتحه يې ولوستله [۲] له شيخ چشتي سره يې زياته مينه وه په ډيراهتمام سره يې د هغه روضه يې جوړه کړه اوپه ډيره مينه اومحبت سره يې سلطنت په ځای ناستی( جهانګير ) باندې سليم نوم کيښودچې ويل کيږی دهمدې شيخ سليم چشتی ددعاپه برکت سره پيدا شوی و. باچادسليم له پيداکيدووراندې ملکه جودهابای دشيخ کورته وروليږله څو د هغه توجه اودعاله ملکې سره ملګرې وي [۳] دارازدشهزاده مرادپيدايښت هم دشيخ په کورکې شوی و. [۴] شهزاده سليم چې کله دښوونځی دتګ وړشو نو د هغه دبسم الله ويلود رسم لپاره يې د خپل و خت نوميالی محد ث مولا نا مير کلان هروی ته زحمت ورکړاو هغه دباچا اودهغه دسلطنت دنورو مشرانوپه موجوديت کې شهزاده ته بسم الله وويله [۵] کله چې شهزاده دليک لوست وړ شونواميرې ورته وکړچې دشيخ عبدالنبی کورته ورشی

(۱) همدا اثر ۲۵۲

(۲) منتخب التواريخ ۲۳۲ .

(۳) همدا اثر ۱۰۸ .

(۴) همدا اثر ۱۲۳ .

(۵) همدا اثر ۱۷۰ .

www.abulhasanalinadwi.org

اوحدیث ځنې زده کړی اوده څخه یې دمولا ناجامي څلویښت حدیث وویل [۱] داکبرله شیخ عبدالنبی (دشیخ عبدالقدوس گنگوهي ځای ناستی)اود اکبر د وخت " صدرجهان " سره دومره مینه وه چې اکثره به دده کورته ورتلواوپه درس کې به یې برخه اخیستله اویودوه ځله خوباچادده بوټونه هم ورته برابرکړی وو.[۲] اکبردده لپاره شاهی کارخانه کې خصوصی پوستین جوړکړاودملا عبدالقادرپه لاس به یې هغه ته ولیږه اوورته ویې ویل چې داستا داستادلپاره په شاهی کارخانه کې تیارشوی دی.[۳]

دهغه وخت نومیالی شیخ محمدغوث گوالیاری ته یې دلس میلیونه دام (داکبر دوخت دروپۍ څلویښتمه برخه)کلنی عائدات ځانگړی‌کړی و.دده له مرگه وروسته یې دهغه له زوی شیخ ضیاء الله سره هم ښه سلوک کاوه[۴] له لویوخلکو سره مینه اکبرته په میراث کې پاتی شوی وه،دده تیموری پلرونواونیکونوله خواجه نا صرالدین عبید الله احرارسره ډیره مینه لرله دبابرنیکه سلطان ابوسعیدبه په پلو یې پل کیښنو د هغه خدمت ته ورتلو، اودهغه له مشورې پرته به یې هیڅ کارنه کاوه، دبابر پلار عمر شیخ میرزاهم له خواجه صاحب سره ډیره مینه لرله، په خپله بابرهم په خپله روزنامچه "تزک" کې دهغه یادونه ډیره په احترام سره کوی داکبرکورنۍ له نقشبندیه مشرانو سره خپلوی اودوستۍ هم کړې وې.

دخواجه عبیدالله احراردکورنۍ یوبزرگ خواجه یحی چې هندته راغی نواکبر دهغه ډیر احترام وکړدهغه دلگښتونوله پاره یې هغه ته ځمکې ورکړی اوهغه یې

[۱] همدااثر ۲۰۴ .
[۲] همدا اثر ۲۰۴ .
[۳] همدا اثر ۲۳۷ .
[۴] منتخب التواریخ ۲۰۲ .

www.abulhasanalinadwi.org

دحج اميروتاکه مکي مکرمې ته يې ولیږه چې کله بيرته راستون شونو په اګره کې يې په مستقله توګه ديره کړ.[۱]

اکبرداوونی‌داوو ورځولپاره اووه ملاامامان ټاکلی وو چې هريوه به په خپله ورځ هغه ته امامت ورکاوه، دچهارشنبې دورځې امامت به ملاعبدالقادر بدايوني کاوه[۲] هر کال به يې ګڼ شمير خلک ددولت دخزانې په لګښت حج ته لیږل دحاجيانو د امير په لاس به يې دمکې معظمې دحرم خلکوته تحفې او نقدې پيسې لیږلې[۳]دحاجيانود قافلې دروانيدلوپه ورځ به يې دحاجيانوپه څيراحرام وتاړه سربه يې يوڅه کم کړ تکبير به يې ويلی پښې ابله اولوڅ سربه تر ليرې پورې د هغوی درخصت کولولپاره له هغوی سره تلو دابه يوعجيب له شوره ډک منظرو اوخلکوبه ژړل[۴]، کله چې شاه ابو تراب هندته له حجازڅخه درسول ﷺ قدم راوړ اواګرې ته رانږدې شونو باچا د اميرانو او علماوله يوې لويې ډلې سره له ښار څخه څوميله دباندې دهغه هرکلی ته ور ووت، په اخرکې مونږ داکبرددينداري خبرې دمغلي سلطنت دزمانې دنوميالې مورخ مير عبد الرزاق خافی خان چې په صمصام الدولة شاهنوازخان سره مشهورو ( ۱۱۱۱ هـ ۱۱۷۱هـ ) دکتاب "مآثرالامراء " په دی خبروسره پای ته رسوو دی ليکي : **اکبربادشاه به ترغيب شيخ دراجراء احکام شرعی وا مرمعروف ونهی منکرفراوان جهد می فرمود وخود اذان می گفت واما مت می کرد حتی بقصد ثواب بمسجد جا روب می زد.**[۵]

---

[۱] همدا اثر دريم ټوک ۱۰۰ .

[۲] همدا اثر دويم ټوک ۲۲۷ .

[۳] همدا اثر ۲۵۱ .

[۴] همدا اثر ۲۳۹ .

[۵] ماثر الامراء دويم ټوک ۵۶۱ .

www.abulhasanalinadwi.org

## د اکبر په مزاج کې بدلون
## او د اکبری سلطنت دویم دور [۱]

داکبرددینداري اومذهبیت چې مخکې څوبیلګی تیرې شوې لوستونکې پوهیږی چې دایوه داسې سرسرې دینداري وه چې اساس یې ددین په سمه پوهه اودقران اوسنت په سم علم ندی کیښودل شوی،داداسی دینداري وه چې دراسخینوعلماو دزده کړی او ملګرتیااوسالمه ښوونه روزنه سره نه وه ترلاسه شوی بلکې یواځی دزمانی له حالاتو عسکری مزاج ، د منځنۍاسیادله دین ناخبره واکمنواوامیرانوله تقلیداوضعف الاعتقا دی څخه راپیداشوی وه، ددی دینداري مرکزی ټکې زیارتونه کول، زیارتونو ته په میلونوپلی تګ ،داسلا فوله کمال اوعلم څخه بی برخی ځای ناستوسره ښه سلوک کول ،خانقاوی جاروکول ، دذکراوسماع په مجلسونو کې ګډون اوددرباری علماوو اومشائخواحترام کول و اوبس .

داکبرله حالا توڅخه څرګندیږی چې دی مطلق بی سواده و.[۲] دتیموری کورنی په مزاجونوکې په تولیزه توګه افراط، سخت دریځی اوزیاته خوشباوری پرته ده، د

---

[۱] ویل کیږي جهانګیرچې په کوچني تزک اوروزنامچه کې داکبردمړیني کوم حال لیکلی له هغه څخه داسې څرګندیږي چې ده ته دخپلې تیروتنې احساس پیداشوی و، ده دشهادت کلمه ویله اوپه داسې حالت کې یې ساه ورکړه چې سورت یسین اودعایې لوستله.مونږ په دې اړه څه بحث نه کووچې خدایﷻ به له ده سره څه ډول معامله کړې وي اودی به له دنیاڅخه په کوم حالت کې رخصت شوي وي. بلکې مونږدده له هغوکړنواوکارونوڅخه بحث کووچې ده دنوي دین اوتګلارې دپلې کولولپاره کړې وې. اوله هغواغیزوڅخه ګږیږوچې دده له دې کړنوڅخه په مسلمانانوباندې لویدلې

[۲] اکبرچې کله دڅلوروکلو،څلورومیاشتواوڅلوروورځوعمرته ورسیده نودزمانې له رواج سره سم د مکتب پیل کولورسم یې ترسره شواوملا زاده عصام الدین ابراهیم یې استادورته مقررکړ.

www.abulhasanalinadwi.org

همايون په اړه په تاريخ کې راځي چې چابه دهغه کروروالي ، دسختيوزغمل اوله نا
سموحالا توسره ډغره وهل وليدل نوفکربه کيده چې داله غوښواوهډوکوڅخه جوړ
انسان ندی بلکې يو اوسپنيزانسان دی، اوانسان نه بلکې پيری دی خوچې کله به
د ارامی حالت ونوهرڅه به يې هير شول اوداسی به نه معلوميده چې دا دجګړی د
ډګر يو سرتيری سپاهی‌دی. په جهانګيرکې هم داتضاداوبی اعتدالی وه، او دا
خبره هم بايد هيره کړل شی چې اکبرخورازياتی ستونزی او ډيرله ربړه ډک حالات
ليدلی و، اوپه دی سختيوکې رالوی شوی و،ترونو يې ډيره ناځوانی ورسره کړی وه
او ده ډيره کرکه ځنی کوله، دپلاردماتی ترخه زهريې هم وڅکل اودايران په سفرکې
يې ډيری ستونزی وليدی بياچې له بيرم خان سره څه وشول؛دی تهولودده فکر ډير
خراب کړی واوپه هرانسان يې بدګومانی لرله دډيرزيات مخلص په وفاداری باندې
به يې شک کاوه لنډه داچې په مزاج کې يې يوډول تلون اوکاواکې پيداشوی وه.

## د مذا هبوخيړنه او دمناظری مجلسونه او د هغو اغيز

ددی حالت رغول،په دی کمزوريو باندې برلاسه کيدل، له اسلام اودين سره يې
تړل او دده دځينی مشرانواونوروسلمانوواکمنوپه خيرددين دمرستی لپاره داکبر
دتياريدلو بنه لاره داوه چې اکبرپه خپله اعتراف کړی وای چې دی بی سواده
اوناپوهه دی،دايوه داسی نيمګړتياوه چې له بابرڅخه نيولی په مغلي سلطنت کې
تر بهادر شاه پورې په يوه کې هم نه وه پيداشوی، دی دسلطنت چارو اوپراخۍ ته

---

خوملا ته پته ولګيده چې اکبرله زده کړې سره مينه نه لري . دا داستادناکامي اوبې توجهي
وبلل شوه اودملازاده په ځای يې مولا نابايزيدمقررکړ. خودې هم څه فائده ونکړه. بالاخره باچا
مولاناعبدالقادربدايوني غوره کړ خودنيکمرغه شهزاده له زده کړې سره مينه پيدانه شوه
سياسي حالاتواودهغوپه نتيجه کې سرګرداني اوبې ځايه کيدنودې ته نوره هم هواورکړه. او اکبر
له تعليمی پلوه بې سواده اوناپوهه پاتې شو. [ داکبردزماني له تاريخونوڅخه ]

www.abulhasanalinadwi.org

بایدمتوجه وای، چې په دی اړه ده ښه ورتیاهم لرله اوپه مذهبی چاروکې یې کارنه لرلای،دیوه سپین مسلمان اوسپاهيپه څیریې مذهبي کارونه بایددسلطنت پوهه خلکواوعلماوته سپارلی وای لکه بابراوهمایون چې هم داسی کړی و که څه هم هغوی پوهه اوادبی ذوق درلود.

په ځانګړی توګه په باریکه اعتقادي اوکلامي مسائلو، دمذاهبوتقابل، د ماوراء الطبیعاتی حقائقوپه څیړنه کې یې بایدکارنه لرلای څکه په دې لاره کې کمه غلطی اوبی احتیاطی سړی کفراوالحادته رسوی اوله دین اوایمان څخه یې خلاصوی، اود اداسې مسائل دی چې اکبریې په الف اوباء هم نه پوهیده، اوله مبادیو څخه یې هم ناخبره و، اکبرددداسی کورنۍ واکمن وچې دڅلورسوه کلنۍ واکمنۍ لړۍ ترده پوری رارسیدلی وه نودده له سیاسی ګټوسره یې هم مخالفت درلود، په داسی باریکو مسائلوکې مداخله اوپه هغه کې دسلطنت رسوخ کارول بې ګټې کار و څکه چې له داډول مداخلی څخه دمامون الرشید ۱۷۰هـ / ۲۱۸هـ په څیرعالم اوذهین خلیفه هم ګټه نکړه ترلاسه اونه یې څه په زړه پوری پایله ورکړه.[1]

خواکبردنا ارامه طبیعت او متجسس دماغ خاوندو، بل لورته پرله پسی بریالیتوبونو او کامیابیوهم دځان په اړه په خوش فهمی اوفریب کې واچاوه هغه په دی فکر شو چې څرنګه چې دی سیاسی کړکیچن حالات سمولای اوستونزيحل کولای شی داډول به دمذهب او عقائدوپه ازغنولاروکې هم بریالی وخیږي،بل لور ته ځینی زرنګو درباریانو داسې ونه کړل چې د باچادتفریح لپاره یې دپخوانیوختیځ والو واکمنوپه څیر مرغان، سنداګان اوفیلان ورته تیارکړيوای بلکې هغوی څه دخپلی

[1] دتفصیل لپاره د " تاریخ دعوت وعزیمت " لومړی برخه فتنه خلق قران مخ ۹۴=۱۰۱ وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

ذهني برلاسی اوخه دباچادتفريح لپاره دمختلفو مذاهبو علماء رايوځای کړل او دهغوی ګلې به يې ساتلی، په دی نوم چې مذهبي څېړنی اوعلمي مباحثی کوی.

دايوځرګندحقيقت دی اودمذاهبواوافکاروپه تاريخ کې يې په سلګونوځله تجربه شوی ده چې که دمناظر و او مذهبی وکيلانو د بيت بازيو اوريدونکې ژور او پراخه علم ونه لری نکته چين اوځيرک انسان نه وی،اوبل داچې الهي توفيق ورسره مل نه وی نوداسړی به د شک،سوفسطائيت او وهم ښکارکيږی، اودالحاد او زندقی په ژوره کنده کې لويدل يې يوه قدرتی خبره ده داکبرپه اړه دجهانګير شهادت دمنلو وړ او ډيرمعتبر دی هغه ليکي: پد ر من د ر اکثر اوقات با دانايا ن هرد ين و مذ هب صحبت می داشتند خصوصا با فندتا ن ودانايان هند و بانکه امی بودند ازکثرت مجالس باد انا يان و اربا ب فضل در ګفتګو ها چنا ن ظا هر می شد که هيچ کسی و پی با می بودن ا يشا ن نمی برد و بد قا ئق نظم و نثر چنا ن می رسيد ند که ما فو قی بران تصو ر نه بو د.[1]

اسلام، هندومذهب اودهنددنورومذاهبوپه استازيو اکتفاء ونه شوه بلکې دفرنګ هوښيارانوته خبره اوږده شوه، په خپله ابوالفضل ليکي: ددربارله لوری باچا ته د تورات، انجيل، اوزبور ژباړي‌اودهغومطالب ورسول شول اوددی‌کارلپاره يودرباری پوهه سيد مظفر وټاکل شو اوځينی عيسايانو ته يې وليکل چې: مونږ به په فارغو وختونوکې دټولومذاهبوله پوهانوسره وينواودهغوله پاکو خبرو او لوړوخيالا توڅخه به ګټه اخلو، دژبوپړدی والی موبه منځ کې خنډدی له دی کبله موديوه داسی چاپه راليږلوخوشاله کړی چې هغه دالوړمطالب په ښه توګه بيان کړی. دهمايون ترغوږو پوری داخبره رسيدلی ده چې اسمانی‌کتابونه تورات

---

[1] تـزک جـهـا نګيـــر ی مـــخ ۱۵.

www.abulhasanalinadwi.org

انجیل ، زبور په عربی اوفارسی کې ژباړل شوی دی که داژباړل شوی کتابونه په دی هیوادکې وی نو ښه به وي اوهغه د عاموخلکودګټی لپاره راولیږی دمینی دنوښت اودیووالی داساس دښه پخټن لپاره ددی ژباړی لپاره مونږ خپل یومخلص کس سیدمظفر درلیږلی دی هغه به له تاسو سره مخامخ خبری وکړی تاسو په هغه باور وکړی اودلیکونولړی تینګه ساتی [ دنقل قول پای ] [۱]

له ژباړوپرته په خپله عیسایي پادریان دربارته حاضرشول، اوهغوی خپل مذهب باچاته وړاندی کړ، دتثلیث عقیده اوعیسائیت یې په دلائلو ثابت کړ، ملاصاحب لیکي: **دانایان مرتاض ملک افرنجه که ایشان راپادهری، ومجتهد ایشان را پاپا می‌گویند اورد وبر ثالث ثلثه دلائل گزرانید وحقیقت نصرانیت اثبات کرد.**[۲]

دمناظری مجلسونه زړه تجربه ده چې دکوم مذهب دصداقت اودهغه دترجیح دپریکړی کولوله پاره هروخت ددلا ئلوقوت اوعلمی ثبوت کافي اوبس ندی ځکه په دی کې خبره د مذهب دوکیل په چالاکې اوځیرکتیاپوری تړلی وی کله کله داسی پیښه وی چې دیوه کمزوری مذهب نمائنده په خبرو ډیر بر وی،خوږژبی وی له انسانی روحیاتوخبر اوموقع شناس وی او اوریدونکې ژراغیزمن کولای شی اودیوه صحی اوسم مذهب ویاند"له څه کبله" ددی ځانګړتیا څخه خالی وی اوپښ خولی وی اوددی نیمګړتیاله کبله میدان وبایلی.

ډیرامکان لري چې داکبرپه دربارکې چې داسلام ترجمانی کونکې کوم علماء موجودوو اود فرنګیانوپه وړاندی به یې داسلام ددفاع لپاره درول نوکیدای شي

---

[۱] منتخب التواریخ ټوک ۲ مخ ۲۶۰.
[۲] انشاء ابوالفضل ۳۹.

www.abulhasanalinadwi.org

چې هغه به له تورات، انجيل اوعيسوي مذهب څخه ښه خبر نه وو اوددی مذهب نيمګړتياوی به ورته معلومی نه وی اودارازپه عقلي اوعملي توګه داسلام ددفاع وړتيابه هم ورسره نه وه اوداسلام نمايندګی به يې په سمه توګه نه شوای کولای، نوپه داسی حالاتوکې لری نه وه چې عيسايې پوهانو دي ميدان وړی وای اوبرلاسه شوی دی وای اودمسلمانوعلماوو به ناکامی په برخه کيدله چې ددی پايله هغه شوه چې کيدونکې وه. ملاعبدالقادرليکي: بدعتيان اوهواپلوه خلک دخپلو غلطو نظرياتو او باطلوشبهاتو له امله له کمين ګاوڅخه راووتل باطل يې دحق په صورت کې ، اوناسم يې دسم په جامه کې وړاندی کړل. باچا چې ذاتي جوهريې لرل اوحق پلوه هم وو خو مطلق ناپوهه اوله کفاروسره يې مينه لرله په دی سره شکمن کړای شو اودهغه حيرانتيايې زياته کړه نوموخه له لاسه ووتله اودشريعت کلکه رسی وشليدله،پنځه شپږکاله وروسته د اسلام هيڅ اثرنه شوپاتی اوخبره سرچپه شوه. [1]
ملا صاحب بل ځای ليکي : در هر رکن از ارکان دين وعقيده ا زعقيده اسلاميه چه درا صول وچه در فر وع مثل نبوت و کلام و روئيت و تکليف و تکوين و حشر ونشر شبهات گوناگون به تمسخر و ا ستهزاء ا ورده[2].

عجيبه خولاداوه چې دتفسيراوتاريخ په څيرباريکه مضامين ددی ناپوهه باچا په دربارکې په ډيره بی پرواهی‌اوناپوهی سره لوستل کيدل داهغه مضامين دی چې په دی سره خدای ناترسه اودکمزوری علم څښتنان له ذهني ګډوډی‌اوانتشارسره مخامخ کيږی. ملاعبدالقادربدايوني ليکي: په دی ورځو کې قاضي جلال اونورو علماوته امر وشو چې دقران تفسيربيان کړی په خپله دعلماوپه منځ کې په دی اړه ډير جنجال و " ديپ چند مسخره راجه منجهوله " به ويل: که دخدای ﷻ په نزد

[1] منتخب التواريخ دويم ټوک مخ ۲۵۵ .
[2] منتخب التواريخ مخ ۳۰۷ .

www.abulhasanalinadwi.org

غوا محترمه نه وای نو دقران په لومړی سورت کې به یې نه یادوله اوکله چې تاریخ لوستل پیل شو نوورځ په ورځ له صحابه و ﷺ څخه دخلکوعقیدی پورته شوی او بیخی زیادت به کیده لمونځ، روژی اوټولو نبوی تعلیماتوته دتقلیدیاتو نوم ورکړل شو یعنی هغه یې نامعقول بلل ددین مدار یې دنقل په ځای عقل وګرځاوه، دفرنګیانو تګ راتګ هم پیل شو اودهغوی ځینی عقیدی هم ومنل شوی . [۱]

## داکبــــرد مزاج په بـدلون ا وکړوالي کې د درباری علما و اوسلطنتي غړیو مسئـولیت

داسلام په سیخه لاره داکبردبیولو اودده مزاج له بې اعتدالی اوکړوالی څخه ژغورلوکې درباری علماو اوسلطنتي غړیو هم خورا اساسی اوګټور رول لوبولی شوای، خوددی لپاره یوه لورته داسی علماوته اړتیاوه چې د" تفقه " اودینی حکمت جوهر یې لرلای، له جزئیاتوڅخه کلیاتوته زیات متوجه وای، له وسائلو څخه مقاصدوته ډیر متوجه وای، اوله بیلتانه څخه یې یووالي ته ډیراهمیت ورکولای، دلوړو اخلاقو څښتنان وای، مخلص اوبیغرضه وای، د دنیا له مینی اوجاه طلبی څخه یې ترامکان پوری ځانونه ساتلی وای اوڅه اندازه یې نفسی تزکیه درلودلای . ددی ستر نوی اسلامی سلطنت په اهمیت اونزاکت باندې پوهیدلای. دامسلمان سلطنت دیوه نامسلمان اکثریت په سرباندې مسلط شوی و داسی نامسلمان اکثریت چې اوس هم له واکمنی څخه دبې برخیتوب احساس لری اودډوی له مرستی پرته سلطنت هم په پښونشی دریدلای: دوی ته دیوه داسی تیموری سلطنت دخدمت اولاربښوونی ښکلی اوتاریخی موقع په لاس ورغلی وه چې دهغه

---

[۱] منتخب التواریخ ۲۱۲ .

www.abulhasanalinadwi.org

وخت له عثمانی سلطنت وروسته دهیواد دپراخوالی، دوسائلو دکثرت، دانسانی ځواک اومذهبی جذبی له پلوه دنړۍ ترټولو لوی سلطنت و له دی امله دهغه ساتنه له اسلام سره یې تړاو، اوپه دی نازکوحالاتوکې دهغه له واکمن سره دشیشی او اوسپنی ، پنبه او اور په یوځای ساتلوکې مرسته کول دوخت ترټولو لوی عبادت اوددین اوهیواد ترټولو لوی خدمت و.

بل لورته داسې سلطنتی غړي اودرباری مشاورین ضروری ووچې په دین یې په خپله هم عقیده لرلای اودباچالپاره یې هم خوښولای ( لکه چې بابر د رانګا سانګا ۹۳۳ هـ په مقابل کې د جګړې په ډګرکې له شرعی منهیاتوڅخه توبه وکړه اوله خدای ﷻ سره یې دبندګیوعده وکړه اودا دین یې دسلطنت اساس وګرځاوه [1] باچابایدله هرډول ذهني انتشارڅخه ساتل شوای وای اوله هغه تخریبي اوالحادي تحریکونوڅخه لیری وای چې په لسمه پیړۍکې په هنداوایران کې پیداشوی وو چې هغودواکمنواوټولنیترمنځ غځیدلیمزیکمزوریکول، اعتقادياواخلاقي انار شیزم یې خپراوه، سلطنتی غړي بایدداسې وای چې دسلطنت دنظم او او دستور جوړونی وړتیایې لرلای، اخلا قی لوړوالی، دیني استقامت اودمذهب پابند وای.

که اکبراودهغه سلطنت دادواړه عناصرترلاسه کړی وای نوپه دی کې څه شک نه و چې دی سلطنت به په ختیځ کې داسلام دساتنی اوددین دخدمت داسې کارونه ترسره کړی و لکه په لویدیځ کې چې عثمانی سلطنت ترلاسه کړی و اقبال وایي: تیموری ترکان له عثمانی ترکانوکم نه وو: خوله بده مرغه چې داکبرله نیکمرغی سره هغه ته داډول دوه ډلی په لاس نه ورغلی چې په پورتنی معیارپوره ختلی وای. دافسوس خبره داده چې هغوی په دې اړه دخدمت په ځای ناغیړی وکړه، داچې

---

[1] دتفصیل لپاره تاریخ فرشته وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

اکبردین ته نږدې کړي بلکې هغه يې له دين څخه ليرې کړ اوان چې له دين څخه يې متنفرکړ. داچې له دې بې لارې تحريکونو يې ليرې ساتلاى واى ياد هغوله منځه وړلوته يې تيارکړې واى بلکې هغه يې ددې تحريکونو علمبرداروګرځاوه اودهغو دخدمت لپاره يې وهڅاوه.

# در باري علماء در باري علماء

مونږ لومړى عنصردرباري علماء مخکې رااخلو. چې اکبريې له پيل څخه په جوپړکې لګياو. اوپه هغوى يې له هرچازيات باورکاوه، اوله هرچامخکې په دربار کې دوى مخکې وو او چې داسلام ديوه سترعالم اومبصرحضرت عبدالله بن مبارک له نظره دفسادله دريو عناصرو څخه يومهم عنصردى:

وهل أفسد الدين إلاالملوك = وأحبار سوء ورهبانها

ژباړه: له واکمنو، علماء سوء، اودنياداره زاهدانوپرته بل چادين خراب کړ؟

مونږدلته هم دملاعبدالقادربدايوني شهادتونه رانقل کووچې په خپله ددربار غړى واودده په دې خبروکې چې ده دتاريخي شهادتونوپه توګه دخپلوملګروپه اړه ويلي دي دده څه ذاتي موخه ياعناد نه ترسترګوکيږي دې ددې درباري ملايانو داسې تصويرکاږي: په عبادت ځاى کې به دهرى جمعې په شپه سيدان، ملايان، مشائخ، او اميران راغوښتل کيدل په مخکې او وروسته کښيناستلوکې ملايانو اوشيخانودنفسانيت خبرې راپورته کړې هريوه له بل نه مخکې اوځانګړې ځاى غوښت باچاداستونزه په دې ډول حل کړه چې اميرې وکړچې اميران دې دختيځ لورى ته کښيني، سيدان دې لويديځ لورى ته، ملايان، جنوب اوشيخان دې شمال لورى ته کښيني. باچابه په خپله يوى حلقې ته راتلواودمسائلوڅيړنه به يې کوله.[1]

[1] منتخب التواريخ دويم ټوک ۲۰۲.

www.abulhasanalinadwi.org

ملاصاحب لیکي : چې یوه شپه ملایانوپه ډیرلوړاوازسره خبرې اوبحث کاوه باچاپه دی سره په غصه شواودایې ددوی بې تمیزی اودنیاغوښتنه وبلله [۱] بایک دیگرتیغ زبان کشیده درمقام تنافی وتقابل بودند، اختلاف بجای این رسیدکه تکفیر و تضلیل هم دیگرمی نمود درک کردن علماء زمان برامده اوازهای بلند و دمدمه بسیار ظاهرشداین معنی برخاطراشرف گران امده .

اکبرپه دی سره تبه خړی اوپه غصه شو ملاعبدالقادرته یې وویل کوم ملاچې بداخلاقی کوی هغه له خپله ځایه پاڅوه! په لوړرتبه دینی کسانوکې یوهم مهم رکن ملاعبدالله سلطان پوری و [۲] چې دمخدوم الملک خطاب ورکړل شوی و هغه ددې لپاره چې حج ونه کړای شی دحج د نه کولوفتوی صادره کړه، دزکات په اړه یې هم شرعی حیله پیداکړی وه [۳] اودهغه له فرضیت څخه به یې ځان خلاصوه هغه دخپل عروج اواکبرپه زمانه کې دومره مالونه جمع کړل چې دده له پلرنی هدیرې څخه دسرو زرو څوصندوقونه راوایستل شول، چې دمړیوپه څیرېې خښ کړی وو [۴] له مخدوم الملک څخه وروسته دویمه رتبه دصدرالصدورملاعبدالنبی و [۵] چې دهغه

---

[۱] همدا اثر ۲۰۳ .

[۲] سلطان پورپه ختیځ پنجاب کې جالندهرته نږدې دی دده دژوندحالات په نزهة الخواطر پنځم ټوک کې په تفصیل سره وګوري .

[۳] یعنې دکال له پوره کېدلومخکې به یې هغه پیسې چې زکات پکې و خپلې ښځې یابل خپل ته ورکړې، هغه به څه وخت وروسته بیرته ورکړې، په دې توګه به هغه ددې کال له زکات څخه وژغورل شو ، اوبل کال به یې هم داډول حیله جوړه کړه .

[۴] په یوه روایت کې راغلي چې له دې صندقونوڅخه د درې کروړو روپیوسره زر راایستل شوی دي .

[۵] شیخ عبدالنبي دشیخ احمدګنګوهی زوی اودحضرت شاه عبدالقدوس ګنګوهي لمسی و . خوځرنګه چې ده دحجاز له علماو څخه حدیث ویلي و نو دخپلې کورنی دوحدت الوجوداوسماع

www.abulhasanalinadwi.org

وخت په هندکې ترټولوسترعالم اوپه ځانګړې توګه دعلم الحدیث ماهرو. خود منتخب التواریخ له ځینې روایاتو ځرګندیږي چې دهغه علمي سویه دومره لوړه نه وه. اود عربی ځینی الفاظ یې هم ښه نشوای لوستلای.[۱]

اکبرده ته د"صدرالصدور" منصب ورکړاوهغه دومره ځواکمن او داقتدار ښتن شوچې دده په وړاندې دیروغټوسلطنتی غړیوڅه نشوای کولای. باچا څوځله هغه ته په خپلولاسونوچپل وربښوکړي و لوی لوی علماء به له ده سره دلیدلو له پاره دده په دروازه کې په ګینټو ګینټوناست وو. دټول هندعلماو، مشائخو اوځای ناستیوته ځمکې ورکول، ښننی کول، اود دندوسپارلوکارپه ده پوري تعلق درلود. اوپه دې اړه هغه داسې پراخدلی‌اوسخاوت مندانه کارونه ترسره کړل چې په تیرو سلطنتوکې یې ساري نه ترسترګوکیږي. خودملا عبدالقادر له بیان سره سم " چې دی یې معاصراودرباري ملګرى و" په ده کې دعلماواخلاق نه ودخپلی‌کورنی ښه روایات اوځانګړتیاوې پکې نه وی. بلکې دعام تهذیب اوموقع پیژندنه صفت هم پکې نه و. کیدای شي دې لوړمنصب په هغه کې بدلون راوستی وی. په باچا او درباریانوباندې یې هم څومره ښه اخلاقی اغیز نه درلود. ملاعبدالقادرپه هغه دانیوکه لري چې ده خپل منصب اورسوخ بیځایه اوغلط وکارول اوله هغه یې ناروا‌ګټې پورته کړي. دې لیکې چې ده دټول هند مذهبی ځمکه وال اوشتمن خلک

---

له مسلک سره مخالف و اوله پلارسره یې هم اړیکې ښې نه وې. دده دژونددحالاتولپاره د نزهة الـخـواطر پنځم ټوک وګورئ.

[۱] دی دحجازدعلماواوپه ځانګړې توګه علامه شهاب الدين احمدبن حجرالهیثمي په خیرعلماو شاګردو اوله داسې علماووڅخه یې علم الحدیث ترلاسه کړی و سره له دې دتصنیفاتو ښتن هم و نوله دې سره سره داخبرد ښه معقوله نه بریښي چې ده به اسانه عربي الفاظ هم نشوای لوستلای لکه جحرچې جیم مخکې دی حجرویل چې حاء مخکې اوجیم وروسته دی. والله اعلم بالصواب.

www.abulhasanalinadwi.org

ښه ډیروځغلول. خلکوبه دده درباریانواو وکیلانوته رشوتونه ورکول اوداځکه چې له دی پرته یې خپل کارونه نشوای سر ته رسولای.

په امربالمعروف اونهی عن المنکریعنی په ښوامرکول اوله بدومنعه کول،او دینی‌احتساب کې هغه له حکمت څخه کارنه اخیست اونه یې‌دحالا تورعایت کاوه. کله کله خوپه خپله باچاته هم په غصه شو دمأ ثرالامراء په یوه روایت کې راځی چې: داکبردیوه تلین په مهال علماو اومشائخوهغه ته مبارکي ورکولی باچا زعفرانی رنګه جامه په تن کړی وه. شیخ دباچاپه دی جامه نیوکه وکړه اودبلي جامي اغوستلو ټینګاریې وکړخوداټینګاردومره سخت وچې دده عصا د با چا له جامو سره و لګیدله باچا دا ګذار وزغمه خودڅان سپکاوی یې وباله کله چې کورته ولاړ نو خپلی مورته یې دشیخ شکایت وکړ.مور یې دیوی دینداري کورنی لور وه نو خپل زوی یې پوه کړ چې ستا داتحمل او زغم به په تاریخ کې ستاپه مناقبوکې لیکل کیږی چې دولس یوه عالم باچاپه عصاوواهه خوده شریعت ته په احترام درلودلوسره هغه ته هیڅ هم و نه و یل.[۱]

څرنګه چې په تاریخ کښراځی که داخبره هماغسی وی نودمخدوم الملک او صدر شیخ عبدالنبی له حالا تو څخه داسی اندازه لګیږی چې دادواړه ښاغلی دعلم اوحکمت، اخلاقی‌او نفسي سپیڅلتیاله پلوه ددی نازک وخت " اکبري پېر اودی پیچلی چاپیریال " اکبری دربار" کې ددین دسمی نمایندګی اودپیغمبرانو د نیابت دکارله پاره مناسب اشخاص نه وو. ددی سلطنت لپاره که دوی داموی‌خلیفه سلیمان بن عبدالملک دمشاور او وزیر رجاء بن حیوه اودخلیفه هارون الرشیدد دینی‌مشاور قاضی القضاة ابویوسف په څیر نشوای‌کیدای اودهغوی د درجی‌علم اوتقوی نه وای ورسره نوکم له کمه خوبایددعبدالعزیزاصف خان اوقاضی شیخ الاسلام په څیرکمال لرونکې، لوړ

[۱] مآ ثرالامراء دویم ټوک مخ۵٦۱

www.abulhasanalinadwi.org

دماغه اونیکان مشاورین وای .[۱] لکه مخته به چې راشي داکبرپه دربارکې دایران اوهندخورا دڅورعلم لرونکي معقولي علماء اوادیبان راجمعه شوی وو نو د هغوی دمقابلولپاره داسی تکړه علماواودسلطنت کره دیني مشیرانوته اړتیاوه چې هغه له دی دواړوزیات پوهه وای. دملاعبدالقادرله ویناسره سم اکبرفکرکاوه چېدده درباری ملایان له رازي اوغزالي څخه زیات دی نوکله چې دهغوی داسپک حرکتونه ولیدل نو د سلفوعلماء یې هم په دوی باندې قیاس کړل اوله یوه سره له علماوو څخه منکر شو.

## سلطنتي غړی او درباری مشا ور ین

دسلطنتي غړیوپه اړه داکبربدقسمتي له درباری ملایانوڅخه کمه نه وه . څرنګه چې دی له علم اوتهذیب څخه ناخبره و نوبناء دهرڅبوراو هوښیارجادو پری چلیده. په ځانګړی توګه هغه کسان چې له ولایت (ایران) څخه راغلي و هغه ایران چې دهند او افغانستان اوسیدونکودیونان په سترګه ورته وکتل په هماغه مهال چې داکبر لېنګې په دیني ډګرکې په ګړېیدو وو له ایران څخه دري وروڼه حکیم ابوالفتح ګیلانی ، حکیم همایون (حکیم همام ) اونورالدین راوتښتیدل اوپه دربارکې یې لوړی چوکې ترلاسه کړی څه موده وروسته ملا یزدی له ولایت څخه راغی او د صحابهء کراموپه اړه یې پوچې خبری پیل کړی حکیم ابوالفتح یوګام نورهم مخته ولاړ اود دیني حقائقو لکه : وحی، نبوت، معجزاتو اونورو څخه یې په ډاګه انکاروکړ.[۲]

---

[۱] ددوی دواړودخالا تولپاره دمولناحکیم سیدعبدالحی حسني مرحوم کتاب " یادایام ګجرات " وګوری

[۲] منتخب التواریخ دویم ټوک مخ ۲۱۱.

www.abulhasanalinadwi.org

په همدی زمانه کې له ایران څخه شریف املی هم راغی لکه چې مخکې تیرشول هغه دمحمودپسیخوانی په پله روان واوالحادی عقیدی یې لرلی له دی ایرانی پوهانو پرته داعتقادی تیتوالی اوذهنی انتشارپه دی زمانه کې دکالیپې اوسیدونکې یوحاضر ځوابه ، په علمی مجلس کې ماهراوټوکمار "برهم داس" نومی هندوهم دربارته داخل شواوډیرژرد باچاله مزاج سره بلداودرباری وګرځیده . چې دباچاخاص ملګری او د"راجه بیربر" په نوم وویاړل شو.[۱] ده دمجلس سوراوبر خان ته معلوم کړ په مذهبی چاروباریکه اسلامی عقائدوکې یې بیباکې پیل کړه اواستهزایې رویه یې غوره کړه. اوځرنګه چې داسکه رائج الوقت وه نوله دی کبله یې له هرلوری څخه داد اوشاباسی ترلاسه کړ، ددین په اړه دباچادمزاج په ناسموالی کې ددی سړی هم ډیردخل و.[۲]

## ملا مبارک او د هغه زامن : فیضي او ابو الفضل

عجیبه خولاداوه چېدربارته دملامبارک ناګوری تګ راتګ هم پیل شو.[۳] اودده دواړوزامنوفیضي اوابوالفضل دباچامزاج په لاس کې واخیست اوپه دربارکې یې دومره عزت ترلاسه کړچې له دوی نه مخکې هیچانه وترلاسه کړی دملامبارک ،ابو الفضل اوفیضي دری واړو دحالاتو که بی طرفه توګه څیړنه وشی نوڅرګنده به شی چې دوی نه یواځی په هندکې بلکې په هغه زمانه کې تر ټولو زیات پوهه ، لوړ استعدادلرونکې اومتبحرپوهان وو. په ادبی اوعقلی علوموخبر، دفارسی دشاعری اوانشاء ماهران وو، لنډه داچې دهغه وخت دتعلیمی نظام، څیړنی اوتحقیق،

---

(۱) دراجه بیربل داخلاقواوکریکټرله پاره دمحمدحسین ازادکتاب "درباري اکبري" مخونه ۳۳۶ -۳۸۳ وګوری

(۲) دنفصیل لپاره دمنتخب التواریخ دویم ټوک مخ ۱۶۱ وګوری

(۳) ابوالفضل په اکبر نامه کې دربار ته دملامبارک دلوړي خل راتګ ددولسم کال په پیښو کې لیکلی دی .

www.abulhasanalinadwi.org

درائجو منل شویوعلوماوفنونو ښه تکړه پوهان وو، که له دی علمی تفنن اوتبحر، لوړذهانت ، ژبی اوقلم سره سره په دی پلار اوزامنوکې دینی استقامت، دینی رسوخ، له خدای اواخرت څخه ویره، اخلاص اوللهیت هم وای نودوی به په هغه وخت کې داسی خدمت کړی وو چې بیلګه به یې په تاریخ کې نه پیداکیدله. اوباچابه یې هم دوخت له فتنوڅخه ژغورلی وو. خوددوی دژوندله حالا تو اوپه خپله دابوالفضل اوفیضي د کتابونو له مطالعی څخه دالاندی حقائق ترلاسه کولای شو.

(۱) ـــ ملامبارک : (چې ددی مثلث دسرکرښه وه) دنارامه طبیعت ښبتن اوفطرة دناکراره دماغوخاوند و دځلورو واړو مذاهبوله اختلافاتوڅخه خبرو خوپه ځای ددی چې هغه په دی اختلافاتوکې جمعه اوتطبیق، تاویل اوتوجیه کړی وای له هغوټولو څخه یې انکاروکړ.دی له دی ټولی فقهی ذخیری اوداسلافو له هڅوڅخه بی اعتقاده شو بل لورته هغه دشیرازدنومیالی معقولات پوهه ابوالفضل ګاذرونی ګورت ته ورغی چې بیافلسفه پری غالبه شوه ددی په ځای چې هغه له مشائخواوفنی امامانوڅخه دسلوک اوتزکیې لاری چاری زده کړی اوله شیطانی فریبونواو نفسی ناروغیوڅخه خبرشي ده مستقیما دتصوف اواشراق کتابونولوستل پیل کړل اوپه دې لویه تیروتنه کې راګیرشو. له دې ټولوکوڅوڅخه په تیریدلوسره وروسته په هغه کې ذهني انتشاراوتلون پیداشو، اوپه هررنګ کې درنګیدلو وړتیاپکې پیداشوه.

دخواجه باقی بالله زوی خواجه امیرکلان چې دشیخ مبارک دلورپه کورکې روزل شوی دی [۱] دده په اړه کاږی : دهرې زمانې مروج مذهب به یې خپلاوه باچایانو اوامیرانو به چې له څه سره مینه لرله دی به هم په هغه لاره روان و[۲] سرویزلی

---

[۱] خواجه امیرکلان دخواجه حسام الدین په کورکې روزل شوی وه اودخواجه حسام الدین میرمن دملا مبارک دویمه لوروه. تاریخ هندوستان پنځم ټوک مخ ۱۸.

[۲] مبلغ الرجال پاڼه ۳۳ الف.

www.abulhasanalinadwi.org

هیڅ لیکي : شیخ مبارک په مختلفو وختونوکې کله سني کله شیعه اوکله صوفي اوکله مهدوي و اوله دې پرته خدای خبرچې نوربه څوډوله شوی وي [۱].

(۲) — په طبیعت کې یې حوصله اوجاه طلبي پرته وه، له دې امله دعلم او تدریس په محدوده دائره کې دده څپې وهونکی طبیعت تم نشو اوددربارپه واکمنو باندې د خپل علم اوذهانت سکه چلولوسره یې مینه پیداشوه اوداکبر سیوري ته چې د" هما" سیوری بلل کیده ورغی یواځې په خپله نه بلکې دواړه زامن یې هم ورسره یوځای کړل.

(۳) — داسې معلومیږي چې دوخت علماوپه ځانګړې توګه مخدوم الملک اوشیخ عبد النبي چې په درباربانديې مسلط وو. ده ته هغه مقام ورنکړ چې دده له علم او ذهانت سره وړ و، اودده دځینې عقائدو اوافکاروله امله په دیني حلقاتوکې له ده سره مخالفت کېده، اویایې بې پروایي ورسره کوله ، چې دې لاپرواهي دده زړه تپي کړ، مولوی امیرحسین دده په اړه لیکي: شیخ مبارک ددې خلکوظلم دومره غشي په سینه وخوړل چې زړه یې تپي شوشیخ ابوالفضل اوپلاریې ملامبارک دمخدوم. صدر اونوروله لاسه په کلونوکلونو زخمونه وخوړل چې ټول عمرکې یې له یاده نه شوای ایستلای [۲]

بل ځای‌لیکي : شیخ مبارک چې دمخدوم له لاسه کومې ستونزې لیدلې وې هغه زامنونه شوای هېرولای، هغوی‌ددې دمخنیوی لپاره داکبر غوږونه ورډک کړل اواکبر خیالات یې بدل کړل [۳] مولوی محمدحسین ازادله خپلې ازادخیالۍ سره سره بیاهم

---

[۱] کیمبرج هستري اف انډیا څلورم ټوک ۱۸ مخ .

[۲] درباراکبري مخونه ۴۹ – ۵۰ .

[۳] همدا اثر ۳۸۹ .

www.abulhasanalinadwi.org

ليكې دفيضي اوابوالفضل معامله دخپل پلارپه خيرېه شك او اشتباه كې ده ، دعلماودې مخالفت اودزمانې ناانصافۍ په دې ټوله كورنۍ كې د"ټيټ والي احساس " پيداكړ چې په مختلفو جولونو كې او ډيرځله د" برلاسي داحساس" په جول كې به ښكنديده، اودايې ثابته كړه چې ددوى دعلم اوذهانت په وړاندې دچاډېوه نشي بلېدلاى په دې هڅوكې اسلام اوټول ديني نظام ددوى له حملې لاندې راغى .تردې پورې چې كله ټولې ډيوې ددې دوو وروڼودعلم اوذهانت دډيوې په وړاندې ګل ياخپې شوې اوپه دې هيوادكې ددوى طوطي كړنګيده اوچغيده خوله دې سره سره ددوى په مخكې داسلام تازه چمن سوزيده نودملا عبدالقادرپه ويناابوالفضل دا دوه شعرونه زمزمه كول چې بلكل له حال سره موافق و :

اتش بدودست خويش درخرمن خويش = چوزده ام چه نالم زدشمن خويش
كس دشمن من نيست منم دشمن خويش= اى وائ من و د شمن خــو يش

ملامبارك دوه تكړه اوهوښيارزامن لرل يو ابوالفيض فيضي چې په كال ۹۵۴هـ كې زوكړى و او بل ابوالفضل علامي چې په كال ۵۸۹هـ كې زيږيدلى وه ، فيضي په ادبي علوموكې ډيرماهرووده په فارسي شاعري اواستادي كې څوك شك نشي كولاى . مولاناشبلي په " شعرالعجم "كې سم ويلي چې : فارسي شاعرى دشپږسوه كاله په اوږده موده كې په هندكې يوائې دوه شاعران پيداكړل چې هغه ددې ژبې خلكوهم له مجبورۍ ومنل هغه يوخسرو بل فيضي وو. فيضي دخواجه حسين مروى شاګردو اوده په هرفن كې مهارت ترلاسه كړى و دكال ۹۷۴هـ ۱۲جلوس كې دې دربارته ورسيده. اودباچاله مهربانيوڅخه يې برخې ترلاسه كړې او ورځ په ورځ يې باچاته نږديوالى زياتيده خوده په درباركې څه دنده غوره نكړه دى طبيب و، ليكوال و. شاعرو اوپه همدې مصرفيتونوكې بوخت و،اودشهزاده ګانوښوونه اوروزنه هم ده ته وركړه شوې وه په دولسم جلوس كې دشهزاده دانيال ښوونه اوروزنه

www.abulhasanalinadwi.org

ورته وسپارل شوه اوپه کمو ورځوکې فیضي ده ته ضروري مراتب وروښول. په همدې کال کې اکبرداجتهاداوامامت دعوه وکړه اوپه دې حیثیت یې په جومات کې خطبه وویله. اوداخطبه فیضي لیکلې وه.

اکبرشیخ عبدالنبی زورمات کړاوصدارت یې ټکړې ټکړې کړ اوپه کال ۹۹۰ھ کې یې داګرې، کالنجراوکالپي صدارت فیضي ته ورکړکله چې په کال ۹۹۳ھ کې اکبر یوسف زیو پښتنوته فوځونه ولیږل نوفیضي یې هم له هغوسره ولیږه . ۹۹۶ھ کال د اکبر دتخت کښېنستلو ۳۳ کال و په دې کال فیضي ته د" ملک الشعراء " لقب ورکړل شو. ۳۶ جلوس چې له کال ۹۹۹ھ سره برابرو په دې کال کې فیضي دفاندیس سفیروټاکل شو. اوپه ډیربریالیتوب سره یې دادنده سرته ورسوله په څلویښتم جلوس صفره کال ۱۰۰۴ھ کې دی مړشو[1]

له ادبي کتابونو، دسنکرت له ژباړو، شعری ټولګو اودیوان څخه پرته دده له ټولو مشهورکتاب سواطع الالهام دی چې دقرانکریم بی نقطه تفسیردی.[2]

---

[1] دشعر العجم ددریمې برخې مخونه ۲۸-۷۲ خلاصه.

[2] داتفسیرفیضي په بی نقطه حروفوجوړکړدی داپه هغه وخت کې زښت زیات مشهورو خلکوبه ویل چې فیضي له دینی علوموڅخه ناخبره دی نودخپلی ورتیادښوولولپاره ده داتفسیرولیکه له دی کار څخه به چې دده دعربی ژبی څومره څواک معلومیږی خوپه دی تفسیرکې چندانی علمي اوعملی ګټه نشته دده داکارداسی دی لکه یوخطاط چې په باریک خط سره په وریجوباندې قل هوالله ولیکي. اوخپل هنرڅرګندکړی ددی تکلف له کبله لیکنه بی مالګی اوخبری یې له خونداوخلا څخه خالی دی . له دی څخه زیات کارهغه دی چې دده په زمانه کې یوه شامی عالم محمد بدرالدین ابن الغزی الدمشقی مړ۹۸۴ھ ترسره کړی و هغه په یولک اواتیازره شعرونوکې دقرانکریم تفسیروکړ اوددی یوه منظومه خلاصه هم تیاره کړه اودایي دسلطان اعظم خدمت ته وړاندی کړ سلیمان علماووته وویل چې داتفسیروګوری چې دجمهورو دعقائدوخلاف یاڅه تحریف

www.abulhasanalinadwi.org

داتفسيريې په دوه كاله كې په كال ١٠٠٢ هـ كې سرته ورساوه. اوددې په انعام كې اكبرفيضي ته لس زره روپۍ وركړې [١] فيضي به په دې‌تفسيرباندې ډير فخر كاوه اوله دې څخه داښه څرګنديږي چې ده په عربي ژبه اولغت باندې څومره قدرت درلود.له مذهبي اختلاف سره سره ملا عبدالقادر بدايوني دده دعلمي كمال اوتبحرشاهدي وركوي اوليكي : درفنون جزئية ازشعر و معمه و عروض و قا فيه و تاريخ و لغت و طب و انشاء عد يل در روزګا رنداشت .

له كتابونوسره يې ډيره مينه وه اويوه ګران بيه كتابخانه يې جمعه كړې وه چې په هغه كې څلورزره اوشپږ كتابونه وو چې زيات يې ده په خپله ليكلي و يادده په زمانه كې ليكل شوي و. ملاعبدالقادربدايوني اودهغه وخت ټول هغه خلک چې په زړونو كې يې اسلامي غيرت درلوداواكبرله حالا توڅخه سخت خپه اوبيزاره ووپه دې خبره متفق اويوه خوله دي چې فيضي هم دخپل پلارپه څيرپه عقائدوكې ناسم اوذهني انتشاركې راګيرو.اواكبرپه بې دينه كولوكې دده ډيرلاس ومولانا عبد القادر چې په منتخب التواريخ كې دفيضي كوم تصويركښلى دى له هغه څخه كه مبالغه اوانشاء پردازي لرې هم كړو خوبياهم داسي بريښي چې دده په ازاد خيالۍ كې څه شک نه و.

مولاناشبلي په شعرالعجم كې دده پوره دفاع كړې ده خوبياهم ليكي چې: له دې ټولو سره هغه پراخ مشربه اوازادخيال و اوپوهيده چې متعصبو مولويانوچې

---

خونښته پكې علماووهغه وكوت ويې ستايه اوتصديق يې كړ سليمان ابن الغزى ته زيات انعام وركړ. الكوكب السائره دنجم الدين الغزى . دا راز دعلامه محمدعلى الشوكانى صاحب " نيل الاوطار " مړ ١٢٥٠ هـ " له كتاب " البدر الطالع بسمحاسن من بعدالقرن السابع " دويم ټوک دمحمدبن محمد الغزى ژوندليک مخ ٢٥٢ څخه .

[١] ماثرالامراء دويم ټوک مخ ٥٨٧

www.abulhasanalinadwi.org

داسلام کوم صورت جوړکړی هغه داسلام اصل تصويرنه دی، دشيعه اوسني شخړي هغه له مذهب سره نه تړلي، اوپه دي کورنيوجګړوپوري يې خندل بيامولانا دده داستهزاء اوتمسخر څواقتباسات راخيستی دی.[۱] مولاناليکی چی فيضی اوابوالفضل علمی مجلسونه جوړکړل چی په هغه کی يي درباريانوته وښوول چی له دی متعصبوسره له لعن اوتکفيرڅخه پرته بل څه وسله نشته، داسی معلوميږی چی دفيضی الحادی خيالاتود هغه په ژوندکی‌شهرت پيداکړ. خلکوچی دهغه دمړينی کوم تاريخونه ايستلي دی له هغه څخه داسی معلوميږی دده مړينی روايت هم ډيرله عبرته ډک دی.[۲]

ابوالفضل هم عجيب ذهانت اونادرعلمی تفنن درلوداوپه دی اړه يي ساری نه ليدل کيده لکه څنګه چی دده مشر وروړفيضی خورالاس بری شاعرو ده هم په ليکنه او انشاء کی اوږد لاس درلود په اکبرنامه دريم ټوک مخونه ۸۳- ۸۴ کی دی ليکی : : په کوچنيتوب کی دځان ليدنی مينه راسره پيداشوه اوظاهر بينی اوتقليدپه خلاف ليونتوب پيداشو. [۳]په کال ۹۸۱ ه کی په اګره کی ده دربارته لاره پيداکړه اوذايت الکرسی تفسيريي باچاته وړاندی کړ په کال ۹۸۲ ه کی يي دسورت الفتح تفسيرهم باچاته وړاندی کړ له دی وخت څخه دده نږديوالي اوتقرب مخ په وړاندی روان و تردی پوری چی‌لوړ وزارت اومطلق وکالت يي ترلاسه کړ.

---

[۱] شعرالعجم دريمه برخه مخونه ۴۹-۵۰

[۲] منتخب التواريخ دويم ټوک مخونه ۴۰۵-۴۰۶ دفيضی په مذهب باندی تبصره دمولوی محمد حسين ازادپه درباراکبری کی وګوری . !

[۳] بزم تيموريه ۱۶۳ .

www.abulhasanalinadwi.org

دده لویه کارنامه د( ائین اکبري ) لیکل دي. ائین اکبري دتیموري پېر د ملکي،حربي، صنعتي، زراعتي، اقتصادي، ټولنیزو،تمدني، کورنیو، علمي اومذهبي حالاتوهنداره بلل کیږي. دده بل ښکلی تصنیف (اکبرنامه) دی [۱] چې دهنددتیموري سلاطینوحالات پکې دي له دې پرته د" انشاء ابوالفضل " په نامه دده دلیکونویوه ټولګه ده او نورکتابونه هم لري. په کال ۱۰۰۱۱ ه کې دجهانګیرپه اشاره بیرسنګ دیو دی وواژه، اکبر ډیر پرې خپه شو اوویې ژړل.په اردو دائرة المعارف کې ډاکتر محمد باقرپه خپل مضمون " ابوالفضل "کې لیکي : ابوالفضل داکبرپه مذهبي عقائدوکې پوره لاس پیداکړی،کله چې اکبر په کال ۹۸۲ه = ۱۵۷۵ ع کې په فتح پورسیکري کې دمذهبي علماوو دمباحثوداوریدلو لپاره عبادت ځای جوړکړ نو دعلماو په دې مباحثوکې به ابوالفضل هم ګډون کاوه، او هروخت به یې داکبردنظریاتوپلوي کوله تردې پورې چې ده اکبرته دا وروفهموله چې دمذهب په اړه دده نظریات له معاصرو علماو څخه ځوبرخې ښه اوبرتردي، اوپه کال ۱۵۷۹ ع کې یې له شاهي دربارڅخه یودستخط شوی پیشنهادجاري کړچې دهغه له مخې دمذهبي علماو داختلافاتو وروستۍ پریکړه اکبرته سپارل شوې وه اودی دحکم په توګه ښوول شوي و. په عبادت ځای‌کې د مناظروپه منځ کې اکبرته دیوه نوي مذهب دایجادکولوفکرپیداشو اوده په کال ۱۵۸۲ع کې د( الهي دین ) اساس کیښودچې ابوالفضل هم ومانه. [۲]

---

[۱] داکبرنامه په اړه نومیالی فرانسوي لیکوال کاراډی واکس لیکي چې هغه یوداسې علمي سند اولاسوندی دی چې دختیځ تمدن حق لری په هغه باندې وویاړي . دکوموانسانانوذهنیتونه چې ددې لوی کتاب په ذریعه خپله پیژندنه کړې ده داسې بریښي چې دحکومت اودامنیت دفن په لحاظ هغوی له خپلې زمانې څخه ډیرمخکې وو.

Carra de vaux , Les Pen scurs Del islam Paeis - ۱۹۲۱

[۲] اردودائرة المعارف الاسلامية لومړی ټوک مخونه / ۸۸۹-۸۹۰

www.abulhasanalinadwi.org

په مأثرالامراء کې راغلي چې جنت مکان یعني جهانګیر باچاپه خپله لیکي: شیخ ابوالفضل زما دپلارپه ذهن کې داخبره ځای کړه چې جناب پیغمبرﷺ ډیرزیات فصاحت درلوداوقرانکریم د هغه کلام دی، له دې امله چې کله هغه له دکن څخه راتلوما نرسنګه دیوته وویل چې دی مړکړه له دې وروسته زماپلارهغه عقیده پریښوده.(١)

خوپه دپاړه ترټولوغوره شهادت په خپله دابوالفضل یوعبارت دی‌له هغه څخه دا اندازه کیدای شي چې ده له خپل علم اوذهانت څخه کارواخیست اودباچا غوښتنو ته یې عملي جامه ور واغوستله اوعملي وسله یې، په لاس کې ورکړه هغه یې د سلطنت دواکمنۍ‌له سطحې څخه دامام زمان اوهادي دوران لوړمنصب ته ورساوه. (٢)

په دې اړه چې ده کوم رول لوبولی په هغه باندې دده خپل ضمیرهم ډاډه ندی دی په خپل یوه لیک کې چې خان خانان ته یې لیکلی دځان په اړه کاږي: ددې دردناکې کیسې یوه وړه تراژیدي داده چې لیکونکي دبیځایه اوبې ګټې بوختیاوپه جهنم کې په نتوتلوسره دخدایﷻ د بندګۍ له رتبې څخه دفطرت بندګۍ ته رالویدلی دی اودې ته نږدې شوی چې دخدایﷻ دبنده په ځای به ددرهم اودیناربنده وبلل شي. دی په دې لیکنه کې داهم څرګندوي اوپوهیږي چې په دنیاکې دی دری څلویښت احمقانه هلو ځلو اوپه ځانګړی توګه له دی دولس کلن جنجاله وروسته چې دزمان دزامنوپه ملتیا کې تیرشول اوس نونه دصبرځواک لرم اونه منډې وهلی شم اونه هم دپرهیزتوان لرم

---

(١) مخ ٦٧١ سیدصباح الدین عبدالرحمن صاحب لیکي چې: دتزک جهانګیري دنولکشورپه چاپ کې دجهانګیرداخبره نشته خودتزک جهانګیري په هغه انګریزي ژباړه کې ددې خبرې تصدیق کیږي چې میجرډیوډ برائس کړې ده. مخونه ٥٣ - ٥٤ بزم تیموریه.

(٢) ابوالفضل په خپلوکتابونوکې داکبرله پاره داله مبالغوډک الفاظ ډیرښې تکلیفه کاروي لکه :امام معصوم،خلیفة الله، واقف اسرارخفي وجلي اوقاسم ارزاق بندګان الهي اوده ته دخوارقو او کراماتو نسبت کوي اویومافوق الفطرت انسان یې بولي. ( دفارسي مهابهارت سریزه وګورئ )

www.abulhasanalinadwi.org

دالاندې ځه درته ليکم اوپه وازکومې يې اعلانوم :

صبری نه که ازعشق به پرهـيزم من = بختی نـه کـه بادوست درامیزم من
دستـــی نه کـــه باقـضا اورم من = پـــای نه که ازمـيانه بگریزم مـن.[1]

## دراجپوت ملکو اغيز

داکبريوه لويه ازموينه اوله اسلام څخه دده دکورنوالي قوي لامل داوه چې ده دسلطنت د استحکام لپاره له راجپوت راجه ګانوسره دوستی اوخپلوی وکړې. اوهغوي ته يې لوړې چوکۍ ورکړې، دهغوي داعتمادترلاسه کولواوله هغوي سره دنږديوالی‌لپاره ده ډيرداسې‌کارونه وکړل چې تراوسه پورې دده مشرانونه و کړی. دبيلګې په توګه دغوايې دحلالولو ممانعت لمرته مخامخ کښيناستل اودوړانګی نندارہ کول، ږيره رخيـل، دکوم خپلوان په مړينه دمخ ټول ويښتان رخيـل. ټيکه لګول، له هندوملکو سره په ګډه په ټولوهندوانه رسمونوکې برخه اخيستل.

داکبريوه ښځه دراجه بهاري مل لوراودراجه بهګوان داس خوروه بله دجودهـ بای جوده پورملکه وه. ددې هندوانو ښځو اوددوی‌دخپلوی له کبله دهغوی دوروڼو اوخپلوانوپه اکبرباندې ډيراغيزوو،اوداطبعي خبره وه، په دين کې چې ترټولو لوړی کومه نيمګړتياراوستل شوه هغه ددې خپلوي نتيجه وه.،کيسه داسې وه چې دمتهرا قاضي عبدالرحيم ديوه جومات دجوړولو لپاره سامان يوځای کړخونږدې يوه برهمن په شپه شپه کې هغه سامان غلا کړاوديوه مندرپه جوړولوکې يې مصرف کړ، کله چې مسلمانانودسامان پوښتنه ځيني وکړه نوده اسلام اوپيغمبر ﷺ ته بدردوويل، قاضي عبدالرحيم داخبره صدرالصدورشيخ عبدالنبي ته ورسوله اوشيخ عبدالنبي هغه جلب

---

[1] انشاء ابوالفضل دويم دفتر مخ / ۱۰۲ ( لکهنو ۱۸۸۳ع )

www.abulhasanalinadwi.org

کړله تحقیق وروسته واقعه روښانه شوه اوصدرالصدور دمرګ سزا ورته وټاکله خو هغه برهمن دملکي جودهـ بای پرستارونوملکې په اکبرزور واچاوه چې نوموړی برهمن دمرګ له سزاځخه وژغوري خو باچادمحکمې په کارکې مداخله نه کوله او صدرالصدور یې نه خپه کاوه صدرالصدوردخپلې سزاحکم نافذکړخوپه ځای ددې چې معامله ختمه شي نوره هم خرابه شوه اودبدایوني په وینا: دسترهنددراجه ګانولوښودباچاپه غوږ کې داوځځوله چې ده ملایان خپل سري ته پري ایښي دي ان چې دباچادخبرې پرواهم نلري په دربار کې داپوښتنه راپورته شوه چې په حنفي مذهب کې دپیغمبرﷺبسکنځونکي ته دمرګ سزانشته بناء دا اقدام ددې مذهب په خلاف دی اوددې مذهب قانون خوپه دې هیوادکې رائج اوپلی دی.

## داجتهاداوامامت محضر

داموقعه وه چې ملامبارک باچاته لاس ورکړاومرسته یې ورسره وکړه اوهغه تاریخي "محضر" یې تیارکړ چې داکبراوډهغه دهیواددتګلارې په بدلولوکې یې اساسي رول ترسره کړ، اوهغه ته دذهني اوتهذیبي ارتداددټولې ودانۍ لومړۍ د...ازه ویل کیږي[1] په دې محضرکې په ځرګنده توګه لیکل شوي چې: دخدای ﷻ په نزد دعدل ...احامرتبه دمجتهد له هغې ځخه زیاته ده اوحضرت سلطان،کهف ...،امیرالمومنین،ظل الله علی العلمین، ابوالفتح جلال الدین محمداکبرباچا غازي ... ...ات عادل عاقل ...عالم دی. بناء که په دیني مسائلوکې مجتهدین ... ...لري ... دخپل خلانده ذهن اوکره رایې په رڼاکې دبنیادمانو د اسانتیاولپار... ...دې ته ترجیح ورکولای شي اوپه داسې صورت کې به وروستی

---

[1] ددې محضربوره متن په منتخب التواریخ دویم ټوک مخونه ۲۷۱=۲۷۲ اوطبقات اکبري مخونه ۲۴۳=۲۴۴ کې وګورئ اوپه نزهةالخواطرکې یې پوره عربي ژباړه هم شته.

www.abulhasanalinadwi.org

پریکړه دده په لاس کې وي اوهمداډده پریکړه به قطعي وي اودولس اوهرچالپاره به دهغه منل لازمي اوضروري وي ، دامحضرنامه په رجب کال ۹۸۷ه کې تیاره شوه اوپه هیوادکې نافذه شوه دباچاپه نغوته ټولوعلماوپه هغې لاسلیکونه وکړل اوددې له مخې باچا امام مجتهد، واجب الاطاعت اوخلیفةالله وګرځول شواودادهغه سفرپیل و چې نه یواځې له اسلام څخه کړوالی بلکې عناداودښمنۍ باندې پای ته ورسیده اومکمل شو.

## محضرته یوه کتنه

داسلامي سلطنتونوپه اوږده تاریخ کې دوخت علماء ډیرځله ښوئیدلي دي اودرنې تیر وتنې څیني شوې دي دوخت دواکمنواوداقتداردڅښتنانوپې غیر مشروط اوبلاقیده حمایت اوتائیدکړی دی، دهغوی دښوئیدنواوبیلارې یې توجیه کړې اوتاویل یې ورته پیداکړی، دهغوی دظالمانه احکامو،کله کله خوداسلام دبدنامولو اقداماتواوغلطو پروسولپاره یې علمي دلائل اوفقهي اوکلامي سندونه تراشلی دي، اوهغوی دکوم اختیاري مصلحت یااضطراري ضرورت په اساس دخپل منصب اومقام په خلاف کار کړی دی، خودوخت دواکمنوداډول کلکه مرسته بلکې دشریعت په خلاف پلانونه جوړول چې ملامبارک په دې " محضر" کې ترسره کړی ګومان نه کیږ ی چې په ټول تاریخ کې دې ددې لپاره بیلګه پیداشي، په دې کې یوه داسې ځوان باچاته (۱) له مجتهدڅخه لوړه درجه ورکړل شوې،دمجتهدینوپه اختلافي مسائلوکې دترجیح او انتخاب حق ورکړل شوی، اوترټولو عادل، ښه عقل لرونکی اواعلم بالله منل شوی؛ چې مطلق بې سواده اوناپوهه و مخکې یې لاپه طبیعت کې

(۱) ددې محضردصادریدلوپه مهال داکبرعمر ۳۸ کاله و .

www.abulhasanalinadwi.org

بې قيدي اوله حده زياته ازادي پرته وه، داسلام له علماوواودشريعت له شارحينوڅخه يې عقيده پورته شوې وه دخپل كوراودربارله هندوډوله ماحول او چاپيريال څخه زيات اغيزمن شوی واودی هندو مذهبه خيالاتواوعاداتوته مائل و .

داسې باچاچې دمطلق العنان سلطنت اوزياتواختياراتوڅښتن و نوددې ګټه يواځې دهوا اوهوس پلويانوته ورسيده اوياهغوعلماوته ورسيده چې دباچاپه نوم اودهغه د فرامينواو احكامو په پرده كې يې ازادي اوخپل سري غوښته هغوی له اسلامي شريعت څخه يوه لوبه جوړه ول غوښتل يايې له پخوانيو دښمنانوڅخه دغچ اخيستنې خوبونه ليدل، دشيخ مبارك په څيرهوښيارانسان څخه ددې اقدام عواقب اوپايلې پټې نه وې ددې لپاره ددې توجيه ډيره ګرانه ده چې له دې محضرڅخه شاته څه روان و ؟

يوسترګور مورخ چې دداډول اقداماتوپه پايلويې نظر وي نن دملامبارك روح ته په خطاب كې داسې ويلی شي چې :

فــان كنــت لاتــدری فتــلك مــصيبـــة – وإن كنت تدری فــالـــمصيبة أ عـــظم

ژباړه : كه ته ددې كارپه عواقبونه پوهيدای نودادافسوس خبره وه اوكه ته پوهيدای خوقصدا دې داسې كړې وي نوخبره ډيره افسوسناكه اوحيرت وړده.

## دمخدوم الملک اوصدرالصدور زوال

ددې محضرپه صادريدلواودملامبارك نه علمي مرستې اودهغه دپوهه زامنو فيضي اوابوالفضل دربارته له تګ راتګ وروسته دمخدوم الملک ملاعبدالله سلطانپوري اوصدر الصدورمولاناعبدالنبي ګنګوهي زوال پيل شو،مخدوم الملک اوشيخ عبد النبي چې د دربارداحالت وليدنوپه كوركښيناستل يوه ورځ په زور

www.abulhasanalinadwi.org

راوستل شواودشپلیوپه صف کې کښېنول شو.[۱] مخدوم الملک حجازته تبعیدکړل شواوپه کال ۹۸۷ ھ کې حجازته ولاړ دهغه ځای لویوعلماوېې ډېرتودهرکلی وکړاوراستاذالعلماء شیخ شهاب الدین احمدبن حجرهیثمي یې ډېراحترام وکړ، په مکه مکرمه کې له دریوکلوتیرولووروسته هغه بیرته هندته راستون شو ، ګجرات ته په رسیدوسره هغه ته زهر ورکړل شواوهوری په۹۹۰ھ یا۹۹۱ھ کې ومړ، ددې خبرې پوره نښې موجودې دي چې دازهردباچاپه اشاره ورکړل شوي دي. خوافی په مآثرالامراء کې په دې باندې تصریح کړې ده [۲] شیخ عبدالنبي هم دحجازنیت وکړ اوځه موده یې هورې تیره هم کړه خوداسې برېښي چې هغه دله لاسه وتلې چوکۍ یادهیرنکړ بیرته هندته راغی اوله باچاڅخه یې دعفوې اوبښنې غوښتنه وکړه. ملاعبدالقادروایې چې باچاراجه توډرول ته حکم وکړچې له ده څخه حساب واخله، راجه هغه بندي کړاوسختې پوښتنې ګروېږ نې یې ځینې وکړې اوپه دې بندکې هغه مړشو خوپه مآثرالامراء کې راغلي دي چې باچا دده معامله ابوالفضل ته وسپارله اوهغه یې ورمیږ تاوکړاومړیې کړ.[۳]

## ددویمې زریزې لپاره تیاری اود الهي دین پلې کول

دباچااطاعت خولازمي شواودی مطلق مجتهدوبلل شوله دې وروسته دویم ګام داپورته شوچې په اسلام باندې خوزرکاله تیرشول اودویمه زریزه پیل کیدونکې ده په دې نوې زریزه کې ددنیانوی عمرپیل کیږي، بایددې لپاره یونوی دین،نوی ائین، نوی شارع اونوی حاکم وي اوددې لپاره له اکبرڅخه زیات عادل امام،

[۱] منتخب التواریخ دریمه برخه مخونه ۷۹=۸۳ .

[۲] نزهة الخواطرځلرم ټوک .

[۳] نزهةالخواطر.

www.abulhasanalinadwi.org

هوښیار، اودتاج ښتن نشته نودی ښه مناسب دی ملاعبدالقادرلیکي چون در زعم خویش مقررساختند که هزارسال از زمانه بعثت پیغمبراسلامﷺ که مدت بقاء این دین بودتمام شد وهیچ مانع برای اظها ر وداعی خفیه که دردل داشتند نماند.[1]

له دې پریکړې وروسته هغه ټول بدلونونه پیل شول چې په هغه سره دافکرپه هیوادکې پوخ شي، روبی اوسیکه دهرچالاس ته ورځي اوداداشتهارښه ذریعه ده په هغې باندې د"الف" تاریخ ولیکل شو.[2] په نړۍ کې دیوه فاصل حد دقائمولو لپاره اودهغه په دووپېرونو ویشلو لپاره دتاریخ الفي په نوم یونوی تاریخ تدوین کړل شو اوداکارد علماوویوې ډلې ته وسپارل شو ،په دې کې دهجرت دکلونوپه ځای درحلت یادونه وشوه دخلکوپه ذهنونوکې ددې خبرې دځایولوکوښښ وشوچې دهغه زمانو دښتن وخت راغلی دی چې دهندوانو او مسلمانانو د دوه اویا۷۲ ډلواختلافات به له منځه وړي اودادباچاسپیځلی ذات دی.[3]

له دې ځخه داکبرشاهي ددین الهي کارپیل شوچې په هغه کې دتوحیدپه ځای دستوریودنمانځې په جول کې ښکاره شرک ستور نمانځنه وه ،اودایمان بالبعث په ځای دتناسخ عقیده وه، اکبربه په سمه توګه له خلکوځخه بیعت اخیست په دې دین کې ډداخلیدولپاره چې کومه کلمه ویل کیدله په هغې کې له لااله الاالله سره " اکبرخلیفة الله " ویل هم شامل و له کلمې سره یوه تعهدنامه هم وه چې په هغه کې داسې راغلي و: زه په خپله رضااورغبت اودزړه له کومې له هغه مجازي اوتقلیدي اسلام ځخه جلاکیږم اوپریږدم یې چې له پلرونو اونیکونوځخه مې اوریدلی و اوپه

---

[1] منتخب التواریخ مخ /۳۰۱.

[2] منتخب التواریخ.

[3] منتخب التواریخ مخ ۲۷۹.

www.abulhasanalinadwi.org

اکبرشاهي الهي دين کې داخليږم اوددې دين داخلاص څلورمرتبې يعنې : ترک مال، ترک جان، ترک ناموس وعزت، ترک دين. منم.[۱]

په دې دين کې سود، قمار، شراب، اودخوګ غوښه حلاله وه اودغوئين مال حلالول ممنوع و، دنکاح په قانون کې لاسوهنه شوې وه، پرده ختنه کول منعه شوي و، دبدن پلورنې کارمنظم کړل شوی و، اوځايونه يې ورته معلوم کړي و اوقانون يې ورته جوړکړی و ،دتدفين طريقه هم بدله شوي وه،لنډه داچې يوګوښی هندي اکبري دين جوړشوي و ، چې دهغه په وړاندې داسلام دلورې تله ټيټه وه، هغه دين ته په سپکه سترګه کتل شوي چې هغه ته طبعي ميلان او د نفس تسکين شته اوپه هغه کې خارجي، ملي اوسياسي ګټې خوندي شوې وې.[۲]

## داکبرديني اومزاجي کړوالي عروج

داچې داکبرديني اومزاجي کړوالي ترکومه ځايه پورې رسيدلی و، په دې اړه ترټولومخکې مونږ داکبردعقل کل او نفس ناطقه ابوالفضل علامې اقتباسات وړاندې کوو دابوالفضل په خبرو کې چې څه راځي دادهغه هراړخيزې تبديلۍ

(۱) منتخب التواريخ مخ ۲۷۳.

(۲) په دې ټولنيزه سوله اونوي ائين کې داسلام اوهندومذهب ترمنځ مساوي چلن نه و شوی عجيبه دا چې دهغه مذهب اوډلې تله سپکه وه چې په دربارکې يې رسوخ زيات و اوطبعي تمايل هم ورته و. د هندمختصرتاريخ ليکوالان ډبليوايچ مورلينډاواې سي. چټرجي دااعتراف کړی چې اکبرد هندوانو دخوشالولولپاره غواحلالول بندکړی و اودده ددې حکم مخالفت کونکوته يې سختې سزاګانې ورکړې وي اکبرې قوانين له اسلام څخه هندومذهب ته نږدې و اوپه دې اړه ده برياليتوب هم ترلاسه کړ د . short History of India اردوژباړه دمولانامحمديوسف کوکن مخ ۲۵۱ څخه (۲) ائين اکبری لومړی ټوک مخ ۲۸ دلکهنوچاپ ۱۸۸۲ع.

www.abulhasanalinadwi.org

اوکړوالي متفرقې کړی دي ، ددې کړیو په یوځای کولوسره دهغه اتشي ځنځیر یوځه انځوروړاندې کیدلای شي چې په هغه وخت کې داسلام غاړې ته اچول شوی و. شعر: توخود حدیث مفصل بخوان ازین مجمل .

## اورنمانځنه

جلالتماب باچادخپلې رونړ اندی له کبله له رڼاسره ډیره مینه لري اوفکر کوي چې درڼا تعظیم اواحترام خدای پرستي اوالهي عبادت دی، ناپوهه اودړانده باطن څښتنان یې خدای هیرونه اواورلمانځنه بولي له لمرلویدلو وروسته چوپړوهونکې دولس کافوري شمعې بلې کړې اوهره ډیوه دسپینو اوسروزرو په لگن کې ږدي اود باچاحضور ته یې را وړي، اوپه دوی کې یوه خوږ ژبې اوخوږه غاړه لرونکې خادمه (سندرغاړې ) شمعه په لاس کې واخلي اوپه مختلفوزړه راښکونکوډول ډول طریقو سره دخدای پاک دحمد اشعاروایې، اوپه اخرکې په خپله دجلالتماب دعمر دز یاتیدو اوحکومت له پاره دعا کوي. [1]

### لمرلمانځنه

په دوه اشیانه منزل نومي ودانی کې ایزدنمانځنه کیږي ، اوله دې ځایه دلمر تعظیم پیل کیږي. [2] فرمایې چې لمردسلاطینوپه حال باندې یوځانگړی نظرلري له دې امله دده عبادت کول دخدای دعبادت په معنی دي خو لنډفکره خلک په ښه گوماني اخته شي عام خلک دځه لپاره دتور زړو شتمنو لپاره دهغوی عزت کوي

---

[1] ائین اکبري لومړی ټوک مخ ۲۹.
[2] ائین اکبري لومړی ټوک مخ ۳۲.

www.abulhasanalinadwi.org

اود خپلی نابيناې له کبله ددې نوردچينې په احترام کې کوتاهي اوعبادت کوونکو ته بدردوايي ، که په خپله ددوی عقلونه ړانده نه وای نود " والشمس کورت" سورت به يې ولې هيراوه ؟ (۱)

## دګنګااوبه

باچاپه سفراوحضرکې هروخت دګنګااوبه څښې دباوري چوپړيانويوه ډله د سيندپه غاړه ګومارل شوېده چې په سربندوکوزوکې اوبه راوړي کله چې جلالتماب په اګره اوفتحپورکې اوسي نوله سورون کلي څخه اوبه ورته راوړل کيږي په دې زمانه کې چې اوس شاهي خيمه په لاهورکې نصب ده دهرړدوارله عمره اوښواوبو څخه داوبوځای ډک دی په پختن ځای کې دجمنااوچناب اوبه يادبارانه اوبه مصرف کيږي خوپه هغو کې يوڅه اوبه د ګنګا هم ګډول کيږي. (۲)

## تصويرايستل

يوه ورځ جلالتماب په خپله خلوت کده کې چې حپل نزدي نيکمرغه مريدان يې هم حاضروو وويل: يوه ډله دتصويرايستلودښمنه ده اوددې کارعيبونه بيانوي خو د دوي ويناوې اودلائل زړه نه مني بلکې له عقل اوقياس سره خو برابره داده چې تصوير اخيستونکې له ډيروانسانانو زيات خدای پيژندونکې دی ځکه چې داکس دځاروي دعکس ايستلوپه مهال دهغه هرغړي په ورته توګه د . . . تصوير ايستلووروسته چې دی دهغه ظاهري ښکلا ته وګوري اودې ته ځيرشي چې په . . .

---

(۱) ائين اکبري دريم ټوک مخ / ۱۸۴.

(۲) ائين اکبري لومړی ټوک مخ / ۳۳.

www.abulhasanalinadwi.org

کې روح نه شي اچولی شوده ته دخالق دپوره قدرت اندازه ولګیږي اودباکماله صانع په وړاندې سجده وکړي.[۱]

# دعبادت وختونه

سهارچې دمبارکې ورځې پیل اودنورپاشي ابتدا وي،غرمه چې دروښانه لمر وړانګې په ټوله نړۍ خپرې وي اوپه خلکوکې ډول ډول نشاط پیداشوی وي، او ماښام چې درڼاچینه " لمر" دخلکوله سترګوپناه کیږي.[۲]

## تعظیمي سجده

عقیدتمندوبندګانوبه تعظیمي سجده کوله اودې ته به یې ایزدي سجده ویله.[۳]

## بیعت اوارشاد

دپوهې غوښتونکې ډلې به پګړی په سرکیښوده سربه یې دهغه په مبارکو پښو کیښوداودحال په ژبه به یې داسې ویل:دبختورملګرتیااودنیکمرغه باچاپه رهنمایې کې چې ډول ډول نقصانات لرم زه دزړه توجه دباچاداطاعت په لوري اړوم.[۴]

---

[۱] ائین اکبري مخ ۷۸. [۲] ائین اکبري لومړی ټوک مخ ۱۰۵.

[۳] ائین اکبري لومړی ټوک مخ ۱۰۷. [۴] ائین اکبري لومړی ټوک مخ ۱۱۰

www.abulhasanalinadwi.org

## روغبړ

دروغبړپه مهال به یوه کس ویل الله اکبر بل به ځواب کې ﷺ ورته وویل.

## له هجري تاریخ څخه کرکه

له ډیرې مودې راهیسې دجلالتماب دا نیت وچې په هندکې نوی کال اونوې میاشتې جاري کړي ځومشکلات ختم اواسانتیاوي رامنځته شي. جلالتماب هجري سنه دهغې دنقصاناتوله کبله نه خوښوي خودبې فکره اوناپوهه خلکود ډیربښت له کبله چې هغوی دتاریخ اوسنی اجراء هم یوه دیني مسئله بولي دمحترم ولس پال نظر ونه زغمله چې ددې ډلې زړونه مات کړي اودالامل وچې جلالتماب له پیل څخه خپل فکرته عملي جامه ورنکړه.[1]

## غیراسلامي جشنونه اواخترونه

لومړی جشن دنوروزي په نامه سره یادیږي. کله چې لمر دکال دوره پوره کړي اودحمل په برج کې داخل شي اوله خپلو برکتونوڅخه نړۍ مستفیده کړي نوپوره نولس ورځې عیشونه اوخوشالی کیږي په دې زمانه کې دوه ورځې داختر جشن نمانځل کیږي، بې شمیره نغدي او ډول ډول شیان دخیرات، تحفو اوډالیو په توګه ویشل کیږي، دفروردین لومړی اونولسمه دوه ورځې داخترلپاره ځانګړې شوي دي اودې ته به یوم شرف وایې، په پارسیانوکې دا رواج دی چې له هرې میاشتې سره چې دهغې کومه ورځ همنومي وي هغه ډیره مبارکه بلل کیږي. په دې ورځ دخوښۍ جشن جوړوي سندرې وایي اومیلمستیاوې کوي.

www.abulhasanalinadwi.org

جلالتماب هم ددې رواج تقلید کوي اوهره شمسي میاشت دیوه خاص جشن لپاره ځانګړې شوې ده. ددې ورځولړلیک په لاندې ډول دی: نولسم د فروردین، دریم داردي بهشت، شپږم د خورداد، دیارلسم د تیر، اووم د امرداد، څلرم د شهرپور، شپاړسم د مهر، لسم د ابان، نهم د اذر، اتم ،پنځلسم او درویشتم د دی، دویم د بهمن، پنځم د اسفندار. په دې ورځوکې به جشنونه جوړیدل اوپه هر جشن کې به خلکو ښکلې جامې اغوستلې . خلک به له ډیرې خوشالی څخه بې اختیاره شول اوله ډیرې مستی څخه به یې رمباړې وهلې هره غرمه به ډنډوره وهل کیده خوشاله خلکوبه سندرې اوسازونه وهل.[1]

## دزکات دمنعه کولوفرمان

دحال اواستقبال متصدیانو ته اودګران هیواد چارواکوته دې معلومه وي چې په دې نیکمرغه زمانه کې چې دجلوس له کال څخه پیل کیږي او ددویمې پیړۍ اووم کال کیږي (یعنی اووه دیرشم کال څکه دلته پیړۍ دیرش کاله مراد ده ) اود برياوو اوښکلا لمر څرک کال دی؛ دافرمان صادریږي چې دسلطنت دتګلارې غوښتنه داده چې دحکومت سیاست دمقیم اومساپر، مزدوراوتجاردګټود خوندي ساتلو نوم دی او د خراج یوه ذریعه ده چې دحکومت نظام په هغه ولاړ دی چې دمالونو، عقایدو او بازارونو ساتنه کوي که دامانت اودیانت دښتنانو میزان غلط وخیږي چې دنغدو او اجناسو تلونکې دې نوټولې ښیګنې به په بدیو اومصالح به په مفاسدو بدل شي الحمدلله چې له پیل څخه زمونږ توجه درفاه عامه اود اولس هوساینې په لور ده، هغه اولس چې دباچامعنوي اولاد او الهي

[1] ائین اکبري مخ ۶۴ .

www.abulhasanalinadwi.org

امانت دی، دخدای شکردی چې هند اونورهیوادونه دعدل اوخوشالی مرکزونه اودنړۍ دمساپرو تم ځای دی.

اوس اوس دجلالتماب له سخاوتمندانه دربار څخه داحکم صادرېږي چې دغلې په ټولو ډولونو اونباتاتوکې، په خوراکې توکیو اودرملوکې، مالګه ،مشک اود خوشبویې نوروډولونوکې،رختونواوپنبه کې، دتودوخې په اسبابوکې.دځرمنواړوند سامان، دتانبه اودلرګي په لوښوکې ، په درګو اوونوکې اوپه هغوټولواجناسو او څیزونوکې چې په ژوند پورې اړه لري پرته له فیل، اس، اوښ، بزه اوضروري وسلې چې مخکې هم مستثنی وو په دې نورو ټولو څیزونوکې په ټولوهیوادونوکې زکات اوکمه اوزیاته هرډول مالیه معاف شویده.[۱]

## هندوموحددی !

مونږته روښانه شوه چې داخبره ډیره مشهوره وه چې هندوله خدای پاک سره شریک جوړوي سمه نده که څه هم ډیرې خبرې اودلائل ترپوښتنې لاندې راځي خودا قوم په توحید اوخدای پرستي باندې یقین لري.[۲]

## دغوښې خوراک

وایې چې که دژوندسختوالی زماذهن ته نه راتلای نومابه دانسانانولپاره غوښه خوړل نارواګرځولي و اوزه په دې لحاظ په دې باندې یوځلې عمل نه کوم چې ډیر

---

(۱) طبقات اکبري مخونه ۶۷ ــ ۶۸

(۲) ائین اکبري دریم ټوک مخ ۳.

www.abulhasanalinadwi.org

کارونه به ناپوره پاتې شي اوانسانان به په دې غم کې لیوني شي وايې چې د قصاب ،کب نیونکې اودوی ته ورته خلک چې دوژنوپیشه لري دهغوی داوسیدو ځای بایدله عامواوسیدن ځایونوڅخه ګوښه کړل شي اوله دې نوروخلکوسره په ګډیدو باندې بایدتاوان ځینې واخیستل شي.[۱]

## خوګ

فرمایې چې که دخوګ دحرمت لامل دهغه بې غیرتې وي نولازمه ده چې زمری او هغه ته ورته ځناوربایدوخوړل شي.[۲]

## شراب څښل

ددې میاشتې په جشن کې هوش ورونکې شراب څښي، میرصدرجهان مفتي میر عدل اومیرعبدالحي هم شراب وڅښل اودباچاپه ژبه داشعر جاري شو.

دردور پادشاه خطابخش وجرم پوش – قاضی قرابه کش شد و مفتی پیاله نوش.[۳]

## دهندوانو رسم

دخان اعظم مرزاکوکه موردسختې ناروغۍ له امله مړه شوه، جلالتماب دومره پرې خواشینی شوچې دډیرغم له امله یې سراوبریتونه وخریېل، ډیرکوښښ وشوچې دمرحومې له مشرانو زامنو پرته نور څوک باید وینښتان لیرې نکړې خو مخلصو

---

[۱] ائین اکبري دریم ټوک مخ ۱۸۹.

[۲] ائین اکبري دژیم ټوک مخ ۱۸۶.

[۳] ائین اکبري دریم ټوک مخ ۶۰۶ " اردو "

www.abulhasanalinadwi.org

بندګانو دباچاپيروي وکړه.[۱]

## د الهي سنې اجراء

په کال ۹۹۲ه کې دروڼ عقل اوپوهې ښتن باچادعلم اوکمال هغه ځلانده ډيوه بله کړه چې هغې په خپله برکتي رڼاسره ټوله نړۍ روښانه کړه، نيکمرغه اوحق پلوي ډلې دناکامي له سرويږدي څخه سرراپورته کړ، سست رايه اوخوړينو خلکو د نوم ورکئ په کنده کې خولې پټې کړې، دجلالتماب نيکې ارادې عملي جامه په غاړه کړه دحکماوسرخيل ميرفتح الله شيرازي ددې کارسرته رسولولپاره ملاوتړله، علامه شيرازي نوې ګورګاني کليزه په نظرکې ونيوله اود جلالتماب دجلوس کال يې د"الهي کليزې"پيل وبلله[۲] له دې اساسي حقائقوڅخه وروسته چې داکبرددينې فکرپوره شکل دی‌اوس څه بدې نشته چې دملاعبدالقادرله ورکړو تفصيلاتو څخه داشکل نورهم ښه مکمل کړواوله دين اسلام څخه چې دی څومره لرې شوی و اوله هغه څخه کرکه، نفرت اووحشت درلود ددې سمه نقشه به خلکوته وړاندې شي.

## داسلام سپکاوی

داسلامي امت ټوله پانګه يې دبې عقلي ټولګه بلله اودهغه جوړوونکې يې "العياذبالله"دعربوڅوناداره بدوګان اوکوچيان وبلل چې ټول بې لارې اولاروهونکې وواودفردوسي دشاهنامې دوه شعرونه يې سندوګرځول چې هغه دنقل په توګه ويلی و:

زشيرشترخوردن وسوسمار- عرب رابجای رسيدست کار
کـه ملک عجـم راکندارزو - تفوبادبرچرخ گردان تفو.[۳]

---

[۱] اکبرنامه دريم ټوک مخ ۸۳۰.
[۲] ائين اکبري لومړی ټوک مخ ۵۶۴.اردوژباړه فداعلي طالب حيدراباد ۱۹۳۸ع.
[۳] منتخب التواريخ مخ ۳۰۷.

www.abulhasanalinadwi.org

## داسراء اومعراج سپکاوی

اخرداخبره عقل څنګه ومنلی شي چې یوشخص دې له درانه بدن سره سره په خوب کې یوپه یواسمان ته وخیژي اوله الله پاک سره ډول ډول نوي زره "۹۰۰۰۰" خبرې وکړي خودده بستره دې هماغسې توده وي اوخلک دادعوه مني اوداډول د " شق القمر" او نورې ورته خبرې هم مني ( دنقل قول پای )

بیایې خپلې پورته کړې پښې ته اشاره وکړه اوناستوخلکوته یې وویل ممکنه نده چې دابله پښه مې په ځمکه نه وي ایښې اوزه دې وکولای شم ولاړپاتې شم اخرداڅه ډول کیسې دي ؟[۱]

## دنبوت دمقام اهانت

دهجرت په لومړیوورځوکې دقریشوقافله لوټل،له ښوارلسوښځوسره نکاح کول، دمیرمنودخوشالولولپاره په ځان باندې شات حرامول " داپه نبوت نیوکه وه "[۲]

## له نبوي نومونوڅخه کرکه

دباندنیوکافرانوپه خاطراودکوردښځوله امله په باچاباندې داحمد،محمداو مصطفی‌نومونه ښه نه لګیږي اخرڅوورځې وروسته یې دځینې خاصوکسانو

---

[۱] منتخب التواریخ دریم ټوک مخ ۳۱۷.

[۲] منتخب التواریخ دویم ټوک مخ ۳۰۸.

www.abulhasanalinadwi.org

نومونه بدل کړل دبیلګي په توګه یارمحمداومحمدخان به یې درحمت په نامه یادول اود لیکلو په مهال به یې هم دانوم ورته غوره کاوه.[۱]

## دلمانځه منعه کول

په دیوان خانه کې هیچانه شوای کولای په ښکاره لمونځ وکړي.[۲] لمونځ، روژه او حج لاپه خواساقط شوي و.[۳]

## داسلام په ارکانوپورې ملنډې

دملامبارک یوزوی و چې دابوالفضل شاګردهم و ده داسلامي عباداتوپه اړه څو داسې رسالې ولیکلې چې په دې عبادتونویې ملنډې وهلې وې اونیوکې یې پرې کړې وې په شاهي دربار کې ده اورسالویې ډیرمقبولیت ترلاسه کړاودده دپالنې ذریعه همدارسالې وګرځیدې.[۴]

## دهندداسلامي تاریخ خطرناک کړلیچ

لنډه داچې په دې مهال هندديوه هراړخیز دیني، ذهني اوتهذیبي ارتدادپه لاره روان و هغه هندچې هغه کې دفطري دین دپاکې ونې ددرولو اومیوه داره کولولپاره څلورسوه کاله پرله پسې انساني هڅې شوې وې، دماغي وړتیاوې

(۱) منتخب التواریخ دویم ټوک مخ / ۳۱۴
(۲) منتخب التواریخ دویم ټوک مخ / ۳۱۵
(۳) منتخب التواریخ دویم ټوک مخ / ۲۵۱
(۴) منتخب التواریخ

www.abulhasanalinadwi.org

کارول شوي وي اودزړه لرونکواودپاکوروحانینوروحانیتونه صرف کړل شوي وي ددې ارتدادترشا يوسترسلطنت اونظامي ځواک ولاړوچې له هغه سره دخپل وخت دډيروپوهواو ځيرکوخلکوعلمي اوذهني مرستې هم ملګرې وې. په دې مهال که حالات همداسې واى اوهغود لارې دډب کولولپاره کوم ځواکمن شخصيت نه واى ياکومه انقلاب زيږوونکې پيښه نه واى رامنځ ته شوي نوددې هيواد انجام به په يولسمه هجري پيړۍ کې په ظاهره کې داسې کيده لکه په نهمه هجري پيړۍ کې داندلس ( چې اوس يې نړۍ يواځې دسپين په نامه پيژني ) ياپه څوارلسمه هجري پيړۍ کې چې د روس له انقلاب څخه وروسته ترکستان له کوموحالاتوسره مخامخ شوي و خو: مردى ازغيب بيرون ايد وکارى بکند.

مونږه داخبره دنبوي سيرت ليکونکې اومسلمان تاريخ پوه مولاناسيدسليمان ندوي په هغه بليغ عبارت سره پای ته رسوو چې هغه دهندپه غربت ګرکې دمساپر اسلام دسفر دداستان بيانولو په ترځ کې ليکلي: ددې غفلت په خوب باندې څلور سوه کاله تيرشول اودمساپردسفرپه پيل کولوباندې زرګونه کلونه تيرشوي و داد اکبر پېر و چې دعجمو يوجادوګر راغی دباچاپه غوږکې يې د امنتر پوکړ چې : دعربي دين زرکاله پوره شوي دي اوس ددې وخت راغلی دی چې ديوه امي شهنشاه په ذريعه دامي پيغمبرﷺ دين منسوخ کړل شي اوالهي دين پيداکړل شي.

مجوسيانو اتش کدې ګرمې کړي، عيسايانوناقوس وغړاوه،برهمنوبتان برابرکړل، جوګ او تصوف سره يوشول دکعبې او بت خانې په يوه ډيوه روښانه کولوپې تېنګاروکړ، دې پنځه پلارې تحريک چې څومره اغيزوکړکه دهغه تصويرکتل غواړی نو(بستان مذاهب ) دې مطالعه کړي چې دډيرو زنار لرونکوپه لاس کې تسبيح او تسبيح لرونکوپه غاړه کې زنارونه ووينې. په

www.abulhasanalinadwi.org

شاهي دربارکې به ډېرامیران ووینې چې سرپه سجده پراته وي اوډېرد پګړیووال به ولاړ ووینې اودجوماتونوله منارو څخه به دا اواز واوري چې : تعالی شانه الله اکبر .

په دې هی وهوی کې دسرهندله خواڅخه دیوه اوازکونکي اوازراغی چې : لاره پاکه کړئ چې په لاره تلونکی راڅي یوفاروقي مجددله فاروقي شان سره را څرګندشو اودا احمدسرهندي و[1]

[1] دسیرت سیداحمدشهیدسریزه مخونه / ٣٠=٣١

www.abulhasanalinadwi.org

# دریمه برخه

## د حضرت مجدد الف ثاني د ژوندحالات له پیدا ینبته ترخلافته

### کورنۍ :

حضرت مجددصاحب په نسب باندې فاروقي دی .[1]

---

(۱) حضرت مجددصاحب به په فاروقي نسب باندې فخرکاوه اوهغه خپل دیني غیرت اوحمیت دهمدې غوښتنه اونتیجه بلله مجددصاحب دجمهورواهل سنتواواسلامي عقائدوپه خلاف دیوه شیخ عبدالکبیریمني تحقیق واوریده نوځه قلم څخه یې بې اختیاره داالفاظ ووتل : مخدوما! این فقیر راتا ب استماع امثال این سخنان نیستٔ بی اختیاررگ فاروقیم درحرکت مي اید [مکتوب نمبر ۱۰۰لومړی دفتر بنام ملاحسن کشمیري]،په یوه بل مکتوب کې یې داواریدل چې دسامانه په کلي کې خطیب دخلفاءراشدینویادونه قصداپریښودله ده ورته ولیکل چون ستماع این خبروحشت انگیز درشورش اورد ورگ فارو قیم راحرکت دادبچندکلمات اقدام نمود[مکتوب نمبر۱۵ شپږمه برخه دوم دفتر ]

www.abulhasanalinadwi.org

دده دنسب لړی[1] په یوه دیرش واسطوسره امیرالمومنین فاروق اعظم حضرت عمربن الخطاب ﷺ ته رسیږي، دنسب سلسله یې په لاندې ډول ده: حضرت شیخ احمد ( مجددألف ثانی ) بن مخدوم عبد الأحد بن زین العابدین بن عبد الحی بن محمد بن حبیب الله بن امام رفیع الدین بن نصیرالدین بن سلیمان بن یوسف بن إسحاق بن عبدالله بن شعیب بن احمد بن یوسف بن شهاب الد ین علی فرخ شاه بن نورالدین بن نصیرالدین بن محمود بن سلیمان بن مسعود بن عبدالله الواعظ الأصغر بن عبدالله الوعظ الأکبر بن ابوالفتح بن اسحاق بن ابراهیم بن ناصربن عبدالله بن عمر بن حفص بن عاصم بن حضرت عبدالله بن حضرت عمرالفاروق ﷺ .

دده پینځلسم نیکه شهاب الدین علي فرخ شاه کابلي ددې لړۍ نومیالی او سترنیکه دی دهندډیرباکماله اونومیالي فاروقي نسبه پوهان، مشائخ اود طریقومشران لکه حضرت بابافریدالدین ګنج شکراونورددده له نسب څخه دی، متاسفانه چې دافغانستان دعلماو اومشائخودژونددخالاتو په اړه تفصیلی ژوند لیکونه اودطبقاتوکتابونه نشته، نودده دژوندتفصیلي حالات هم نشي پیداکیدلای

---

[1] دنسب لړۍ په هکله مونږ ددی ستری کورنۍ دستر عالم اوڅیړونکي مولاناشاه ابوالحسن زید فاروقي په هغه تحقیقي څیړنه باورکړی چې هغه دمجددصاحب دنسب لړۍ په اړه په خپل کتاب (مقا مات خیر) کې کړی دی . دده تحقیق دادی چې له اته ویشتمی واسطه وروسته ( چې امیرالمومنین عمربن الخطاب بلل شوی ) څلورواسطی په تېولیزه توګه دنسب له کتابوڅخه لویدلی دی چې هغه حفص، عاصم، حضرت عبدالله اوعمرفاروق دی . غالبا له اووه ویشتمی واسطی عبدالله وروسته دعمرنوم لیکوالان غلط کړی دی اوګومان یې کړی دی چې دامشهور عبدالله بن عمرصحابی بن صحابی دی خوڅرنګه چې ددی عبدالله بن عمر دکوم زوی نوم ناصرنه وله دی امله داجنجال پیداشو او تحقیق ته اړتیاپیداشوه ددی کورنۍ دیوه ستر عالم وڅیړونکي شامحمدحسن مجددی ( سائین داد سنده ) اومحموداحمدعباس هم داسی تحقیق کړی دی اواحمدحسین خان په ( جواهرمعصومی ) کې هم داسی لیکلی دی

www.abulhasanalinadwi.org

، دده چې یوځه حالات پیداکیږي هغه په هغه کتابونو کې دي چې دمجددصاحب اودهغه دکورنۍ په اړه لیکل شوي دي.[1]، نوموړی دشیخ نورالدین زوی اودشیخ نصیرالدین لمسی و له دې امله دده د کورنۍ نسبت هم کابل ته کیږي، دی دښوصفاتوښښتن و ددین په خپرولو اواشاعت کې اودکفراوشرک په اهانت اوتذلیل کې یې خاص امتیازاوځانګړی ذوق درلود.[2]، دپلارله مړینې وروسته په تخت کښیناست دافغانانواومغلودشخړوپه پای ته رسولوکې یې ډیرې په زړه پورې هڅې وکړې له دنیوي جاه وجلال سره یې باطني غنی هم لرله، ګڼ شمیرخلکوله ده څخه فیض ترلاسه کړی‌دی، له وفات څخه مخکې یې دحکومت واګې خپل زوی شیخ یوسف ته وسپارلې اوپه یوه دره کې یې دیواځیتوب اودانزوا ژوندغوره کړاوپه هماغه دره کې وفات شو، دا دره دکابل په شمال کې دشپیته میله په واټن کې پرته ده اودده په نامه سره اوس هم دره فرخ شاه ورته ویل کیږي.

شیخ یوسف دظاهري علوموله زده کړې وروسته له خپل سترپلارسلطان فرخ شاه څخه باطني روزنه ترلاسه کړه اودهغه له واک پریښودلووروسته دهغه ځای ناستی و،په عدل، اصلاح اودینداري کې مشهورو، په عامواوخاصو باندې منل شوی‌و دده په ضمیرکې هم دالهي عشق هغه خلا وه چې دده پلرونو اونیکونوبه یې وخت په وخت دمولنای روم دې شعرعملي کولوته اماده کول

**ملک دنیا تن پرستان را حلال — ما غلام ملک عشق لا یزال**

ده هم په اخري عمرکې له واکمنۍ‌اواقتدارڅخه لاس واخیست او یواځیتوب یې غوره کړ اودده زوی شیخ احمددسلطنت واګې په لاس کې واخیستلې، دی هم دخپل پلارپه څیردعلم اوتقوی ښښتن و اوپه شاهي لباس کې درویش صفته بزرګ

---

[1] لکه زبدة المقامات، حضرات القدس اونور

[2] زبدة المقامات مخونه ۸۸ — ۸۹.

www.abulhasanalinadwi.org

و، په ده باندی خدایي جذبې دومره غلبه وکړه چې له سلطنت سره يې مخه ښه وکړه اوزامنوته يې هم وصيت وکړچې له سلطنت څخه دې ليرې اوسي يوځه مال يې داولادلپاره کيښود نوريې ټول په مسکينانوتقسيم کړ .ده له خپل پلارپرته له شيخ الشيوخ حضرت شهاب الدين سهروردي قدس سره څخه هم باطني استفاده کړې وه اودخلافت مقام يې ترلاسه کړی و له ده وروسته يې دکورنۍ مشران فقير صفته اودارشادڅښتنان وو اودخپلې زمانې له منل شويومشائخوڅخه يې دسلوک روزنه اوباطني فيض ترلاسه کاوه دهغوبه چې له کومې طريقې سره تعلق وپه دوی يې توپيرنه و .

امام رفيع الدين چې دمجددصاحب شپږم نيکه واودشيخ شهاب الدين علي فرخ شاه په نهم پشت کې راځي د"زبدة المقامات" له وينا سره سم دظاهري اوباطني دواړو علوموجامع و. باطني روزنه اودسلوک زده کړه يې له حضرت مخدوم جهانيان جهان گشت سيدجلال الدين بخاري مړ ۷۸۵ھ څخه ترلاسه کړې وه له دې څخه معلوميږي چې هغه داتمې پيړۍ داخر يادنهمې پيړۍ د پېل يوبزرگ و، ددې کورنۍ دالوگړي بزرگ دی چې له کابل څخه يې هندته تشريف وړی‌دی اوپه "سرهند" کې يې استوگنه غوره کړې ده چې دهغه پخوانی نوم "سهرند"و.

داځای پخواشاړاوځنگلي ځناوربه پکې اوسيدل، دده اوسامانه په منځکې (چې هلته شاهي خزانه پرته وه) بل کلی‌نه و،له دې کبله ددې شاوخوا اوسيدونکې په ځانگړی‌توگه دسرايس اوسيدونکې (چې هغه ځای ته په ۶ ، ۷ پړاوه کوسه کې پروت دی ) دحضرت مخدوم جهانيان په خدمت کې حاضرشول ( چې له هغه سره سلطان فيروزشاه ډيره مينه لرله ) له هغه څخه يې وغوښتل چې پلازمينې ته تشريف راوړي اوهورې دښارودانولو هڅې وکړې سلطان دده داغوښتنه ومنله اوخواجه فتح الله (چې دامام رفيع الدين مشرورور اودباچاله نږدې کسانوڅخه و )

www.abulhasanalinadwi.org

یې ددی کارلپاره تعین کړ خواجه صاحب له دوه زره سپرو سره تشریف راوړ اوکلایې جوړه کړه مخدوم جهانیان امام رفیع الدین ته چې دده خلیفه واودلمانځه امام و اودسنام په کلي کې اوسیده حکم وکړچې ددې کلااساس کښیږدي اوپه دې ښارکې استوګنه غوره کړي ځکه دی دهغه ځای دولایت څښتن دی له دې وخته دده کورنی هلته اوسیږي [1]

دکلا داساس اود سرهند دابادي دپیل تاریخ ۷۶۰ هـ کال ښوول شوی .[2] په دې ډول دحضرت مجددصاحب له پیدا کیدودوه سوه کاله مخکې سرهند ابادشوی دی دتذکرواوژوندلیکونوله کتابونوڅخه داسې معلومیږي چې هلته دشرفاو [3]

---

[1] دتفصیل لپاره د " زبدةالمقامات " ۸۹او ۹۰ مخونه وګوری !

[2] په قدیم تاریخ کې راغی چې دابناریووخت دستلج ولسوالی مرکز پاتی شوی نومیالی چینی سیاح هیون سانګ Hiun song ( چې په اوومه پیړی کې یې هند ته سفرکړی و) هم ددی ښاریادونه کړی ده او په خپل یونلیک کې کاږی چې دهغه شاوخواسره زرپیداکیږی په هندکې "سه " زمری ته وایې " اند" ځنګله ته وایې، یووخت داځای دهندوانواوغزنویانوپه منځ کې سرحدو اوله دی وراندی هند پیل کیده غالبا له دی امله داځای په " سرهند" سره مشهورشوی وی چې دسهرندسره په مخرج کې نږدی دی. په کال ۵۸۷ هـ " ۱۱۵۱ع " کې سلطان محمدغوری سرهند فتحه کړ دفیروزشاه تغلق ترتخت نشینی پوری ددهلی سلاطینوسرهندته چندان اهمیت نه ورکاوه ددی په ځای سامانه ته ډیره توجه کیدله .د فیروزشاه تغلق په زمانه کې دسرهندلوری ته له نوی سره توجه پیل شوه له دی وروسته به دسلطنت مهم امیران دسرهنداوفیروزپور دچارو منتظمین ټاکل کیدل له نظامی نقطه نظره هم دده اهمیت په زیاتیدو شو. بابرخوځله سرهندته راغی . همایون هم سرهندته راغلی اوله دی ځایه څخه دی دهلی ته ولاړ اود دویم ځل لپاره دتخت اوتاج څښتن شو په مغلی پیرکې دښاردخوشالی اوخلاداحال وچې دلته ۳۶۰ جوماتونه . چینیاوهدیری وی [داسلامی دائرة المعارف د " سرهندشریف " له مضمون څخه خلاصه ]

[3] مجددصاحب دخپل وطن سرهندپه اړه په مکتوبات کې ډیری اوچتی جملی لیکلی دی اولیکې چې دلته خاص نورانیت اوډاډوجودلری. مکتوب نمبر ۳۶ دمکتوبات دویم دفتروګوری

www.abulhasanalinadwi.org

اوعلماو کورني اوسیدله، اوله دې خاورې څخه ډیرد کمال ښبتنان پیداشوي دي[۱] داسې معلومیږي چې دده عروج اوله اسلامي علومواوفنونوسره تړاوپه لسمه هجري پیړی کې پیداشوی په اتمه اونهمه پیړی کې دحضرت مجدد دکورنۍ له ځوبرجسته کسانو پرته دکوم لوی سرهندي عالم نوم دتذکري او ژوندلیکونوپه کتاب کې ندی راغلی.

خودلسمې پیړی له پیل کیدلووروسته په سرهندکې علمي اودیني بیداري اوددرس اوتدریس ګرم بازارترسترګوکیږي اودګڼ شمیرپوهه اوسرکرده علماو نومونه لیدل کیږي چې په درس اوارشادباندې بوخت وو په دوی کې ترټولو نومیالی مدرس مولانااله دادبن صالح سرهندي مړ۹۲۷ ه دی اوله ده وروسته مولاناشیرعلي قادري مړ۹۸۵ه اومولاناعلي شیر مړ۹۸۵ه[۲] مفتي احمد سرهندي مړ۹۸۶ه الحاج ابراهیم سرهندي(دعلامه شهاب الدین بن حجر هیثمي مکي شاګرد) مړ۹۹۴ه مولاناعبدالله نیازي مهدوی[۳] مړ۱۰۰۰ه ؛دي اودځینې هغوعلماونومونه ترسترګوکیږي چې دمړینې تاریخ یې ندی معلوم لکه دوخت نومیالی استاد دمخدوم الملک ملاعبدالله سلطانپوری استاد مولاناعبدالقادر،دشیخ علي عاشقان جونپوري مریدمولانا عبدالصمد حسیني،مولاناامان الله، مولاناقطب الدین اومولانامجد الدین. دهمدې مجد الدین په اړه متبحرعالم و په سرهندکې یې له بابرسره ملاقات وشو اوبابریې ډیراحترام وکړ، مولانا میرعلي او مولانا بدرالدین سرهندي هم په ځانګړي توګه

---

[۱] دتاریخ اوژوندلیکونوپه کتابونوکې یوازې دتاریخ مبارک شاهي دلیکوال یحی بن احمدنوم پیدا کیږی چې دنهمې پیړی له لیکوالانو څخه دی ، ده تاریخ مبارک شاهي د۸۳۸ ه په شاوخواکې لیکلی دی اودی له خانه سره " اسیهرندی " لیکي [اردودائرة المعارف اسلامیه ]

[۲] کیدای شي دادواړه نومونه دیوه کس وی په " ګلزارابرار" او" نزهة الخواطر" کې ددواړونومونه په چپه ترتیب سره راغلي دی

[۳] ویل کیږی چې ده دعمرپه وروستیوشپوکې له مهدوی عقیدی څخه رجوع کړی وه

www.abulhasanalinadwi.org

دیادونې وړدي.[۱]

## حضرت مخدوم شیخ عبدالاحد

خواجه محمدهاشم کشمي په زبدةالمقامات کې دحضرت مخدوم شیخ عبدالاحد یادونه یوڅه په تفصیل سره کړېده، جناب خواجه صاحب دحضرت مجددصاحب په جوېړکې پرله پسې درې کاله تیرکړي دي نودده دمعلوماتو زیات ماخذ هغه خبرې او ویناوې دي چې ده وخت په وخت په خپله له حضرت مجددصاحب څخه اوریدلي دي. په دې کې که څه زیات معلومات وي نوهغه به يې له مشرانوصاحبزاده ګانو څخه ترلاسه کړې وي له دې کبله دده معلومات ډیرکره اوبالواسطه دمجدد صاحب دویناومجموعه دي؛ دلته دهغومعلوماتو غورچڼ را اخلو.

په حضرت شیخ عبدالاحدباندې په نوي ځواني اودعلم دزده کړې په مهال کې دالله پاک طلب اوعلم الیقین دومره غلبه وکړه چې دعلم له پوره کولو مخکې دهغه وخت نومیالی چشتي صابري شیخ عبدالقدوس ګنګوهي په خدمت کې حاضرشواوله هغه څخه يې دذکرتلقین اودسلوک زده کړه ترلاسه کړه ده نیت وکړ چې دشیخ په خانقاه کې به دیره کیږي اود: یاجان رسدبه جانان یاجان زتن برآید؛ پخه اراده يې وکړه خودروښانه ضمیرڅښتن پیر ده ورسره ونه منله اوددیني علم دتکمیل اوپوره کولوټینګارېې وکړاوورته ویې ویل: په بې علمه شیخي کې اب اونمک نه وي حضرت مخدوم دمحترم شیخ سپین ږیرتوب ته په لیدلوسره هغه ته عرض وکړچې زه ویریږم چې دعلم له پوره کولووروسته کله خانقاه شریفې ته راځم

---

[۱] داټول نومونه دنزهة الخواطرله څلورم ټوک څخه اخیستل شوي دي په کتاب کې ددوی دژوند حالات کتلای شي

www.abulhasanalinadwi.org

نوداتلپاته شتمني به بیاموم اوکه نه؟ [۱] شیخ ورته وویل که زه نه وم نوزماله زوی رکن الدین څخه به هغه شتمني ترلاسه کړی حضرت مخدوم دهغه خبره ومنله اودعلم په زده کړه بوخت شو تقدیري خبره وه چې ده دڅه اندیښنه لرله هماغسې وشول له فراغت څخه مخکې یې شیخ په لوی سفر روان شو اووفات شو .

حضرت مخدوم له مروجه علوموپای ته رسولوڅوورځې وروسته مختلفو ځایوته ولاړ اودهغه ځای له اولیاوڅخه یې استفاده وکړه بیادحضرت شیخ رکن الدین په خدمت کې حاضرشو، دسلوک منازل یې سرته ورسول اوچشتیه اوقادریه طریقوکې یې دخلافت، تلقین اوتربیت اجازت ترلاسه کړ[۲] په شیخ عبدالقدوس اوشیخ رکن الدین دواړوباندې وحدت الوجود ،غیبت اوبې هوښي، سکر، شورش، او استغراق غلبه کړې وه اود"وجداو سماع " ښتنتان وو په ځانګړې توګه شیخ عبدالقدوس دوحدت الوجودخرګندول خپله فریضه بلله اوسرسخته داعي اومبلغ یې و خوله دې سره دسنت تابع اوپه عمل بالعزیمت کې ډیرتکړه و نیستي اوبې نفسي پرې غالبه وه خورادنرم زړه خاوندو اوډیرعبادت به یې کاوه.هروخت به یې مرګ یاداوه اودوروستي خاتمې زیات فکرورسره و ،[۳] ده خپل بیعت له پیرشیخ عبدالقدوس اوشیخ رکن الدین څخه پرته شیخ عبدالاحدقادریه طریقې له مشهوربزرګ شاه کمال کتلي سره هم خاص تړاودرلود ، حضرت شاه کمال دخپل وخت لوی ولي اود حال ښتنتن بزرګ و [۴] دشیخ عبدالاحدخبره مخکې تیره شوه " چې که له کشفي

---

[۱] دشیخ وفات ته نغوته کوی.

[۲] شیخ رکن الدین چې ده ته کومه خلافتنامه ورکړی وه هغه په" زبدةالمقامات " کې تکې په تکې راخیستل شوی ده چې زیاته برخه یې په عربی کې ده .

[۳] دده دحالاتواوذوق لپاره دده دزوی شیخ رکن الدین کتاب ( لطائف قدوسی ) دخواجه محمدهاشم کشمی " زبدةالمقامات " مخونه ۹۷=۱۰۱ اود" نـزهة الـخواطر" څلرم ټوک وګوری

[۴] دده دژونددحالا تولپاره د نـزهة الخـواطر څلرم ټوک وګوری.

www.abulhasanalinadwi.org

نظر څخه کارواخلو نومعلومه به شي چې دقادریه طریقې له باني پیران پیرحضرت عبدالقادر جیلاني وروسته دده دمرتبې انسانان کم ترسترگو کیږي. دده لمسی شاه سکندرهم دلوړې مرتبې شیخ و حضرت مخدوم عبدالاحد له هغه څخه هم استفاده کړې وه، حضرت مخدوم چې کله له زده کړې څخه فارغ شونودخدای ﷻ دربښتونیوبندگانوپه تلاش پسې روان شواوگڼ شمیربښارونه یې وکتل دسفرکولو په مهال یې ټینگ هوډ وکړ چې په کوم ځای کې دبدعت اثار اوښښې لیدل کیږي هغه ځای‌ته به بالکل نه ورځي. په دې سفرکې له شیخ اله دادڅخه هم مستفیدشو، په رهتاس کې یې له شیخ اله داد اومولانامحمدبن فخرصاحب (دتوضیح الحواشی مصنف) سره ولیدل اودهغوی‌په درس کې شریک شو، بنگاله ته هم ولاړ اوپه جونپور کې یې څوورځې د حضرت سیدعلي قوام(علي عاشقان) خدمت کې تیرې کړي.

له دې سفره وروسته سرهندته راستون شواوبیاداخرت ترسفره پورې دلته اوسیده اویوه ځای ته یې هم سفرندی کړی، دمعقولاتو اومنقولاتو رواجي کتابونه یې په ډیره پابندي اوزیات تحقیق اوتدقیق سره تدریس کول، حضرت مجددصاحب چې په ټولوعلومو کې یې پوره مهارت درلود خوپه فقه اواصول فقه کې یې ساری نه و، کله به یې چې(اصول بزدوی) تدریس کاوه نودامام ابوحنیفه په فقه کې به دده لوړشان اوامانت ښه څرگندیده، دتصوف کتابونه یې هم تدریس کول په ځانگړې توگه د(تعرف)،(عوارف المعارف)او(فصوص الحکم)په مطالبو اودقیقو مضامینو کې یې زښت زیات مهارت درلود، تحقیقا اوذوقا هم دشیخ اکبرپه مشرب و خو دخدای ورکړې لوړظرفي، ضبط اواحترام شریعت له کبله یې چیرې هم له خولې څخه د شریعت خلاف خبره نه ده وتلې ډیربې نفسه اوله یواځیتوب سره یې مینه وه

شاگردان یې که څه هم ډیرزیات وخوپه هیڅایې هم خپل خدمت نه کاوه د کوردارتیا ورشیان به یې په خپله له بازاره راوړل، دسنتوڅیروي یې ډیر اهتمام

www.abulhasanalinadwi.org

کاوه، له وسه پورې هیڅ سنت نه ځنې پاتې کیده په عادي چارو، پوښاک اولباس کې یې هم دسنت پیروي کوله په عزیمت یې عمل کاوه اوله رخصت څخه یې ځان ژغوره، بیعت اوخلافت یې که څه هم په چشتیه اوقادریه طریقوکې ترلاسه کړی و اوپه دې طریقوکې ډیرمخکې شوی وخودده د اخلاص اولوړهمتی ښنه داده چې له نقشبندیه طریقې سره به یې هم ډیره مینه ښکاره کوله، اوهغې ته یې ډیرپه درنه سترګه کتل دبیلګې په توګه هغه به دا دعا کوله چې خدای دې وکړي څوداطریقه زمونږ هیوادته هم راورسوي اویاخدایه ماددې طریقې مرکزته ورسوې چې استفاده ځنې وکړم ده کتابونه هم لیکلي دي"کنزالحقائق" او"اسرارالتشهد"ده لیکلي دي[۱]

حضرت مجددصاحب وایې چې ماله خپل پلارڅخه څوځله اوریدلي دي چې ویل یې له اهل بیتوسره مینه دایمان دحفاظت اودنیکي خاتمي لپاره ډیره ګټوره ده کله چې په والدصاحب باندې دمرګ غوټې راتلل پیل شوې نوماهغه ور په زړه کړل اوویې ویل الحمدلله چې زه په دې مینه کې مست یم اود احساناتوپه دې سیندکې غرق یم. الهي بحق بني فاطمه = که برقول ایمانم کني خاتمه.[۲]

دسفرپه مهال چې کله سکندره[۳] نومي ځای ته ورسیده اوهلته یې څوشپې قیام وکړ نوهلته دده دشرافت اونجابت، صلاح اوتقوی، دعلم اوعمل جامعیت په لیدلو سره یوې شریفې کورنۍ په خپله ددوستي وړاندیز ورته وکړ اوددې کورنۍ له یوې

---

[۱] خواجه محمدهاشم کشمی په زبدة المقامات کې دا" اسرارالتشهد " یوڅه مضامین رانقل کړیدي مخونه ۱۱۸ = ۱۲۰ اوحضرت مجددصاحب له خولې څخه یې دحضرت مخدوم صاحب یوڅه فواید اوتحقیقات هم نقل کړیدي ۱۲۰ = ۱۲۲

[۲] زبدة المقامات مخ ۱۲۳ .

[۳] خواجه هاشم کشمی داځای اټاوه ته نږدې ښوولی دی ددې څخه معلومیږي چې هغه دموجوده اترپر دیش په ولایت کې واقع ده .

www.abulhasanalinadwi.org

نیکې میرمنې سره دده نکاح وشوه دحضرت مخدوم ټول اولاد له دې میرمنې څخه دی . حضرت مخدوم ته الله پاک دده دمرشدپه څیر اووه زامن ورکړي و، دکومو نومونه چې معلوم دي هغه دادي: شاه محمد، شیخ محمدمسعود، شیخ غلام محمد، شیخ مودود[۱] د دوو ورونږونومونه اونورڅه تفصیل ندی معلوم په دوی کې واسطة العقد اودپای ملغلره حضرت مجددرحمه الله تعالی دی ، نورزامن یې هم علماواوپوهان و دوی هم رواجي علوم اودسلوک زده کړه دخپل پلار اودوخت له علماو اومشائخوڅخه ترلاسه کړی و،حضرت مخدوم د اتیا کلونوپه عمرکې په اوولسم درجب کال ۱۰۰۷ هـ کې له دې فاني نړۍ څخه کوچ وکړ [۲] قبرمبارک یې دسرهندپه لویدیځ اړخ کې نږدې په یوه میل کې واقع دی.[۳]

دحضرت مخدوم دسیرت ځانګړی جوهر حق پالنه، انصاف، دشریعت او سنتو احترام اوتعظیم، په هغه باندې دعمل کولوهڅې او اهتمام، دیني غیرت اوپه باطني ترقي کې لوړ همتي بلل شوی دی، اوهمداجوهردده د زړه دتوتې په ضمیر کې هم ځای کړل شوی و هغه چې دده لپاره د دین دتجدیداودملت دپانګې دساتنې نیکمرغي په تقدیرکې لیکل شوې وه هغه ضمیر په الهي فضل سره ځلانده اوروښانه شو نورزیات کمالات یې هم ورسره مله کړل او روښانه لمر ځنې جوړشو.

---

[۱] دشیخ غلام محمداوشیخ مودودنومونه دحضرت مجددصاحب په مکتوبات کې هم راغلی دی لومړی ټوک وګورئ .

[۲] زبدة المقامات مخ ۱۲۲ ځینې خلکویې دوفات تاریخ اوولسم درجب او ځینې نورو اووه ویشتم دڅلرمی خورلیکلی دی اوپه کال ۱۰۰۷ ه باندی ټول یوه خوله اومتفق دی

[۳] زبدة المقامات مخ ۱۲۲.

www.abulhasanalinadwi.org

# پيدايښت او دژوند حالات

## زوکړه او زده کړه:

دجمعې مبارکې په شپه دکوچني اخترخوارلسم کال ۹۷۱ هـ ۱۰۶۳ع کې د سرهند په ښارکې وزيږيده اودشيخ نوم يې ورته غوره کړد" خاشع " له توري څخه د زوکړې کال راخيږي،په کوچني والي کې هم درشداونيکمرغۍ نښې پکې څرګندې وې .

با لای سرش زهوش مندی = میتافت ستاره بلندی

دوخت نيکوانسانانوپه ځانګړې توګه حضرت شاه کمال کتيلي ( چې پلار يې هم باطني نسبت ورسره لاره ) ده ته ډيره توجه کوله اوله ده سره يې ډيره مينه کوله، اوله ده سره به يې ځانګړې چلندکاوه.[1] شاه کمال چې وفات کيده دده عمراووه کاله و اوده ته دهغه رنګ اوځيره ياده وه، اوپه کوم کورکې يې چې له پلارسره ګډدهغه زيارت کړی و دهغه نقشه يې هم په ذهن کې وه، دزده کړې پيل يې دقران په يادولو وکړ اوپه لنډه موده کې يې هغه مکمل کړ،بيايې دپلارپه خدمت کې دزده کړې لړۍپيل کړه په څوورځوکې يې دخدایﷻ ورکړي ذهن جوهرښکاره شودقيق مضامين زده کول اودهغوپه غوره په توګه دوراندې کولوامتياز پکې څرګندشو، زيات علوم يې له خپله پلاره اوځه يې دخپل وخت له ستروعلماوڅخه ترلاسه کړل څه موده وروسته دهغه وخت لوی علمي مرکزسيالکوټ ته ولاړ اوله مولانا کمال کشميري څخه يې دهغه وخت دنصاب تعليم ځيني مهم اولوی کتابونه

---

[1] دتفصيل لپاره دزبدة المقامات ۱۲۷ = ۱۲۸ مخونه وګوری .

www.abulhasanalinadwi.org

لکه عضدي ولوستل،مولاناکمال په منطق فلسفه علم کلام اواصول فقه کې کمال ته رسیدلی و،په هغه وخت کې دده د زکاوت، حافظې، زیاتې مطالعې اوبنه تدریس کیسې ترلیرې ځایوپورې رسیدلې وې[۱] اودده په شاګردانوکې دعبد الحکیم سیالکوټي په څیر علماء او مدرسین پیداشوي دي .

دحدیثوځینې کتابونه یې له مولانایعقوب صرفي کشمیري څخه وویل چې هغه په حدیثو کې دحدیثو دنومیالي امام شیخ شهاب الدین احمدبن حجر هیثمي مکې شاګرد و اودده په تصنیفاتوکې دبخاري یوه شرح هم شته[۲] شیخ یعقوب له لویولویومحدثینواومصنیفینوڅخه دحدیثواوتفسیردکتابو اود هغوی دتصنیفاتو اجازت ترلاسه کړی و، ده دوخت له مشهورعالم قاضي بهلول بدخشاني څخه دصحیح بخاري، مشکوة المصابیح، شمائل ترمذي او نوروکتابونو، حدیث ثلاثیات بخاري، اوحدیث مسلسل سندترلاسه کړی و قاضي بهلول په علم الحدیث کې ډیرمهارت درلوداوپه حدیثوکې دوخت د نامتوشیخ عبدالرحمن بن فهد شاګردو، دارازدوخت له دستورسره سم یې د تفسیر اونورو کتابو سند دهغو تر

---

(۱) مولاناکمال الدین بن موسی په کال ۹۷۱هـ کې له کشمیرڅخه سیالکوټ ته انتقال شو او تقریبا نیمه سلیزه تدریس بوخت و اوپه کال ۱۰۱۷هـ کې په لاهورکې وفات شو اوهوری دفن شوی دی. نـزهة الخواطر پنځم ټوک مخ ۳۱۶.

(۲) مولانایعقوب بن الحسن الصرفي کشمیری په کال ۹۰۸ هـ کې په کشمیرکې زیږیدلی دی دعلم د زده کړی اوطریقي دترلاسه کولو لپاره یې سمرقندته سفروکړ اوهلته یې دشیخ حسین خوارزمی څخه کبرویه طریقه ترلاسه کړه اوڅه وخت دهغه په صحبت کې پاتې شو حجازته ولاړاوهوری یې علم حدیث ترلاسه کړ اوله هغه ځایه څخه یې دفقه ، حدیثواوتفسیرښکلی کتابونه له ځانه سره راوړل . په ۱۲ د ذوالقعدی کال ۱۰۰۳ هـ کې دی وفات شو. نزهة الخواطرپنځم ټوک مخ۴۳۹ په دی ډول حضرت مجدد صاحب له خپل استادمولانایعقوب څخه دصحاح مطالعه زده کړی وه اودحدیثوله اساسی کتابونوسره دده په ذریعه بلدشوی و.

www.abulhasanalinadwi.org

مصنیفینو پورې ورساوه [1] اود اولسوکلونوپه عمرکې دی له مروجوعلوموڅخه فارغ شو، دی چې کله له عقلیه اونقلیه علومواواصولواوفروعوڅخه فارغ شونوپه درس اوتدریس یې پیل وکړ اوپه عربي اوفارسي کې یې څه کتابونه هم ولیکل چې په هغه کې " رساله تهلیلیه" او"رساله ردمذهب شیعه " هم راځي، دی پلازمینې اکبراباد (اګره) ته هم تللی اوهلته یې له ابوالفضل اوفیضي سره لیدلي کتلی خو د مسلک اوذوق د اختلاف له کبله یې له هغوسره ونه لګیده کله خو یې په هغوی ردونه هم کول اودابوالفضل په ځینې نامسولیته خبرویې خفګان هم ښکاره کړیدی، اوتګ او راتګ یې ورسره بندکړی و اوابوالفضل دمعذرت لپاره څوک ورلیږلي و.

یووخت فیضي ته چې دخپل غیرمنقوط تفسیر"سواطع الالهام" په لیکلو بوخت وپه یوه ځای کې دمناسب غیرمنقوط توري په موندلوکې چې سم مطلب افاده کړی څه مشکلات پیداشول اوقلم یې په مخ نه تلو نوحضرت مجدد صاحب ته یې دخپل مشکل یادونه وکړه او هغه یې مشکل ورحل کړاوفیضي دده دپوهی اوزیات علم اعتراف وکړ. په اګره کې دده قیام یوڅه اوږدشو د پلارسره دده دلیدلومینه پیداشوه په عمرهم لوی و اوتر اګرې پورې لاره هم اوږده وه خوبیاهم اګرې ته ورغی حضرت مجددصاحب له خپل پلارسره یوځای خپل وطن ته راستون شوددهلي اوسرهندپه منځکې چې کله له "تانیسر"څخه تیریدل نوشیخ سلطان یې تود هرکلي وکړ اوله ځان سره یې میلمانه کړل. شیخ سلطان دهغه ځای له امیرانواو مشرانو څخه و اوله دې سره ښه عالم هم و. دوخت له واکمن سره یې نږدې اړیکې لرلې اود "تانیسر" دسیمې حاکم هم و، دیوې غیبي اشارې په اساس یې چې دحضرت مجدد صاحب اخلاق اوځانګړتیاوې ولیدې نوددوستي وړاندیزیې ورته وکړ،پلاریې خبره ورسره ومنله اوهغلته مسنون عقداو نکاح وتړل شوه اوسرهندشریف ته روان شول.

[1] حدیث مسلسل اونوراسانیدپه زبدة المقامات کې موجوددی.

www.abulhasanalinadwi.org

# د سلوک روزنه او پوره کول او له خواجه باقي بالله څخه بیعت اواستفاده

په دې ځای کې دتصوف اوسلوک ضرورت اودهغه دثبوت علمي دلائلو بیانولو ته اړتیا نشته، ځکه لوستونکو به دامضمون ددې لړۍ "دتاریخ دعوت وعز یمت لړۍ" په لومړي ټوک کې مطالعه کړې وي چې په هغه کې د حسن بصري، سیدنا عبدالقادرجیلانی اومولاناجلال الدین رومي ژوندلیکونه تیر شوي دي اوددې لړۍ په دریم ټوک کې خودټول هنددسترومشائخو دژوند حالات تیرشوي دي نوپه دې ځلرم ټوک کې دتصوف په اړه څه لیکلوته اړتیانه لیدل کیږي[۱] اوکه څوک زیات تفصیل اوسپړلی‌معلومات په دې اړه غواړي نودلیکوال کتاب " تـزکیه واحـسان تـصوف و سلوک" دې وګوري، دلته یواځې دومره ویل ضروري دي چې په کوم چاپیریال اوزمانه کې چې مجدد صاحب خپل نازک اوسخت تجدیدي اواصلاحي کارنامه ترسره کوله هورې تصوف په اسلامي ټولنه اوچاپیریال کې داسې ګډ شوی اورواج و چې دخلکو مزاج اومزاق ګرځیدلی وو خواص خوپریږده دعاموخلکو دا حالت وچې یوعالم اومصلح به یې ترهغه وخته پورې نه مانه نه به یې دهغه خبروته غوږ نیوه څو به چې هغه دتصوف اوسلوک له کوڅې سره اشنانه و اودیوې منل شوې طریقي مریدبه نه وهسې هم دیوه حقیقي انقلاب اواوښتون راوستلولپاره یواځې زیات علم اوزورورخطابت کافي ندی اویوڅه نفسي تزکیې، اخلاص اویقین

---

[۱] دلیکوال کتاب : رجـا ل الفکر ة والـد عـوة فی الإسـلام یاتاریخ دعوت وعزیمت شپږ ټوکه لړی په لومړی ټوک کې له لومړی پیړی نیولی تر اوومی پیړی پوری دنومیالیو مسلمانو پوهانو اومصلحینود ژوندحالا ت دی په دویم کې یواځی دابن تیمیه اودهغه دخوشاګردانو په دریم کې دهنددسترومشائخو اومصلحینوځلرم یې همدازمونږ له ژباړی لاندی دی. په پنځم کې دامام شاه ولی الله دژوندحالا ت دی اوپه شپږم کې دسیداحمدشهیددژوندحالا ت دی. ( ژباړن )

www.abulhasanalinadwi.org

او درداوسوز( چې په تولیزه توګه له زیاته ذکره پرته اوبې له صحبته نه ترلاسه کیږي) ته اړتیالیدل کیږي .

لنډه داچې په هغه زمانه اوچاپیریال کې له تصوف اوسلوک ،روحاني ځواکمني او باطني نوره پرته داصلاح اوانقلاب کوښښ کول بلکل داسې وه لکه له وسلې او نظامي زده کړې پرته چې څوک دجګړې میدان ته ورځي اودیوه مسلح اوروزل شوي نظامي ځواک مقابله کوي یایو ګونګ انسان دتعلیم اوتفهیم کارترسره کول غواړي. دا عین حکمت اودالهي تدبیرغوښتنه وه چې داصلاح اوانقلاب ډګرته له ورتګه وړاندې خدای پاکﷻ شیخ احمدسرهندي نه یوازې له تصوف اوسلوک سره اشناکړی وبلکې د اهل کمال روزنې اوملګرتیااوبیاځانګړې الهي ورکړې دی په تصوف کې دامامت او اجتهادمقام ته رسولی و، څودی داسترکارپه پوره تیاري اواعتمادسره سرته ورسوي اودده اغیزه ددنیاپه پراخوسیمواوراتلونکوپیړیوباندې وشندي. ذلك تقدير العزيز العليم.

چې سرهندته ورسیده نودپلارتروفاته پورې دهغه په خدمت کې پاتې شوله هغه څخه یې ډېرې ګټورې باطني فایدې ترلاسه کړې اوچشتیه اوقادریه طریقې یې سرته ورسولې له دې سره سره یې دظاهري علوموتعلیم اوپه هغه بوختیاهم جاري ساتله، په دې زمانه کې دبیت الله دحج اودمدینې منورې د زیارت مینې غلبه پرې وکړه اودهغه ځای کشش مضطرب اوبې ارامه کړ، خو څرنګه یې چې پلارپه عمر لوی واوپه ظاهره د هغه دوفات وخت رانږدې ونوله دې امله یې دهغه پرېښودل زړه نه غوښتل، کله چې په کال ۱۰۰۷هـ کې هغه وفات شونواوس یې په مخ کې څه خنډنه ونوپه کال ۱۰۰۸هـ کې یې دحرمینو د زیارت اودحج دفریضې داداکولولپاره د سفرموزې په پښو کړې اوله سرهند څخه روان شو دهلي ته ورسیده دهغه ځای علماء اوپوهان چې دده دکمال او پوهې اوازه یې غوږونوته رسیدلې و دده دلیدلو

www.abulhasanalinadwi.org

لپاره ورته راغلل چې په دوی کې مولاناحسن کشمیري هم و هغه چې دپخوا لاپیژانده هغه له ده سره دخبروپه مهال دحضرت خواجه باقي بالله دلوړې مرتبې اوباطني ځواک یادونه وکړه چې څه موده مخکې هغه دهلي ته راغلی و حضرت مجددصاحب له خپل پلارڅخه دنقشبندیه طریقې یادونه اوله هغې سره مینه اوریدلې وه له دې کبله دی هم لیواله شو څوهغه ووینې اودایې دحرمینوشریفینو لپاره تیاری اودهغه ځای یوه تحفه وبلله اونیت یې وکړچې ورسره ووینې. دمولانا حسن کشمیري[1] په ملتیادهغه خدمت ته‌حاضرشوپه دې وخت کې غیبي هاتف اواز کیده چې : امدآن یاری که مامی خواستیم ! له دې مخکې چې ددې (قرن السعدین) ددونیکمرغو دملتیاحال بیان کړواوله هغه وروسته پیښې ولیکو د حضرت خواجه باقي بالله پیژندنه ضروري ده [2] په دې لړکې مونږ هغه لیکنه را اخلو چې د"نزهة الخواطر" دپنځم توک مصنف دحضرت خواجه په ژوندلیک باندې لیکلې ده هغه د "ماقل ودل"مصداق ده اوپه هغه کې دغوره کتابونواو ژوند لیکونو غورچڼ دی.

## حضرت شیخ عبدالباقي نقشبندي دهلوي (خواجه باقي بالله)

سترشیخ،قطب الاقطاب،دامامانوامام،رضي الدین ابوالمویدعبدالباقي بن عبدالسلام بدخشي چې مشهورپه باقي بالله کابلي بیادهلوي سره و دده وجود

---

(۱) حضرت مجددصاحب تول عمردده منونکې اوشکرګذارو چې دده په ذریعه هغه داتلپاته شتمنی ترلاسه کړه مکتوب نمبر ۲۷۹ دفتراول وګوری .

(۲) دنقشبندیه طریقې دسترومشائخواوپه ځانګړې توګه دطریقې بانی حضرت خواجه بهاءالدین نقشبند دحالا تواودطریقې دخصوصیاتواودنسبت خاصه داجمالي پیژندنې لپاره ددې طریقې دنومیالی شیخ حکیم الاسلام حضرت شاه ولی الله دهلوی کتابونه په ځانګړې توګه "الانتباه فی سلاسل أولیاء الله " او " همعات " مطالعه وکړی .

www.abulhasanalinadwi.org

ددنیالپاره دبرکت اوښکلاباعث و دده سپیځلي ژوندد خلقت دموخې مظهر او مصداق و[۱] ژبه یې دحقیقت ترجمانه اوذات یې دعرفان خلاصه و، په علم او پوهه کې دالله پاک ﷻ ځرګنده نښه، په ولایت اوروحانیت کې ځلانده منار و.

دکال ۹۷۱یا ۹۷۲په شاوخواکې په کابل کې زیږیدلی دی اودمولانامحمد صادق حلوایي شاګرد و له هغه سره یوځای ماوراءالنهرته تللی واوڅه موده له هغه سره اوسیده بیایې زړه وغوښتل چې دصوفیانوپه طریقه کې داخل شي چې په نتیجه کې یې درسمي علوموزده کړه پریښوده اودماوراءالنهر دښارونو له زیاتو مشائخو سره یې ولیدل، ده دلومړي ځل لپاره د خواجه عبید(چې هغه دمولانالطف الله خلیفه و اوهغه دمخدوم اعظم دهبیدي خلیفه و) په حق پال لاس باندې توبه وایستله، خوکله چې داستقامت نښې پکې ښکاره نشوي نو شیخ افتخار چې کله سمرقندته ورغی دهغه په لاس یې ددویم ځل لپاره توبه وایستله، شیخ افتخار د شیخ احمدیسسوی دطریقي بزرګ و، دویم ځل یې بیاپه ځان کې دعزیمت او استقامت کمښت احساس کړ نوپه اضطراري حالت کې یې دامیرعبدالله بلخي په لاس باندې ددریم ځل لپاره توبه وایستله، اوڅه وخت دحدودو دساتنې پابندشو خواخیرېې داتوبه هم ماته کړه. په دې وخت کې هغه حضرت خواجه بهاءالدین نقشبندپه خوب ولیداود اهل الله دطریقې په لورې یې میلان پیداشوترکومه ځایه به چې ممکنه وه هغه ځای ته به تلوتردې پورې چې په کشمیرکې دباباکبروي په خدمت کې حاضرشواوله هغه څخه مستفیدشو، دهغه په صحبت کې دربانې فیوضاتوباران پرې وشو اوددې طریقې دمشهورغیبت اوفنائیت نښې پکې ځرګندې شوې دنومورې شیخ له مړینې وروسته به دی په ښارونوګرځیده، دسیاحت او استفادې دوخت له تیریدلوورووسته دحضرت

---

[۱] یعنی د وماخلقت الجن والانس الالیعبدون . ماجن اوانس ددی لپاره پیداکړی چې زماعبادت وکړی . ایت شریف عملی تفسیراوځلانده تصویر و.

www.abulhasanalinadwi.org

خواجه عبیدالله احرار روح ورته ښکاره شواوده ته یې دنقشبندیه طریقې زده کړه ورکړه اودی مکمل شو. له دې وروسته ماوراءالنهر ته ولاړ هورې یې له شیخ محمد امکنګي سره ملاقات وشو هغه درې ورځې وروسته اجازه اورخصت ورکړ اوله هغه وروسته دی هندته راستون شوپه لاهورکې یې یوکال تیرکړچې ډیرو علماوو استفاده ځنې وکړه بیاله هغه ځایه دهندپلازمینی دهلي ته راغی اوپه فیروزي کلاکې دیره شو چې په هغه کې یو لوی نهراولوی جومات و اوهورې تر مرګه پورې اوسیده. دی دلوړې درجې ذوق اووجد خاوندو، ډیرعاجزه او منکسر المزاج انسان و اوله پردیو خلکو څخه به یې خپل لوړحالات پټول اوځان یې دارشادمستحق نه باله که به څوک ده ته د باطني استفادې لپاره حاضر شو ده به ورته ویل چې له ماسره خوهیڅ نشته نوځکه کوم بل لوی بزرګ ته بایدولاړشي اوکه دې ښه لوړ شخصیت بیاموندنوماهم پرې خبرکړه.

لنډه داچې ده ادعاګانې نه کولې دراتلونکوخلکوخدمت اوپه تالیف قلب باندې بوخت و، دڅه ضرورت یادقیقې مسئلې دحل کولو لپاره به یې خبرې کولې اودمخاطب دلارښوونې لپاره به یې مسئله ښه روښانه کړه خپل مخلصین یې له تعظیمي ولاړیدو څخه منعه کړي و اوځان یې له هغوزیات نه باله اوپه ټولوحالاتو کې به یې له هغوی سره دمساوات معامله کوله، عاجزي اوتواضع دومره وه پکې چې په سپیره ځمکه به هم کښیناسته، په ده کې عجیبه روحاني کیفیت اودتاثیر قوت و په چاباندې به چې دده سترګې ولګیدې دهغه حالات به بدل شول اوپه لومړي صحبت کې به هغه ذوق اوشوق اوداهل معرفت روحاني کیفیت ترلاسه کړل اوپه لومړۍ توجه اوتلقین سره به د مریدانوقلب جاري شو. دده فیض اوله مخلوق سره مینه دهرچالپاره عامه وه یوه ورځ په سخته یخه شپه کې دڅه کارلپاره له بستري څخه راپورته شو او بهرته ووت کله چې بیرته راستون شونوپه خپله بستره

کې یې یوه پیشې ولیده چې ویده وه زړه یې ونه غوښتل چې هغه پورته کړي اوله سهاره پورې ورته ناست و، داراز دی چې په لاهورکې اوسیده نوپه هغه وخت کې کاختي راغله نوده به هیڅ نه خوړل ده ته به چې کوم خوراک راتلو هغه به یې په مسکینانو تقسیم کاوه.

دهلي ته په لاره کې یې معذور شخص ولیده نوله خپلې سورلۍ څخه کوز شو او هغه یې پرې سپورکړپه لارکې به چې کوم بلدڅوک په مخه ورتلو له هغه به یې مخ پټ کړ،هغه سړی یې چې خپل ځای ته ورساوه دی په پښو پلې ورسره روان و،ده به دغلطي په اعتراف اوځان خطاکاربللوکې هیڅ فکرنه خراباوه له خپلوملګروڅخه نه بلکې له عاموخلکو څخه یې هم ځان غټ نه باله، ویل کیږي چې دده په ګاونډکې یواوسیدونکي څوان تول بدکارونه کول دی یې په دې هرڅه خبریده خوزغمل یې او څه یې نه ورته ویلې، یووخت دده مرید خواجه حسام الدین دهلوي واکمنوته دهغه شکایت وکړهغوی دی ونیواوبندي یې کړکله چې شیخ خبرشونو دی له خپل مریدڅخه خپه شواوله هغه یې پوښتنه وکړه هغه ورته وویل جنابه ! هغه ډیرلوی فاسق وپه دې سره ده سړه ساه وایستله اوویې ویل هوکې تاسو خو صالح اومتقیان یاست نو ځکه موږده فسق اوفجورمحسوس کړ خوزه ځان له ده څخه ښه نه بولم تاسونوځکه خپل ځانونه پریښودل اوواکمنوته موشکایت وکړ، بیادده په هڅوسره هغوی پریښود هغه توبه ګارشواویومتقي انسان ځنې جوړشو،کله به چې دده له کوم مریدڅخه غلطي وشوه ده به ویل چې داغلطي زماده خودده په واسطه ښکاره شوه.

په عباداتواومعاملاتوکې یې ډیراحتیاط کاوه له دې کبله یې په پیل کې په امام پسې له شافاتحه ویله ځکه په دې اړه ډیر حدیث اوقوي دلائل موجود دي؛ داڅوخبرې دده دفضائلواوکمالاتو یواځې یوه کوچنۍ برخه ده اودهغه د نیکوخویو دسیند یوڅاڅکی دی له دې کبله که وکتل شي چې په کمه موده کې څومره زیاتو

www.abulhasanalinadwi.org

انسانانوله ده څخه باطني فیض ترلاسه کړی په ټول هندکې دده له برکته دامبارکه طریقه دلته عامه شوه چې له ده مخکې دلته چاپیژندله هم نه. [۱]

شیخ محمدبن فضل الله برهانپوري وایې: په وعظ اوارشادکې یې ساری نه درلود څکه د دریوڅلوروکلونو په موده کې یې دخپلوافاداتوپه ذریعه په نړۍ کې رڼاخپره کړه، ددې تفصیل د ملا هاشم کشمی په " زبـدة الــمقامات " کې راغلی دی، ده ټول څلویښت کاله ژوندکړی دی هندته له راتګه وروسته یواځې څلورکاله ژوندی و په دې لنډه موده کې دده ملګری د کمالاتولوړو مدارجوته ورسیدل تردې پورې چې دمخکینیوطریقو نښې اواثاریې ختم کړل او نقشبندیه طریقه په ټولو طریقوباندې غالبه شوه .

محمدبن فضل الله محبي په " خـلاصة الأ ثـر" کې لیکې چې : حضرت شیخ دالله پاکﷺ یوه نښه او رڼاوه دعلم ظاهري اوباطني اوتصرفاتوڅښتن و، دی یوخاموش طبعه اومتواضع انسان و اوددومره ښواخلاقوڅښتن وچې په خلکوکې یې ځان ته یوه زره امتیازهم نه ورکاوه، ان چې خپل دوستان به یې له تعظیمي ولاړیدوڅخه منعه کول اودمعمولي سلوک تلقین به یې ورته کاوه، محبي وایې چې له ده څخه ډیر تصرفات ښکاره شوي دي، په چابه چې دده نظر ولګیده یابه په طریقه کې داخل شو نوپه هغه باندې به محویت اوفنائیت غالبه شه که څه به هم

---

[۱] نقشبندیه طریقه هندته له دوولاروڅخه راغلی ده یوه دامیرابوالعلاء اکبرابادی په ذریعه چې هغه ته دخپل تره عبدالله احراری له خوادنقشبندیه طریقی اجازت اوخلافت ورکړل شوی و،په دی لاره کې چشتیت اونقشبندیت په خپلوکې سره ګډشوی دی په کالپی، مارهره، داناپور اونوروځایونوکې ابو العلایی طریقه له همده څخه رواج شوی ده. دویمه لاره دخواجه باقی بالله ده اصلا په هندکې ددی طریقی خپریدل هله پیل شول چې کله خواجه صاحب هندته راغی اوحضرت مجددصاحب په دی طریقه کې داخل شوبیانوداپه ټوله نړۍ کې خپره شوه. "الثـقا فـة الإسلامية ق الـهند" مصنف مولاناسیدعبدلحی مصنف "نـزهة الـخو ا طـر"

www.abulhasanalinadwi.org

دهغه مخکې له دې لارې سره هيڅ نسبت نه و خلک به دده په دروازه باندې دبې هوښوپه څير پراته و، ځينې خلکوته به په لومړي ځل کې دعالم ملکوت انکشاف وشو چې هغه به دغيبي کشش پايله شوه، دمجدديه طريقې امام اومو سس حضرت مجددالف ثاني، حضرت شيخ تاج الدين بن سلطان عثماني سنبهلي، شيخ حسام الدين بن شيخ نظام الدين بدخشي اود شيخ اله داد دهلوي په څير دلوی شان اوسترمشائخ دده مريدان ووچې زياتو انسانانواستفادې ځنې کړي دي . دده په تصنيفاتوکې نادرکتابونه، قيمتي مکتوبات اوښکلي اشعارشته چې يويې د "سلسلة الأحرار " نومې کتاب دی، په دې کې ده دخپلوفارسي عرفاني رباعياتو شرحه کړې ده، دچهارشنبې په ورځ څوارلسم دځلرمې خور کال ۱۰۱۴هـ کې په دهلي کې دڅلويښتوکلونو اوڅلورومياشتوپه عمروفات شوپه ختيځ دهلي کې قدم رسول ته نږدې دده قبر دی او ولسونه يې زيارت کوي.

## دبيعت پوره کول

حضرت مجددصاحب دحضرت خواجه په خدمت کې حاضرشوهغه ګواکې دده په انتظار کې ناست و، په ډيره مينه اوشفقت سره يې دده هرکلی وکړ حضرت خواجه دډيرژورفکر خاوندو څوک به يې په خپله ځان ته متوجه کول خودلته کيسه بل ډول وه اوطالب په خپله مطلوب و، خدایﷻ غوښتل چې د حضرت خواجه په ذريعه دمجددصاحب روحاني تکميل وکړي اودنقشبنديه طريقې خاص نسبت ده ته ورکړي هغه چې دباطني سلوک دنړۍ اوهندهغه روحاني ماحول ته اړتياوه چې هغه په يوه نوي ډول سره ددين دتجديدکارکول و، طريقت دشريعت تابع کول، دسلوک منازل سرته رسول اوله وسائلوڅخه مقصودنه رسيدل موخه وه، نوحضرت خواجه

www.abulhasanalinadwi.org

دخپل عادت په خلاف هغه ته وويل: ته به څوورځې زماميلمه يې يوه مياشت اويوه اونۍ بس ده.

حضرت خواجه صاحب چې هندته دراتګ نيت وکړنواستخاره يې وکړه له استخارې وروسته معلومه شوه چې يوښکلی طوطي چې ډيرې خوږې خبرې کوي راشي اودده په لاس باندې کينې دی دخپلې خولې لاړې دهغه په خوله کې ورکړې اوهغه په خپله مشوکه سره دده په خوله کې شيريني ورکړي حضرت خواجه صاحب خپل پير اومرشد خواجه امکنګي ته داخوب بيان کړ نو هغه ورته وويل: طوطي دهنديومرغه دی په هندکې به ستاپه روزنه سره يو داسې شخص تيارشي چې دهغه په ذريعه به يوه نړۍ مخلوقات روښانه شي او تاته به هم په هغه کې برخه په لاس درشي.[1]

دحضرت مجددصاحب لپاره دخواجه صاحب په دې ويناکې دانکاراوعذرځه ځای نه و ځکه په هغه کې پخپله دلارې خضر اوډژوند د چينې طلب موجود و، ده دخواجه صاحب بلنه ومنله او ورو ورو داقيام يوه مياشت او دوو اونيوته اوږد شو په دې صحبت کې دنقشبنديه طريقې داکتساب اوزده کړې داسې جذبه جاري شوه چې دبيعت غوښتنه يې ځنې وکړه، حضرت خواجه صاحب بې له ځنډه ومنله اوپه خلوت کې يې دذکرقلبي تلقين ورته وکړاودده په توجه سره يې سمدستي قلبي ذکرجاري شو، اوداسې لذت اوخونديې احساس کړچې ورځ په ورځ اوسات په سات يې ترقي کوله، حضرت خواجه چې داحالات او بريښنايې ترقي وليدله نوپوه شو چې داهغه خوږ غږی طوطي دی چې په خوب کې يې ليدلی و، اودده په خوشنوايې اوخوږه اداسره به دهندچمن بلکې د اسلام په بڼ کې پسرلی راشي:

---

(۱) زبدة المقامات مخونه ۱۴۰-۱۴۱ = حضرات القدس مخونه ۲۶-۲۷.

www.abulhasanalinadwi.org

## جهان را دگرگون کرد یک مرد خوداگاهی

په دې يوه مياشت کې چې حضرت مجددصاحب کوم باطني کيفيتونه او ترقی ترلاسه کړې اوځومره دسلوک مراحل يې سرته ورسول دهغوبيانول اود الفاظو په ذريعه په هغوپوهيدل ياپوهول ناشونې دي.[۱]

اکنون کرادماغ که پرسند زباغبان ـ بلبل چه گفت وگل چه شنيده وصباچه کرد

حضرت مجددصاحب له دې وروسته سرهندته ولاړ په دې لومړي ځل کې حضرت خواجه داخوشخبري ورکړه چې دنقشبنديه طريقې نسبت دې په مکمله توګه ترلاسه کړ اودورځې ورځې ترقي اميدشته، دويم ځل چې کله دهلي ته حاضرشو نو د خلافت پګړې يې ورپه سرکړه اودخدایﷻ دلارې طالبانوته د طريقت دزده کړې، اوارشاداجازه يې ورکړه اوخپل نږدې ملګرې اومريدان يې دطريقت دښوونې لپاره ده ته وسپارل.

حضرت مجددصاحب له دې وروسته ددريم ځل اووروستی ځل لپاره دحضرت خواجه په خدمت کې حاضرشوحضرت خواجه دده دهرکلي لپاره ډيرليرې ورته راووت اوډير زيري اوبشارتونه يې ورکړل دخپلې توجه په حلقه کې يې په سر کې کښيناوه اوخپلومريدانوته يې وويل چې دده په شته والي کې به ماته څوک توجه نه کوي درخصت کولوپه مهال يې ورته وويل: زه ډيربې ځواکه شوی اوکمزوری شوی يم د ژونداميدمې کم پاتې دی اوخپلودواړو زامنو خواجه عبيدالله اوخواجه عبدالله (چې په هغه وخت کې تي خوار وو ) ته زماپه مخکې توجه وکړه او ورته يې وويل چې په غياب کې هم ددوی،ميندو ته توجه کوه ده توجه وکړه اوسمدستې دتوجه اثرهم ښکاره شو.[۱]

---

(۱) که څوک ددی ليدل غواړی نوهغه دی مکتوب ۲۹۶ دفتراول څلرمه برخه په نامه دحضرت خواجه عبيدالله اوخواجه عبدالله دخواجه باقی بالله زامن . دارازمکتوب ۲۹۰ دفتراول پنځمه برخه دمولانا محمدهاشم کشمی په نامه وګوری.

www.abulhasanalinadwi.org

## دحضرت مجدددلوړې مرتبې په اړه دحضرت خواجه وینا

حضرت خواجه خپل یوه مخلص ته دمجددصاحب له تعلق وروسته په یوه لیک کې ولیکل چې: شیخ احمدچې دسرهنداوسیدونکی دزیات علم اوقوي بزرګ دی له فقیرسره څوورځې ناسته او ولاړه کړې ده. فقیرته دهغه زیات کمالات اوښه صفتونه معلوم شول هیله ده چې له هغه څخه به یوداسې مشال جوړشي چې یوه نړۍ به روښانه کړي دهغه په مکملوحالاتو زماپوره یقین دی، په خپله حضرت مجددصاحب ته په لومړی توجه اوتلقین سره دایقین حاصل شوچې هغه ددې لارې عالي مدارجوته رسیدلی دی. له دې سره یې خپل قصور اود ځان نفی هم په زړه کې محکمه وه اوداشعر به یې په ژبه جاري و:

ازیـن نـوری که ازتو بردلـم تـافت ـ یقین دا نم که اخر خواهمت یافت[۲]

حضرت مجددله دې باطني ترقیو اوعلمي اوعملي فضائلوسره دخپل شیخ اومرشد ښه زیات ادب اواحترام کاوه، کله به چې شیخ وروغوښت نو څیره به یې بدله شوه رنګ به یې والووت اوپه بدن به یې لړزه جاري شوه.[۳] بل لورته دشیخ معامله له ده سره داسې وه چې ډیره کمه دیوه پیرله خپل مریداومسترشد سره وي یو ځل یې وویل: شیخ احمدافتاب است که مثل ما هزاران سیارگان درضمن ایشان گم اند. شیخ احمدهغه لمردی چې دهغه په رڼاکې زماپه څیر زرګونه ستوري ورکیږي.

---

(۱) زبـدة الـمقا مـات مخ ۱۵۵.

(۲) زبـدة الـمقا مـا ت مخ ۱۴۵.

(۳) زبـدة الـمقا مـا ت مخ ۱۴۹.

www.abulhasanalinadwi.org

## ځلرمه برخه

# مهمې پېښې او حالات
# ارشاد او تربيت او وفات

**دسرهنداستوګنه :**

له دې فيض ترلاسه کولو اوبيعت پوره کولووروسته حضرت مجددپه سرهندکې ديواځيتوب ژوندغوره کړ څه موده يې دمريدانوله تربيت څخه ځان ساته اوپه خپل ځان کې يې دپوره نيمګړتيااحساس کاوه، باطني ترقي يې مخ په وړاندې روانې وې اوطبيعت يې دلوړتيالورته مائل کېده، په داسې حالت کې دمريدانو ښوونه او روزنه ستونزمن کاروڅکه دهغه لپاره نزول شرط دی او هغه لانه و، په يوه ليک کې کاږي چې په دې حالت کې دخپل نقص پته راته ولګيده کوم مريدان چې له ماسره وو هغوی مې ټول راجمعه کړل خپل نقص مې ورته بيان کړل اوټول مې رخصت کړل خو مريدانوزمادغه کيسه کسرنفسي وبلله اوله خپلې عقيدې څخه په شانه شول. څه موده وروسته لوی ښتن د خپل خواږه پيغمبرﷺ په برکت هغه احوال راپه نصيب کړل چې انتظاريې کېده (۱)

(۱) مکتوب / ۷۴ لومړی دفتروګوری .

www.abulhasanalinadwi.org

اخرهغه وخت راغی چې دده فیض عام شواودمریدانو دتکمیل اوارشادکار پیل شو، مجددصاحب به خپل حالات دمریدانو اودطریقت دملګرودباطني ترقیو تفصیل خپل شیخ ته لیکه داسې بشارتونه، خوبونه اوکیفیات هم ورته ښکاره شول چې په هغوسره ده ته دایقین حاصل شوچې خدای پاکﷻ له ده څخه یوغټ کاراخلي اودده په لاس به ددین یوسترخدمت ترسره شي [۱] له دریم ملاقات وروسته یې له حضرت خواجه صاحب سره ونه لیدل.

## دلاهورسفر

حضرت مجددصاحب څه وخت په سرهندکې پاتې شوبیایې دشیخ په اشاره سره دلاهورسفرغوره کړ لاهورپه دې وخت کې له دهلي څخه وروسته دهند دویم لوی علمي مرکزو اوخورازیات علماء اومشائخ پکې و ددوی زیاتوچې دده دراتګ خبر واوریده نوډیرله ولولوډک هرکلی وکړ اوډیرزیات تعظیم او احترام یې وکړ مولانا طاهرلاهوري(چې وروسته بیادده په ستروخلفاوکې و)مولاناحاجي محمد،مولاناجمال الدین تلوي له ده څخه بیعت وکړ اودمریدانو په حلقه کې یې داخل شول، د ذکر او مراقبې حلقې به جوړې وې اودصحبت مجلسونه به ګرم و [۲] حضرت مجدد لاپه لاهورکې و چې دحضرت خواجه د وفات خبرورته ورسیده دی یې ډیراغیزمن کړ او په ډیره بیړه سره ددهلي په لوري وخوځیده په لاره کې یې سرهند راته خوخپل کورته ونه ګرځیده لومړی دخپل پیراومرشدزیارت ته حاضر شو دپیر اومرشد زامنو اودطریقت ملګروته یې تعزیت وکړ اودهغوی دزړه ساتلو په موخه په دهلي کې څو ورځې

---

[۱] زبدة المقامات مخ ۱۵۷.

[۲] زبدة المقامات مخ ۱۵۸ په روضه قیومیه کې راغلي دي چې په دې سفرکې خان خانان او مرتضی خان " سیدفرید" هم بیعت ورسره وکړ مخ ۱۱۷.

www.abulhasanalinadwi.org

پاتې شو دتربيت اوارشادمجلسونه چې دحضرت خواجه له مړينې وروسته ساړه شوی و ددويم ځل لپاره ابادشول اوغمژلي اوويرژلي زړونه بياتازه شول [۱] له څو ورځو قيام کولو وروسته بياسرهندته راستون شو. له دې وروسته يواځې يو ځل دهلي ته اودوه درې ځلي اګرې ته ولاړدعمرپه اخرکې له شاهي لښکر سره په ځينو ښارونوتيرشو( چې وروسته به يې بيان راشي ) نودهغه ځای مريدان او اهل طلب ورځخه مستفيدشول . [۲]

## دتبليغ اودعوت پراخې لارې چارې اوعـامـوخـلکو تـه تـوجه کول

په کال ۱۰۲۶هـ کې ده خپل ډيرزيات خلفاءدتبليغ اودعوت لپاره مختلفو ځايونوته وليږل په دوی کې يې اوياتنه دمولانامحمدقاسم په مشری کې ترکستان په لورې وليږل. ځلويښت تنه يې دمولانافرخ حسين په مشري کې عربو. يمن.شام او روم لوري ته وليږل ،لس بامسوليته اوروزل شوي کسان يې دمولانامحمدصادق کابلي له مشرتابه لاندي دکاشغر په خوا وليږل او ديرش خليفه ګان يې دمولانا شيخ احمدبرکي په مشري کې د توران.بدخشان او خراسان په لوروليږل دوی په خپلو ځايونو کې ډيربرياليتوبونه ترلاسه کړل اودخدای ﷻ بندګانوګته ځنې پورته کړه[۳] ډيرو محترموعلماوو کراماو مشائخوچې په خپلوسيموکې ډيردعزت اواحترام په سترګه ورته کتل کيدل د سفرله سختوستونزوګاللو وروسته سرهندته ځانونه ورسول اوپه بيعت او استفاده يې ځانونه مشرف کړل چې په دوی کې

---

(۱) زبدة المقامات مخ ۱۵۸.

(۲) زبده المقامات مخ ۱۵۹.

(۳) روضة القيومية مخونه ۱۶۶ ــ ۱۶۷.

www.abulhasanalinadwi.org

دبدخشان د واكمن اعتمادي سړی شيخ طاهربدخشي، دتالقان تكړه عالم شيخ عبدالحق شادماني، مولانا صالح كولابي، شيخ احمدبرسي، مولانايارمحمد اومولانايوسف په ځانګړې توګه دیادولو وړدي، ده ددوی زياتوكسانوته دخلافت اجازه وركړه اوخپلو ځايونوته يې ددعوت او ارشادلپاره وليږل.[1]

په هندكې هم ده ځای په ځای خپل خلفاء ددعوت او ارشادلپاره وګمارل خواجه ميرمحمدنعمان يې له خليفه ټاكلووروسته دكن ته وليږه، دده خانقاه ته به څوځو سوه سپاره اوبې شميره پلي كسان دذكراومراقبې لپاره حاضريدل. شيخ بديع الدين سهارنپوري يې له خليفه كولووروسته لومړی سهارنپور او بيايې داګرې په شاهي لښكرځای"معسكر"كې تعين كړ. دی هلته دعامو خلكودقبول وړوګرځيده دسلطنت ډيرغړي دده زيات تابع شول دلښكرپه زرګونوكسان يې مريدان شول هره ورځ به دومره هجوم و پرې چې لويولويو اميرانوبه له ډيروستونزووروسته وكولای شول څوله ده سره ووينې مير محمد نعمان كشمي ( چې دحضرت خواجه باقي بالله له خلفاوڅخه و) ته يې بيعت ور تجديدكړ له اجازت نامې وروسته يې برهانپورته وليږه دی هوري دمريدانو مرجع وګرځيده اوډيرخلك يې اصلاح كړل.

شيخ طاهرلاهوري يې دلاهورښارته ( چې دهند دويم علمي اوسياسي مركز و) دعرفان غوښتونكو دلارښوونې لپاره وليږه اوله ده څخه په دې سيمه كې ډيرو خلكو فيض ترلاسه كړ شيخ نورمحمدپټنې ته يې اجازه وركړه دپټنې ښارته يې وليږه اوله ده څخه په دې سيموكې د ارشاداوهدايت اودينې علومو لړۍ جاري

[1] دتفصيل لپاره روضة القيومية مخونه ١٢٨ ــ ١٢٩ وګورئ په" حضرات القدس " كې هم دخلفاوپه ضمن كې په متفرقه توګه دهغومختلفوځايونوته ليږلواوپه ارشاداوتربيت باندې ګمارلو يادونه راغلې ده د" حضرات القدس " له ٢٩٩ ــ تر ٣٦٨ پورې مخونه وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

شوه،شيخ حميدبنګالي چې دسلوک منازل سرته ورسول دتعليم او طريقت اجازه يې ورکړه اوبنګاله ته يې وليږه،مولاناحمدبرکي دتعليم اوتربيت ترحاصلولو وروسته برک ته ورسيده اوپه ارشاداوتربيت بوخت شو اود خپلو مريدانو حالات به يې دليکونو په ذريعه حضرت مجددصاحب ته ورليږل.

شيخ عبدالحی داصفهان ديوې سيمې حصارشادمان اوسيدونکی و د مکتوبات دويم دفتر ده ترتيب کړی دی حضرت مجدد صاحب ده ته دتعليم او طريقت اجازه ورکړه اودپټنې ښارته يې وليږه،شيخ عبدالحی د ښارپه منځ کې دطريقت دتړيو تنده خړوبوله اوشيخ محمددګنګادسيندپه غاړه د ارشاد او تربيت چينه جاري ساتلې وه، شيخ حسن برکي هم په خپل وطن کې دطريقت او سنت په خپرولوياندي ماموركړل شوی و، سيدمحب الله مانکپوري يې له خليفه کولو وروسته مانکپورته وليږه بيادحضرت مجددصاحب په اجازه سره اله ابادته نقل شو، شيخ کريم الدين باباحسن ابدالي له خصوصي توجهاتو ترلاسه کولووروسته بيرته وطن ته ستون شو.[1]

١٠٢٧هـ لاپوره شوی نه وچې دحضرت مجددصاحب دلوړشان، ځواکمنې لاربنوونې اوښې روزنې اوازې له هندځخه بهرته ووتلې خلک په ډلوډلو د زيارت اواستفادې لپاره ورته راتلل، په ماوراء النهر، بدخشان، کابل اود ځينې نورو عجمي هيوادنوپه ښارونوکې دده خليفه ګان موجود وو اوعربي هيوادوته هم دده شهرت رسيدلی و په هندکې خوبه په ډيرمشکل سره داسې ښار پيداکيده چې هورې دده نائبان اودالله پاک لوري ته بلونکې نه وي موجود .

(١) حضرات القدس الحضرة الثانيه عشره في بيان احوال خلفا سه اونورکتابونه

www.abulhasanalinadwi.org

## دوخت دسلطان جهانګیر چلند

په کال ١٠١۴ھ کې باچا جلال الدین اکبر ومړ اونورالدین جهانګیر د واک په پلاز باندې کښیناست، داکبرپه پېرکې چې داسلام اومسلمانانوژوندځومره تنګ شوی و اوپه دې سترهیوادکې(چې دمسلمانوفاتحینوپه وینو، دمصلحینو اوداسلام دخادمانو په خولو،اوداهل باطن اودسویو زړونو دښتنانو د شومه دم په اوښکو سره خړوب اومیوه داره شوی و) داسلام دجرړو ایستلو کار په ځومره قوت اومنظم ډول سره کیده هغه دده دردمندزړه اوغیوراسلامې طبعیت دمضطرب اوکاواکه کولولپاره بس و خوده بیاهم خپل تجدیدي او اصلاحي کارپه پوره قوت سره پیل نه کړ ځکه یوخودخپل ځان په پوره کولو او باطني تیاري بوخت و اوبل ددې لپاره چې هغه فتنه ځوانه وه اوهغه مزي دده لاس ته نه و ورغلي چې دهغه په ذریعه دې په سلطنت اودهغه په میلان اود اسلام اومسلمانانوپه اړه دهغه په سیاستِ اغیز وشیندلی شي نوبناء ده خپل تجدیدي کاریوځه وځنډاوه اوکه یې خپل تجدیدي اواصلاحي کارکړی هم وي خوپه تاریخونوکې یې تفصیل نشته دومره پته لګیږي چې ده دخان خانان سیدصدرجهان اومرتضی خان اونوروپه ذریعه باچاته دنصیحت پیغامونه ورلیږلي و،داکسان باچاته نږدې اودباور وړخلګ یې وو اودحضرت مجدد مینه اوعظمت یې هم په زړونوکې و، جهانګیرنه یواځې داچې له اسلام سره دښمني نه لرله بلکې ښه عقیده یې ورته لرله اوله کوم نوي دین یاائین جاري کولوسره یې هیڅ دلچسپي نه وه ده دخپل نیکه په دې خبره عمل کاوه چې:

با بر به عیش کوش که عالم دوباره نیست.

ده دباچاله دې ساده طبعیت ځخه ګټه پورته کړه اوله هندځخه دهغواثراتو د له منځه وړلواراده یې وکړه چې مخکښې سلطنت رامنځ ته کړي و اود هغو تفصیل به

www.abulhasanalinadwi.org

په راتلونکې کې په یوه ځانګړې برخه " باب " کې راشي، خوله دې مخکې چې دی دا انقلابي کارپیل کړي دګوالیار دبندي کیدلو پیښه رامنځ ته شوه چې له څوارخونوڅخه دحضرت مجددصاحب دژوندا ودهغه وخت د اصلاحي تاریخ یوه مهمه پیښه ده.

دسیرت اوسوانحوپه ځینې کتابونوکې راغلي چې جهانګیرته دمکتوبات هغه نازک او باریکه مضامین وړاندې کړل شو چې په هغوپوهیدل دتصوف په اصطلاحاتو او دقیقومسائلو اودلیکونکي په غرض پوهیدنه پورې تړلي و اوپه حقیقت کې هغه عبوري اوتلونکي کشفونه اومحسوسات و چې سالک ته په خپل سیراوسلوک کې په عارضي منځ ته راځي اوپه هغو باندې دخپل شیخ او روزونکې خبرول ضروري دي.[1]

دجهانګیرلپاره په دې مضامینوکې چې دده دپوهې له سطحې څخه لوړ و اوپه

[1] لومړی دفترمکتوبات ۱۱ دمرشدخواجه باقی بالله په نامه وګوری . له جهانګیره پرته چې له دی کوڅی سره نابلده و ځینی بنه دپاخه علم څښتنانوچې دامضامین ولوستل نواشکال ورته پیداشوچې په هغوکې دهغه وخت نامتوعالم، دعلم الحدیث څېړونکې اودشریعت اوطریقت جامع حضرت شیخ عبدالحق بخاری دهلوی په ځانګړی توګه دیادولو وړدی . ترډیری مودی پوری هغه په دی اړه ډیر په شک کې و دده اوحضرت مجددصاحب په منځ کې لیکونه هم سره ولیږل شول. په اخرکې ده ته ډاډ او سینه خلاصی حاصله شوه اوددی څرګندونه یې په یوه لیک هم کړیده. دده زوی شیخ نورالحق روایت کوی چې داخیره پوره ثابته شوی ده چې یوسړی حسن خان نومیده دی په قوم پښتون اودحضرت مجدد صاحب له مریدانوڅخه و دی په څه خبره له حضرت مجددصاحب څخه خپه شواو ولاړ دحضرت مجدد صاحب دمکتوبات یوه قلمي مجموعه له ده سره وه ده په هغه کې تحریف اوزیاتونی وکړی اودهغی مسخه شوی برخی یې ډیری خپری کړی ( دشاه فتح محمدفتح پوری چشتی له کتاب " مناقب العارفین " مخ / ۱۲۶ څخه ) ددی هنګامې اوتیروتنی اساس کیدای شی ددی تحریف شوی مکتوبات څخه پیداشوی وی.

www.abulhasanalinadwi.org

هغوکې دیوه ساده سني العقیده مسلمان لپاره چې دکشف اوواقعی، عبور او استقرارپه توپیرنه پوهیږي د وحشت اوتشویش پوره اسباب موجودوو، ده په دې سره ډیره حیرانتیااوتعجب ښکاره کړ اوهغه یې دجمهورو مسلمانانواواهل سنت د مسلمه عقائدوپه خلاف وبلل، اویه ادعا اوځان لیدنه یې محمول کړل، ده چې په خپل تازک او روزنامچه کې ددې پیښې یادونه کړې ده له هغه څخه دده حیرانتیا اوتعجب ښه څرګندیږي .

ده په ډیره نامناسبه طریقه اویوڅه سپکاوي دمجددصاحب یادونه کړي ده .له دې څخه دا اندازه کیدای شي چې دی دمجددصاحب له مرتبې اومقام څخه هیڅ خبرنه دی.اودیوه داسې تورانی مغل امیرپه قلم یې ډیربې تکلیفه خپل خیالات څرګندکړي دي چې هغه دمسلمانانو له عاموعقائدوپرته نورهیڅ نه پیژني اوځان دهغو ساتونکی اومحافظ بولي.شیخ بدیع الدین سهارنپوري چې په لښکرکې کوم مقبولیت ترلاسه کړاوزیات دسلطنت مشران به ده ته تله اوراتله په هغه کې هم خلکوډیرې خبرې پیدا کړې اوهغه یې خطرناک وباله دا هم ویل کیدل چې حضرت مجددصاحب دشیخ له لارې په فوځ کې څه دسیسې جوړوي اودبغاوت لارې چارې برابروي، په دې اړه دشیخ بدیع الدین څخه هم یوڅه بې احتیاطي وشوې اوهغه په ځینی پیښو اوکشفونوکې په :"کلموا الناس علی قدرعقولـــهم " باندې عمل ونه کړاوداسې یې بیان کړې چې دعوامو په ځیرخواصو اوخاروپو په ځیر عواموله پوهې اوادراک څخه لوړې اود قیـــل وقـــال ځای پکې و [۱] ددې اغیزحضرت مجددصاحب ته هم ورسیدهٔ. جهانګیرله دې کوځې سره بیخي نااشناو اویه دربارکې دهغه پرسوونکې هم موجود وو.

څرنګه چې مجددصاحب دتشیع دهغو عقیدوي اوعملي اغیزو مقابله کوله چې

---

[۱] زبدة المقامات مخ ۳۴۸.

www.abulhasanalinadwi.org

له ایراني عنصرڅخه هندته راغلي اوپه دربارمسلطي شوې وې اوپه مسلمانه ټولنه کې خپرې شوې وې اوداهل سنت دعقائدو تبلیغ یې کاوه له دې څخه که ددربار بارسوخه ایراني عنصرله موقع څخه ګټه پورته کول غوښتل هم نو دتعجب ځای پکې نشته، مسئلې ته له سیاسي رنګ ورکولو وروسته دهغې اهمیت نورهم زیات شو اوجهانګیر په دې اړه دځه ګام پورته کولوپریکړه وکړه داهغه وخت وچې دمجددصاحب دارشاد اودعوت لمرنیمایې اسمان ته رسیدلی و اودده بوختیا او مصروفیت له دې سره شهرت اومقبولیت دعروج نقطې ته رسیدلی و ممکن په دې کې به هم الهي حکمت و چې عین د عظمت اوعروج دځوانی په زمانه کې دی په دې ابتلاء اوازموینه کې راګیر کړې ځودعبدیت اوبندګي هغه مقامات طی کړي اودروحاني ترقي هغه مقام ته ورسیږي چې عادتا له دې مجاهدې اوازموینې پرته نه شي ترلاسه کیدای.

## دګواليار دبندې کيدلو لاملونه

دتاریخ اوسوانحوپه عاموکتابونوکې دبندې کیدلواودګوالیارپه کلاکې د نظربندکیدلو لامل دهغه ځانګړی مکتوب ( چې خپل پیراومرشدته یې لیکلی و ) هغه باریکه مضامین، مکاشفات، دسیراوسلوک هغه باریکه اودقیقي خبرې ښوول شوي دي چې له هغه څخه دامت له ډیرومشرانوڅخه دده دمقام لوړوالی معلومیږي خوزه په دې کې ډیرشک لرم چې مجددصاحب له دې ابتلاء او ازموینې سره یواځې ددې تیروتنې له کبله مخامخ شوی و اوددې لامل د جهانګیردیني حمیت اودجمهور اهل سنت دعقائدواومسلماتوحمایت و اویایواځې ددرباري علماو اودهغه وخت دمحترمو علماواومشائخو د ټینګارپه غوښتنه سره شوي و، جهانګیر یووخت هم دداسې دیني مزاج لرونکی نه و اودده دیني حس هیڅکله هم دومره

www.abulhasanalinadwi.org

تیزاوباریکه نه و چې هغه په یوه داسې مسئله کې چې دده دپوهې له سطحې لوړه وه، اوله سلطنت او سیاست سره یې څه تړاونه درلود دیوه داسې لوړ دیني شخصیت په خلاف دومره لوی ګام پورته کړی چې دزرهاو انسانانودمیني اوعقیدت مرکز و.

له دې مخکې دده دپلاراونیکه په زمانه کې شیخ محمدغوث ګوالیاري د معراج دعوه کړې وه اودده له کبله دعلماو په کړیوکې شوراونارامي وه.[1] اوپه ده باندې فتواوې لګول کیدې،خو نه همایون دده په خلاف څه وکړل اونه اکبرپه خپله دجهانګیر په زمانه کې ډیر مشائخ دوحدت الوجود وروستي حد" عینیت اومساوات " ته رسیدلي و، اوپه ډاګه یې دهغه څرګندونه کوله، دده په زمانه کې شیخ محب الله اله ابادي م ١٠۵٨ه په عربي کې د"التسویة" په نامه کتاب ولیکه اوپه فارسي کې یې دهغه شرحه وکړه خوجهانګیرپه دې تحقیقاتواونادرو ویناو څه غرض ونه کړ،داخبره هم بایدله نظره ونه لویږي چې دا شخړیز مکتوب١١ ( چې ددې ټولوکیسواساس ګرځول شوی) دحضرت خواجه په نامه په کال١٠١٢ه کې لیکل شوی دی اودده بندي کیدل شپاړلس کاله وروسته په کال ١٠٢٨ه کې رامنځ ته شوي دي زما په اندددې اصلي لامل داو چې حضرت مجددصاحب له سلطنتي غړیواودرباري امیرانوسره خصوصي اړیکې پیداکړې وې اوددوی له ده سره ډیره مینه وه چې دیوه داسې خیرک واکمن اوحکمران د وسوسې اوفکرمندي لپاره کافي و چې هغه له خپل پلارڅخه بغاوت کړی و اوله زامنوسره یې د زور ازمایې په نتیجه کې دسلطنت پلاز او تخت ترلاسه کړی و.

داهم شوني ده چې جهانګیردې په هغو اغیزمنواوولوله پارونکو لیکونو باندې

---

[1] دتفصیل لپاره دپروفیسرمحمدمسعودصاحب کتاب " شاه محمدغوث ګوالیری " چاپ کراچې وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

خبرشوي وي چې حضرت مجددصاحب سلطنتي غړیوته دحالاتود سمولو اودحکومت داسلام حمایت او مرستې برابرولوپه لړکې لیکلي و. په دې سلطنتي غړیو اودرباري امیرانوکې خان اعظم او مرزاعزیزالدین، خان جهان خان لودهي، خان خانان مرزاعبدالرحیم اومرزا داراب شاه مل وو.[1] له مشائخوسره دعوامولـه زیاتې مینې،دعاموخلکورجوع اوپه هغوی باندې دخلکوله جمعه کیدلوڅخه مغل سلاطین همیشه په ویره کې و.

دمجددصاحب ستر خلیفه حضرت سیدادم بنوري له داډول حالت سره مخامخ شوی و کله چې دی په کال ۱۰۵۲ھ کې لاهورته ولاړ نولس زره سیدان. مشائخ او دمختلفوډلوعقیدتمند له ده سره ملګري و په دې مهال شاه جهان په لاهورکې و اوله ده څخه یې خطره احساس کړه اوداسې اسباب یې ورته پیدا کړل چې هغه هند پریښود اوحرمینوته یې هجرت وکړ، غالباهمدالامل وچې جهانګیرکله دګوالیار نظر بندي ختمه کړه له هغه وروسته یې هم داوږدې مودې لپاره په سفراوحضرکې حضرت مجدد صاحب له خپل لښکرسره وساته څووکولای‌شي له ده سره دامیرانو اوسلطنتي غړیو داړیکو نوعیت اوڅرنګوالی معلوم کړي. اوډاډترلاسه کړي چې دی دسلطنت اواقتدارلپاره ګواښ ندی او نه کوم مخالف عناصرله ده څخه ګټه پورته کولای شي نوکله چې ده ته د حضرت مجددصاحب کړه وړه معلوم شول اوډاډ یې ترلاسه کړاودده اخلاص، للهیت، بې غرضي اولوړمقام یې په خپلو سترګو مشاهده کړاوپوهه شوچې د دنیا عــزت اوشوکت له خاوروسره هم بــرابرنه بــولي نوپه ازاده توګه یې ده ته په سرهندکې داوسیدلو اجازه ورکړه.

---

(۱) ددی نظرتائیدله دی څخه هم کیدای شي چې جهانګیریه خپله په " تزک " کې لیکي چې دشیخ خلفاء په هره سیمه اوهرکلي کې تعین کړای شوی دی مخ ۲۷۲. داراز دهغه په نیولوکې دامصلحت هم دی چې : شورش عوام نیز فرو شود مخ ۲۷۳.

www.abulhasanalinadwi.org

## دګواليارپه کلا کې نظربند کېدل

په هرصورت جهانګيرحضرت مجددصاحب خپل ځاى ته وروباله اودسرهند حاکم ته يې تاکيد وکړچې څه ډول کيداى شي دى هورې ورولېږي. دى له خپلو پنځو نږدې مريدانوسره يوځاى روان شو باچاچې کله دده دراتګ خبر واوريده نوخپل اميران يې دده هرکلي ته ورولېږل دخپل محل خواته يې خيمه ودروله اوملاقات لپاره يې دى دربارته وروغوښت دى دربارته ورغى اوهغه غيرشرعي اداب چې په دربارکې ترسره کيدل دده مراعت نه کړل،يوه خداى ناترسه درباري باچامتوجه کړ اوورته يې وويل چې جلالتمابه ! شيخ سلطنتي اداب مراعات نکړل باچاله دده څخه د ادابو دنه مراعات کولو لامل وپوښته دده ورته وويل: ماترنن ورځې پورې دخداى او رسول ښوولي اداب اواحکام مراعات کړي دي اوپابندې يم اوله هغوپرته په نورواداېو زه نه پوهېږم، باچا په غصه شواو ورته يې وويل چې.ماته سجده وکړه[1] دده ورته وويل: ماله خدايه پرته بل چاته نه سجده کړې ده اونه يې کوم باچاپه دې سره په قهر شو اودګواليارپه کلا کې دنظربندکولوحکم يې وکړ[2]

له دې پېښې مخکې شاه جهان (چې له حضرت مجددصاحب سره ډيرمخلص و ) علامه افضل خان اوخواجه مفتي عبدالرحمن دفقهې له کتابونواودې پيغام سره حضرت مجددصاحب ته ورلېږلې وو چې دتحيې سجده دسلاطينو لپاره شته نوکه ته سجده وکړې زه دې ضامن يم چې تاته به هيڅ تکليف نه درکول کيږي دده ورته

---

[1] دادرباري سجده داکبرله زمانې څخه رواج وه اوپه شاهي ادابوکې شمارل کيده او اورنګ زيب هغه ختمه کړه.

[2] حضرات القدس مخ ١١٧.

www.abulhasanalinadwi.org

وويل چې دايواخې رخصت ده عزيمت دادی چې له خدايه پرته بل هيڅ شي ته بايدسجده ونشي [١] دنيولودا افسوسناکه پيښه په کال ١٠٢٨هـ ددويمې خورپه کوم تاريخ کې رامنځ ته شوې وه څکه جهانګيرددې مياشتې په پيښوکې ددې يادونه کړې ده، له بندي کيدلو وروسته دده حويلی، سرايونه، چينې باغ اوکتابونه ضبط کړل شول، اودده متعلقين يې له هغه ځای څخه بل ځای ته انتقال کړل. [٢]

## دګواليارپه بندکې يوسفي سنت

دګواليارپه دې نظربندي کې الله پاک ډيرحکمتونه اوديني ګټې نغښتې وې دانظربندي دده دباطني ترقيواودمقبوليت اومحبوبيت دزياتيدلولامل شو ، دلته دې زنداني يوسف د کنعاني يوسف په څيرخپلوزنداني ملګروته ددعوت اوارشاد کارپه ډيرجوش سره پيل کړ اودستري کلاله منځ څخه دا اواز﴿يا صاحبي السجن أأربـاب متـفرقون خيرام الله الواحدالقهار﴾په ډير شو ... ا اوجت شواوله کلاڅخه دباندې هم واوريدل شو، ويل کيږي چې څوزره نامسلمان بنديان دده ددعوت اوتبليغ په برکت په اسلام باندې مشرف شول اوبه سلګونوبنديانودده په صحبت سره لوړې درجې ترلاسه کړې

دډاکټر ارنلډ په کتاب (Preaching of islam) کې راغلي دي: دجهانګير باچا ( ١۶٠۵ ع = ١۶٢٨ع ) په زمانه کې دشيخ احمدمجددپه نامه يوسني عالم چې دشيعي عقائدو په ردکې ډير مشهورو، شيعه و چې په دې وخت کې په دربار کې ډيررسوخ درلود ، دغوخلکو په څه بهانه سره دی بندي کړاودوه کاله بندي و په دې

---

[١] حضرات القدس مخ ١١۶.

[٢] تزک جهانګيری مخونه ٢٧٢ = ٢٧٣ اومکتوب ٢ دريم دفتر .

www.abulhasanalinadwi.org

موده کې هغه دخپلوزنداني ملګرو په سلهاو بت پرست د ځان تابع وګرځول. ( مخ / ۱۴۳ دریم چاپ ) دارازپه انسائکلو پیډیاآف ریلیجن اینډ ایتهکس Encyclopedia of Religinon and Ethics (دمذهب او اخلاقو دائرةالمعارف ) کې داسلام د تبلیغ په اړه راغلي : په هندکې په اوولسمه پیړۍ کې یوعالم چې شیخ احمد مجددنومیده اوپه ناحقه بندي کړل شوی و دده په اړه په روایت کې راځی چې ده خپل ځومره بت پرست زنداني ملګري مسلمان کړي وو.[1] اتم ټوک مخ ۷۴۸.

## په بندیخانه کې نعمتونه اوخوندونه

دګوالیاردبندیخانې په دې ځوورځنۍ میلمستیاکې په مجددصاحب باندې دالهي انعاماتو بارانونه اوریدل په دې کې ده باطني ترقیات،ریښتوني شکستګي اودارامي خوندترلاسه کړ اوپه دې خلوت کې یې دجلوت نعمتونه بیاموندل دانعمتونه اوخوندونه ده په هغولیکونوکې چې دخپلو خاصومریدانو په نومونویې لیکلي دي دتحدیث بالنعمت په توګه په ډیرخوندسره بیان کړي دي دګوالیارله کلا څخه یې دمیرمحمدنعمان په نامه یولیک لیکلي دي په هغه کې لیکي: "که یواځې دخدای ﷻ په فضل سره دالهي فیوضاتواوارداتو تسلسل اودهغه دلامتناهي انعاماتو او ورکړو پرله پسې ښکاره کیدل په دې محنت کده کې زماپه ځیرله کمزوري انسان سره نه وای نونږدې وه چې خبره به د ناامیدي حدته رسیدلې وه اود امیدمزي به پرې شوی و هغه خدای ﷻ لره ثناء ده چې په عین مصیبت کې یې عافیت راپه برخه کړاوپه ظلم اوجفاکې یې عزتمن کړم په ربړو اوستونزوکې یې په مااحسان وکړ اوپه راحت اومصیبت کې یې دشکر توفیق راکړ اود انبیاوو علیهم

---

[1] دمولانا عبدالماجددریابادی له مضمون " حضرت مجددالف ثانی داروپانویه نظرکې " څخه الفرقان مجدد نمبر کال ۱۳۵۷ هـ

www.abulhasanalinadwi.org

الصلوة والسلام په پيروي کوونکو، اولياء کرامو په پله تلونکو اوله علماو اونيکو خلکو سره په محبت کوونکوکې يې شمارکړم، هغه خدایﷻ دې لومړی په انبياء کرامو باندې رحمتونه نازل کړي او بيا دهغوی په پيروانو باندې "[۱].

معلومېږي چې کله حضرت مجدد صاحب دباچا په حکم بندي شو او داخبره عامه شوه نو په دې باندې ډول ډول تبصرې پيل شوې خلکو حاشيې اولمن ليکونه پرې وکښل او ډول ډول نظريات بيانېدل، مريدان او ملګري يې طبعا پرې خواشيني شول دې تنقيد او دخلکوملامتي ته نغوته کوي اويوه بل مخلص شيخ بديع الدين ته له بنديخانې څخه ليکي: کله چې دافقيردې کلاته راورسيده نو په لومړي حالاتوکې دامحسوسيدله چې دخلکو دملامتي انوارله ښارونو اوکليو څخه د نوراني وريځو په څېرپرله پسې رارسيږي اوزماخبره له ټيټ والي څخه دلوړوالي په لور وړي، په کلونوکې زمادتربيت جمال منزلونه سرته ورسيدل اوس دتربيت جلال مسافت پای ته رسوم نوتاسودصبرپه مقام بلکې درضاپه مقام کې اوسئ[۲]

حضرت مجدد صاحب به له بنديخانې څخه خپلوزامنوته دصبراوتسکين، شکراو رضا هدايت کاوه اوهغوی ته به يې ټينګارکاوه چې خدایﷻ ته توجه کوي په دعا، مناجات، ذکر، تلاوت اود ماسوی الله نفی کې بوخت اوسي او خپلوزده کړوته ځيراوسئ[۳] له ځينې رواياتوڅخه معلومېږي چې دمجدد صاحب دې بيخايه بندي کيدلو دسموعقيدو په اميرانو اوسلطنتي غړيو باندې بداغيز وکړ په ځينې سيموکې

---

[۱] مکتوب ۵ دويم دفترشپږمه برخه اردو ژباړه دمولاناعبدالشکورله مضمون " امام رباني" څخه اخيستل شوي.

[۲] مکتوب ۶ دريم دفتر شپږمه برخه.

[۳] مکتوب ۲ دريم دفترشپږمه برخه بنام حضرت خواجه محمدسعيدوخواجه محمدمعصوم.

www.abulhasanalinadwi.org

ګډوډي اودانتشارنښې هم ښرګندې شوې.[۱] عبدالرحيم خان خانان، خان اعظم، سيدصدرجهان، خان جهان لودهي اونور د جهانګيرپه دې اقدام سره خپه شوي وو ددې شورش اوانتشار زيات شهادتونه په معاصرتاريخ کې نشته اودا باوري نده چې ددې به دمجدد صاحب له بندي کيدلوسره څومره تړاو وپه هرصورت (چې په څه وجه و[۲]) باچا په دې اقدام پښيمانه و اويايې دومره موده بندي کيدل کافي وبلل دده د ملاقات ليوالتيا يې ښکاره کړه او ور ويې غوښت، حضرت مجدد صاحب پوره يوکال د ګواليارپه کلا کې و اوپه وروستي خور کال ۱۰۲۹ هـ کې له بنديخاني څخه خلاص شو.

## له باچا او شاهي لښکرسره ملګرتياأو دهغه ديني اغيزي

حضرت مجددصاحب په ډيرعزت اواحترام سره له کلاڅخه راووت درې ورځې په سرهندکې و بياشاهي لښکرځای اګرې ته ولاړ، ولي عهدشهزاده خرم او صدراعظم دده هرکلي وکړ خوباچا حکم وکړچې ته به څوورځې زمونږ په لښکرکې اوسې،اوده ورسره ومنله په دې ملګرتياسره باچااولښکرته ډيره ګټه ورسيده جهانګير په خپل"تزک" کې ليکلي دي چې ماخپله چينه او زر روپۍ ورکړې اوله مونږ سره داوسيدلوياخپل ځای ته دتګ اختيارمې ورکړخوده زمونږملګرتياغوره کړه، حضرت مجددصاحب دلښکردملګرتيااودهغه دګټو اوبرکاتوپه اړه خپلو

---

[۱] په دې اړه دمهابت خان دبغاوت حواله هم ورکول کيږي خوپه يادلري چې دمهابت خان دبغاوت پيښه په کال ۱۰۳۵ هـ کې شوې ده چې دحضرت مجددصاحب دخلاصون څلور پنځه کاله تيرشوي و اوده له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې وې.

[۲] ويل کيږي چې باچاښې عليه السلام په خوب کې په داسې حالت کې وليدچې هغه صلی الله عليه وسلم دتاسف په ډول خپلې ګوتې مبارکې په غاښونوکې ټينګې نيولې وې اوده ته وايې: جهانګيره! تا څومره لوی شخص بندي کړی دی.

www.abulhasanalinadwi.org

زامنوته ليکلي چې داډول بې اختياره اوبې رغبته اوسيدل غنيمت بولم او ددې وخت يوه ګړۍ وخت دنوروځايونوله ډيرو وختونوڅخه ښه بولم.[۱]

په يوه بل مکتوب کې ليکي: الحمدلله وسلام على عباده الذين اصطفى . زمونږ دلورې حالات دحمداوثناء وړدي، عجيبه اونادرمجلسونه کيږي او تيريږي د الله پاک په مرسته په ديني چارواواسلامي اصولوکې په دې خبروکې دسر دوينبتنه هومره سستي هم نه کيږي دالله تعالى په توفيق سره په دې مجلسونوکې هغه خبرې بيانيږي چې هغه په خاصوخلوتونو اومجلسونوکې بيانيږي که ديوه مجلس حال ليکل وغواړم نودهغه لپاره يودفتر په کاردی.[۲]

په هغه وخت کې ديوه شاهي مجلس په اړه په يوه بل مکتوب کې ليکي : د ګرانو زامنوليک راورسيده دخدای ﷻ حمددی چې روغ اوخوشحاله ياست يوه تازه پيښه چې نن رامنځته شوې درته ليکم، ښه يې واورئ نن د شنبې په شپه شاهي مجلس ته تللی وم دشپې يوه برخه تيره شوې وه چې راستون شوم او درې سيپاري قران مجيدمې له حافظ څخه واوريده له دويمې برخې څخه زياته برخه شپه تيره شوې وه چې خوب راغی.[۳] په يوه بل مکتوب کې چې خواجه حسام الدين ته يې ليکلی ليکي: اشنايان ملګري چې راسره دي له هغو ټولوسره ډيرنږدې يو اود هغو حالا ت مخ په تــرقي روان دي ددوی لـه کبله دا نـظامي ځای يوه خانقاه ګرځيدلي ده.[۴]

---

[۱] مکتوب ۴۳دريم دفتر.

[۲] مکتوب ۱۰۶ دريم دفتر.

[۳] مکتوب ۷۸ دريم دفتر دليکونوژباړې دمولا ناسيدزوارحسين له کتاب " حضرت مجددالف ثانی " څخه اخيستل شوی دی.

[۴] مکتوب ۷۲ دريم دفتر.

www.abulhasanalinadwi.org

له شاهي لښکرسره لاهورته ورسيده له هغه ځايه يې سرهندته کوچ وکړپه سرهند کې حضرت مجددصاحب باچاته ميلمستياوکړه مجددصاحب غوښتل چې په سرهندکې پاتې شي خوباچادده بيليدل نه غوښتل له هغه ځايه دهلي ته روان شول له دهلي څخه بنارس ته اوبيا اجميرکې ديره شول.

## په جهانګير باندې اغيز

په ځينې هغوکتابونوکې چې په اوس وخت کې دمجددصاحب په حالاتو ليکل شوي دي؛ راغلي دي چې دجهانګيرله حضرت مجددصاحب سره ډيره مينه وه او بيعت يې ورسره کړی و خوددې خبرې څه مستندتاريخي ثبوت نشته. په "تزک"کې چې جهانګيرخوځايه په څه ډول دحضرت مجددصاحب يادونه کړې ده، له هغه څخه هم ددې خبرې تصديق نشي کيدای هغه په سلطاني نشه کې څومره مست و اودهغه دليکنې انداز هم شاهانه ده، هغه په داسې انداز کې دخپل شيخ يادونه نه ده کړې چې له هغه څخه دده احترام معلوم شي.

پروفيسرفرمان هم په خپل کتاب کې مخونه ۳۵ــ۳۶ دانظرڅرګندکړی چې د جهانګيربيعت ندی ثابت شوی اوپه ده کې څه لوی تغير نه و راغلی، ځينې لرغونوسوانح ليکونکوهم نه دجهانګير دبيعت يادونه کړې ده نه دشاهجهان، خوله دې څخه انکارنشي کيدای چې جهانګير دده له ملګرتياڅخه ګټه پورته کړې وه په ده کې ديني رجحان پيداشوی و، رنګ جوماتونه يې بياودان کړي و اوپه مفتوحه سيموکې يې دديني مدرسوله جوړولوسره دلچسپي ښکاره کړې وه، په کال ۱۰۳۱ﻫ کې دکانګړ کلادفتحه کولوپه مهال چې په څه ډول ده خپل اسلاميت

www.abulhasanalinadwi.org

ښکاره کړي و اوهلته يې اسلامي شعائراجراء کړي و[۱] له هغه څخه هم دده د تبديلي اوديني ترقي پته لګيږي چې هغه دمجددصاحب دملګرتياله برکته بلل کيږي .

## د مرګ نږديوالی او هغه ته تياری

خواجه محمدکشمي ليکي چې ۱۰۳۲هـ کال واوده په اجميرکې تشريف درلود او ويې ويل چې داخرت دسفرورځې رانږدې شوي دي، خپلوزامنوته يې چې په هغه وخت کې په سرهندکې وو په يوه ليک کې وليکل ايام انقراض عمر نزديک وفرزندان دور؛ " دعمر ورځې په ختميدودي او زامن ليرې دي، زامنوته يې چې داليک ورسيده نواجميرته ورغلل يوه ورځ يې په خلوت کې خپلودواړو زامنو(خواجه محمد سعيد اوخواجه محمدمعصوم ) ته وفرمايل: زه اوس له دنياسره څه دلچسپي نلرم او نه څه التفات ورته کوم اوس دهغه عالم فکرغالب دی اود سفر ورځې نږدې دي.[۲]

حضرت مجددصاحب چې له لښکرڅخه بيرته راستون شونويه سرهندکې لس مياشتې اواته يا نه ورځې واوسيده،[۳] کله چې له اجميرڅخه سرهندته راستون شونو هلته يې ټول تعلقات ختم کړل اويواځې به اوسيده يواځې له زامنواوځوخاصو خادمانو پرته بل چاته يې دورتګ اجازه نه ورکوله له پنځو لمنځونو او جمعې پرته د بل شی لپاره به بهرته نه ووت ټول وخت به يې په ذکر. استغفار، ظاهري اوباطني بوختيا کې تيراوه اود ﴿وتبتل إليه تبتيلا﴾ له ټولوڅخه پريکون غوره کړه اود هغه ښه تفسير و .

---

[۱] تزک جهانګيری مخ ۳۴ وګوری اودتفصيل لپاره يې اووم باب وګوری .

[۲] زبدة المقامات مخ ۲۸۲.

[۳] حضرت مجدداودهغه ناقدين مخونه ۱۶۴= ۱۶۵.

www.abulhasanalinadwi.org

دذي الحجى دمياشتې په منځ کې يې دسينه تنګي تکليف زيات شو،ژړا غلبه پرې وکړه کله به يې چې ضعف زيات شونو " اللـهم الرفيـق الأعلى" به يې په ژبه جاري شول په دې وخت کې يې يوځه صحت پيداکړ غمژلو او تپې زړونوخه ډاډ ترلاسه کړ، په دې حالت کې به يې ويل: د ضعف دشدت په مهال مې هغه لذت اوخوند احساس کاوه چې دصحت په دې څو ورځوکې يې پته نه لګيږي، په دې حالت کې يې زياتې صدقې اوخيراتونه کول دمحرم په دولسمه يې وفرمايل: ماته ويل شوي چې په پنځه څلويښت ورځوکې دننه به ته له دې نړۍ څخه اخرت ته سفر وکړې اوماته دخپل قبرځاى هم راښوول شوى دى . يوه ورځ زامنو وليدچې ډيريې ژړل هغوى دسبب پوښتنه ځيني وکړه ده ورته وويل چې د وصال شوق مې ژړوي، زامنويې ورته وويل چې دمعمول په خلاف له مونږ سره مينه اوځه التفات نه کوې ولې؟ ده ورته وويل: دالله پاک ذات له تاسوڅخه ډير راته ګران دى.

دصفرپه درويشتم يې خادمانواوخپلوانوته وويل: نن څلويښت ورځې پوره شوي ګوروبه چې په دې اوو اتو ورځوکې څه پيښيږي؟ له دې وروسته يې دالله پاکﷻ دډيرو مهربانيو اوزياتونعمتونويادوونه وکړه دصفرپه درويشتم۲۳يې خپل ټول پوښاک اوجامې په خادمانو تقسيم کړې څرنګه يې چې په بدن باندې تودې جامې نه وې نو يخ اغيز پرې وکړاودويم ځل يې تبه شوه[۱] څرنګه چې د رسول اللهﷺ مبارک مزاج له ليرځنډ،روغتياوروسته بياناروغه شوى و ده هم هغه سنت پوره کړه او ورته معامله ورسره وشوه، ددې ضعف په حالت کې عالي علوم پرې اوريدل زوى يې خواجه محمدسعيدعرض وکړ چې ته نشې کولاى په دې کمزوري کې

[۱] غالبا دادنومبرمياشت وه ځکه دى د دسمبرپه مياشت کې وفات شوى و په دې سيمه کې په دې مياشت کې يخ وى

www.abulhasanalinadwi.org

خبرې وکړې ددې حقائقواومعارفوبیانول بل وخت ته پرېږده! ده ورته وویل خوږه زویه ! اوس وخت له کومه شي چې دامضامین بل وخت ته پرېږدو؟.

دکمزوري په دې ورځوکې یې هم دجمعې لمونځ قضاء نکړ یواځې دژوندپه اخري څلوروپنځوورځوکې څه ویل یادچاخبرې اوریدل ونکړای شول خوپه دعا ګانو، ماثوراتو او اورادو، ذکر اومراقبه کې یې څه نقصان نه راغی، د شریعت اوطریقت په ادابواواحکاموکې یې یوه ګړۍ هم سستي ونکړه یوه شپه دشپې په وروستۍ دریمه برخه کې ولاړشو اواودس یې وکړپه ولاړه یې تهجد وکړ اوویې ویل دازمااخري تهجدلمونځ دی اوهمداسې وشول بیایې دتهجد لمونځ ونکړ. له وفات نه لږ مخکې داستغراق غلبه پرې راغله زامنویې ورته وویل چې دا استغراق اوبیهوښې دکمزوري له کبله ده اوکه استغراق دی ؟ ده ورته وویل چې داستغراق له کبله څکه څه حقائق اومعاملات مې په مخکې دي.

ددې کم زوري اوسختې ناروغي په حالت کې به یې هم دسنتوډپیروي، له بدعت څخه ځان ساتلو اوذکراومراقبې د دوام وصیت کاوه او ویل به یې چې سنت په غاښونوباندې ټینګ ونیسی، ده وویل چې رسول اللهﷺ له "الدین النصیحة" سره سم دامت په خیرغوښتنه اوصلاح کې هیڅ سستي نده کړې، ددین له معتبرو کتابونو څخه دپوره متابعت لاره ترلاسه کړئ اوله هغې څخه یوې اوبلې خواته مه کیږئ. او ویې ویل چې زمایه تجهیز اوتکفین کې دسنت پوره پیروي وکړی اویو سنت هم بایدپرې نږدئ. خپلې محترمې میرمنې ته یې وویل چې معلومیږي داسې چې زمامرګ به له تامخکې وي نوبنا، زماکفن ستادمهر له پیسوڅخه تیار کړه اودایې هم وویل چې زماقبرپه یوه نامعلوم ځای کې جوړکړئ زامنویې ورته

www.abulhasanalinadwi.org

وويل چې تاخومخکې وصيت کړی وچې زمونږ دمشر ورورخواجه محمدصادق [۱] خواته دې دفن کړو اواوس بل څه وايې. ده ورته وويل چې هوکې هغه مهال له ما سره هماغسې مينه وه کله يې چې خپل زامن چوپ اوشکمن ورته ښکاره شول نو ويې ويل: که داسې نه شئ کولای نوله ښارڅخه دباندې دمحترم پلارخوانه اويامې په باغ کې يوځای دفن کړئ، اوبل داچې زماقبربه خام پريږدئ څوپه کمو ورځوکې دهغه نښه هم پاتې نه شي، په دې سره هم زامن فکرمن ورته ښکاره شول نوورته مسکی شواو ويې ويل: ستاسوخوښه چې کوم ځای مناسب درته ښکاريږي همالته مې دفن کړئ.

دسه شنبې شپه اودصفرالمظفراوويشتمه نيټه وه چې سباورځ يې داخرت سفر و هغوخادمانوته(چې شپې يې رونې ورسره تيرې کړې وې اوزيات خدمتونه يې کړي و) يې وويل: تاسو زماډيرخدمت وکړبس يوه شپه تکليف نورهم شته اوبيابه خلاص شئ ! دشپې په اخر کې يې وويل ( اصبح ليلا ) شپې يو ډول سباکړه چې کله ورځ راغله دڅاښت په مهال يې دبولو لپاره طشت راوغوښت چې هغه يې راوړ نوشگه نه وه پکې دڅاڅکوورلگيدلو له کبله يې هغه واپس کړ چاورته وويل چې حکيم ته به قاروره وروښيو ده ورته وويل زه اودس نه ماتوم ماپه بستره څملوی. گواکې ده ته معلومه شوی وه چې اوس څه څنډ وروسته له دې نړۍ څخه کوچ کيدونکې دی اود اوداسه وخت نشته چې کله يې په بستره څملاوه نوله سنت طريقې سره سم له ښي مخ لاندې يې لاس کيښوداوپه ذکربوخت شو زامنويې چې دساه تيزوالی وليد نو پوښتنه يې څنې وکړه چې مبارک مزاج دې څنگه دی؟ ده ورته وويل : زه ښه يم ! اوويې ويل ماچې دوه رکعته لمونځ وکړهغه کافي دی له

---

[۱] دحضرت مجددصاحب مشرزوی دی چې دلومړی خور" ربيع الاول" په نهمه کال ۱۰۲۵ ه کې وفات شوی دی.

www.abulhasanalinadwi.org

دې وروسته يې دخداى د نامه له ذكرڅخه پرته بله هيڅ خبره ونه كړه يوه ګړى وروسته يې روح پوكړه، داپيښه دشنبې د ورځې په ځانښت مهال اته ويشتم دصفر كال ۱۰۳۴هـ كې رامنځته شوه [۱] دصفرهغه مياشت دنه ويشت ورځووه په راتلونكې ورځ كې ربيع الاول پيل كيدونكې وه چې مبارک روح يې له عنصري قفس څخه دخپل ځاى په لوري الوت وكړ ﴿ ياأيتهاالنفس المطمئنة إرجعى الى‌ربك راضية مرضية ﴾ په دې وخت كې يې عمر شريف دره شپيته ۶۳ كاله و. [۲]

چې كله دغسل لپاره راوړل شونوخلكوولیدچې ده دلمانځه دقيام په طريقه لاسونه ايښي ودچپ لاس مړوندېې دښي لاس دغتې اوكوچنى‌ګوتوپه حلقه كې نيولى وزامنو يې له مړينې وروسته لاسونه سره پرانيستي ووخوله غسل څخه وروسته بياخلكووليد چې دلمانځه په طريقه يې مبارک لاسونه له مخكيني هيئت سره سم لاندې ايښي وو اوداحالت يې تراخره پورې وپه كتلو سره داسې ښكاريده لكه موسكى چې وي ګواكې:

هم چنان زى كه وقت رفتن تو ـــ همه گريان شوند تو خندان .

لاسونه يې څوځله پرانستل شول خوبيابه په خپله دلمانځه په طريقه سره ورغلل تجهيز او تكفين يې له سنت طريقې سره سم ترسره شول مشر زوى خواجه محمدسعيديې دجنازې لمونځ اداكړ اومبارک بدن يې اخري ارام ځاى ته ورسول شو. ﴿إنا لله وإنــا..﴾ [۳]

---

[۱] چې له لسم دسمبر كال ۱۶۲۴ع سره سمون خوري "حضرت مجدداوران كې ناقدين"

[۲] دمولا نازيدابوالحسن له تحقيق سره سم په قمري حساب دده عمرشريف دوه شپيته كاله څلور مياشتى اوڅوارلس ورځې كيږى اوپه شمسى حساب سره شپيته كاله شپږ مياشتې اوپنځه ورځې كيږى "حضرت مجدداوران كے ناقدين مخ ۲۲.

[۳] دزبـــد ة المقــامـــات مخونه ۲۵۶ _ ۳۰۰ خلاصه.

www.abulhasanalinadwi.org

## دحضرت مجددصاحب عادات اوخویونه

خواجه محمدهاشم کشمي دحضرت مجددصاحب په خدمت کې دهغه دژوند په وروستیو دریو کلونوکې په سفراوحضرکې له هغه سره و ده دحضرت مجددصاحب عادات اوخویونه په تفصیل سره لیکلي دي[1] چې دلته دهغوغورچڼ رااخلواود مولا نا بدرالدین سرهندي کتاب (حضرات القدس) څخه مویوڅه پرې ورزیات کړي دي .[2]

له حضرت مجددصاحب څخه څوځله اوریدل شوي چې ویل یې زمونږ عمل اوکوښښ په څه شی وي څه چې دي هغه ټول دخدای ﷻ فضل دی.که یوڅه دي هغه دسیدالاولین والاخرین ﷺ متابعت دی چې په هغه پورې ټول کارونه تړلي بولم. الله پاک چې کلي اوجزئي څه راکړي دي هغه دده د پیروي او متابعت له لارې څخه دی اوله څخه چې بې برخې شوی یم هغه یواځې د بشري کمزوري له کبله په پوره پیروي کې دنقص له امله دي. یوه ورځ یې وویل چې یو وخت دطبعي اړتیاڅای ته ننوتلم نوسهوا ښی پښه راڅخه مخکې شوه په دې ورځ له ډیرو حالاتو څخه بې برخې پاتې شوم . یوه ورځ یې صالح ختلانی ته وویل چې زماله کځوړې څخه لیږ لونګ راواخله ! هغه ولاړ شیږ لونګ یې راوړل ده چې ولیدل نوپه مانیجنه لهجة یې وویل زمونږ صوفي تراوسه په دې هم ندی خبرچې په حدیث کې راځي: الله وتر ویحب الوتر. د وتر رعایت مستحب دی په مستحبوخلک څه پوهیږي که دنیا اواخرت دواړه دیوه داسې عمل په بدل کې ورکړل شي چې هغه الله ته خوښ وی نودابده خبره نده. یوخادم وایي چې ماله شیخ محمد بن فضل الله قدس سره څخه پوښتنه وکړه چې تاپه سرهندکې څه ولیدل یوڅه یې مونږ ته هم بیان کړه! ده وویل

---

[1] دزبـدة الـمقامـات مخونه ۱۹۲ _ ۲۱۵ پورې وګورئ

[2] دحضرات القدس عبارت د واوینو په منځ کې لیکل شوي دي اودهغه دمخونوحواله ورکړل شوي ده اوله دې پرته نورمضمون له زبـدة الـمقا مـات څخه راخیستل شوي دي

www.abulhasanalinadwi.org

چې زه روندبه څه ووینم خودومره مې ولیدل چې دسنتواداب اود هغو په کوچنکوخبروکې یې یوډیرکوچنی شی هم ندی ورښخه پاتې شوی، بل څوک دومره اهتمام نشي کولای. یوبل حاضرباش وایي: ددې حضراتو باطني احوال زمونږ له ادراک څخه لوړ دی خو دومره ویلای شم چې دحضرت مجددصاحب حالات مې ولیدل نود پخوانیو اولیاو په حالاتو (چې په کتابونوکې لیکلي دي) مې یقین راغی اوراته معلومه شوه چې په هغوکې مبالغه نه وه بلکې دامې احساس کړه چې لیکونکو کم لیکلي دي تږله ورځ به یې په دې بوختیاکې تیریده، یوبل خاص خادم (چې داوداسه، جاینماز اوعبادتو خدمت یې په غاړه و) وایي: یواځې دغرمې دخوب اودشپې په دوم ثلث کې به زه یوځه اوزګاریدم خپلوخادمانو او ملګرو ته به یې ددانمي ذکر، حضوراومراقبي تاکیدکاوه او ویل به یې چې دا دنیادکارځای ده اواخرت کرونده ده. باطني حضورله ادابو اوظاهري اعمالوسره یوځای لرئ، دحضرت رسول اللهﷺ پښې مبارکې به له زیات عبادت څخه وپړسیدلې داپه داسې حال کې چې دي دخدایﷻ محبوب اودلوړې مرتبې خاوندو.

که څه هم حضرت مجددصاحب ته فقهي مسائل معلوم واوپه اصول فقه کې یې تامه ملکه لرله خواحتیاطا به یې په مسائلوپسې معتبرکتابونه کتل اوپه سفر اوحضرکې به ورسره وو. په هغه مسئله به یې عمل کاوه چې مفتی به وه اوسترو فقهاوبه ترجیح ورکړې وه، زیات وخت به یې امامت په خپله کاوه اوددې حکمت یې بوه ورځ دا وواېه چې دشافعیه اومالکیه علماو په نزد دفاتحې له ویلو برته لمونځ نه کیږي له دې کبله هغوی په امام پسې له شاه هم فاتحه وایې اوډیرخرکندحدیثونه هم په دې دلالت کوی خوزمونږ دامام ابوحنیفه په نزد د مقتدي لپاره فاتحه ویل ندي روا اودجمهوروحنفي فقهاو هم دامذهب دی څرنګه

www.abulhasanalinadwi.org

چې زه کوښښ کوم څوپه ټولومذاهبو عمل وکړم نوددې لپاره اسانه لا ره داده چې په خپله امامت وکړم.[۱]

په ګرمي اويخني ، سفراوحضرکې دده عادت و چې زيات وخت به دشپې په وروستي نيمايې کې اوکله په اخري ثلث کې له بسترې څخه راپورته شويه حديثو کې چې ددې وخت کومې دعاګانې راغلي دي هغه به يې ويلې په ډير احتياط او اهتمام سره به يې په مکمله توګه اودس وکړ ټولو اندامونو ته به يې په پوره توګه اوبه ورسولې بل چاته به يې اجازه نه ورکوله چې اوبه ورواچوی داوداسه په مهال به يې مخ قبلې ته و خوچې پښې مبارکې به يې وينځلې نو مخ به يې شمال ياجنوب ته کړ، مسواک به يې په ډيره پابندي سره واهه اوپه حديثوکې چې کومې دعاوې راغلي دي هغه به يې ويلې بيابه يې په ډيرداډ ، حضوراواوږده قرائت سره نفل کول له نفل وروسته به په ډيره خشوع او استغراق سره په مراقبه بوخت شو. له سهار څخه لږ مخکې به له سنت سر مطابق لېږکې ويده شواودصبح صادق له ختلو مخکې به پورته شوتازه اودس به يې وکړ،دسهارسنت به يې په خپله خونه کې وکړه دسنتواوفرضوپه منځ کې يې په پټه توګه سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم ويل.

دسهارلمونځ به يې په اخري تياره "غلس" کې کاوه څودغلس اواسفاريه دواړو مذهبو باندې عمل وشي په خپله به يې امامت کاوه اودسهاريه لمانځه کې به يې طوال مفصل[۲] (لکه په حديث سره چې ثابت دي) ويل[۳]، دسهارله لمانځه وروسته د اشراق تروخته پورې به يې حلقه جوړه وه بيابه يې په اشراق اوږده نفل

---

[۱] خواجه محمدهاشم کشمي په دې فصل کې بل خای ليکي: ده به په امام پسی هم فاتحه ويله اوبايې نيه کنيله . مخ ۲۰۹.

[۲] له سورة الحجرات څخه ترسورة البروج پورې سورتونه طوال مفصل بولې.

[۳] حضرات القدس مخ ۸۲.

www.abulhasanalinadwi.org

وکړل تسبيحات اوماثوري دعاګانې به يې وويلې اوکور ته به يې تشريف يووړ، د کوروالو اوخپلوانو پوښتنه به يې وکړه اوله ژوندسره اړوندو ورځنيوچاروپه اړه به يې هدايات وکړل بيابه خلوت ته ولاړ اوپه پوره توجه سره به د قرانکريم په تلاوت بوخت شو له تلاوته وروسته به يې مريدان وروغوښتل دهغوحالات به يې کتل او هدايات به يې فرمايل په دې مهال به يې ډير نږدې ملګري وروغوښتل مضامين او علوم خاصه به يې ورته ويل اوتوجه به يې ورته کوله اوهغه به يې له خپلو حالاتواوکيفياتو څخه خبراوه،اوده به دلوړهمتي، دسنت دپيروي، دذکرحضور دوام اوخپل حال پټولو تاکيدورته کاوه.

د لا إله إلا الله محمد رسول الله دعظمت بيانولوپه ترڅ کې يې ويل چې ټول مخلوقات ددې کلمې په مقابله کې دومره حيثيت هم نه لري لکه دلوی سمندرپه مقابله کې يوڅاڅکی خپلوخادمانو اوناستوخلکوته به يې دفقهي په مطالعه باندې ټينګارکاوه اوهغوی به يې هڅول چې له علماو څخه دشرعي احکاموتحقيق وکړي، ده به ويل: په کشف کې داسې ليدل کيږي چې ټوله نړۍ دبدعاتوپه تياره ګرداب کې ډوبه ده اود سنت رڼا درڼاکوونکې کوچنۍ ژوې په څير پکې ښکارې له غيبت اودمسلمانانوله عيبونوڅخه يې په کلکه سره ځان ساته خادمانويې هم دده داحترام او ويرې له کبله دده په مخکې دچاغيبت نشوای کولای خپل حالات اوکيفيات به يې خورا پټ ساتل ماددو کلونوپه موده کې يواځې درې ځلورځله داسې ليدلي چې داوښکو څوڅاڅکي يې په مبارک مخ رغړيدل، دعالي مضامينودبيانولوپه مهال مې درې ځلورځله داسې ليدلي چې مخ اوسترګی به يې سرې وې دځاښت له لمانځه وروسته د ضحوة الکبری[1] په مهال به کورته ولاړ اوله

---

[1] دصبح صادق اولمرلويدلوپوره منځني وخت ته ضحـوة الکبری وايي ( إ نــصاف النهار الشــرعی هـو الضحـوة الکبـری ) شامی لومړی ټوک مخ / ۲۴۸.

www.abulhasanalinadwi.org

کوروالوسره به یې ډوډی خوړله ، زامنو یا خپلوانو به یې چې څه تیارکړي وهغه به یې ورته وړاندې کول، زامن یاخادمان که به یې کوم یو نه وو نودهغه برخه به یې ورته کوښې کړه "دخوراک په مهال به یې نوروته ست کاوه او زیات وخت به یې دنورو په غمخوري کې تیراوه کله خوبه هسې معمولي خوراک وکړ او داسې به بریښیده چې د ډوډی خوراک یې موخه نده بلکې یواځې دسنت د پیروي لپاره یوڅو نوړی خوري،[1] دژوندپه وروستیو شپوکې یې چې کله یواځیتوب غوره کړاو روژه به یې وه نوډوډی به یې هم په هغه خلوت کې خوړه لکه څرنګه چې عام رواج دی له ډوډی وروسته یې دعانه کوله ځکه چې په صحي حدیثوکې نده راغلي له فرضووروسته یې هم فاتحه نه ویله لکه ځینې مشائخ یې چې وایې ·

دغرمې له ډوډی وروسته به یې له سنت سره سم قیلوله اودغرمې خوب کاوه موذن به د ماسپښین په لومړي وخت کې اذان وکړ ده به له اوداسه وروسته د زوال سنت وکړل د ماسپښین له لمانځه وروسته به یې له کوم حافظ څخه یوه سپاره یاکم اوزیات تلاوت اوریده او که درس به و نوهغه به یې وایه، دمازدیګرلمونځ به یې هم له مثلینو وروسته په اول وخت کې اداکاوه دمازدیګرله لمانځه وروسته تر لمرلویدوپورې به له مریدانواوخادمانوسره په مراقبه بوخت وو اود هغوی باطني کیفیاتوته به متوجه و دمابنام له سنتووروسته به یې کله څلور رکعته اوکله شپږ رکعته اوابین کول د ماخستن لمونځ به یې دسپین شفق له زواله وروسته سمدستي کاوه دوتروپه دعاء قنوت کې به یې داحنافواوشوافعودواړه دعاګاني ګډې ویلي له وترو وروسته به یې دوه رکعته کله په ناسته اوکله په ولاړه کول دعمرپه وروستیو شپوکې به یې دادوه رکعتونه کله کله کول. له وترو وروسته دوه متعارفې سجدې به یې نه کولې .

درمضان په اخرلسوشپوکي به یې اعتکاف کاوه دماخستن او وترو له لمانځه

---

[1] حضرات القدس مخ ۸۷

www.abulhasanalinadwi.org

وروسته به دستي دارام لپاره څملاست اوپه ماثورودعاگانوبه بوخت شو، درود شريف به يې ډيرزيات وايه په ځانګړې توګه دجمعي په شپه او ورځ ، د دوشنبي په شپه اوورځ دتلاوت په مهال به يې له مباركې څيرې اودتلاوت له اندازې اوريدونكو داسي محسوسوله چې دقراني اسرارو او د ايتونودبركاتوفيضان پرې اوريږي، په لمانځه اوله لمانځه بهربه يې چې دخوف ايتونه ويل يا هغه ايتونه چې تعجب اواستفهام پكې راغلي نودهغوانداز اولهجه به پيداكيدله په لمانځه كې به يې دتهولوسنتو، مندوباتو اوادابورعايت كاوه د تـحية الوضوء اوتـحية الـمسجد اهتمام به يې هم كاوه له تراويحوپرته نورنفل يې په جمع سره نه كول خلك به يې دعاشورا اوشب قدر په شپوكې په جمع نفل كولوڅخه منع كول، دناروغانوپوښتنه به يې كوله اوپه دې موقع چې كومې دعاوې راغلې دي هغه به يې ويلې دقبرونوزيارت به يې هم كاوه، ځينې ديني كتابونه يې هم تدريس كول لكه: تفسير بيضاوي، صحيح البخاري، مشكوة الـمصابيح، ځينې فقهي، اصولي اوكلامي كتابونه لكه: هدايه ، بزدوي، مواقف اودتصوفو عوارف العوارف .

خويه دې كې به يې بحث اومباحثه اوډيرې خبرې نه كولې دعمرپه اخروشپوكې يې تدريسي بوختياكمه شوه طالبانوته به يې د ذكر او مراقبې تاكيد كاوه اودعلم زده كړه يې له سلوك اوطريقې څخه يې مخكې ضروري بلله.زيات حمد اواستغفاربه يې وايه اوپه يوه كوچني نعمت به يې زيات شكراداكاوه،دروژې به يې ډيراهتمام كاوه، له درې ځلې به يې كم قرانكريم نه ختماوه، په خپله د قران كريم حافظ و له دې كبله به يې له روژې پرته هم له يادو څخه تلاوت كاوه اوپه مختلفوحلقوكې به يې هم اوريده [1] "لكه په حديثوكې راغلي دي په روژه ماتي

[1] دزبدة المقامات د ۱۹۲= ۲۱۵ مخونه خلاصه

www.abulhasanalinadwi.org

کې به يې بيره کوله اوپسيمی به يې ناوخته کاوه اوددې يې ډيراهتمام کاوه "[۱]
د زکات اداکولوطريقه يې داسې وه چې کله به څه تحفه ياانذر ورته راغی نودکال
تيريدلو انتظار به يې نه کاوه اوپه همدې وخت کې به يې سمدستي حساب وکړ او
زکات به يې اداکړ او نيکو خلکو، کونډواوخپلوخپلوانوته به يې ترجيح ورکوله
دحج لپاره يې ځوځلې پخه اراده وکړه خو ويې نکړای شو چې ولاړشي اوتل به يې
دامينه ښکاره کوله اوپه همدې ارمان کې له دنيا څخه رخصت شو، په اخلاق
اوتواضع، دخدای په مخلوق شفقت اورضااوتسليم کې اخري درجې ته رسيدلی و،
دده خپلوان اومريدان ظالمو واکمنوډير وکړول خوده دتسليم اورضاڅخه کار
واخيست اوچيرې يې هم ددې شکايت ونه کړ، که دملاقات لپاره به څوک ورته
راغی نو تعظيمابه ورته پاڅيده اودمجلس په سرکې به يې هغه ته ځای ورکاوه اود
هغه له ذوق او طبيعت سره به يې سمې خبرې کولې کافرکه به څه هم واکمن اود
اقتدارڅښتن و احترام او تعظيم يې نه کاوه سلام به يې له هرچامخکې کاوه، نه
مې ياديږي چې چادې پرې سلام مخکې کړی وي، دحق دڅښتنانوبه يې زښت
زيات رعايت کاوه، دچادمړيني خبربه چې ورته راغی نو اغيزمن به شو اودترجيع
کلمه ﴿ اناالله وانااليه راجعون ﴾ به يې ويله اودجنازې په لمانځه کې به يې برخه
اخيستله اودعابه يې کوله[۲].

دده لباس يو کميس وچې په دواړومټوبه يې چاکونه لرل او( دمونږ په څيربه يې )
سينه چاک نه وه برسيره به يې چپنه پرې اغوسته خوپه ګرمي به يې يواځې يو
کميس و پګړی به يې په سر وه لکه څرنګه چې سنت ده، شمله به يې ددواړو وليو
په منځ کې په شاباندې پرته وه ( داستنجا او قضاحاجت له وخته پرته ) پايڅې به

---

[۱] حضرات القدس مخ ۹۱.

[۲] دشيخ بدرالدين سرهندي حضرات القدس مخونه ۹۱= ۹۲. دپنجاب داوقاف محکمې چاپ
۱۹۹۱ ع

www.abulhasanalinadwi.org

يې له ښنګريو پورته وې دجمعې اواخترونوپه ورځوبه يې ښې جامې اغوستلې، چې کله به يې نوې جامه په تن کوله نولومړنۍ جامه به يې کوم خادم يا خپل ميلمه ته ورکړه دده په خدمت کې به هروخت پنځوس شپيته بلکې سلوته نږدې علماء، صوفيان، مشائخ. حافظان اوشرفاء اوسيدان اوسيدل اوټولوبه دده په ميلمستون کې ډوډۍ خوړه.[۱]

## مبارکه څيره

شيخ بدرالدين سرهندي دحضرت مجددصاحب له خلفاوڅخه دی او اولس کاله يې دده په خدمت کې تيرکړي دي، دی په حضرات القدس کې دده دڅيرې په اړه ليکي: حضرت مجدد صاحب غنم رنګی خوسپين والي ته مائل و په تندي اومبارک مخ کې يې دومره نور و چې ستر ګو توان نه درلود چې ورته وګوري وريځې اوابرو يې پراخه وې اودليندۍ (قوس) په څير کوږوالی پکې و، غټې، باريکه اوپراخې سترګې يې وې چې دتوروپه ځای کې يې تور زيات و او دسپينوپه ځای کې يې سپين زيات و پوزه مبارکه يې ډيره باريکه وه، سرې نازکې شونډې يې وې، خوله يې ازاده وه اوکوچنۍ نه وه غاښونه يې يوه بل ته نږدې اودبدخشان دلعلوپه څير بريښيدل، ږيره يې ګڼه له وقاره ډکه اودرميانه وه په اننګوباندې يې زيات ويښتان نه وو اندامونه يې نازک اومنځنی قديې درلود.[۲]

---

[۱] حضرات القدس مخ ۹۲.

[۲] حضرات القدس مخ ۱۵۵.

www.abulhasanalinadwi.org

## دحضرت مجددصاحب زامن

حضرت مجدد صاحب ته خدای پاک اووه زامن ورکړي وپه دوی کې دوه په کوچنيوالی کې دده په ژوندکې وفات شوي دي چې هغه يي شيخ محمدفرخ اوشيخ محمدعيسی دی اوشيخ محمداشرف په تي پورې و چې دبيلتانه داغ يی ورکړ. مشرزوی خواجه محمدصادق يې د علومو اوسلوک له پوره کولو وروسته په کال ۱۰۲۵ هـ کې دپنځه ويشت کلونوپه عمر وفات شو اودرې زامن خواجه محمد سعيد ،خواجه محمدمعصوم، اوخواجه محمديحی ژوندي وو ددی څلوروپه اړه دا ويل مناسب دی چې

این سلسله از طلا ئی ناب است = این خا نه تمام ا فتاب است

حضرت خواجه باقي بالله چې دوی ته وکتل نولوړکلمات يې وويل. اوپه (جواهر علويه) او(شجره طيبه) سره يې تعبيرځنې وکړاو ويې ويل: (فـــقراء باب الله اند دلهای عجيب دارند) لومړی زوی‌حضرت خواجه محمدصادق دحضرت مجدد صاحب په مخکې دکمال درجې ته ورسيده اودده په اړه يې ډيرې لوړې کلمې ويلې دي،اودده دلوړباطني اوعلمي استعداد شهادت يې ورکړی دی په يوه مکتوب کې ليکي: خوږ زوی زمادمعارفومجموعه اودجذب اوسلوک دمقاماتو صحيفه دی.[1]

دويم زوی يې حضرت خواجه محمدسعيددی چې په کال ۱۰۰۵ هـ کې زيږيدلی اوپه کال ۱۰۷۰هـ کې دجمادالاخرپه اوويشتم باندې دبقاپه لوري تللی دی. ده هم دحضرت مجدد صاحب دطريقې په خپراوي اودمريدانوپه تعليم اوتربيت کې خاصه برخه اخيستې ده.[2]

---

(1) مکتوب ۲۷۷ لومړی دفتر دده دحالا تواوکمالا تولپاره زبدة المقامات مخونه ۳۰۳= ۳۰۶وګورئ

(2) دده دحالا تواوکمالا تولپاره زبدة المقامات مخونه ۳۰۸= ۳۱۵ وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

دريم زوى يې خواجه محمدمعصوم وچې دخپل محترم پلاردعلومولرونکي، شارح ، رازدار اوامين و اودخپل پلارخليفه اوځاى ناستى هم و،ده دمجدديه طريقې زده کړې اواغيزې په ټوله نړۍ کې خپرې کړې وې اوشاعرسم ويلي دي چې:

چراغ هفت کشور خواجه معصوم ـ منور از فروغش هند تا روم

ددهلي مشهوره خانقاه چې عرب اوعجم به ورته راتلل اودهغه دارشادپه مسندباندې په خپلو وختونوکې دخواجه سيف الدين، مرزامظهرجان جانان، حضرت شاه غلام علي او حضرت شاه احمدسعيدپه څيرانسانان تيرشوي دي؛ داخانقاه دده وه له دې خانقاه څخه مولانا خالد رومي کردي له حضرت شاه غلام علي صاحب څخه دا طريقه يووړه شام اوترکيې ته يې ورسوله چې دهغې سلسله په عراق، شام، کردستان اوترکيه کې هرښاراوهرکورته ورسيده.[1] دده دمکتوباتو درې اجزاء ( دمکتوبات امام رباني ) يوډول شرح اوتفصيل دى اودبهترينو علومو يوه خزانه ده دده دحالاتو اوکمالاتولپاره يو ځانګړى کتاب په کار دى .

سفينه چاهئے اس بحربيکران کيلئے

ددې ناپايه سمندرلپاره کشتى پکارده.

---

[1] دده دمناقبولپاره د" شرح درمختار" دمصنف علا مه شامي کتاب "سل الحسام الهندي لنصرةمولانا خالد النقشبندي " وګورئ . اوس هم ددې طريقې مشائخ په شام، عراق، ترکيه اوکردستان کې شته دي چې مايې دګڼ شميرمشائخوزيارت کړي دي په دوى کې شيخ ابراهيم غلاييني، شيخ ابوالخير ميداني، شيخ محمدبنهان په ځانګړې توګه دياددولو وړدي .

www.abulhasanalinadwi.org

سلطان محی الدین اورنگزیب له ده څخه بیعت کړی و اودده زوی خواجه سیف الدین په سلوک کې دده روزنه کړې وه . همده له اورنګزیب څخه دهندمسلمان واکمن جوړکړ او له اکبري اغیزو څخه د پاکــولو لپاره یې چــمتوکړ اوپــه خــپل مکتوبات کې یې د( شهزاده دین پناه) په نامه سره یادوي.

دی په شوال کال ۱۰۰۷ هـ کې زیږیدلی اودربیع الاول په نهم کال ۱۰۷۹هـ کې وفات شوی دی [۱] څلرم زوی یې خواجه محمدیحی و دحضرت مجددصاحب دوفات په مهال دده عمر نه ۹ کاله و دعلوموزده کړه اودطریقت تکمیل یې له خپلوورونوڅخه وکړ اوپه کال ۱۰۹۶هـ کې وفات شوی دی . [۲]

---

[۱] دکتاب په اخرکې به دده دژوندحالات په خانګړې توګه له ( نـزهة الـخو اطر ) څخه رااخیستل شي

[۲] دبهوپال حضرت شاه روو ف احمداودده لمسی حضرت شاه پیرابواحمداودهغه کړوسی حضرت شاه محمدیعقوب دده له اولادڅخه دي.

www.abulhasanalinadwi.org

# پنـــځمــه بــرخـــه

## دحـضرت مجـدد د تـــجديد ي دائـرې تـکي په مـحمدي نبوت باندې دايمان او باو رتجديد

### دحضرت مجدد تجديدي كارنامه څه وه ؟

هغه دنظر خاوندان اونياومن پوهان چې ديولسمې پيړۍ (چې دويمه زريزه پرې پيل كيږي) په اسلامي تاريخ په عمومي توګه اودهندپه اسلامي تاريخ په ځانګړې توګه نظرلري [1] په دې خبره متفق اويوه خوله دي چې حضرت شيخ احمد سرهندي داسلام د ساتنې اوتقويت لپاره هغه تاريخ جوړونكې كارنامه ترسره كړې چې هغې ته دحديثو په ساده او ښكاره اصطلاح كې " تجديد" ويل كيږي [2] اوده په دې اړه دومره شهرت ترلاسه كړ چې له همدې توري څخه يې نوم جوړشو اوددې بيلګه له دې مخكې نه پيداكيږي، داكوم كارو ؟ د اسلامي فكر اوروح ځلا اوتازه والي، دوخت دمهمو اودرنو فتنو مخنيوى اوله منځه وړل، د محمدي نبوت اواسلامي شريعت په صداقت باندې له نوي سره اعتماد اوباور پيداكول، په

---

[1] چې دكتاب په لومړيودووبرخوكي لنډه كتنه ورته شوي ده .

[2] د سنن ابي داود مشهور روايت دي چې : ان الله عز وجل يبعث لهذه الأمة علي رأس كل مئة سنة من يجدد لها دينها. ژباړه : الله پاک دهرې پيړۍ په سر كې داسې څوک پيداكړي چې هغه به دې امت ته ددوی دين تازه كوي ."ابوداود او نور"

www.abulhasanalinadwi.org

په رياضت اواشراقيت باندې بنا هغه روحاني تجربې،دحقيقت موندنې اوخداي ﷻ ته درسيدنې د هغو طلسم ماتول چې دعربي محمد ﷺ دسنتو پيروي يې ضروري نه بلله، د "همه اوست" او وحدة الوجود دعقيدې له مخ ځخه پرده لرې كول هغه چې په مبالغه، خپراوي اومقبوليت كې داوج ټكې ته رسيدلې وه په عقائدوكې يې سستي اوپه اسلامي ټولنه كې يې ګډوډې پيدا كوله اوله هغې سره متوازي د "وحدة الشهود"مسلک په مدلل اومرتب جول كې وړاندې كول،دبد عتونو ( چې ديوه ځانګړي شريعت جول يې غوره كړى و ) ښكاره ترديد اومخالفت ان چې له "بدعت حسنه" ځخه هم انكار، اوپه اخركې په هندكې د اسلام دكمزوره قدمونو ټينګولو، داكبردزماني داسلام مخالفواغيزو ختمولو، اوپه هندكې ديوه داسې تجديدي ديني انقلاب راوستلو حكېمانه اوبريالى هڅې چې په نتيجه كې يې يوې خواته داكبرپه پلاز باندې محي الدين اورنګزيب عالمګير كښينول شو اوبل لور ته دحكيم الاسلام شاه ولي الله دهلوي اودهغه دخلفاو او شاګردانو سلسله رامنځته شوه چې په روحاني اوباطني توګه د مجدد صاحب له طريقې سره تړلې دي.

دوى دكتاب اوسنت په خپرولو كې د هغو په تفهيم اوپوهاوي كې بريالى هڅې وكړې دده طريقه، درس اوتدريس، تزكيې او باطني روزنې اودرسمونو اوعقايدوداصلاح لپاره يې خوراسترکارونه وكړل، په اخر كې يې داعلاء كلمة الله دجهادپه ذريعه نه يواځې داچې په هندكې اسلام پلى اوپرمخ بوتلو بلكې دايې په اسلامي نړۍ كې دديني علومو ( بالخصوص علم الحديث ) فكر او دعوت مركز وګرځاوه، خوددې ستراو پراخه تجديدي كارمركزي ټكى اودمجددصاحب هغه اصلي تجديدي كارنامه كومه ده چې په ټولوتجديدي كارونو باندې يې لومړيتوب اولوړ والى لري؟ خلكوله خپل ذوق اوتمايل سره سم ددې ځواب ويلى دى. وللنـــا س فيما يعشـــقو ن مذ ا هـــب چې په دوى كې درې ډلې په ځانګړې توګه ديادولو وړ دي.

www.abulhasanalinadwi.org

لومړي : يوه ډله وايي چې ده ته " مجدد الف ثاني" ويل ځکه سم دي اودی ددې لقب مستحق دی چې ده هند ددویم ځل لپاره اسلام ته برابرکړ اوپه هندکې يې داسلام ونه کېنوله اوهنديې دبرهمت اووحدت اديان غيرې ته دلويدلو په ځای دمحمدعربﷺ اوحجازي دين په منګولوکې ورکړ اودی يې په يولسمه هجري پيړۍ (شپاړسمه ميلادي پيړۍ)کې چې مهمه پيړۍوه له هغه پايلي اوانجام څخه وژغوره چې په ديارلسمه هجري پيړۍ ( نولسمه ميلادي پيړۍ) کې ورسره مخامخ کېدونکې وبلکې په حقيقت کې يې دهند مسلمان ملت له هغه هرارخيز اعتقادي، ذهني او تهذيبي ارتداد له پوره خطر څخه وژغوره چې داکبر په ځيرقوي اوباعزمه شخصيت اودهغه دنوميالیو مشاورينو(ملامبارک، فيضي، اوابوالفضل ) دذهانت له کبله يوحقيقت ګرځيدلی و. دامعنوي اوروحاني انقلاب اودا ذهني اوتهذيبي ارتداد له هغه سياسي زوال څخه ډير دروندواو تلپاتې و چې داتلسمې پيړۍ په اخر کې دهند دنويونامسلمانو ځواکونوله راپيداکېدلو اودنولسمې پيړۍ په لومړيوکې د انګريزانوله تسلط او واکمني څخه راپيداشوی و .

کېدای شي اقبال په خپل دې مشهورشعرکې دې لوري ته نغوته کړې وي :

وه هندمين سرمايه ملت کا نگهبان = الله نے بروقت کیا جس کوخبردار

هغه څوک چې الله پاک په مناسب وخت کې خبروركړ هغه په هندکې دملي پانګې ساتونکې دی .

دويمه : ددويمې ډلې په اند دده اصل تجديدي کاردادی چې ده په طريقت باندې شريعت بالا اولوړکړ اوداکاريې دومره په اعتماد، ځيرکتيا، قوت، اومجربه توګه سره بيان کړ چې له ده مخکې هيڅاهم نه و کړی اوپه دې سره طريقت د شريعت تابع کېدل بلکې خادم کېدل دروښانې ورځې په ځيرڅرګندشومخکې د سلوک اوطريقت په کړيو کې له شريعت څخه استغناوه بلکې انحراف ځنې کېده د رياضت، مجاهدې، په باطني حواسواوځواکونوباندې دکلي اعتماد فتنه پيداشوې

www.abulhasanalinadwi.org

وه اوهنددجوګ اوهندو رهبانیت تر ټولو لوی مرکزګرځیدلی و داهرڅه دده په هڅوسره ودرېدل اوله دي وروسته هېڅچاپه وازکومي نه شوای ویلي چې "دشریعت اوطریقت لارې سره بېلې دي"اوپه طریقت باندې دي دشریعت پیرې نه درول کېږي.

د ر یـــمـــه : دریمه ډله هغه ده چې وایې دده اصلي تجدیدي کارنامه داده چې ده د وحدة الوجود عقیده داسې له منځه یووړه چې په تیرو زمانوکې یې ساری نه لیدل کېږي ،اوددي عقیدې هغه سیلاب یې ودراوه چې په ورستیو پېړیو کې یې ټوله علمي اوروحاني نړۍ لاندې کړې وه اودهغې په خلاف دلیک لوست لرونکي سړي خوله خلاصول دخپل جهالت دثبوت په معنی و اوپه سره غرمه له ورځې څخه دانکار کولوپه معنی و مولانا سید مناظر احسن ګیلاني مرحوم په خپل مشهور مضمون ( ددویمې زریزې یا الف ثاني تجدیدي کارنامه ) کې ډیره ښه خبر ه کړې ده دی لیکي: دوحدة الوجود او وحدة الشهود په فني نکته پلټنو یادشریعت اوطریقت ملایانه اوصوفیانه شخړو په هنګاموکې دحضرت شیخ احمدفاروقي سرهندي رحمه الله تعالی علیه واقعې اوریښتوني تجدیدي کارنامې په داسې ډول ګډې وډې شوې دي چې نن ده ته مجدد الف ثاني ویل له یوې عنعنوي خوش اعتقادي پرته په ظاهره په بل کوم مهم کارباندې ندی ولاړ[1].

## دمحمدي نبوت په ابدیت اوضرورت باندیر باورپیداکول

خو په حقیقت کې دده اصل کارنامه چې دهغیر په څنګ کې دده ټولې تجدیدي کارنامې ځي او راځي، اودده دتجدید اصل سرچینه چې له هغې څخه دده دټولو

[1] تذکره امام رباني مجددالف ثاني رحمه الله تعالی ترتیب کونکي مولا نامحمدمنظور نعماني مخ۲۷ .

www.abulhasanalinadwi.org

انقلابي او اصلاحي کارونو چینې راخوتیدلې دي او ددریاب په څیرپه ټوله اسلامي نړۍ کې بهیږي، هغه دمحمدي نبوت په ابدیت اوضرورت باندې دامت اعتقاد او اعتماد پیداکول اومحکم کول داهغه تجدیدي اوانقلابي کارنامه ده چې له ده څخه مخکې زماپه اندبل یومجددهم په دومره تفصیل، قوت او وضاحت سره نه ده ترسره کړې،ممکن داله دې کبله وي چې دهغه په زمانه کې به دیته اړتیانه وه پېښه شوې اوددې په خلاف به کوم منظم تحریک یافلسفه نه وه رامنځته شوې[۱] په دې تجدیدي ګام سره دهغه ټولو فتنودروازه وتړل شوه چې په هغه وخت کې یې خوله خلاصه کړې وه اوداسلام دپوره اعتقادي، فکري اوروحاني نظام له کومې تیرولوڅاره تیارې وې په دې کې دایران هغه نقطوي تحریک اود هغه پیروان هم راځي چې دمحمدي نبوت او دهغه دبقاء په خلاف یې دبغاوت توغ پورته کړې و اواعلان یې کړې و چې : دمحمدي نبوت یوزرکلن پېر ختم شوې دي اواوس ددیني لارښوونې،د ژوند دنوي تشکېل اوائین جوړولوپېر پیل شویدې، چې اساس به یې په عقل اوفلسفه باندې ولاړوي، مشرتوب به یې دمحمودپسیخواني اودهغه دډلې په لاس کې وې،اوهنداو ایران به یې مرکزونه وي [۲] .

په دې فتنوکې داکبر" اکبري دین اونوي ائین" هم راځي چې په هند کې د محمدي نبوت اوشریعت ځاي نیونکې اودهغه دبدیل جوړیدلو ادعایې کوله ،او ددیني ژوند، اعمالو اوعباداتو، ټولنې اوتمدن هغه دیني بدعتونه هم پکې راځي چې دیوه متاوزي شریعت شکل یې غوره کړی و، او یوه ځانګړې فقه یې تدوین

---

[۱] په دي اړه ترټولو زیات تفصیل علامه ابن تیمیه کړي دي په ځانګړي توګه دهغه نادرکتاب " النبوة " ، " نقض المنطق" او" الرد علی المنطقیین " دي ،خوهغه هم له اشاراتواو اجمال څخه وړاندي نه دي تللي ولکل مقام مقال .

[۲] دکتاب دلومړي برخي دامضمون (دلسمي پیړۍ لویه فتنه ) وګوري .

www.abulhasanalinadwi.org

کېدله اوهغه هم په حقیقت کې درسول اللهﷺدخاتمیت لپاره یوچلینج اودتشریعي منصب مدعي و .

په دې لړۍ کې دوحدة الوجود فلسفه هم راځي چې دهغه دبلونکو اوعلمبردارانو په ویناپه کشفي حقایقوباندې ولاړو دوحدة الوجود په اړه دهغه سرسخته مدعیانو هم ددې خبرې دعوه نه کوله چې خاتم النبيﷺ ددې اعلانیه تبلیغ کړي و ،اوده صحابه وﷺ ته اوله اصحاب کراموﷺ وروسته خلکوته ددې دعوت ورکړي و ، دا فلسفه اودعوت هم په شعوري یاغیرشعوري توګه دنبوي دعوت اودهغه د څرګندو تعلیماتو او موخوحریفه جوړیدونکې وه.

اودې چې څومره بریالیتوب ترلاسه کړي و ، اوجرړې یې په زړونواودماغواو اسلامي ټولنه کې غځیدلې وې هغومره یې په اسلامي حقه عقایدو کې ضعف پیداکړي و د شریعت په احکامو عمل کول کمزوري شوي و اوداعقیده یې هم کمزوري کړي وه چې اسلام یواځنی حق دین اودنجات ذریعه دې دالحاد او زندقیت، حریت او اباحیت، سستي او بې عملي لارې پرانستل شوي وې که څه هم ددې محتاط او متقي صوفیان او مشایخ دشریعت پابندو اود هغه احترام یې کاوه اود داډول عملونو مخالف و په دې ضمن کې دامامیه ډلې عقیدې هم راځي چې په اساسي عقایدوکې یې دامامت عقیده هم ده دوې دامام داسې تعریف کوي او داسې صفات او ځانګړتیاوې ورته ثابتوي چې تقریبا له پیغمبر سره مساوي او برابرګرځي[1]

[1] دامامیه د ډلي په معتبروکتابونو کي چې د"امام" په اړه څه ثابت شوي دي دهغوخلاصه داده چې امام ظاهرا اوباطنا له خطاونه پاک طاهراومطهر دي . دهغه پیروي فرض ده دي معجزات ښکاره کوي ده ته دشریعت په اړه داسې بدني علم حاصل دي چې هیڅ شي ترې پټ نه دي دي به ترقیامته پورې دالله پاک دحجت په توګه په هره زمانه کي ښکاره کیږي .( دشریعت مرتضی له کتاب الشافي، دطوسي

www.abulhasanalinadwi.org

داراز دصحابه کرامو﵃ ديوې لويې ډلې په اړه داسې نظر لري چې په هغه سره د ذات نبوي دملګرتيا په اغيز باندې داغ لګول کېږي اوهغه نظر ددې ايت شريف په خلاف دي چې:﴿هوالذي بعث في الأميين رسولامنهم يتلو عليهم ايــته ويزكيهم ويعلمهم الكتاب والحكمة[۱]﴾

ددې ډلې اغيزې دمختلفو علمي اوسياسي وجوهاتو له امله په تيزي سره خپريدلې او مسلمانه ټولنه (چې زياته برخه يې سني العقيده و) ددوی له عقايدو، افکارو، خيالاتو اوعاداتو څخه په ژوره توګه اغيزمنه کيدله ،داراز ده(مجدد) د "محمدي نبوت باندې دايمان اواعتماددپيداکولو"په ستره کيلي سره هغه ټول دارانده اوپيچلي قلفونه پرانستل چې يوناني اوايراني فلسفې، مصري افلاطونيت [۲] اوهندي اشراقيت پيداکړي وو، په يوه غشي سره يې هغه ټولې فتنې ښکار کړې چې دمسلمانانو ذهينه اوپوهه طبقه يې په ښنه کړې وه.

---

تــلخيص الشــا فــي، اودعلامه شيخ محمد حسين "الكــا شــف الـغطا ء " له كتاب " أصــل الشــيعة واصولــها " څخه اخيستل شوي دي.

علامه محمدا بو زهره په خپل غوره کتاب "تــاريــخ الـمذا هب الإســلا مـية " لومړي ټوک کې په دې ويناودتبصرې په ترڅ کې ليکي : داماميه ډلې ټول علماء په دې متفق دي چې د دوی په نزد دامام مرتبه دنبي مرتبې ته په نږدې کيدلوکې دهيڅااختلاف نشته دوی په صراحت سره وايي چې په "وصی" او"نبي" کې يواځې دومره توپير دی چې په "وصی" باندې وحي نه راځي مخ ۵۹.

(۱) سورت جمعه دويم ايت ژباړه : هغه پاک ذات چې په بې سواده خلکوکې يې له دوی څخه يو رسول راوليږه چې دوی ته دهغه ايتونه تلاوت کوي ( ددوی اخلاق اونفوس) برابروي اوتزکيه يې کوي اودوی ته دکتاب اوحکمت زد ه کړه کوي

(۲) مصر دنوي افلاطونيت (Neo Platonosm) لوی مرکز و چې په هندکې فلاطينس (Polotinus) پارفري (Parophysy) پراکلس (Proclus) اونورپيداشوي دي اوديود نوي مذهب (نوي افلاطونيت ) اساس کيښودل شوي و .

www.abulhasanalinadwi.org

## عــقل اوکــشف دغیـبي او مـابعدالطــبیعي حقائقو پـه ادراک کې عاجز او نـاکام دي

دمجدد صاحب کارنامه داده چې ده ثابته کړه چې عقل اوکشف دغیبیاتو او ماوراء عقل علومو،دالهي ذات اوصفاتوله سمې پیژندنې، اودقطعي ثبوت حقائقو له ادراک څخه عاجزدي اوداچې له دوي څخه ترلاسه شوي نتائج له شک اوخطا، ښویېدنې اوتیروتنې څخه پاک ندي دالله پاک سمه پیژندنه دانبیاو په ذریعه سره ترلاسه کېدلاي شي. څرنګه چې دعقل مرتبه له حواسو څخه ښیله ده دارازدنبوت مرتبه له عقل څخه بیله ده. دخدايﷻ دتعظیم سمه لاره معلومول په نبوت پورې تړلې اودانبیاوپه تعلیماتوسره ترلاسه کېداي شي په الهي معرفت کې دیونان هوښیارانواوعقلاو سخت تیندکونه خوړلي دي اود خنداوړ تیروتنې ترې شوې دي.

څرنګه چې خالص اومجردعقل وجود نه لري داراز خالص اومجرد کشف (چې له داخلي غوښتنواو باندنیو اغیزو خوندي وي) هم خوراسخت بلکې عنقا صفته دي ،اهل اشراق اودنفسي صفایې والو هم داسې تیندکونه خوړلي اود وهم اوجهالت ښکار شوي دي ، لکه دعقل اوفلسفې مدعیان. عقل اواشراق دواړه دیقین ترلاسه کولو اوالله پاک ته درسیدلو لپاره ناکافي دي دالله پاک دذات، صفاتواواحکامو پیژندنې لپاره یواځې نبوت ښه ذریعه اوکافي دي.

ده اعلان وکړچې دعقل خالص اونګه (سوچه) کېدل ناشوني دي اوهغه هم له داخلي عقایدو اوباندنیو اغیزو اوعواملو څخه اغیزمن کېږي. اودده ډیرې پریکړې اوپایلې په هغه خارجي رنګونولړلې رامنځته کېږي چې دهغه په دننه اوبهرکې اوسي. ده ثابته کړه چې عقل په حجتیت کې نیمګړی دي کامل حجت دانبیاو بعثت دی اوله بعثته پرته تزکیه ناشونې ده . ده دنفسي صفایې او قلبي صفایې په

www.abulhasanalinadwi.org

منځ کې فاصل حدقائم کړ اود دواړو توپير يې بيان کړ ده ثابته کړه چې دانبياو نبوت منونکې د استدلال دځښتنا نوله ډلې څخه دي اود انبياو ښووني دخپل عقل تابع ګرځول دنبوت دانکار په معنی دي .

ده دا نکته روښانه کړه چې يوشی دعقل مخالف کېدل يوشی دي اوماوراء عقل کېدل بل شی دي، دمجدد صاحب داتحقيقات اوڅېړنې چې په عقل اوکشف دواړو باندې ولاړدي اودالهي مرستې او دنبوت دنور دځلې رڼا ورسره مله ده په روحاني او علمي نړۍ کې شوراوځوږ جوړونکي، دفکراوعقل کارونې يوه نوې دروازه پرانستونکي، دعقلي اوعملي ډيري رائج الوقت سکې کوټه ثابتونکي، دنبوتونو او اسماني شريعتونو دصداقت اوعظمت اعلانونکي، اوپه هغوله نوي سره باور پيداکونکي؛ علوم اومعارف دي اويوه داسي تجديدي، انقلابي، علمي اوتحقيقي کارنامه ده چې يواځي دهغه وخت دتعليمي نظام، علمي چاپيريال اودماغي هڅو پايله نشي کېداي ځکه په دي کې هغه خبرې شوې دي چې ځينو ته يې فکر اوفلسفه ايله له پيړيو وروسته رسيدلې ده اودځينو په صداقت باندې بالاخره علم اوروحاني تجربو دتصديق ټاپه وهلې ده .

دايواځې دهغه الهي تائيد او رباني هدايت له برکته وو کوم چې دې د" دويمې زريزې " په پيل کې ددين دتجديد اومحمدي نبوت اوشريعت ددفاع لپاره ټاکلي او انتخاب کړي و اودهغه اخلاص، ديني غيرت اودرسول اللهﷺ دپوره پيروي له برکته چې په پيل کې ده ګامونه پرې ايښي و ددي اجمال دتفصيل اودې اشاراتو دروښانه کولولپاره په هغه صورت حال پوهيدلو ته اړتياده چې په هغه کې ددي تحقيقاتو بيه اوارزښت په ښه توګه څرګند شوي دي .

www.abulhasanalinadwi.org

## اساسي پوښتنې اودهغودځوابولو مختلفې هڅې

ددين اودنيا مهمې اولومړۍ پوښتنې چې دهغو په سم ځواب پورې ددې ژوند سموالي، سهي نظم اوداخرت نجات تړلی دی دادی چې ددنيا جوړونکي څوک دي ؟ دهغه صفتونه کوم دی ؟ هغه له مونږ سره څه ډول تړاو اوتعلق لری اوزمونږ له هغه سره څنګه اوڅه ډول تعلق بايدوی ؟ دهغه دخوښی اوخوشالولو لارې چارې څه دي او ناراضه کېدل اوخپه کېدلولارې يې کومې دي ؟ اوياله دې ژونده وروسته بل ژوند هم شته که وي نوڅه ډول دی اودهغې لپاره په دې ژوندکې کومې لاربنوونې دې ؟ ددې پوښتنې دځوابولوپه تفصيل کې دالله پا کﷻ دذات، صفاتو، افعالو، دعالم حدوث او قدم، اخرت، جنت، دوزخ، وحی، دملائکو د وجود بحث او ځينی نور ما بعدالطبيعاتی بحثونه ترڅيرنې لاندې نيول کېږی. چې دې ته عقائداودمذهب اصول وايي. ددې پوښتنودځوابولو اودې مسائلودحل کولو لپاره په ټوليزه توګه په دنيا کې دوه تجربې شوې دي چې يوه يې عقلي اوبله اشراقي ده. دلومړۍ نتيجه فلسفه ده اود دويمې نتيجه اشراقي تصوف دی. خوله اصولي اوتنقيدي پلوه دادواړه تجربې اوهڅې په اساسي توګه غلطې ثابتې شوې دي اوپه ځوپيليزوتېروتنو باندې ولاړې دي،مونږ دلته دمکتوبات له اقتباساتوڅخه مخکې دتمهيد په توګه دهغولنډه سپړنه اوتشريح مناسب بولو.

## دمحض عقل اوخالص کشف دتنقيد انقلابي کارنامه

دعقل په اړه ترهرڅه دمخه داحقيقت يادلرل په کاردي چې هغه دخپلې طبعې دندې (اکتشاف، تحقيق اواستدلال ) په سرته رسولوکې ازاد نه دی، دی داسې شيانوته اړتيالري چې له ده څخه ډېر وړوکی دي . دده کار دادی چې دمحسوساتو، معلوماتو اوتجرباتوپه ذريعه نامحسوس اونامعلوم څيزونه معلوم کړي. دی دخپلو

www.abulhasanalinadwi.org

معلوماتو د زيرمې، مبادیو اومقدماتو په مرسته اوپه علمي توګه د هغوپه ترتيب کولو سره هغې نتيجې ته ورسيږيّ چې تراوسه پورې يې نه وه ترلاسه کړې اوياځې په حواسو اوتجربه سره نشواى ترلاسه کېدلای. دټولومعقولاتو له تحليل اوشننې نه داحقيقت ځرګنديږي چې عقل دې حقائقو او لوړو معلوماتو ته د هغو سپکو محسوساتو او ابتدايي معلوماتو په مرسته سره رسيدلی دی چې له کوم عقلي او علمي ترتيب پرته يې نشواى کولای تردې سترو پايلو پورې ځان ورسوي، نوښکاره اوځرګنده ده چې کوم ځای د انسان حواس هيڅ کارنشي کولای ، کوم وخت له ده سره دمعلوماتو هيڅ زيرمه نه وی اوله مباديوڅخه يې هم بيخي بې برخې وي، کوم ځای چې دحقيقت اندازه نه لري اونه يې تجربه وي، اوکوم ځای چې دقياس بنيادونه نه وي نوهلته دده عقل ، ذهانت او قياس کله کارکولای شي ؟ هلته دده عقل داسې بې سېکه وي لکه انسان چې له کشتۍ پرته په سمندرکې نشي پورې وتلای اوله الوتکې پرته الوتنه نشي کولای . يو انسان چې ديوې ژبې ليک دود نه وي زده کړی اوله الفبا Alphabet سره يې هم نا بلده وي نو هغه که هرڅومره زيات ذهين اونابغه وي اوپه زرهاو ځله عقل او قياس وکاروي اوډيرې خولې تويې کړې نشي کولای چې ددې ژبې يوه کرښه ولولې . کټ مټ همدا ډول پورتنی پوښتنې هم دي چې په محض عقل سره هيڅکله نه شي حل کېدای ځکه دهغومبادي هم لا له انسان سره نشته اونه قياس هلته څه کولای شي.

دويم حقيقت دادی چې دعقل ځواک اوکړنې محدودې دي هغه يوه دائره لري چې له هغې څخه پرته نشي تلای . لکه څرنګه چې دانسان دحواسو بيلې بيلې دائرې دي اودهغوی کړنې اوعملونه پکې خوندي دي په سترګو( حاسه بصارت ) سره په زرهاو ځيزونه ليدل کېدای شي خونه شي کولای چې يو اواز واوري، داراز نورحواس در واخله بيايه دي ځانګړومحسوساتو اودعمل دائره کې هم ددې حواسو ځواک اوعمل غير محدود نه وي دا راز عقل که څه هم دهغه ډګر له ظاهري

www.abulhasanalinadwi.org

حواسوځخه ډیر پراخه دی خوپه هرصورت محدود دی . د ابن خلدون په عالمانه ویناکې چې وایې : عقل یوه سمه تله دده پریکړې یقینې دی چې څه درواغ نشته پکې خوته په دې تله کې دتوحیداړوندکارونه،اخرت، دنبوت حقیقت دالهې صفاتو حقائق اوهغه ټول حقائق چې له عقل ځخه پورته او هاخوادی؛ نه شي تللی. دابې ګټې کوښښ دی ددې مثال داسې دي چې یوه سړي داسې تله ولیده چې سره زر پرې تلل کېدل نوله ده سره دافکر پیدا شو چې په دې تله کې غرونه وتلي چې ناشونې خبرده په دې سره داسې نشي ویل کېدای چې داتله ناکاره ده بلکه ددې دځایولو خپل حد دی، داراز دعقل دعمل هم یوه ځانګړې دائره ده چې له هغه څخه دباندې پل نشی کېښودلای، دی دالله ﷻ په صفاتو باندې احاطه نشي کولای چې هغه دده دوجود یوه ذره دی.[1]

دریمه خبره داده چې په عقل کې سوچه والی اودهغه په پریکړو اوپایلوکې پوره بې طرفي ډیره ګرانه ده، دحقیقت خاوندان په دې پوهیږی چې له (سوچه عقل) او (مجردعقل ) نه زیات عنقاصفته شی په دنیاکې نشته، دجذباتو، خواهشاتو، چاپیریال، ځانګړې ښوونې اوروزنې، ځانګړو عقیدو اونظریاتو، وهم اوخیال، هیره او سهوې له اغیزو څخه عقل ازاد نشي پاتې کېدلای، له دې امله دده په پریکړو همیشه صداقت اودده په نتائجوکې مزبوتوالی پیداکېدل دومره اسانه اوعام ندي لکه څنګه یې چې فکرکېږي. خودتعجب ځای دادی چې فلسفیانو داټول حقائق له نظره غورځولي دي اودخپلې موضوع په ټاکلوکې یې غلطي کړی ده اودخدای ﷻ په ذات. صفاتو او اړوندځیزونو باندې یې پرته له څه اسبابو اوپرته له علم اورڼاپه داسې تفصیل اوژوره توګه اوډیر باور سره بحث کړی دی لکه دکېمیا ماهر یې چې له ډیرو کېمیایې تجربو اوشننو وروسته کوي ددوی دابحثونه

---

[1] مقدمه ابن خلدون مخ ۴۷۳.

www.abulhasanalinadwi.org

اوتحقیقات ټول د فرضیاتو، تخمیناتو اوخیالي طلسمونو ټولګې دي اویواځې په قیاس باندې قیاس کول دي دا د( الهیاتو ) یوښه هوش وړونکی جادو اودعجائبو افسانې دي چې یوڅه نمونه به یې مخکې راشي. ددې عقل پالنې اوفلسفې په مقابله کې یوبل کوښښ دی چې د ( اشراق ) په نامه سره یادیږي.

داشراق اصول دادي چې دحق اویقین دموندلولپاره عقل، علم اواستدلال ګټه نلري بلکې تاواني دی دصداقت اوحقیقت دیقیني حصول اوترلاسه کولولپاره مشاهده شرط ده اودا مشاهده یواځې په باطني نور، نفسي صفایې اودیوې داخلي حاسې په بیدارولو سره ترلاسه کېدای شي چې دروحاني چارو اوماوراء الطبیعت داسې ادراک کوي لکه ظاهري سترګې چې دښکاره څیزونو ادراک کوي اوداحاسه هغه مهال پیدا کېدلای شي چې کله مادیت بالکل فنااوظاهري حواس مړه کړل شي. دحقائقو ترلاسه کول په دې خالص اوسوچه عقل ( حکمت اشراق ) اودې باطني نور سره شوني کېدای شي چې هغه له ریاضتونو، نفس وژنې، مراقبې اوفکر څخه پیداکیږي.

دابیخي سمه خبره ده چې په انسان کې باطني حاسه شته اوممکنه ده چې دې ته ورته نورحواس هم ولري خوپه هرصورت بیاهم یوه انساني حاسه داسې کمزورې او محدوده، خطاکېدونکې اواغیزمنه کیدونکې ده لکه څرنګه چې دانسان ټول ځواکونه اودپوهې دانکشاف لارې چارې دي، په دې محسوساتو اومشاهداتوکې هم غلطي او تیروتنه رامنځته کیږي لکه څرنګه چې دنوروحواسوپه نتائجوکې وي که داسې نه وای نو داشراق اومشاهدې والوپه څرګندونواوتحقیقاتوکې به هغه ستر تضاداوتناقض اوپه لویومسائلوکې ښوئیدنې اوبیلارې ممکنې نه وې چې له

www.abulhasanalinadwi.org

مسلمانو اونامسلمانو اشراقیانو څخه شوي دي.[۱]

په هرصورت دعقل په څیرددې ( ځانګړي عقل ) سوچه والی هم ډیرګران دی په دې باندې هم هغه ډول باندنی اغیزې اوظاهري اوباطني څیزونوسیوری لویږي اودا هنداره هم دحقیقت سم انځور نه شي وړاندې کولای داشراقیانو چاپیریال اوعقائد ددوی په مشاهداتو باندې ورته اغیز شندي، همدالامل دی چې دډیرو اشراقي حکماو په کشف اومشاهده کې دهغو یوناني اومصري اوهامو تائید ترسترګو کیږي چې هغه نه سر لري اونه پښې اوډیرې داسې مفروضې حقیقت ګرځیدلي دي چې په باندنی نړۍ کې هیڅ وجود نه لري.[۲] ،اولکه څنګه چې پورتنی پوښتنې دفلسفې له موضوع اوحدودو څخه وتلې دي دا راز د اشراق له حدودو څخه هم په اشراق سره یواځې دارواحو دنړۍ داسرارو او عجائبو سیرکیږي یوڅه صورتونه ترسترګوکیږي، څه رنګونه لیدل کیږي اویوڅه اوازونه اوریدل کیږي.خودالله ﷻ دارادو تفصیلي علم، دهغه دشریعت له قوانینو، داخرت له منازلو اودهغه له حالاتوڅخه داسې ناخبره ده لکه څرنګه چې عام انسان ناخبره دی.

په حقیقت کې په فلسفه اواشراق کې یو روح اویو فکرکارکوي دواړه دپیغمبر له واسطه کولوپرته په خپلو هڅوسره حقیقت معلومول غواړي ددواړو موخه یوه ده خود سفر لارې یې سره بیلې دي یوپه هواکې دپورته کیدلو(خیالی الوتنی)له لارې خپلې موخې ته ځان رسول غواړي اوبل دکومې پټې له ځمکې لاندې لارې ( روحاني طریقې) څخه.

خوحقیقت دادی چې داحقائق له پیغمبرانوپرته په هیڅ صورت نشي معلومیدلای چاته چې الله پاک درسالت اونبوت منصب ورکړی وي هغه ته یې دخپل ذات او

---

(۱) دتفصیل اوبیلګو لپاره دلیکوال کتاب " مذهب وتمدن " اول باب عنوان " اشراقیت " وګوری.
(۲) ( مذهب وتمدن ) وګوری.

www.abulhasanalinadwi.org

صفاتو اوملکوت السموات والارض دځمکې اواسمان دباچاهي؛ ترټولوزيات علم ورکړی وي اودخپلې خوښې اوناخوښې اواحکامو يې پوره علم ورکړی‌وي اوهغه يې دخپل ځان اوانسانانو ترمنځ واسطه جوړه کړي وي دده رسالت اونبوت دنړۍ لپاره دخدای‌ﷻ تر ټولو لوی نعمت وي، د ذات اوالهي صفاتوکوم خوراستر علم چې دی پرته له کومې ستونزې اوياڅه قيمته ورکوي دهغه يوه ذره هم دزرهاو کلونوفلسفي غور اوفکر او کلونو کلونو مراقبو اونفسي تزکيو له لارې نشي ترلاسه کيدای. ﴿ ذلك من فضل الله علينا وعلى الناس ولكن اكثر الناس لايشكرون ﴾ دايې بيخې سم ويلي دي چې زيات خلک ناشکري کوي .

فلاسفه او اشراقي حکماء دنبوت دنعمت ناقدري اوناشکري کوي اوهغو حقائقو ته په خپلو هڅوسره ځانونه رسول غواړي له کوموڅخه چې اللهﷻنبي پرواکړي دي د زرهاو کلونو هڅواومجاهدو پايله هغه متضاد، متناقض اوخندونکې ويناوې او تحقيقات دي چې دالهياتو پانګه ده، ددی په ځای چې دوی خپل پيروان خدایﷻ ته نږدې کړي له هغه څخه يې زيات لرې کړل، دهغه له ذات اوصفاتوسره نااشنا او بيګانه شول ﴿ الم تر الى الذين بدلوا نعمت الله كفرا واحلوا قومهم دار البوار ﴾

حضرت مجددصاحب رحمه الله تعالى دفلسفې اوروحانيت دواړو له کوڅو نه په ښه توګه خبردی بل لورته دنبوي علومو وارث اود وحی اورسالت مرتبه پيژندونکی دی ده دحکماو اواشراقيانو په دې طرزباندې په ډيره ځيرکتيا سره تنقيد اونيوکې کړي دي چې هغه دده دجامعيت اوعلمي کره والي ښه نښه ده. دابحث دده دتجديدمرکزي او اساسي ځانګه ده. ددې لپاره چې پوره الهي شريعت اوديني نظام ددې بحث په پريکړه باندې ولاړدی چې دقطعي علم اوديقين ترلاسه کولو ذريعه اوسرچينه اودانسان لپاره داللهﷻ دذات اوصفاتو، دخپل پيل اوپای اودخپل برياليتوب د ضروري علم سهي ماخذ کوم دی؟ اياهغه په فلسفي بحثونو،علمي

www.abulhasanalinadwi.org

استدلال اوغوراوفکرسره ترلاسه کیدای شي یاله داخلي رڼایې ، نفس وژنې اوداشراقي حکمت په ذریعه ترلاسه کیږي اویاددې دواړو په خلاف دانبیاء علیهم السلام له تقلیداوپه هغوی باندې دایمان په ذریعه ترلاسه کیږي دایې دپیل ټکې دي له دې ځایه لارې سره بیلیږي اوپه دریو خواو ځي اومخته چې ولاړ شي بیا هره یوه په خپله مخه ځي اوهیڅکله نه سره یوځای کیږي. ﴿ وان هذا صراطی مستقیما فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بکم عن سبیله ذالکم وصکم به لعلکم تتقون﴾ ، په دې سلسله کې چې دمجدد صاحب له قلم څخه کوم عجیب تحقیقات او اعلی علوم اومعارف وتلي دي اودهغه دمکتوبات په پلن دفترکې خواره واره پراته دي د هغو ژباړه له مختلفو عنواناتولاندې وړاندې کوو.

## د نړۍ دجوړونکې د اثبات اودهـــغه دکمالا تو په پیژندنه کې د عقل عاجـزي

دهغه خدای شکر دی چې له مونږ سره یې ښیګڼې کړې دي اوداسلام لورته یې لاربنوونه راته کړې ده اود حضرت محمدﷺپه امت کې یې پیدا کړي یو. انبیاء علیهم الصلوة والسلام دنړیوالو لپاره رحمت دی ځکه خدای پاک د هغوی دبعثت په ذریعه مونږ دناقص عقل څښتنانو او ناپوهانوته دخپل ذات اوصفاتو خبر راکړی دی اوزمونږ د کوتافهمي په اندازه یې له خپلوذاتي اوصفاتي کمالاتوڅخه خبرکړې یو دخپلې خوښې اوخپګان څیزونه یې راته بیل بیل کړي دي اوزمونږ دنیوي او اخروي ګټې او تاوانونه یې سره جلا کړي دي که دانبیاومبارک وجودونه په منځ کې واسطې نه وای نو دنړۍ دکارخانې جوړونکې اوپیداکوونکې په ثابتولوکې به انساني عقلونه پاتې راغلي وو اوددې سپیڅلي ذات دکمالاتوپه پیژندنه کې به ناکام اوعاجزه شوي وو پخواني فلاسفه چې له هرچایې ځانونه پوه اوهوښیارګڼل

www.abulhasanalinadwi.org

دنړۍ له جوړونکې څخه منکر وو اودخپل عقل دکوتاهي له امله يې هرشی زمانې ته منسوب کاوه دځمکو او اسمانونو د پيداکوونکې په اړه د نمرود او ابراهيم على نبيناوعليه الصلوةوالسلام مباحثه مشهوره ده اوپه قرانکريم کې هم راغلې ده

بدمرغه فرعون به ويل: ﴿ ما علمت لكم من اله غيرى﴾ زه له ځانه پرته ستاسولپاره بل حاکم او معبودنه پيژنم، دارازهغه حضرت موسی عليه السلام ته وويل:﴿ لئن اتخذت الها غيرى لا جعلنك من المسجونين ﴾ موسى ! که له ماپرته بل معبود دې ونيو نوتابه خامخا بندي کړم، دې بدمرغه هامان ته وويل: ﴿ يا هامان ابن لى صرحا لعلى ابلغ الاسباب اسباب السموت فاطلع الى اله موسى وانى لاظنه كاذبا ﴾ هامانه ! زمالپاره يوه دنګه ماڼۍ تياره کړه څوپه هغولارو زه اسمان ته وخيژم اوبياغلى دموسى معبودوګورم خوزه ګومان کوم چې دی دروغژن دی، لنډه داچې عقل نشې کولای داستره شتمني ترلاسه کړي اود انبياو له لارښوونې اوهدايت څخه پرته دا لاره هيڅکله نه شي موندلای.[1]

## دالله جل جلاله په پيژندنه کې ديوناني پوهانوبې عقلي

دمخلوقاتو دپالونکې اوپيداکوونکې د وجود ( چې ديونان فلاسفه يې د" مبدء اول "په نامه سره يادوي ) اودهغه دتخليق عمل اومخلوقاتوپيداکولوپه اړه چې دغو فلاسفه وکومې عقلي څيړنې اوباريک بينی کړي دي اودتخيلاتواو مفروضاتو کومه نقشه تياره کړې دي اوپه دې هوايې تاداو باندې کومه اسمانڅکې ودانۍ تعميرکړې ده د هغو تشريح اوتفصيل دفلسفې په کتابونوکې راغلې دي اوپه هغوتنقيداوتبصرې د علم کلام په کتابونوکې کتلای شئ دلته دهغو لپاره ځای

[1] مکتوب ۲۳ ټوک ۳ دخواجه ابراهيم قباديانی په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

نشته،خودمجددصاحب په افکارواوعلوموباندې دپوهیدلولپاره اوددې خبرې معلوموولولپاره چې ددوی‌د تخیلاتو اومفروضاتوپه تردیدکې ( چې یواځې د یوناني ذهن تخلیق اومتخیله ځواک ایجاد دی ) دده په قلم کې دومره زور اوپه بیان کې دومره جوش ولې پیداکیږي د عقل فعال ( چې دیوناني فلاسفه و په نزدپه حقیقت کې دنړۍ پالونکی اوپه مخلوقاتواغیز کوونکی دی ) نسب وړاندې کول کیږي چې دې حکماو جوړ کړی دی اوپه هغه یې دخلق او امر دټول تخلیق اساس ایښی‌دی دهغه په یوه لفظ باندې دموافق اومخالفو دلا ئلوځلي جوړشوي دي.

خودلته یواځې دهغه په نسب اوشجره باندې بسنه کوو" مبدا اول ( واجب الوجود ) په تمامه معنی یو او احد دی اوداهم ثابته ده چې له یوه څخه یو پیدا کیږي اوعالم له مختلفو شیزونوڅخه مرکب دی نوځکه خوعالم له ده څخه ندي صادرشوي اونه کیدای شي چې صادر شي دده له وجودڅخه دده په ناخبري کې بلا اراده او اختیاره عقل اول داسې پیداشولکه له ډیوې څخه چې رڼاپیداکیږي اوله انسان سره سیوری وي. عقل اول یوداسې موجود دی چې په خپل ذات باندې ولاړ دی، نه دی جسم دی اونه هغه ځای جسم دی چې دی پکې دی، دی خپل ځان پیژنی اوخپله مبدء هم برابره ده که ده ته دعقل اول نوم کیښودل شي یاد ملائکې اویابل څه دده له وجودڅخه درې شیزونه لازمیږي.

www.abulhasanalinadwi.org

١= دويم عقل، دفلک اعلی ( چې نهم اسمان دی اوفلک الافلاک هم بلل کيږي.
٢= نفس.
٣= اوددغه اسمان جرم يابدن .

بياله دويم عقل څخه دريم عقل، دستورو د اسمان ( فلک کواکب ) نفس اود هغه جرم پيداشوی دی، بياله دريم عقل څخه څلرم عقل اود زحل د اسمان نفس اود هغه جرم پيداشوی دی، بياله څلرم عقل نه پنځم عقل، دمشتري د اسمان نفس اودهغه جرم پيداشوی دی، بياله پنځم عقل نه شپږم عقل ،دمريخ د اسمان نفس اودهغه جرم موجودشول، بياله شپږم عقل څخه اووم عقل، د لمرد اسمان نفس اودهغه جرم پيدا شول، بياله اووم عقل څخه اتم عقل، دزهره داسمان نفس اود هغه جرم پيداشول، بياله اتم عقل څخه نهم عقل، دعطارد داسمان نفس اودهغه جرم پيدا شول، بيا له نهم عقل څخه لسم عقل، دسپوږمۍ د اسمان نفس اودهغه جرم پيداشول.

داوروستی عقل دی چې نوم يې عقل فعال دی له دې څخه دسپوږمۍ داسمان حشوه لازميږي چې يوه ماده ده چې له عقل فعال اودافلاکوله طبائعوڅخه کيدل اوختميدل ( کون وفساد) قبلوي بياپه دې موادوکې دستوريودحرکاتوله امله مختلف ډوله امتزاج رامنځته کيږي چې له هغه څخه معادن، نباتات اوحيوانات پيداکيږي دالسکوني عقول او(٩) اسمانونه دي، داپه اصل کې ديونانيانوهغه (علم الاصنام ) دی چې دوی يې فلسفه اوالهيات بولي خلکوپه دې سره په شعوري توګه غورفکراو مباحثې پيل کړې ياپواځې فرضي داستانونه او افسانې دي چې بې اختياره سړی ته دقرانکريم دا ايت شريف ورياد شي:﴿ ما اشهدتهم خلق السموات والارض ولاخلق انفسهم وماكنت متخذ المضلين عضدا﴾ [سورة کهف ايت / ٥١ ] ژباړه : ما

www.abulhasanalinadwi.org

هغوی داسمان اوځمکې په پیداکولو اوپه خپله ددوی په پیداکولوباندې ګواه ندي ګرځولي اوزه ګمراه کوونکې خپل دوستان اوخپل مټ نه ګرځوم.

امام غزالي ددې نقشې له نقل کولو وروسته رښتیاویلي چې: دایواځې ادعاګانې اوپه خپل سرحکمونه دي بلکې په حقیقت کې ظلمات فوق ظلمات په تیارو باندې له پاسه تیارې دي که څوک دا ډول خوب لیدل بیان کړي نوخلک به یې دهغه دمزاج خرابي وبولي.[1] بل ځای لیکي: زه حیران یم چې یولیونی به په دې له ځانه جوړو شویوخبرو باندې څنګه قانع شي څه معنی هغه عقلاء اوپوهان چې په خپل خیال په معقولاتو کې له ویښتـه نه پستوکی کارې اوډیرزیات دقیق وي،[2] دې فلسفیانو دالله ﷻ ټول دکمال صفتونه اودټولومخلوقاتو پیداکول نفی کړي دي اودی یې بالکل معطل اوبې اختیاره ګرځولی دی اودایې ټول په خپل فکر دواجب الوجود د ذات دتعظیم اوپاکې لپاره کړي دي.

امام غزالي په دې موکه بې اختیاره شوی اوداسې لیکې: که څوک په دې قانع وي چې دده د وینا دې همدامعنی وي نوده هغه له هرهغه موجود څخه هم سپک ګڼلی چې د خپل نفس شعورنه لري څکه کوم شی چې دځان اوبل شعورلري دهغه مرتبه له هغه شي زیاته ده چې یواځې دخپل نفس شعورلري اودبل څه شعور نه لري په تعظیم کې دومره باریکې دوی هغه ځای ته ورسول چې دوی دعظمت ټولې معناوې اومفهومات له منځه یوړل اودی یې دیوه داسې مړي درجې ته ورساوه چې هغه په هیڅ نه پوهیږي چې په نړۍ کې څه تیریږي، یواځې په دومره توپیرچې دی دځان شعور لري ( اومړی په ځان هم نه پوهیږي ) خدای ﷻ به هغوخلکوته سزا ورکوي چې دده له لارې کاږه شوي وي اوله سمې لارې څخه په څنګ روان وي،

---

[1] تـهافـة الفـلا سفـة مـخ ۳۰.

(۲) تـهافـة الفـلاسفـة مـخ ۳۳.

www.abulhasanalinadwi.org

دوی دالله پاک له دې ویناڅخه منکر دي چې فرمايي: ماأشهدتهم خلق السموات والارض" څوک چې په الله پاک باندې بدګومان کوي، دچاچې داعقیده وي چې دالهي چارو حقیقت اوژوروالی ته انساني څواک په پوره توګه رسیدلای شي، څوک چې په خپل عقل ویاړي، څوک چې په دې اند وي چې دعقل په شته والي کې دانبیاو اودهغو د پیروانو تقلیدته اړتیانشته دهغوی به خامخا داپایله وه چې هغوی به اعتراف کوي چې ددوی د(معقولاتو) غورځنې هغه څه شو چې که دخوب په توګه بیان کړل شي نو خلک به ورته حیران وي،[1] دې ټولوڅیزونوته چې وکتل شي نوله سړي سره د رسالت دنعمت قدر پیداشي. ﴿ الحمد لله الذی هدانا لهذا وماکنا لنهتدی لو لا أن هدانا الله لقد جاء ت رسل ربنا بالحق ﴾

دادعقل بې وسي اودحکماو(چې په حکمت اوعقل ریاضي اوعملي علوموکې بریالي شوي وو) په هغوالهي مسائلوکې له عبرته ډکه نمونه ده چې هغوی څه ډول الله ﷻ ته هغه څیزونه منسوب کړي چې ځان اوډیرسپک مخلوق ته هم دهغو منسوب کول نه خوښوي اودوی څه ډول هغه معطل، بې اختیاره اوبې علم ګرځولی اوبیادا دهغه د تعظیم غوښتنه بولي ! ﴿ سبحان ربك رب العزة عما یصفون وسلام علی المرسلین و الحمد لله رب العلمین ﴾

اوس دمجددصاحب دالاندینیو ویناو ته وګورې چې دهغه له ګڼولیکونوڅخه راټولې شوې دي دی وایي: که عقل دخدایﷻ دپیژندنې په مسئله کې کافي وای نویوناني فلاسفه ( چې عقل یې خپل لارښود ګرځولی ) به دګمراهي په دښتوکې لالهانده نه ګرځیدل اوخدایﷻبه یې دنوروخلکو په پرتله زیات پیژانده حال داچې داللهﷻ دذات او صفاتوپه معامله کې ترټولوزیات جاهلان دوی دي، دوی اللهﷻ بیکاره اومعطل ګرځولی دی اودوی فکرکوي چې یواځې له عقل فعال پرته نورهیڅ

---

[1] قـــافـــة الفـــلا سفـــة مخ ۳۱.

www.abulhasanalinadwi.org

هم ده ندي پيدا کړي اوهغه هم ددوی په اند ده په خپل اختيار ندي پيداکړي بلکې په اضطراري توګه پيدا شوي دي.

دوی عقل فعال له خپله ځانه پيداکړی دی اوداددوی دعقل تراشل شی دی، پيښبې دځمکې اواسمان د خالق له لوري نه بولي بلکې ده ته يې منسوب کوي اواثر له خپل حقيقي موثر څخه راګرځوي دخپل تراشل شوي څيز ( عقل فعال ) اثربولي ځکه دوی وايې چې معلول دخپل نږدي علت نتيجه وي د ليرې علت لپاره په معلول کې دوی څه اثرنه منې اوله خپلې ناپوهې څخه الله پاک ته ددې څيزونو نسبت نه کول دهغه دکمال صفت بولي او دهغه بيکاره اومعطل ګرځول دهغه تعظيم بولي، په داسې حال کې چې اللهﷻ خپل ځان داسمان اوځمکې خالق بولي اوپه ﴿ رب المشرق ورب المغرب ﴾ سره دځان تعريف کوي.

ددې بې عقلانويه اند خدایﷻ ته هيڅ اړتيا نشته اونه دهغه په وړاندې څه عجز اونياز لري دمجبوري اواړتيا په مهال که وغواړي خپل عقل فعال ته رجوع کوي اودخپلو اړتياو پوره کول له هغه څخه غواړي ځکه اصلي ځواک او اختيار ددوی په اند له هغه سره دی بلکې عقل فعال،هم ددوی په فکر په خپل عمل اوکړنوکې مجبوراوبې اختياره دی نوله هغه څخه هم دخپلې اړتيا پوره کول غوښتل له عقله ليرې خبره ده، نوخبره هماغه ده لکه قرانکريم چې وايې: ﴿ ان الکافرين لامولی لهم ﴾ دکافرانوکوم سرپرست او کارجوړونکی نشته ددوی هم ځوک مرسته کوونکی نشته خدایﷻ هم ددوی مرسته کوونکی نه دی اوعقل فعال هم ندی، عقل اخرڅه شی دی؟ چې دڅيزونو برابرول يې په غاړه دي دپيښبوځرګنديدل اوپيداکول دهغه لورته منسوب کول کيږي يواځې دده په ثابتولواووجودکې په زرهاو اعتراضونه اوخبرې دي ځکه دده وجود اوثبوت يواځې دفلسفې په خود ساخته مقدماتوباندې ولاړدی چې داسلام داساسي قواعدو له مخې ناقصې

www.abulhasanalinadwi.org

اوناپوره دي، کوم احمق به وي چې داشياو خلقت له قادر اومختار ذاتﷻ څخه واړوي اود يوه موهوم اوفرضي شي لوري ته يې منسوب کړي بلکې په خپله دا اشياء له دې خبرې څخه په زړهاو ځله عار اوشرم کوي چې په خپل خلقت کې دفلسفې يوه تراشل شوي بې حقيقته شي ته منسوب کيږي بلکې دا اشياء به په خپله نابودي اونشت والي باندې راضي اوخوشاله وي چې قادر اومختار ذات ته ددوی دخلقت منسوب کولو په ځای دفلسفې يوه بی حقيقته اوخودساخته شي ته منسوب کيږي. په قرانکريم کې راځی ﴿ كبرت كلمة تخرج من افوا ههم ان يقولون الا كذبا ﴾ ډيره لويه خبره ده چې ددوی له خولې نه وځي دوی له سپيرو درواغو پرته نورڅه نه وايې، ددارالحرب کفارکه څه هم بت پرست دي خوله دې ډلې (فلاسفه) څخه بيا هم ښه دي ځکه په مشکل وخت کې خدایﷻ ته رجوع کوي اوبتان يې دهغه د شفاعت اوهغه ته دنږدې کيدلو لپاره وسيلې گرځولې دي، له دې زياته دتعجب خبره داده چې يوه ډله خلک دااحمقان (يوناني فلاسفه)د حکماو په لقب سره يادوي اودحکمت نسبت ورته کوي دافلاسفه په اکثرو مسائلو کې خصوصاپه الهياتوکې چې لوړه موخه يې ده غلط شوي دي اوله کتاب او سنت سره مخالف دي، دچاسرمايه اوپانگه چې جهل مرکب وي هغوی ته په کوم لحاظ دحکماو لقب ورکول کيږي؟ هوکې دړوکو اوطنز په توگه کيدلای شي يادامې لکه نابيناته چې څوک بينا ووايې. [1]

## ددينې حقائقو په ادراک کې عقل کافي نه دی

دهغه خدایﷻ شکر دی چې مونږته يې خپل لوري ته لارښوونه کړې ده او که ده مونږ ته هدايت نه وای کړی نومونږ ته هدايت نه کيده، بيشکه زمونږ د

---

[1] مکتوب / ٢٣ / ټوک / ٣ دخواجه ابراهيم قباديانی په نامه

www.abulhasanalinadwi.org

پالونکي رب پيغمبرﷺ له حق سره راغلی دی دانبياو عليهم الصلواة والتسليمات دليږلو داحسان شکر به په کومه ژبه سره ادا کوواوپه کوم زړه سره .... ددې محسن اعتقاد وکړای شي اوهغه اعضاء او اندامونه چيرته د چې دښواعمالو په ذريعه ددې ستر نعمت بدل ورکړای شي که ددې محترمومبارک وجودنه وای نومونږلنډفکره اوکوتافهمه انسانانوبه د اسمان اوځمکې جوړوونکې دوجود اودهغه ديووالي لورته څنګه لاره موندله، اوچابه مولارښوونه کوله.

پخوانيو يوناني فلاسفه و سره له ډيرې پوهې د ځمکې اواسمان پيداکوونکې جل شانه دوجود لوري ته لاره نه وه موندلې اوهغوی دمخلوقاتو وجود ( دهر ) او زمانې ته منسوب کاوه، خوچې ورځ په ورځ دانبياو عليهم الصلوات والتسليمات دعوت روښانه کيده وروستيو فلاسفه و ددې انوارو په برکت د پخوانيو فلاسفه و مذهب ردکړ اودخدایﷻ دوجودقائل شول اودده د يووالي اوتوحيداعترف يې هم وکړ نو زمونږ عقلونه دنبوي انوارو له مرستې پرته ددې کاره لپاره بې وسه دي اوزمونږ پوهه اوفهم دانبياو عليهم الصلوات والتسليمات دوجود له واسطې پرته له دې معاملې نه ليري دي.

## د نبوت او عقل لارې سره جلا دي

دنبوت اوعقل اوفکر لارې سره جلا دي دکومو کارونو په ادراک کې چې عقل قاصر اوعاجز دی دهغو ثبوت دنبوت له لارې کيدای شي، که عقل کافي وای نو انبياء به د څه لپاره مبعوث کيدل صلوات الله عليهم اجمعين اوداخرت عذاب به ولې ددوی له بعثت سره تړل کيده. خدایﷻ فرمايي: ﴿ وماكنا معذبين حتى نبعث رسولا ﴾ مونږ تر هغه وخته پورې عذاب ورکوونکې نه يوڅو چې کوم پيغمبر ونه ليږو، که

www.abulhasanalinadwi.org

څه هم عقل حجت دی خوحجت بالغه اومکمل حجت نه دی اوپه خپل حجت کیدلو کې پوره نه دی، بالغه حجت دانبیاو علیهم الصلوات والتسلیمات له بعثت څخه ثابت شوی اودوی دمکلفوانسانانو دعذر ژبه بنده کړیده. خدایﷻ فرمایي:﴿ رسلا مبشرین ومنذرین لئلایکون للناس علی الله حجة بعد الرسل وکان الله عزیزاحکیما﴾ ژباړه: پیغمبران چې زیری ورکوونکې اوډاروونکې دي ځودخلکو لپاره په خدای پاک باندې حجت پاتې نه شي دانبیاوله بعثته وروسته اوخدای غالب اود حکمت وال دی،کله چې په ځینې مسائلو کې دعقل د ادراک کوتاهي ثابته شي نوبیا ټول شرعي احکام دعقل په تله تلل ښه کار ندی هروخت ددې مسائلو اواحکامو له عقل سره دبرابرلوهڅې اوپه هغه ټینګار د عقل دکافي بللو پریکړه کول دي اوله نبوت څخه دانکار په معنی ده، مونږ دې خدایﷻ په خپله پناه کې وساتي [۱]

## دعقل خالص اونګه کیدل ناشوني دي اوداشراق اونفسي صفایې له مرستې سره سره د الهي حقائقو په پیدا کولو کې بې ګټې دي

دومره دحیرانتیا خبره ده چې دخدای نه مرستې اولوړې درجې فکري سلامتیا پرته یې هره توجیه ناشونې ده هغه داچې په دې لسمه هجري اوشپاړسمه میلادي پیړۍ کې چې په ټوله نړۍ اوځانګړې توګه هند اوایران باندې دهغه حکمت اوفلسفې دتعلیم اغیزه په دماغونوباندې مسلط و چې هغه یوناني فلسفه وه افلاطون او ارسطویې د تقدس اوعصمت مقام ته رسولی وو له عقلي مقدماتوڅخه په منطقي طریقه کومه نتیجه ثابتولواویونان چې کوم څیزونه بدیهي او قطعي بللي وو دهغو له نوم اخیستلو وروسته ژبې ګونګیدلې اوسترګې ړندیدلې، بلکې

---

[۱] مکتوب ۳۶ ټوک ۳ دمیر محمد نعمان په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

دحکمت اوعقليت پالونکو ددې تش په نامه حقائقوپه وړاندې سجدې لګولې، زماپه اندپه مسلمانو علماوکې دلومړي ځل لپاره مجددصاحب دااواز پورته کړ چې دچاپيريال له خورو ورو اوهامو،دعنصري بدن له تړاوه، خيالاتو، عقائدو، دا راز باطني تمايلاتو، راسخو اوپاخه شوواخلاقواوخواهشاتوڅخه دعقل خالص او نګه راوتل تقريبامحال دي تردې پورې چې که له هغه سره داشراق اونفسي صفايې مرسته هم مله وي بياهم له باطني اوخارجي اغيزو، ښوونې اوروزنې،د چاپيريال اوتړولنې له مزبوتوعنعناتوڅخه دهغه پاکيدل او ازاديدل او ريښتوني حقيقت ته رسيدل اوسمه پريکړه کول؛ دالشاذ کالمعدوم حکم لري چې هغه هيڅ اعتبارنلري.

دمجددصاحب داتحقيق اوپه خپل مکتوبات کې په وار وار سره په هغه زور اچول يواځې دهغې زمانې اوچاپيريال له لحاظه ندي بلکې په فکري اوعلمي نړۍ کې يو نوی دريافت اوپيدا کونه اوداسې انقلابي اوجرئتمندانه اعلان دی چې دهغه دارزښت او اهميت اندازه په سمه توګه سره تر اوسه پورې نه ده شوې حقيقت دادی چې هغه ددې وړاومستحق دی چې دځانګړي بحث اوتحقيق موضوع وګرځول شي.

عجيبه اتفاق اوحيرانوونکي خبره ده چې له مجددصاحب نه نږدې دوه سوه کاله وروسته دجرمنی مشهور فلسفي امينول کانټ ( A mmanuel Kant ۱۷۲۴/۱۸۰۴ ع دعقل په خالص کيدلو، له چاپيريال، وراثت، عاداتو، معتقداتو څخه ازاد اوپه خپل سرپريکړه کولو وړتيا نړيوالې علمي اوتحقيقي بحث پيل کړ.ده په ډيرجرئت او وضاحت سره دعقل حدودتعين کړل اوپه کال ۱۷۸۱ ع کې يې خپل نادر کتاب ( دنګه عقل تنقيد ) ( Critique of pure reason ) خپورکړ.[1] چې دفکر اوفلسفې په

---

[1] داکتاب په جرمنی ژبه ليکل شوی دی اوپه اردوژبه کې د ( تنقيدعقل محض ) په نامه سره دهند نامتوقلموال اوبرياليالی ژباړن ډاکټر سيد عابد حسين ژباړلی دی اود ( انجمن ترقی اردو هند ) دهلی لخوا په کال ۱۹۴۱ع کې خپورشوی دی

www.abulhasanalinadwi.org

نړۍ کې زوږ جوړکړ اودجناب ډاکټر محمد اقبال په وینا: دروڼ اندو له کارناموڅخه یې دخاورو څلي جوړکړ [۱] په لویدیځ کې ددې کارنامې دعظمت په لوړه سویه اعتراف وشو اوتردې پورې وویل شول چې دی دجرمني قوم لپاره د خدای ﷻ ترټولو لویه ورکړه او عطیه دی، دنوې فلسفې دتاریخ لیکوال ډاکټر هیر لیډهوفیډنیګ په دې کتاب باندې دتبصرې په ترځ کې لیکي : داکتاب د فلسفې نه پناه کیدوونکې کمال پاره ده چې دانساني فکرپه چټیانوکې یې دلاربښوونې کار ترسره کړ [۲]

دکانټ په نزدفکر خپل کار په ادعایې توګه پیل کوي دده په غیرارادي توګه اوزیات په ساده توب سره دخپلو قواو، مفروضاتو اومقدماتوپه صحت باندې باورکیږي دی په دې یقین وي چې ټولې ستونزې حل کولای شي اودمخلوقاتو اصلي حقیقت ته رسیدل کولای شي، له دې وروسته یوه زمانه راځي چې په هغه کې معلومیږي چې دادفکر ودانې تراسمانه پورې نه شي رسیدلای اوپه هندسوکې دهغودنقشوپه اړه د رایې اتفاق نه شي راتلای دادتشکیک زمانه ده، دی وینې چې اوس یوداسې کارپاتې دی چې ادعا لرونکو ومسسککسو دواړوله نظره غورڅولی دی هغه داچې مونږدخپل عقل او پوهې دمدهیب په د تحقیق وکړو اوداپیداکړو چې په مونږکې دننه په اشیاو دپوهیدلو لپاره څه ډول صورتونه اوځواکونه شته دي اودهغوی په مرسته مونږترکومه ځایه پورې تلای شو.[۳]

اوس له هغه وروسته دیوه داسې مسلمان عالم اومفکر چې دهندپه محدودعلمي او

---

[۱] The Reconstruction of Relijious Thoujht in islam. P. ۵

[۲] تاریخ فلسفه جدید دډاکټر خلیفه عبدالحکیم ژباړه دویم ټوک مخ / ۲۸.

[۳] تاریخ فلسفه جدید مخونه ۳۰ - ۳۱.

www.abulhasanalinadwi.org

مدرسه وال چاپیریال کې اوسیدلی اودحکمت اوفلسفې په ځای یې دنبوت علوم د خدای ﷻ پيژندنه اورضاترلاسه کول دخپل ژوندموخه ګرځولې وه،دخالص عقل په تنقیدکې دفلسفې له پیچ اوتاوڅخه لرې اوسیدلی و؛ هغه عام فهمه اودلچسپ بیان ولولئ!

مجددصاحب ددې پوښتنې په ځواب کې چې: عقل په خپل ذات کې که څه هم په الهي احکاموکې ناقص اوناپوره دی خوداسې ولې نه شي کیدای چې له نفسي صفایې اوتزکیې وروسته عقل ته یوه مناسبت اوله ذات الهي سره یوبې کیفه اتصال پیداشي چې دهغه په ذریعه له هغه ځایه احکام واخلي اودملائکې په واسطه بعثت ته اړتیا پیدانه شي؛ ځواب لیکي: عقل که څه هم هغه مناسبت او اتصال پیداکړی خوله عنصري جسم سره چې دی کوم تړاو لري هغه په مکمله توګه نه شي ختمیدلای او مکمله ازادي اونګه والی نه شي پیداکولای، واهمه تل دهغه په لمن پورې نښتې وي، او متخیله ( خیالي ځواک ) یې هیڅکله نه پریږدي د غصې اوخواهشاتو قوه دسیوري په څیرله هغه سره اوسي اودحرص اوهوس بد صفتونه یې هروخت ورسره وی هیره، غلطي اوخطا چې له انسان سره تړلي دي له ده نه نه بیلیږي اود ژوند خاصې یې دي ، نو عقل دباور وړندی اودده تر لاسه کړي احکام له وهم ، تصرف اودخیال له اغیز نه ازاد نه دي ،هیره اوخطا ورسره ګډ دي اوله غلطي نه نه دي خوندي پرته له ملائکې چې له دې صفاتو پاکه ده او دا نقصانات نشته پکې، نوهغه خامخا داعتبار وړده، او د هغې ترلاسه کړي احکام دوهم اوخیال له ګډوالي پاک اودهیرې اوغلطي له شبهې خوندي دي ،کله کوم علوم چې په روحاني طریقه حاصلوم زه ترلاسه کړم نوچې زما قواو اوحواسو ته ورسیږي له هغومقدماتو سره ګډې شي چې په عامه توګه منل شوي او مسلمې دي نو په دې مهال زه ددواړو په منځ کې هیڅ تمیز نه شم کولای اوبل وخت بیا داسې وي چې خدای یې دتمیز توفیق راپه برخه کړي اوکله بیانه و، نو په دې روحاني

www.abulhasanalinadwi.org

علوموکې ددې مقدماتودګډوالي له کبله هغه غیرواقعي اوله صداقته لرې ښکاره شي چې بیا داعتبار وړنه بلل کیږي (۱)

## اشــراقیان او نــفسي صــفایي

اشراقیت اوروحانیت له پخوازمانې نه دیقین ترلاسه کولو، سهي علم، داخلاقو د تهذیب اودنفس دتزکیې اوپه دې سره دانسانې ټولنې دمنظم کولو اودسهي تمدن د ودانولو؛ یوه سمه اوپاکه ذریعه بلل کیده، په خوا وخت مصر اوهندد اشراقیت لوی مرکزونه وو ددې غورځنګ په پرمختګ اودهغه په مقبولیت کې هغه غبرګون اوعکس العمل هم کارکاوه چې په یونان اوروم کې دزیاتې عقل پرستی اود لیونتوب ترحده حواس پالنې په خلاف پیداشوي و ، بالاخرې اسکندریه ( مصر) خپل مرکز و ګرځاوه چې دختیځ وال اولویدیځ وال عقلیت او مذاهبو دیوځای کیدنې ځای و.

ددې فلسفې اوغورځنګ داعیان اوپیروان داوایې چې دیقین ترلاسه کولو سهي علم ترټولولویه ذریعه ( مشاهده ) ده اوهغه په باطني نور، نفسي صفایې اودباطني حاسي په بیدارولو سره ترلاسه کیږي، دحقائقو ترلاسه کول په همدې نګه اوخالص عقل (حکمت اشراق) اوهمدې داخلي رڼا(باطني نور) سره شوني دې چې له ریاضت ، د نفس مخالفت اومراقبې نه پیداکیږي که چیرته داخبر ومنل شي نودامعنی چې په انسان کې له پنځوحواسو پرته یوه بله شپږمه حاسه په باطني عمل بوخته ده اود هغې دکارپایلې، مشاهدات، نالیدونکې انوار، نه اوریدوونکي غږونه اوله مخکې نامعلوم حقائق څرګندیږي، خوددې ضمانت شته چې داحاسه دانسان

(۱) مکتوب - ۳۶۶ لومړی ټوک دخواجه عبدالله او خواجه عبیدالله په نوم

www.abulhasanalinadwi.org

دنورو حواسو په څير محدوده اوغلطه اوخطاکيدوونکې نده؟ که داسې وای نوددې په پايلو کې به دتضاداوتناقض شک اواحتمال نه پيداکيده خوداشراقيت له تاريخ څخه څرګنديږي چې ددې باطني حاسې په محسوساتو اوکومونتائجواوعقائدوته چې دارسيږي په هغوکې داسې تضاد اواختلاف پروت دی لکه په يوناني فلاسفه و اود ختيځ په حکماو کې چې دی.

دپخواني اشراقيت تاريخ خوندي ندی هغه به پريږدو نوي اشراقيتplatcnism Neo ته به راشو، ددوی دمشرانوپه مذهبي عقائدومرتبواعمالوکې څرګند تضاد ليدل کيږي. پلاټينس Plotinus دخپلې زمانې دمذهبي نظام اومروجو عباداتو قائل ندی اوازاد خياله فلسفي دی چې دعمل په ځای په تفکر اومراقبه باندې زور اچوي خودده شاګرد پارفري Porphyry چې يوزاهد اود وچې صوفي دی. Plotinus وايې چې انساني روح د څارويوپه وجودکې څرګنديږي،خوPorphyry دا خبره نه مني ددې مسلک دريم نامتو مشرپراکلس Proclus دټولومصريرسمونو، مذهبي اوديني غونډو پابندو. اوپه ورځ کې به يې درې ځله دلمرعبادت کاوه دده مذهب دګڼومذاهبو اوعقيدو مرکب معجون و اوداټول اهل مشاهده اويقين و،[1] دعيسائيت مخالفت وکړ اودرومي بت پرستۍ اوجاهليت Paganism_ د Prophy بياژوندي کولوپه غورځنګ کې يې د روم دباچاتاييدوکړ اودده باطني نور دی دشرک اوبت پرستی له دې ډوبيدونکې بيړی سره له خپل قسمت تړلو څخه منعه نه کړ په مسلمانانو کې هم چې دچاپه اشراق اوکشفي قوت باندې پوره باور و ددوی په باطني محسوساتو اوکشفياتوکې هم زيات تضاد ليدل کيږي يوه دکشف خاوند به له بل سره مخالف و اوهغه کشف به يې له حقيقته لرې باله اوکله به يې ويل چې بيهوښي اودحال غلبه پرې زياته شوې ده، عقول له ذهن اود فلسفې له

[1] دتفصيل لپاره دمذهب اواخلاقو ددائرة المعارف داعنوان Neo platcnism وګوری.

www.abulhasanalinadwi.org

کتابونو پرته خارجي وجود نلري خودې دکشف والوبه روغبړ ورسره کاوه اوویل به یې چې مونږ ورسره وینو اوداسې نوردتصوف تاریخ له دې بیلګو څخه ډک دی.

## شیخ الا شراق شهاب الدین سهروردي مقتول

په دې مسلمانواشراقیانو کې دشپږمې هجري او دولسمې میلادي پیړۍ اشراقي حکیم شیخ الاشراق شهاب الدین سهروردي (۵۴۹ _ ۵۸۷ه) چې په مقتول سره یې شهرت درلود؛ ډیر مشهور دی چې داسلام مخالفو او تشنج پیداکوونکو عقائدوله کبله په کال ۵۸۷ ه کې دالملک الظاهرپه حکم سره ووژل شو، ده خپل ځان مشائي اوصوفي باله له ده سره له مشائي تصوراتو سره DenBergh _V _S _ په وینا هغه ټوله صوفیانه فلسفه موجوده وه چې مسلمانانودیونانیانودتطبیق له نظریې، معتقدتاتواومذهبي یووالي نه اخیستې وه، داسلامي دائرةالمعارف د پورتنې لیکوال په وینا: داپه اصل کې د نور نوې افلاطوني نظریه ده چې د اشیاو اساسي حقیقت پکې متصور کیږي . (۱)

شهرزوري لیکي:دی ددواړوفلسفویعنې ذوقي فلسفه (اشراقیه) اوبحثیه فلسفي (مشائي) فلسفې جامع و، "حکمتالاشراق" دده مهم کتاب دی علامه قطب الدین شیرازي د هغه شرحه لیکلی ده چې په علمي اودرسي کړیوکې د "شرح حکمت الاشراق" په نا مه سره مشهوره ده، دشیخ الاشراق په نزد دعقولوشمیر په لسوکې نه دی محدودبلکې دهرې نوعې لپاره یوعقل دی چې دهغه ساتنه کوي او شیخ الا شراق دا مجرده انوار بولي دشیخ الاشراق په اند اسمان یو ژوندی مخلوق دی په ده کې مجرده نفس شته چې ده ته حرکت ورکوي دی له عدم او نیستی څخه

---

(۱) اسلامي دائـرة الـمعارف.

www.abulhasanalinadwi.org

محفوظ دی او په اسمان کې نفس ناطقه ( غېرېداقوت ) هم شته له دې امله دی حواس هم لري دده په اند ټول اسمانونه ژوندي مخلوق دي اودستوريوپه ذريعه دعالي انوارو اغيز پرې لويږي اودهغوپه ذريعه جسماني قواوې په حرکت کې راځي، ترټولو لوی ستوری لمر دی د اشراقيانو په مذهب دده تعظيم واجب دی، په مخلوقاتو کې بالذات يابالواسطه دنورحکومت دی، حرکت او حرارت له نورنه پيدا کيږي اوپه اور کې دا دواړه عناصر ترټولو زيات شته دي.

څرنګه چې په نفس باندې روحونه روښانه کيږي دا ډول په اور سره اجسام روښانه کيږي خدای په هرعالم کې خپل يو خليفه ټاکلی دی دعقولو دنړۍ لپاره عقل اول د خدای خليفه دی، داسمانونو لپاره ستوري اودهغو ناطقه نفوسو، دعناصروپه نړۍکې بشري نفوس، د ستوريو ځلاوې او اور په ځانګړې توګه د شپې په تياره کې دهغه خليفه دی يعنی دهغو اصلاح اوپالنه کوي دانبياو نفوس کامله وته خلا فت کبری حاصل دی اوخلافت صغری له اورسره تړاولری، ځکه په تورو شپو کې دعالی انوارو اود ستوريود ځلاو په ځای دی کارکوي خوراکې توکې اوخام مواد پخوي، د شيخ الاشراق په نزد عالم قديم دی زمانه ازلي او ابدي ده دتناسخ قائل ندی خو انکارهم نه ورنه کوي ځکه د دواړو اړخونو دلائل تسلي کونکې نه دي .(۱)

نوپه دې ډول دخپل وخت نوميالی اشراقي حکيم چې په ختيځ کې يې د"شيخ الاشراق" لقب ګټلی واودده ذهانت، علمي تبحر، زهداوتجرديې معاصرينوهم منلی و،دی‌خپل اشراقيت اونفسي صفايې له يوناني مفروضاتواوايراني مجوسي مزخرفاتو اختيارولو نه ونه ژغوره، دی له محمدي بعثت اوپه هغه مرتب کيدونکې

---

۱) دتفصيل له پاره دمولانا عبدالسلام ندوی مرحوم کتاب "حکماء اسلام" دويم ټوک وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

هدایت، دیني اود نبوي بریالیتوب اوسهي معرفت څخه بې برخی پاتې شو ده
نابرابرله انتشاراوګډوډۍ څخه ډک ناکام ژوند تیرکړاوترشایې له هدایت اود
خلکو دګټې له نظام پریښودلو پرته له نړۍ نه سترګې پټې کړې.

www.abulhasanalinadwi.org

# عقل اوکشف دواړه دیوې کشتۍ سپاره دي

کانټ Kant دخالص عقل په وجودکې زیاته شبه څرګنده کړې وه اوثابته کړې یې ده چې دده نګه والي اوله داخلي اوباندنیواغیزو څخه ازادي تقریباناشونې ده خودی د کشف اوباطني علم له نړۍ سره نابلدو له دې امله هغه له دې وړاندې څه نه دي ویلي.

مجدد صاحب چې ددې سیند لامبوزن هم و یوګام مخکې تللی خالص اود کشف او الهام په سختوالي اوتقریبا ناشونتیا یې تفصیلي رڼا اچولې ده اوثابته کړې یې ده چې داشراق او نفسي صفایې په ذریعه هم هغو غیبي حقائقو او یقیني علومو ته رسیدل ممکن نه دي چې د انبیاو "علیهم السلام" اودهغوی دبعثت له لارې یې عام اوخاص ترلاسه کولای شي نوله بعثته پرته نه سهي معرفت کیدای شي، نه نجات ترلاسه کیدای شي او نه ریښتونې تزکیه. په دې لړکې د هغه له مکتوبات څخه څو راټولونې (اقتباسات) رااخلو: ددې ناپوهانو(حکماو) یوې ډلې د انبیاو"علیهم الصلوت والتسلیمات" دلارې له پیروي پرته دالهیه صوفیه و(چې هر وخت د انبیاو پیروپاتې شوي ) په تقلیدکې دریاضت اومجاهدې لاره غوره کړه، دخپل وخت په صفایې باندې ودروهل شول دغولیدل اوپه خپل خوب اوخیال باندې یې باور وکړ اوخپل خیالي کشف یې دلارې مشال وګرځاوه" ضلوا فاضلوا" په خپله ګمراه شول اونوریې هم ګمراه کړل، دوی په دې نه پوهیدل چې صفایي داد نفس صفایي ده چې د ګمراهي لاره سړي ته ښیې نه د زړه صفایي چې د هدایت درځه ده ځکه دزړه صفایي د انبیاو علیهم السلام په پیروي پورې تړلې ده اود نفس صفایي دزړه په صفایې پورې تړلې ده په دې شرط چې هغه دنفس اصلاح او روزنه وکړي، هغه زړه چې د خدایي انوارو ځای دی که چیرته تور وي او نفس صفایي پیدا کړي ددې مثال به داسې وي لکه یوه ډیوه چې ددې لپاره

www.abulhasanalinadwi.org

او نفس صفايي پيدا کړي ددې مثال به داسې وي لکه يوه ډيوه چې ددې لپاره روښانه کړل شي دده پټ دښمن يعنې لعين شيطان دهغې په رڼا کې دده کور لوټ کړي.

لنډه دا چې رياضت اومجاهده دنظر او استدلا ل په رنګ کې هغه وخت اعتبار پيدا کولای شي چې د انبياوعليهم الصلوت والتسليمات له تصديقاتو سره مله شي هغه چې د الله له لوري تبليغ کوي اودهغه مرسته ورسره ده دانبياو نظام دداسې ملائکو د نزول له امله چې غلطي او ګناه نه کوي، د لعين دښمن له مکراو فريب ځنې خوندي دي. خدای ددوی په اړه فرمايي: " ان عبادی ليس لك عليهم سلطان" ای ابليسه زما په خاصو بندګانو ستا هيڅ وس نه رسيږي او داسې تضمين دبل چالپاره نشته اوله دې لعينه څخه ځان ژغورل ډيرګران دي پرته له دې چې څوک د انبياو پيروي وکړي او د هغو په پله روان شي. شيخ سعدي عليه الرحمه رښتياويلي چي:

مخالست سعدی که راه صفا
توان رفت جز برپئ مصطفی.[1]

په دې بايدپوه شوچې دکشف غلطي هروخت دشيطاني القاءپه اساس نه وي ډيرځله داسې کيږې چې ځينې غير واقعي اوله صداقته لرې احکام په "متخيله" (دخيال ځواک) کې ځای ونيسي هورې شيطان مداخله نه شي کولای خو دغه خيالا ت په خارج کې متمثل کيږي او راځي په دې لړ کې داسې وي چې ځينې خلک په خوب کې درسول اللهﷺ زيارت وکړي اودی له ده نه ځينې داسې احکام واخلي چې هغه د شريعت د سهي حديثو په خلاف وی په دې صورت کې د شيطاني القاء تصور نه شي کيدی دعلماو له تحقيق سره سم شيطان درسول ﷺ په

---

[1] مکتوب ۲۳:۳ دخواجه ابراهيم قباديانې په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

صورت باندې نه شي کيدى نو په دې صورت کې يواځې دمتخيله تصورکيدى شي چې غير واقعي شى يې واقعي وباله [۱] په يوه بل مکتوب کې فرمايي: که څه هم دتزکيې په ذريعه له نفس نه نفس مطمئنه جوړشي خوبيا هم له خپلو صفاتوڅخه په پوره توګه نه شي مجردکيدى ،له دې امله بياهم کيداى شي غلطي څنې وشي [۲].

## دانبياو او فلاسفه و دزده کړې په منځ کې تضاد

له دې ليکنې وروسته د فلاسفه و او انبياو د زده کړو ترمنځ څرګند تضاد ته نغوته کوي چې کلونه کيږي را روان دي اوپه منځ کې يې تطبيق کول ناشوني دى او داچې د دوى عقلي هڅې اولوړې الوتنې له "کوه کندن وکاه براوردن" مرادفې دي دى ليکې: د فلاسفه و ناقص عقل ګواکې له نبوت سره بلکل ضد اوپه مقابل لورې کې واقع دى د نړۍ دپيل په باره کې هم او داخرت په باره کې هم ددوى مسائل اومباحث دانبياء عليهم الصلوات والتسليمات له تعليماتو سره بالکل مخالف دي دوى نه په الله سم ايمان لري اونه په اخرت، عالم قديم او ازلي بولي په داسې حال کې چې ټول اديان اوملتونه په دې اتفاق لري چې عالم له ټولو اجزاو سره حادث دى، داراز داسمانوله ماتيدلو ،د ستوريو له تار په تارکيدلو، دغرونو زره زره کيدلو او دسيندونو دايشيدلوقائل نه دي ،دا هغه څه دي چې دقيامت په ورځ يې وعده شوې ده داجسامو بياژوندي کيدل نه مني اود قران له څرګندونو څخه انکار کوي، ددوى متاخرين چې ځانونه مسلمان بولي خو بيا هم په خپلو فلسفي

---

[۱] متکوب نمبر ۱۰۷ د محمد صادق کشميرى په نامه.

[۲] مکتوب نمبر ۱۴ دشيخ درويش په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

اصولو ټینګ ولاړ دي ،اسمانونه، ستوري او نور... قدیم بولي او دهغوی فنا اوله منځه تلل نه مني، ددوی خوراک د قراني څرګندونو درواغ ګرځول دي اوددوی روزي ددین له اصولي مسائلو نه انکارکول دي، عجیبه مومن دی چې په خدای اورسول ایمان لري خوچې خدای اورسول څه وایې هغه نه مني له دې لوی حماقت نشته شاعربنه ویلي دي :

فلسفه چون اکثرش باشد سفه پس کل ان
هم سفه باشد که حکم کل حکم اکثر است

د فلسفه توري زیاته برخه "سفه " (حماقت اوناپوهي ) ده نو ځکه ټوله فلسفه حماقت ده ځکه اصول دادي چې اکثردکل حکم لري.

دې ډلې خپل عمر دداسې الې (منطق) په زده کړه او ښوونه کې لګو لی چې سړی له فکري غلطي نه ژغوري اوپه دې اړه دوی ډیرې ستونزې ګاللي دي خوکله چې دخدای ذات، صفاتو او افعالو ته رسیدلي دي چې هغه ستره موخه ده نو پښو اولاسو یې کار پریښی دی او دا اله چې له غلطي نه ژغورنکې ده له لاسه یې ورکړې ده او تندکونه یې خوړلي دي اودګمراهي په دښتوکې بیلاړې شوي دي لکه یوسړی‌چې کلونه دجنګ په اسبابو اومسائلو برابرولو تیرکړي اوسم دجنګ په ډګرکې یې لاس اوپښې کار پریږدي اوهیڅ یې له لاسه نه کیږي خلک فلسفي علوم ډیربنه اومنظم بولي اوله غلطي اوتیروتنې یې خوندي بولي که دا ومنو هم نوداحکم دهغوعلومو په اړه دی چې په هغو کې یوائې عقل کافي دی چې زمونږله بحث نه وتلی دی او د لایعني او بې ګټې په حکم کې راځې اوله اخرت سره چې دائمي دی څه تړاو نه لري او داخرت نجات هم په دوی‌پورې نه دي تړلي، خبره دهغوعلوموپه اړه روانه ده چې عقل د هغو په ادراک کې عاجز اوقاصردی.اوهغه له نبوت سره تړاولری اواخروي نجات په هغوی پورې تړلی‌دی.

www.abulhasanalinadwi.org

بیا وراندې لیکي : علم منطق یو داسې علم دی چې دنورو علومو لپاره اله دی او دده په اړه خلک وایي چې دی سړی له خطانه ساتي خودا علم ددوی په ښمر نه شو او په ستر هدف کې یې دوی له خطا اوتیروتنې ونشوای ژغورلای چې دوی کمه څنې وا نه خیسته نوبل څوک به څه ګټه ځنې پورته کړي اوڅه ډول به یې له غلطۍ نه وژغوري ؟ له الله پاک نه دده په الفاظوکې دعا کوو : (ربنا لاتزغ قلوبنا بعد اد هديتنا وهب لنامن لدنك رحمة إنك أنت الوهاب) خدایه زمونږ زړونه وروسته له دې چې هدایت دې راته کړی مه کږوه او ستاله لوري مونږ ته رحمت راوبښه بیشکه ته ښه ورکوونکې یې ...

ځینې خلک چې په فلسفي علوموکې یوڅه لرې اودفلسفې دځلاپه جال کې کیوتي دي داډله حکماء بولي اود انبیاو علیهم الصلوت والتسلیمات سره یې برابر او دهغومقابل یې بولي بلکې نږدې ده چې دهغوی درواغژن علوم رښتیاوبولي اودانبیاوعلیهم الصلوات والتسلیمات په شریعتونویې مخکې کړي خدای دې مونږله کږوعقیدونه وساتي : هوکې ترڅوچې هغه حکماء بولي اوددوی علم ته حکمت وایي خامخابه هغه په دې بلا اخته کیږي ځکه حکمت هغه شي ته وایي چې یوشی له واقعي اوحقیقت سره مطابق وي نوکوم علوم (مثلا دانبیاو وشریعتونه ) چې دحکمت له علم نه مخالف وي هغه دحکماوپه خیال دواقعي حقیقت مخالف دی، لنډه داچې ددوی اوددوی دعلوموتصدیق اورښتیابلل دانبیاواودهغوی دعلومو تکذیب اودرواغ بلل دي ځکه ددې دواړو(انبیاو اوحکماو) علوم دیوه بل پرخلاف دي دیوه له تصدیق نه دبل تکذیب لا زمیږي.

نوکه څوک غواړي دانبیاءددین پیروي وکړي اودخدای ﷻ په ډله کې کیږی اود خلاصون لاره غواړي هم خوښه یې ده اوکه څوک غواړي چې فلسفي شي

www.abulhasanalinadwi.org

اودشیطان له ډلې نه شي اونامراده شي هم خوښه يې ده، خداىﷻ فرمايي: ﴿فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليكفر إنا أعتدنا للظالمين نارا أحاط بهم سرادقها وان يستغيثوا يغاثوا بماء كالمهل يشوى الوجوه بئس الشراب وساءت مرتفقا﴾

ژباړه: که دچازړه غواړي ايمان دې رواړي اوکه دچازړه غواړي کافردې شي بيشکه مونږ دظالمانولپاره داسې اورتيار کړي دى چې اور يې په قناتونوکې را ايساردى او که هغوى له تندې نه فرياد وکړي نو دوى ته به داسې اوبه ورکړى شي چې د ويلې شوو سرپواوفلزاتوپه څيربه وي چې خوله به يې خوړينه کړي اوهغه ډيربد شى دى سلامتيا دهغه چالپاره ده چې هدايت يې غوره کړ اودمحمدﷺ پيروي يې وکړه په دوى، ددوى په ورونو، په انبياء کرامو، ملائکو باندې دې اعلى ترين درود او سلام وي.[1]

## له بعثت پرته ريښتونې تزکيه ناشونې ده

مونږ داوايو چې تصفيه اوتزکيه له هغونيکواعمالو سره تړلې ده چې دخداى خوښ اود هغه په نزد مقبول وي اولکه مخکې مو چې وويل داخبره په بعثت پورې تړلې ده له بعثته پرته د صفايې اوتزکيې حقيقت ترلاسه کول ناشونې دي.[2]

## دانبياودبعثت اړتيا او دعقل بې وسي

مجدد صاحب د هدايت لپاره دانبياو اورسولانو د بعثت اړتيااودعقل که څومره هم دلوړې درجې وي په بې وسى باندې رڼا اچوي، په يوه بل مکتوب کې کاږي: د

---

(۱) مکتوب ۲۳/۳ دخواجه ابراهيم قباديانى په نامه.

(۲) مکتوب ۲۶۶/۱ دخواجه عبدالله او خواجه عبيد الله په نومونو.

www.abulhasanalinadwi.org

نړیوالو لپاره دانبیاو علیهم الصلوات والتسلیمات بعثت رحمت دی که دانبیاو دمبارک وجود ذریعه نه وای نومونږ بیلاري به دالله دذات اوصفاتو دپیژندلو لوري ته چا رهنمایي کولو او دده دخوښی اوناخوښی کارونه به چاسره بیلول؟ زمونږ عقلونه دانبیاو ددعوت د رڼایي له مرستې پرته دې موخې ته نه شوای رسیدلای اوزمونږ ناتمامه پوهه ددوی له تقلیدپرته په دې کې بې وسه اودکارنه وه؛ هوکې! عقل خامخاحجت دی خوپه حجت کیدلوکي ناپوره دی اوداغیز اوتکمیل درجې ته نه دی رسیدلی، بالغه اومکمل حجت یواځې دانبیاوعلیهم الصلوات والتسلیمات بعثت دی چې په هغه پورې داخرت تلپاته عذابونه او ثوابونه تړلي دي.[1]

## بعثت د خدایﷻ د ذات، صفاتو او احکامو د پیژندنې یواځینی ذریعه ده

بعثت رحمت دی، ځکه هغه دخدای دذات صفاتو دپیژندنې ترلاسه کولو ذریعه اوسبب دی ، چې ټولې دنیوي اواخروي نیکمرغي پکې راځي، دبعثت په دې نعمت سره ددې خبرې علم ترلاسه کیږي چې دخدایﷻ مناسب شان څه دی ځکه زمونږ ناتوان اوبې وسه عقل چې دامکان او حدوث داغ پرې لګیدلی څه پوهیږي چې د قدیم ذاتﷻ له شان سره کوم نومونه، صفات او افعال مناسب دي چې په هغوو نومول شي اوکوم نامناسب دي چې له هغوځان وساتل شي. بلکې ډیرځله داسې کیږي چې زمونږ د نقص له کبله زمونږ عقل ته کمال نقص ښکاره شي اونقص کمال، دا امتیاز ( چې په نبوت سره تر لاسه کیږي ) دخاکسارپه اند تر

---

[1] مکتوب نمبر ۲۶۶/۱ د خواجه عبدالله اوخواجه عبیدالله په نومونو .

www.abulhasanalinadwi.org

تولوظاهري اوباطني نعمتونوڅخه زيات دی ، هغه څوک ډيربدبخته دی چې دې سترذات ته د نامناسبو شيزونو نسبت وکړي . يواځې بعثت دی چې باطل يې له حق نه جدا کړی دی، اودعبادت په مستحق اونا مستحق کې يې امتياز راوستی، انبياءکرام دبعثت په ذريعه خلک دالله پاک لارې ته وربولي اودخدای بندګان د هغه په نږديکت سره نيکمرغه کوي اوپه دې بعثت سره دخدای‌درضاعلم ترلاسه کيږی، لکه مخکې موچې وويل. اوددې تميزپيداکيږی چې په څه کې تصرف کول روا دي او په څه شي کې ناروا دي، دبعثت داډول کمې بيخي زياتې دي، نوبه شوه چې دانبياو بعثت رحمت دی، څوک چې داماره نفس خبرې ومني اودلعين شيطان په امرسره له بعثت نه انکاروکړي اودبعثت په احکامواو غوښتنو عمل نه کوي نو په دې کې دبعثت څه ګناه ده او بعثت ولې رحمت نه دی .[1]

## دخدای ﷻ پيژندنه دانبياو په ذريعه ترلاسه کيږي

د انبياو عليهم الصلوات والتسليمات دتواتر اوتسلسل له کبله دخدای لوري ته ددوی دعوت ورکول مشهور شول اوددوی خبره اوپيغام لوري شو نودهغې په مانې بې عقله چې دنړۍ د پيدا کوونکي دثبوت په اړه دوه زړې وو ...ه حسنه تيرونه پوه سول اوبې اختياره د خدای دوجود قائل شو اودمخلوقاتو پيدا کول يې هغه ته منسوب کړل. دا رڼا دانبياو له انوارو څخه اخيستل شوې اودادولت دانبياو دنعمتونوله د سترخوان څخه اخيستل شوي، د خدای درود او سلام دې وي په دوی باندې ترقيامته پورې بلکې هميشه دې وي.

---

[1] مکتوب دخواجه عبدالله او خواجه عبيدالله په نومونو .

www.abulhasanalinadwi.org

دارازتول منقولات مونږ ته دانبياو په ذريعه رارسيدلي دي دبيلګې په توګه د ذات الهي كماليه صفات، دانبياوبعثت، دملائكو(عليهم الصلوات والتسليمات و البركات) معصوم كيدل، حشر اوقيامت، دجنت اودوزخ شته والى، دجنت تلپاته راحتو نه اوخوندونه، د جهنم عذابونه، دااودې ته ورته نورڅيزونه له شريعت نه ترلاسه كيږي عقل نه شي كولاى داترلاسه كړي،اوله انبياونه له اوريدلوپرته دهغو په ثابتولوكې ناقص اوناكافى دى.(۱)

## سـهـي تـرتـيـب

ترټولومخكې بايد په رسول د ايمان را وړلو فكر وشي او دهغه رسالت تصديق كړل شي څوپه ټولو احكامو كې هغه ريښتونى و بلل شي او دده په ذريعه د شك او شبهاتوله تيارونه نجات ترلاسه شي اساس او تاداو بايدپه پيل كې معلوم كړل شي څو ټول فروع او څانګې بې تكليفه معلومې شي، دهرې څانګې اوهرې فرعې له اصل ثابتولو پرته د هغه معقول ګرځول ستونزمن كاردى، دې تصديق ته د رسيدلواو د زړه ډاډ ترلاسه كولو لنډه لاره د خداى ياد اوذكر دي. خداى فرمايي: ﴿الابذ كرالله تطمئن القلوب ، الذين امنووعملو الصلحت طوبى هم و حسن مأب﴾ ژباړه: ياد ولرئ دخداى په ذكر سره زړونه ډاډه كيږي. چاچې ايمان راوړى او ښه عمل يې كړى دهغولپاره خوشالي ده او ښه د اوسيداځاى. د غوراواستدلال له لارې دې لوړې موخې ته رسيدل لرې خبرده، دشاعر په وينا:

پـا ى ا ستدلاليا ن چـو بـيـن بـو د

(۱) مكتوب ۲۳/۳ د خواجه ابراهيم قباديانى په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

پــا ی چــو بین ســخت بی تمکین بود .[۱]

## دانبیاو درسالت تصدیق کوونکي داستدلال خاوندان دي

معلومه دې وي چې دانبیاوتقلیدکوونکې دهغوی له نبوت ثابتولووروسته او د هغوی له تصدیق نه وروسته دوی د استدلال په خاوندانو کې شمارل کیږي. د انبیاو د نبوت په استدلال منلونه وروسته ددوی خبره بې دلیله منل په دې وخت کې کټ مټ استدلال دی، مثلا یوچا اصول په استدلال سره ثابت کړل په دې کې چې څومره فروع له دې اصل نه پیداکیږي هغه له دې لومړي استدلال سره تړاولري. اوداسې‌ددې اصل له استدلال سره ددې ټولوفروعوپه ثابتولوکې داستدلال خاوندبلل کیږي.﴿الحمد لله الذی هدانا لهذا وماکنا لنهتدی لولاأن هدانالله لقدجاءت رسل ربنا بالحق والسلام علی‌من اتبع الهدی﴾ ژباړه: د هغه الله شکر دی چې مونږ ته یې داهدایت وکړکه یې مونږ ته هدایت نه وای کړی نومونږ به هدایت نه وترلاسه کړی بیشکه زمونږ دخدای پیغمبران په حقه سره راغلي دي اوپه هغه چادې سلام وي چې دحق پیروي یې کړي وي .[۲]

## دانبیاوخبرې دعقل تابع ګرځول له نبوت نه انکاردی

حساب، میزان، صراط حق دي څکه چې ربښتیا خبر ورکوونکی ﷺ ددې خبر ورکړی دی دځینې نبوت نه پیژندونکوداځیزونه بعید ګڼل داعتباروړنه دي څکه د

---

[۱] مکتوب نمبر ۳/ ۳۶ د میر محمد نعمان په نامه .

[۲] ۲۶۶/۱ دمیرمحمدنعمان په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

نبوت اوعقل لارې سره جلا دي. ددوی سره برابرول په حقیقتکې له نبوت نه د انکار په معنی دي. (دا مسائل له عقل نه پورته دي ) دانبیاو خبرې بایدبې دلیله ومنل شي.[1]

## له عقل مخالف او له عقل ماوراء کې ډیر توپیر دی

دافکربایدونه شي چې دنبوت لاره دعقل له لارې نه مخالفه ده بلکې خبره داده چې عقل (علم استدلال ) دانبیاوله تقلیدپرته نه شي کولای دې لورې موخې ته ورسیږي مخالفت بیل شی دی او نه رسیدل جلا شی دی ځکه مخالفت له رسیدلو وروسته متصورکیدای شي.[2]

## دخدای دتعظیم طریقه دانبیاوپه تعلیم پورې تړلې ده

دانبیاو له وجوده پرته چاره نشته چې دربښتوني محسن (چې وجودیې په عقل ثابت دی ) دشکرلورې ته لارښوونه وکړي اوددې احساناتو دکوونکې علمي او عملي تعظیم دده له خوا معلوم کړي ځکه له هغه نه چې تعظیم ترلاسه نه شي بل ډول تعظیم دهغه دشکرله شان سره مناسب نه دی ځکه انساني ځواک دهغه له ادراک نه عاجز دی. بلکې ډیرځله بې ادبي انسان ته تعظیم ښکاره شي او له شکر نه د بد وینې (هجو) په لوري ولاړ شي، نوځکه دده تعظیم معلومول په نبوت پورې تړلي دیاوډ انبیاو په خبر ورکولو اوتعلیم پورې اړه لري، اولیاوته چې کوم

---

[1] مکتوب نمبر ۱ج/۲۹۶ مخ

[2] همدا مخکې مکتوب دجناب حضرت خواجه باقي بالله دزامنو خواجه عبدالله او خواجه عبید الله په نومونو

www.abulhasanalinadwi.org

الهام کيږي هغه هم دنبوت له انوارو نه اخيستل شوي وي اود انبياو عليهم الصلوات والتسليمات دپيروي له برکته وي.[۱]

## څرنګه چې د عقل مرتبه له حواسو ماوراء ده دا راز دنبوت مرتبه له عقل نه ماوراء ده

څرنګه چې دعقل مرتبه له حواسونه ماوراء او پورته ده حواس چې دکوم شي ادراک نه شي کولای عقل دهغه ادراک کوي دا راز دنبوت مرتبه له عقل نه ماوراء اوپورته ده دکوم شي چې په عقل سره ادراک نه شي کيدی دهغه ادراک دنبوت په ذريعه کيدای شي څوک چې دعقل له لارې پرته دعلم دزده کړې اوترلاسه کولو بله لاره نه مني هغه په حقيقت کې له نبوت نه منکراو دهدايت مخالف دی.[۲]

## دنبوت مقام

ديونان حکمت اوفلسفه له پيړيو راهيسې دانبياوله دعوت اود نبوت له رڼانه لرې زرغونه شوې اوثمرته رسيدلې وه په دې فلسفه کې شپه ورځ بوختيااوهغه دعلم او پوهې سدرة المنتهى بلل کيده بل لورته دکتاب اوسنت له لاربنوونې. دهغه له ضروري پوهې اودحديثواوسيرت له مينې پرته په بدني ريا ضتونو. نفس وژنه او ډيلو تيرولوکې دټول وخت تيرولوله کبله په مخکينيو پيړيوکې ( چې پيل يې له اتمې پيړۍ شوی ) د نبوت له مقام نه نه يواځې ناشنايې اوبې مينې والی پيدا شوی و بلکې يو ډول پرديتوب او اجنبيت پيداشوی و. اوڅرنګه چې دانبياوحالات

---

(۱) مکتوب ۳ج/۲۳ مخ دخواجه ابراهيم قباديانی په نامه.

(۲) مکتوب نمبر ج۳/۲۳ مخ دخواجه ابراهيم قباديانی په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

اوپه خپله سیرت نبوي ددې حکماو او اشراقیینو مخې ته په داسې ډول راتلو چې دې سپیڅلیو نفوسو دعامو انسانانو په څیرژوندکاوه ودونه یې کول ، اولاد یې درلود ، په ښارونوکې ګرځیدل، کله کله خوبه یې تجارت هم کاوه، څاروي یې هم پوول ، په جګړو کې یې هم برخه اخیسته، له پیښونه هم اغیز من کیدل، دخوشالې په خبروخوښیدل اودرنځ اوغم په خبروخپه کیدل، نه یې شاقه اوسخت عباداتونه کول، نه یې عمري روژې نیولې، نه یې ځیلې تیرولې دکومو یادونه چې دمنځنی درجې اولیاواود ریاضتونوخاوندانو په ژوندکې کیږي بیابه یې درسالت په تبلیغ کې دخدای مخلوق ته توجه کوله ځکه له هغه پرته یې فریضه نه شوای ترسره کولای، اوپه ټولیزه توګه یوه توجه دبلې توجه په مخکې خنډ وي.

له دې امله داشراق اوروحانیت په هغوکړیوکې چې له دیني علوموپه څانګړې توګه له حدیثوسره یې علاقه نه وه اوهلته چې متقدمینواولیاو اواشراقیینو دروحاني لوړتیا، مکمل تجریداویواځې والي اوفنائیت کې شپه ورځ دخلکو ورد ګرځیدلی وي، نودافکرعام شوی و چې دولایت مقام دنبوت له مقام نه ښه دی او ولایت دې ته وایې چې له خلکو توجه پرې کړي اوپه پوره توګه دحق لوري ته متوجه وي اودنبوت موضوع خودعوت ده چې له خلکوسره تړاوپکې راځي د ولي مخ دحق په لوري وي اود نبي مخ دخلکو په لوري اولومړی حالت له وروستی نه لوړاو ښه دی، ځینې خلکوخو دومره احتیاط کاوه چې مطلق ولایت له نبوت نه ښه نه دی، ددوی موخه داوه چې د نبي ولایت دهغه له نبوت نه ښه دی. دنبي چې کله دخدای‌لوری ته توجه وي نو دا حالت یې له هغه حالت نه غوره دی چې کله دې د دعوت په مهال خلکوته متوجه وي. خوداډول فکرخامخادامعنی ورکوي چې دولایت دمقام عظمت دهغه له کمالاتواو ترقیونه مرعوبیت دمسلمانانو په پراخه

www.abulhasanalinadwi.org

ديني حلقه يې اغيزه شندله اودا يوه داسې خطره وه چې داسلام مجددينو او د انبياو وارثانو ته له هغې سره مقابله كول ضروري و.

زماله معلوماتو سره سم په دې لړکې چې چالومړی اواز پورته کړی او په مدلله او ولوله پارونکې توګه راوړاندې شوی‌هغه داتمې هجري په منځ کې دهندوستان نوميالی عارف اومحقق صوفي حضرت شيخ شرف الدين يحی منيري(۶۶۱ ه ۷۸۶ه) و، ده په خپل مكتوبات كې ددې سخت ترديد وكړ(۱) ده ترديې پورې لا وليكل چې دانبياو يوځل ساه اخيستل داولياوله ټول ژوندنه غوره دي دانبياو خاورين بدنونه په سپيڅلتياوخدای نژديوالي كې داولياءكرامو له زړه، سر او راز ونياز سره برابر دي.

له حضرت مخدوم بهاري نه وروسته حضرت مجددصاحب ددې سترعلم او سيخې لارې مجدداوخاتم شو ده په خپلو مكتوباتوكې ثابته كړه چې انبياء كرامو په اعتقادي، روحاني، ذهني اوخلقي توګه دالله پاک دصفت او دوجود دصفت بهترينې نمونې دي، ددوی له خدای سره داسې تړاو و ي چې هيڅ ډول توجه اوبوختيايې په منځ كې خنډ كيدی نه شي اودا دهغوی دهغه شرح صدر نتيجه ده چې خدای ﷻ يواځې دوی ته وركړې ده، ددوی دلوړظرفي، دسينې پراخوالی او ددوی كار چې دوی ته سپارل شوی غوښتنه داده چې دوی هر وخت بيدار وي او هميشه يې دماغ متوجه وي چې داهل سكر اوولايت له خاوندانو سره داشې نشته، ددوی چې له كومه ځايه پيل كيږي هغه د اولياو انتهاده.

---

(۱) دتفصيل له پاره د (تاريخ دعوت وعزيمت )دريم ټوک لسم باب مخونه ۲۹۸ _ ۳۰۲ وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

دنبوت په پیروي کې فرائضوته نږدیوالی ترلاسه کیږي چې هغه ته دنوافلو نږدیوالی هیڅکله رسیدای نه شي د نبوت دکمالاتو او ولایت د کمالاتوپه منځ کې دومره توپیردی لکه د څاڅکې اوسمندرپه منځ کې، اوس دې لوستونکې داعلوم د مجدد صاحب دقلم له ژبې نه واوري

## په ټولو مخلوقاتو کې غوره مخلوق انبیاء دي او غوره نعمت ورته سپارل شوی

په ټول مخلوقاتو کې انبیاو غوره مخلوق دی اودوی ته بهترین نعمت سپارل شوی دی، ولایت دنبوت جز دی او نبوت کل دی نوخامخانبوت له ولایت نه غوره دی که هغه دنبي ولایت وي اوکه د ولي نو صحو (همیشه بیداري) له سکر نه غوره ده ځکه په صحو کې سکر پروت دی لکه ولایت چې په نبوت کې پروت دی پاتې شوه بیداري اوهوښ لکه دعاموخلکو چې وي هغه له بحث نه وتلی شي دی. دې ته په عامیانه صحوباندې ترجیح ورکول څه معنی نه لري هغه صحو چې سکرپکې وي خامخاله سکر نه ښه ده شرعي علوم چې نبوت یې ماخذ دی ټول صحو دی ددې علوموپه خلاف چې څه وي هغه سکر دی دسکرخاوند معذوردی . دصحو علوم د تقلید دی اود سکرعلوم ددې ورنه دي.[1]

---

[1] مکتوب ج ۱ : ۹۵ مخ سید احمد بجواړه په نامه

www.abulhasanalinadwi.org

## خلکوته توجه کول دانبیاو دحق دتوجه خنډ نده

ځینې مشائخودسکراو مستۍ په مهال ویلي دي چې ولایت له نبوت نه غوره دی،اوځینو یې ویلي دي چې له دې ولایت نه دنبي ولایت مراد دی، څو په نبي باندې د ولي دغوره والی وهم لرې شی خوپه حقیقت کې خبره سرچپه ده، ځکه دنبي نبوت د هغه له ولایت نه غوره دی، په ولایت کې دسینه تنګۍ له امله دخلکوخواته توجه نه شي کیدای، اوپه نبوت کې سینه دومره فراخوالی او ازدي لري چې دحق توجه دخلکو دتوجه خنډ نه شي کیدای، او داراز خلکوته توجه دحق دتوجه په مخکې نه شي خنډ کیدای، په نبوت کې یواځې خلکوته توجه نه وي چې په هغه باندې ولایت چې حق ته توجه پکې وي، ښه وبلل شي.عیاذا بالله سبحانه، مکمله خلکوته توجه کول دخارویو ته ورته عوامومرتبه ده دنبوت شان له دې نه ډیرلوړ دسکردخاوندانولپاره په دې حقیقت پوهیدل ډیر مشکل دي، دا پیژندنه د استقامت دخاوندانو اوهوش لرونکو برخه ده . هنیئا لأرباب النعیم نعیمها [۱].

## دنبي باطن له حق سره اوظاهرله خلکوسره وي

ځینی اهل سکر وایې چې دولایت علم چې دسکر په لوري مخه کړې دنبوت په هغه علم چې دصحو رنګ لري ښه دی، ددې سکردحالت دامقوله هم ده چې: الولایة أفضل من النبوة، ولایت له نبوت نه غوره دی، په دې اساس چې په ولایت کې دحق تعالی په لوري توجه وي اوپه نبوت کې خلکوته توجه وي، اوپه دې کې شک

---

[۱] مکتوب ج۱/ ۱۰۸ مخ سید احمد بجواړه په نامه

www.abulhasanalinadwi.org

نشته چې"روبحق" له "روبخلق" نه ښه دی، اوځینې بیاددې خبرې داسې توجیه کوي چې دنبي ولایت دهغه له نبوت نه غوره دی خوزماغریب په اند داډول خبرې بیکاره دي، ځکه په نبوت کې یواځې خلکوته توجه نه وي بلکې له دې توجه سره سره دحق په لوري هم توجه وي، د نبوت دمقام دښښتن نبي؛ باطن له حق سره وي اوظاهریې له خلکوسره وي چې په مکمله توګه دخلکوپه لوري متوجه وي هغه دهغه چاکاردی چې بخت شاورګرزولې وي.[۱]

## ددې خبرې تردیدچې د اولیاو ابتداء د انبیاو انتهاده

دیوچا داخبره بیخي بې اساسه ده چې: داولیاو ابتداء دانبیاو انتهاده ددوی په اند داولیاوله ابتداء او دانبیاو له انتهانه مرادشریعت دی، خوځرنګه چې داغریب له حقیقت نه ناخبره دی ځکه یې دا خلاف ظاهرخبره له خولې وتلې ده، او ځرنګه چې داحقائق چابیان کړ ی نه دی بلکې زیاتوخلکوددې په خلاف دفکر اظهارکړی دی او دا له فهمه لرې خبرې معلومیږي خوهغه نیاومن اومنصف چې دانبیاوعلیهم الصلوات والتسلیمات بزرګي ویني اودشریعت عظمت یې په زړه کې ځای شوی وي هغه دادقیق اسرار منلای شي اوددې منل دایمان دزیادتي وسیله بولي.

زویه! واوره چې انبیاوعلیهم الصلوات والتسلیمات خپل دعوت په عالم خلق کې منحصر کړیو، په حدیث شریف کې راغلي دي داسلام بنیادپینځه ځیزونه دي: دتوحید شهادت، لمونځ، روژه، زکات اوحج. ځرنګه چې له عالم خلق سره د زړه ډیرمناسبت دی له دې امله یې دزړه دتصدیق دعوت هم ورکړی دی اوله زړه نه

(۱) مکتوب۱ج۹۵مخ سید احمد بجواړه.

www.abulhasanalinadwi.org

هاخوايې څه نه دي ويلي اوله هغه يې څه بحث نه دی‌کړی اوهغه يې له مقاصدوڅخه نه دی ګڼلی. وګوره! دجنت خوندونه. ددوزخ تکليفونه. دخدای ددیدن نعمت اوله هغه نه محرومي داټول په عالم خلق پورې تړاولري اوله عالم امر سره يې څه تعلق نشته.[۱]

## دنبوت په پیروي کې قرب باالفرائض ترلاسه کيږي

دا راز د فرضو، واجبو اوسنتواعمالو اداکول له قالب سره تړاو لري[۲] چې له عالم خلق څخه دي اودعالم امر برخه نافله اعمال دي. کوم نږ ديوالی چې ددې اعمالو دادا کولو ثمره ده هغه له اعمالو سره سم کيږي. نوکوم نږديوالی چې د فرائضو د اداکولو ثمره وي هغه خامخادعالم خلق برخه ده. اوکوم نږديوالی اوقرب چې دنفلي اعمالود ادا کولوثمره ده هغه دعالم امر برخه ده، اوپه دې کې شک نشته چې نفل دفرضوپه پرتله هيڅ شی نه دی. اوپه منځ کې يې دسمندر اويوه څاڅکې نسبت هم نشته. بلکې دنفلو اوسنتوپه منځ کې هم دانسبت دی. اود سنتواوفرضوپه منځ کې هم دڅاڅکواو سمندر نسبت دی، له دې خبرې نه د دواړو نږديوالی خپل منځي توپير پرتله کيدای شي اوله دې توپير نه په عالم امر

---

۱ مکتوب۱ج۰ ۲۶۰مخ مجدد صاحب په دې مکتوب کې چې خپل زوی شيخ محمّد صادق ته يې ليکلې اوږ دې خبرې کړي دي او داډير تفصيلي مکتوب دی او دشريعت او حقيقت په اړه يې خورا په تفصيل سره خبرې کړي دې او په پای کې يې دلنډيز په توګه داپورتنی خبرې ليکلې دي چې دهغو يوڅه برخه علامه ندوي صاحب دلته راخيستي ده نوله هغه تفصيل نه پرته په دې لنډوخبرو پوهيدل زما په اند يو څه ګران دي (ژباړن).

(۲) دا څکه چې په دغو عملونوکې شرعي مکلفيت شته دی او مکلفيت دقالب (بدن) برخه ده او نفلي عملونو کې مکلفيت نشته دی نو څکه دعالم امر قلب، روح، سر، خفي او (اخفی) برخه ده (ژباړن)

www.abulhasanalinadwi.org

باندې دعالم خلق غوره والى اوفضيلت پيژندل كيداى شي[۱]

## د ولايت كمالات دنبوت دكمالاتو په پرتله هيڅ حيثيت نه لري

دې فقيرته خداى روښانه كړې ده چې دولايت كمالات دنبوت دهغوپه پرتله هيڅ حيثيت نه لري اودڅاڅكي اوسمندرهومره نسبت يې هم په منځ كې نشته، نوكوم فضيلت اوخصوصيت چې دنبوت له لارې ترلاسه كيږي دا له هغه فضيلت نه څوبرخې زيات دى چې دولايت له لارې ترلاسه كيږي. مطلق افضيلت انبياوته ثابت دى عليهم الصلوات والتسليمات، ملائكوته جزئي فضيلت ثابت دى. له دې امله دجمهورو علماو خبره سمه ده، له دې تحقيق نه څرګنده شوه چې هيڅ ولي دنبي درجې ته نه شي رسيداى عليهم الصلوات والتسليمات بلكې د ولي سر د نبي له پښو نه لاندې وي[۲]

## دعلماو دعلومو او تحقيقاتو دصحت او لوړتيا لامل

په كومه مسئله كې چې دعلماو او صوفياء اختلاف وي كه په غورسره ورته وكتل شي څرګنده به شي حق دعلماو په لوري دى، دا ځكه چې دانبياو د پيروي له امله د علماو نظردنبوت تركمالاتواو علومو پورې رسيدلى وي، اودصوفيانو نظردولايت په كمالاتو اومعارفو پورې تړلى وي نوكوم علم چې د نبوت له مشكات نه اخيستل شوى وي هغه به خامخا سهي اوحق وي له هغه علم څخه چې هغه

(۱) مكتوب نمبر ۲۶۰ ج/ ۱ د مخدوم زاده شيخ محمد صادق په نامه

(۲) مكتوب نمبر/ ۲۶۶ / ج/ ۱ دخواجه عبدالله اوعبيدالله په نومونو .

www.abulhasanalinadwi.org

دولایت له مرتبې نه اخیستل شوی وي.[۱]

فقیر په خپلوکتابونو اولیکونوکې لیکلي دي اودې تحقیق ته رسیدلی چې دنبوت کمالات دسمندرحکم لري اودولایت کمالات دهغوپه پرتله لکه یوکوچنی څاڅکي داسې دی، خوڅه وکړو یوه ډله دنبوت کمالات نه پیژني نوویلي یې دي چې ولایت له نبوت نه غوره دی، یوې بلې ډلې یې بیاداسې تاویل کړي دی چې دنبي ولایت دهغه له نبوت نه غوره دی، دې دواړو ډلو دنبوت حقیقت دنه پیژندلو له کبله په غائب باندې حکم کړی دی، دسکرپه صحوباندې غوره بللوحکم هم همدې حکم ته نږدې او ورته دی، که دوی ته د صحو حقیقت معلوم وای نوهیڅکله به یې سکر ته له هغه سره هیڅ نسبت هم نه و ورکړی:

چه نسبت خاک را بـا عالـم پـا ک

ممکن دوی دخواصو صحو دعوامو دهوښیاري اوبیداري په څیربللې او سکر یې له هغې غوره بللې نودخواصوسکریې دعوامو دنشې اومستي په څیر ګرځولې اوداحکم یې لګولی دی، ځکه دهوښیارانواو دعقل دخاوندانوپه نزد داثابته ده چې صحوله سکر نه غوره ده که چیرته صحواوسکرمجازي وي بیاهم داحکم دی اوکه حقیقي وي همداحکم دی.[۲]

## دانبیاو عظمت دنبوت له امله دی

دومره ضرور باید پوه شو چې دانبیاو عظمت او برزګي هغوی د نبوت لامله

[۱] مکتوب نمبر/ ۲۶۶ / ج / ۱. دخواجه عبدالله اوخواجه عبیدالله په نومونو

[۲] مکتوب نمبر / ۲۶۸ / ج / ۱. دخان خانان په نامه

www.abulhasanalinadwi.org

ترلاسه کړي ده نه دي ولايت له لارې، دنبوت لپاره دولايت حيثيت ديوه خادم په څير دی، که ولايت په نبوت غوره والی درلودای نودملاءاعلی ملائکې (چې ترټولو ولاياتوېې ولايت زيات اوکامل دی ) به له انبياو عليهم الصلوات والتسليمات نه غوره وي،څرنګه چې ددې ډلې ځينو ولايت له نبوت نه غوره ګرځولی نوځکه يې د ملاءاعلی دملائکو ولايت د انبياوله ولايت نه زيات پوره بللی نوخامخا يې دملاء اعلی ملائکې له انبياو نه ښې ګرځولي دي،اوله جمهور اهل سنت نه بيل شوي دي اوداټول دنبوت له حقيقت نه دناخبرۍ اوپه هغه دنه پوهيدلونتيجه ده، څرنګه چې دنبوت زمانه مخکې تيره شوې ده اوله دوی نه لرې ده ځکه دخلکوپه نظر کې دولايت له کمالاتودنبوت کمالات يو څه کم ورځي ځکه ماپه دې اړه خپل مضمون اوږدکړاوڅه حقائق مې بيان کړل .﴿ ربـــنا اغـــفر لنا ذنـــوبنا واسرافنافى امرنا و ثبت اقدا منا و انصرنا على القوم الكافـــرين ﴾ (۱)

## په غيب ايمان دانبياو، دهغودملګرو، دعلماو اوعامو مومنانو برخه ده

له حمداو صلوات نه وروسته دې محترم اوخواږه  وروړميرمحب الله ته  معلومه وي چې دواجب الوجود خدای په وجود اوصفاتوباندې په غيبوايمان لرل دانبياو عليهم السلام اود هغو داصحابو برخه ده اودهغواولياو چې په پوره توګه خلکو ته د خالق په لوري بلنه ورکوي، اوددوی‌نسبت هم دانبياو صحابه نسبت دی خوخوراکم اولږ اوپه غيبو ايمان دعلماو اوعامو مومنانو برخه هم ده اوشهودي ايمان دعامو صوفيانو برخه ده، که هغه دعزلت واله وي يا دعشرت يعني که له خلکو سره ګډون نلري اويايې ورسره لري، ځکه دګډون کوونکو که څه هم بيرته ستنيدل له عروج نه نزول کيږي خو په

(۱) مکتوب ۱ج۲۶۸ مخ د خان خانان په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

پوره توګه نه وي، ددوی باطن پورته لوري ته متوجه وي، په ظاهره له خلکوسره وي او باطن يې له حقﷻ سره وي نوځکه هروخت شهودي ايمان ددوی په برخه وي، اوځرنګه چې انبياوعليهم السلام په تمامه معنی بازګشت کړی وي او په پټه او ښکاره خدای ته دخلکو رابلنې او دعوت ته متوجه وي نو ځکه ايمان بالغيب ددوی برخه دی.

دې فقيرپه خپلوليکونوکې ثابته کړې ده چې له بازګشت سره سره پورته لورته سترګې لرل دنقص نښه ده اودکار انجام ته د نه رسيدلو ثبوت دی اومکمل اوپوره بازګشت د نهاية النـــهاية ته درسيدلو نښه ده صوفيانو دواړه توجهاتو (توجه بخلق توجه بحق) يوځای والی کمال بللی دی اودتشبيه اوتنزيه جمعه کوونکې يې په کاملينو کې شمارلی دی.

ان ايشا نند و مـن چنينم يا رب.[1]

## د شريعت مرسته، دعقائدو اصلاح د شرک اوجاهلي رسمونو ترديد

له خدایﷻسره دتړاودځواکمنولو،له غفلت اومادیت نه ساتنه اودنفسي ناروغيو د درملنې هغه طريقه چې دوخت په تيريدلو اوځينې نورواسبابو، اولاملونو له کبله وروسته د تصوف په نامه سره مشهوره شوه داپه حقيقت کې دقران هغه اصطلاح ده چې د " تزکيي " په نامه سره يې ياده کړې ده اوپه حديثو کې د"احسان" په نامه يادېږي.

---

[1] مکتوب ۱ج۲۷۲ مخ دمير سيد محب الله مانکپوري په نامه

www.abulhasanalinadwi.org

اوقرانکریم دمحمدي بعثت له څلورګونو اهدافو نه یوګرځولی دی : ﴿هوالذی بعث فی الامیین رسولامنهم یتلواعلیهم ایته ویزکیهم ویعلمهم الکتاب والحکمةوان کانوا من قبل لفي ضلال مبین﴾[سورة الجمعة ۲] ژباړه: هغه دی چې په "عربو" نالوستو کې یې له دوی نه"یعني له عربو"یوپیغمبر راپورته کړچې دوی ته دده ایتونه تلاوت کوي اودوی له (بدوعقیدو اوبدواخلاقو) نه پاکوي دوی ته دکتاب او پوهې (خبرې) ور ښیې اوداخلک مخکې (دده له بعثت نه مخکې) په ښکاره ګمراهي کې وو. دامت دا چوپړ ددین له قلب اوقالب،جسم اوروح اوپه سهي معنی دپلی کولو کارد خاتم النبیین ﷺ دراشیدینو خلفاو اونائبینو په غاړه و اودوی له محمدي شریعت سره سره ددې" نبوي طب" دساتنپاوتجدیدکارهم کاوه له ظاهري فقه سره یې دباطني فقه د خپرولوکارهم پرمخ بیو. ددوی داکاردتفصیل په ځای په اجمال اود فروعو په ځای په اصولو ولاړو. خو چېکله دخلافت قلمروپراخه اوفتوحات زیات شول. په پراخه پیمانه داسلام دخپرولوکارمخ په وړاندې روان و. شتمنۍ او دژوند وسائل زیات شول . د نبوت له زمانې نه لیرې والی راغی اود قرانکریم په وینا: ﴿فطال علیهم الامد فقست قلوبهم﴾ شیطاني فریبونه، د مادیت فتنې، نفساني او روحاني ناروغې: په نویو شکلونو اونویو فلسفو کې راڅرګند شول نو دتزکیې او احسان فن هم د" تصوف " له نوي اصطلاح سره په داسې ډول مرتب او مدون شو لکه دعجمي قومونو دګټون له کبله چې ژبنیو قواعدو (صرف اونحو) اوفن معاني او بیان (چې اصول او مبادي یې د عربي ژبې قومونو په فطرت کې داخل و ) دنحو او بلاغت د پراخه اودقیق فن شکل غوره کړ، ځانګړي ماهران او متخصصین یې پیداشول اولویې مدرسې اوپوهنتونونه یې جوړ شول اوځا نګړی نصاب یې وضعه کړل شو. اوعامومینه والووزته رامخه کړه. په لومړیو پیړیوکې تزکیه اوتصوف دکتاب اوسنت او پیغمبر دتګلارې پیروي ته ویل کیده

www.abulhasanalinadwi.org

خودزماني داغيزو، د عجمي اونويومسلمان شويو قومونو ګډون، دزهادو او صوفيانو دصحبت اوعقيدت په نتيجه کې په تصوف کې بدعتونه، په زهداو عبادت کې افراط، دګوښيتوب اورهبانيت جراثيم، دپيرانوله حده زيات تعظيم او تقديس رسمونه اوډيرله ځانه جوړ شوي رسمونه اورواجونه راپيداشول تردې پورې چې غير اسلامي اوبالکل پردي عقائدهم په ځينې روحاني کړيو کې په ورو ورو راپيداشول، لکه داچې يوڅه وخت په پوره توجه اواخلاص سره په عبادت کې له بوختياوروسته يوداسې مزل اووخت هم راځې چې دسالک له غاړې دمکلفيت بارپورته کيږي او شرعي فرائض اوعبادتونه ورته ضروري نه وي چې دې ته به يې "سقوط تکليف" وايه ددې عقيدې خلکودخپلې دعوى لپاره په دليل کې داايت شريف راوړچې: (واعبدربك حتى يأتيك اليقين) دخپل رب عبادت ترهغو پورې کوه ! څو چې مرګ درته راشي.[1]

دايوه ستره فتنه وه چې ټول شرعي نظام يې فلج کاوه اومسلمان يې بې قيده اود عباداتوله پابندي نه ازاداوه داسې اندازه لګول کيداى شي چې دځلورمې پيړۍ له پيل نه چې دعباسي خلافت دځوانی پيرو او ستراسلامي ښار دتمدن اوترقی اوج ته رسيدلی وه دتحريفاتواوبدعتونو داسلسله په ځرګنده توګه پيل شوي وه، دتصوف تر ټولو لرغونی او زوړکتاب چې په دې مهال کې دچاپ په ګاڼه پسولل شوی و دشيخ ابوالنصر سراج مړينه ۳۷۸هـ کتاب " اللمع " و. دده يوه برخه په "کتاب الإسوة والإقتدا برسول الله ﷺ " سره نومول شوې وه [2].

---

[1] سورة الحجر اية ۹۹دلته دمفسرينو او اهل لغت په اتفاق له يقين نه مراد مرګ دی .

[2] کتاب اللمع مخ ۹۳ _ ۱۰٤ دلندن چاپ ۱۹۱۴ ء

www.abulhasanalinadwi.org

له دې وروسته دحضرت سیدعلي هجویري (مړ ٤٦٥ ﻫ) [1] په کتاب " کشف المحجوب " کې غالباله دې امله دا اګاهي ورکوونکې الفاظ راغلل: اقامت حقیقت بی حفظ شریعت محال وحقیقت بی شریعت نفا ق" په تصوف کې ترټولولومړنی کتاب اودتصوف دستورالعمل دامام ابوالقاسم قشیري مړ ٤٦٥ﻫ "رساله قشیریه" ده، دده په زمانه کې په تصوف کې دومره تیټ والی اوتنزل راغلی و چې دی په خپله "رساله قشیریه " کې لیکې: وارتحل عن القلوب حرمة الشريعة فعدوا قلة المبالاة بالدين اوثق ذريعة واستخفوا بأداء العبادات واستهانوا بالصوم والصلوة [2] ژباړه له زړونو نه د شریعت حرمت رخصت شوی دوی له دین نه بې پروایې لویه دباور وړذریعه بولي ،د عباداتواداکولو ته هیڅ اهمیت نه ور کوي، اولمونځ او روژه معمولي شی بولي، دده د کتاب دلومړي باب عنوان د شریعت د تعظیم په اړه دی اوپه دې کې یې دپخوانیو صوفیانو اومشائخ د شریعت دتعظیم اودسنت دپیروي حالات لیکلي دي، په وروستي ځلورپنځوسم باب چې عنوان یې دی ( باب وصية المريدين) کې وایې: بناء هذا الامر و ملاكه على حفظ اداب الشريعة ددې معاملې اساس او دارومدار دشریعت دادابو په ساتنه پورې دی، ټول کتاب له شرعي حقائقو اوسهي علومو سره سم دی اومحقیقین صوفیان دیوه مستنددرسي کتاب اهمیت ورکوي، دطریقت په مشایخواودحقیقت په امامانوکې دشریعت ترټولوسترمرستندوی‌شیخ عبدالقادر جیلاني دی، دده دتعلیماتوزیات زور د سنت اوشریعت په پیروي اوټول ژوندیې ددې نمونه و د"غنية الطالبين" په لیکلوسره یې طریقت په شریعت پورې غوټه کړ دده دمواعظو( فتوح الغيب ) دویمه مقاله دسنت پیروي اودبدعت پریښولوته ځانګړې شوې ده.ددې مقالې پیل په دې جمله شوې ! اتبعوا ولا تبتدعوا. د سنت پیروي کوي او

[1] دده پوره نوم ابوالحسن علي بن عثمان بن ابي علي الجلابي دی اود "داتا ګنج بخش " په نامه سره شهرت لري زیارت یې په لاهور کې دی .

[2] رساله قشیریه مخ ۱ دمصر چاپ

www.abulhasanalinadwi.org

بدعت مه کوئ ده له دې امله چې طريقت يې دشريعت خادم او تابع ګرځولی دی دمجدد درجه ترلاسه کړې ده.

دی لاز ښوونه کوي چې مسلمان بايدلومړی په فرضو بياپه سنتواوبياپه نفلو بوخت شي او اول پرېښول په وروستيو بوختيدل حماقت اوسپين سترګي بولي، دتصوف په منل شويواومستندوکتابونوکې ترټولوغوره کتاب دشيخ شهاب الدين سهروردي( مړ ۶۳۲ هـ )"عوارف المعارف" دی چې دهروخت صوفيانو له ځان سره لرلی اوپه ډيرو خانقاوکې به تدريس کيده ددې کتاب دويم ټوک دشريعت دارکانو دادابو او اسرارو په بيان کې دی شيخ په خپل کتاب کې دانتيجه ترلاسه کړې ده چې په قول، فعل حال اوهرصورت درسول الله ﷺ پيروي ته تصوف وايي اوپه دې باندې په دوام کولوسره دتصوف نفسونه مقدس اوسپيڅلي کيږي. پردې پورته کيږي اوپه هرشي کې دپيغمبر پيروي کيدی شي.(۱)

په نهمه هجري پيړۍکې دشيخ محيالدين ابن عربي اودهغه دشاګردانو د پرېښنايې اغيزله کبله چې په اسلامي نړۍ کې ديوې تيزې څپې په څير خپور شو؛ تصوف يوه فلسفه وګرځيده چې په هغه کې ديوناني فلسفې دالهياتو ډير اصطلاحات اومسائل ننوتل وحدة الوجود دصوفيانوشعاراودوياړسرمايه وګرځيده او له خانقاونه نيولې تر مدرسو پورې وغځيده. په کتاب اوسنت دنه بوختيا، له حديثوناخبرې. اودهغو له سهي اومستندوکتابونونه دمحروميت له کبله په خانقاو کې داسې عقائد اواعمال راپيدا شول چې ددين له اصلي ماخذسره دهغوتړاوګران و اوله هغوسره دلومړنيو پيړيومسلمانان يومخ نااشناوو، بل لورته هندوستان چې له زرهاوکلونوراهيسې د هندوانو دزهد اوجوګ مرکزو مسلمان صوفيان له هغو

---

(۱) دتفصيل او زياتو بيلګو لپاره د مرحوم مولانا عبدالماجد دريابادي کتاب "تصوف اسلام" وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

جوګیانوسره په څنګ کې اوسیدل چې هغوی خپل خیال اونفسي څواک دساه بندولواوخپلوخاصوعبادت ځایونو په ذریعه ډیرلوړکړی وځینې مسلمانوصوفیانو له دوی څخه دهغوی علوم هم ترلاسه کړي و.

ـل داچې له ګجرات نه پرته چې هلته دعربواودحرمینو دعلماو دتګ راتګ له برکته دحدیثوعلم خپورشوی و اوهوري علامه علي متقي برهانپوري اودهغه نومیالی شاګرد علامه محمد طاهر پټني پیدا شوي وو: نور ټول هیوادله صحاح سته (دحدیثو شپږ غوره کتابونه ) اودهغومصنفینوسره نااشناو چې دحدیثو د نقد اودبدعت د رد کار یې کړی دی اودصحیح حدیثواوثابتوسنتوپه رڼا کې یې دژوند نظام وړاندې کړی دی دهندوستان ددې ځایې اوروحاني فلسفو اوتجربو اغیزه دهغه وخت دنامتواومنل شوي شطاري شیخ محمدغوث ګوالیاري په منل شوي کتاب "جواهرخمسه" کې کتلای شی چې اساس یې زیات دبزرګانو په ویناو او خپلوتجربوباندې کېښودل شوی، داسې برېښي چې دیوې خبرې په صحي حدیثو ثابتول یاد سیرت له معتبروکتابواستفاده یې ضروري نده بللې، په دې کې صلوة الأحزاب، صلوةالعاشقین، صلوةتنویرالقبر ،اودمختلفومیاشتوځانګړې لمنځونه اودعا ګانې راغلي دي چې په حدیثوسره هیڅ ثابت نه وي. په دویم جوهرکې یې اسماء اکبریه راخیستي دي چې په خپله ده رایوځای کړي دي، په هغه کې دفرشتو عبراني او سریاني نومونه دي اود اواز په توري (حرف ندا ) سره یې هغوته خطاب کړی چې په دې سره له غیر الله نه دمرستې غوښتلو شبه کېږي. دبشمخ په نامه هم یوه دعاپکې ده چې په هغه کې عبراني اوسریاني نومونه داواز په توري سره راغلي دي، دټول کتاب اساس د نومونو په دعوت باندې ولاړی دی اوهغه نومونه یې موکل بللي دي چې دهغوله اصل ماهیت نه څوک خبروي.

www.abulhasanalinadwi.org

د الفیا اودهغودموکلانو یادونه یې هم کړې ده اود ( ناد علیا مظهرالعجائب ) دعا هم پکې ده، دسنت اوبدعت، شریعت او فلسفه، اسلامي تصوف اوجوګ د ګډوالي په دې زمانه کې حضرت مجددصاحب خپل تجدیدي کار پیل کړ، ددې حالت نقشه یې په خپل یوه مکتوب کې مخدوم زاده خواجه محمدعبدالله ته داسې کښلې‌ده: په دې وخت کې په نړۍ کې بدعتونه دومره زیات دي داسې بریښي لکه د تیاروسمندر چې په جوش راغلی وي اودسنت رڼاددې څپې وهونکې سمندرپه مخکې دومره خپه ښکاري لکه دشپې په تیاره کې دړناکوونکې ژوې رڼا.[1]

حضرت مجدد صاحب په دې نازک دورکې چې په هندکې دمسلمان سلطنت په لاسوداسلام بیخ نړول کیده په خانقاوکې دسنتو ناقدري کیده اوپه څرګنده ویل کیدل چې طریقت اوشریعت دوه بیلې کوڅې دي دیوه اوبل لاره اورسمونه سره بیل دي اوځان ته قوانین لري اوکه به کوم دحق غوښتونکې دیوې خبرې دشرعي ثبوت پوښتلوجرات وکړنوبه دې وینا سره به یې هغه چوپ کړی چې:

به می سجا د ه رنگین کن گر ت پیر مغان گوید
که سا لک بی خبر نه بود ز راه و رسم منزلها

ده بیاهم په لوړ اواز سره وویل چې: طریقت دشریعت تابع اوخادم دی، دشریعت کمالات په احوالواومشاهداتو باندې مخکې دی، په یوه شرعي امرباندې عمل کول له زرکلن ریاضت نه زیات ګټوردی، دسنت په پیروي کې دغرمې خوب (قیلوله) له تولې شپې ویښې تیرولونه غوره دي، په روا والي اونارروا والي کې د صوفیانوعمل سند نه شي کیدای، له کتاب، سنت اودفقهې له کتابونوبایددلیل ترلاسه شي، د ګمراه خلکوریاضتونه دقرب سبب نه شي کیدای بلکې دلیري والي اوبعدباعث دی، غیبي

[1] مکتوب ۲ج۲۳ مخ د مخدوم زاده خواجه محمد عبدالله په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

صورتونه اواشکال هسې ملنډې دي، شرعي مکلفیت هیڅکله هم نه شي ساقط کیدلای؛ په دې اړه دمکتوبات یوڅو اقتباسات وړاندې کوو:

شریعت ددنیا اواخرت دټولونیکمرغیوضامن دی هېڅ هدف داسې نشته چې دهغه دتکمیل لپاره له شریعته پرته بل شي ته اړتیاپیداشي، طریقت اوحقیقت چې د صوفیانوځانګړتیاده دواړه دشریعت خادمان اوداخلاص په ترلاسه کولوکې مرستیالان دي،دارازدطریقت اوحقیقت دترلاسه کولوموخه یواځې دشریعت داصلي روح د عملي کولوذریعه ده نه داچې دابیل شی دی اود شریعت له دائرې نه وتلی دی، هغه حالات، دوجدکیفیات، علوم اومعارف چې صوفیان یې دسلوک په لاره کې ترلاسه کوي له مقاصدو څخه نه بلل کیږي هغه یواځې یوڅه اشکال اوخیالات دي چې دهغوی په ذریعه دطریقت دماشومانو زړونه پورته کیږي اوهمت یې زیاتیږي. له دې ټولونه په تیریدلو سره د رضامقام ته رسیدل دي چې دجذبې اوسلوک دمقاماتوپای دی.[1]

په همدې مکتوب کې لیکي: لنډفکره خلک احوال اومواجید، مشاهدات او تجلیات په مقاصدوکې شماري چې ددې لازمي نتیجه داده چې د وهم اوخیال په بند ګی به راګیرشي اودشریعت له کمالاتوبه محروم شي. ﴿ كبر على المشركين ماتدعوهم اليه الله يجتبى اليه من يشاء ويهدى اليه من ينيب﴾ ژباړه: کومې خبرې ته چې ته مشرکین رابولې هغه دوی ته ډیره ګرانه اوسخته تمامیږي چې دخدای چاته خوبنه شي هغه ځان ته ورکشوي اوڅوک چې خدای ته رجوع وکړي هغه ته سمه لاره ښيي، په یوه بل مکتوب کې په نفلودفرضومخکې والی اوغوره والی بیانوي اولیکي: په کومواعمالوسره چې خدایﷻ ته نږدې والی ترلاسه کیږي هغه فرائض دي یانوافل، نفل دفرضوپه نسبت هیڅ حیثیت نه لري په خپل وخت کې دیوه فرض

[1] مکتوب ۱ج۳۶ مخ دملاحاجي محمدلاهوري په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

ادا کول له زرکاله نفلو نه غوره دي که څه هم هغه نفل په اخلاص سره وکړای شي[۱] ، په یوه بل مکتوب کې هم کاږي چې دنفس د اصلاح اودهغه دناروغیود له منځه وړلولپاره دشریعت په احکاموعمل کول له زرکلنو ریاضتونواومجاهدونه زیات ښه اوغوره دي، دی لیکي: دنفسي ناروغي دله منځه وړلو لپاره دشریعت په احکاموکې په یوه یې عمل کول دزروکلونوله هغو ریاضتونو او مجاهدونه زیات اغیزکوي چې له خپله ځانه وکړای شي، بلکې دامجاهدات او ریاضیات چې دشریعت له غوښتنوسره سم ونکړای شي نفساني غوښتنې اوناروغی نورې هم ځواکمنې کوي، برهمنو اوجوګیانوپه ریاضتونو اومجاهدوکې هیڅ کوتاهي نه ده کړې خودوی ته یې څه ګټه ونه رسوله یواځی داچې نفسونه یې نورهم غټ شول اویواځې دهغولپاره غذاشوه، په یوه بل مکتوب کې دشریعت دکمالاتوداهمیت په ترڅ کې لیکي: ددنیازیات خلک په خوب اوخیال مست دی په بادامو اوچارماغوباندې بسنه اواکتفاکوي دوی دشریعت له کمالاتوڅه خبردي اودطریقت اوحقیقت په ریښتوني علم څه پوهیږي؟ دوی شریعت پوست اوطریقت یې مغز بولي اوپه دې نه پوهیږي چې حقیقت څه دی دصوفیانوپه سطحي خبرو دوکه شوي اودهغوی په احوالو اومقاماتومین دي[۲]

په یوه مکتوب کې دیوه نبوي سنت دعملي کولوفضیلت بیانوي اولیکي: ټول فضیلتونه دسنتوپه پیروي پورې تړلي دي اوټول عزت دشریعت په عملي‌کولوکې پروت دی، دبیلګی په توګه یودغرمې خوب چې دسنت په نیت وکړای شي له څوسوه زره ځله شپه ویښه تیرولو نه زیات غوره دی دزکات یوه روپی ادا کول له

---

[۱] مکتوب نمبر ۲۹ / لومړی ټوک. دشیخ نظام تهانیسري په نامه

[۲] مکتوب ۱ج ۴۰ مخ دشیخ محمد چتري په نا مه

www.abulhasanalinadwi.org

خپله ځانه د سرو زرو غرونه نفقه کولونه زیاته غوره ده [۱] په یوه بل مکتوب کې لیکي: خامو صوفیانو ذکراو فکر له هرڅه مهم بللي اودفرضو اوسنتو په ادا کولو کې سستي کوي ځیلي اوریاضتونه غوره کوي دجمعی اوجماعت لمنځونه پریږدي دوی نه پوهیږي چې په جماعت سره یوفرض لمونځ اداکول له زرهاو ځیلونه غوره دی، له شرعي ادابو سره سم ذکر اوفکرډیرښه اوضروري دی. ناقص علماهم په نفلوډیرزور اچوی اود فرضو خیال نه ساتي[۲]، دمیرمحمدنعمان په نامه په یوه مکتوب کې لیکي: دصوفیانو یوه داسې ډله هم شته چې دلمانځه له حقیقته اودهغه له ځانګړوکمالاتونه ناخبره دي. دوی دخپلورنځونودرملنه په نورو ځیزونوکې غواړي اودخپلو اهدافو ترلاسه کول په نورو شیانوپورې تړي. بلکې یوه ډله خویې لمونځ بیکاره شی بولي اوپه غیریت باندې ولاړ شی یې بولي اوروژه له لمانځه نه غوره بولي چې په دې کې دحمدیت صفت پروت دی اویوه لویه ډله یې دخپل اضطراب تسکین په سماع او نغمو، وجد او تواجد کې لټوي اونڅاوي اورقص هم کمال بولي ایادوی نه دي اوریدلي چې: ماجعل الله في الحرام شفاء، خدایﷻ په حراموکې شفانه ده ایښې، که دوی ته دلمانځه دکمالاتوبوی هم ورغلی وای نوسماع اونغمې به یې نه اوریدې او وجد اوتواجد به یې په خوله هم نه و راوړی.

چون نه دید ند حـقـیقت ره ا فسا نه زدند [۳]

په یوه ځای کې دهغې نفسي صفایې یادونه کوي چې له نامسلمانواوپه بیلاریو کې بوختوصوفیانوته حاصلیږي اولیکي: اصلي تصفیه اوتزکیه په نیکوعملونو پورې تړلې ده،هغه عملونه چې دلوی ښتن له خوښې سره سم وّي اوداخبره په بعثت پورې تړلې ده،لکه مخکې چې تیر شو، نوله بعثت پرته رینبتونې تصفیه

[۱] مکتوب۱ج۱۱۴ مخ دصوفي قربان په نامه.

[۲] مکتوب۱ج۳۶ مخ دصوفي قربان په نا مه .

[۳] مکتوب ۱ج ۲۶۶ مخ دخواجه عبدالله او خواجه عبیدالله په نومونو.

www.abulhasanalinadwi.org

اوتزکیه نا شونې ده، هغه صفايې چې کفار اوبيلارې خلک يې ترلاسه کوي هغه دنفس صفايې ده اود زړه صفايې نه ده اودنفس صفايې له ګمراهی پرته بل څه نه زياتوي او له تاوانه پرته بله لارنه شي ښوولی اودځينې غيبي اموروکشف چې کفار اوبيلارې خلک يې دنفس د صفايې په وخت کې ترلاسه کوي هغه استداراج دی چې له بربادي اوخسارې پرته بل څه پکې نشته، له سالک اوعارف نه دشرعي تکليف سقوط له شرعي احکامو ازادي خطرناکې عقيدې چې دشريعت دختمولو لپاره ديوې اتشي مادې په څيرده. دترديدپه اړه په يوه مکتوب کې ليکې: ځينې خام متصوفين اوبې سره ملحدين په دې اند دي چې خپلې غاړې دشريعت دغلامي له کړی نه خلاصې کړي اوشرعي احکام په عوامو پورې مخصوص کړي دوی په دی فکردي چې خواص يواځې په معرفت باندې مکلف دي لکه اميران اوسلاطين چې يواځې په عدل او انصاف باندې مکلف دي، دوی وايې چې په شريعت باندې دعمل کولوهدف معرفت ترلاسه کول دي کله چې معرفت ترلاسه شو شرعي تکليفات ساقطيږي. او دا ايت شريف په استدلال کې راوړي: ﴿ واعبد ربك حتى يأتيك اليقين ﴾ (۱)

په يوه بل مکتوب کې ليکې چې په حلت اوحرمت کې دصوفيانوعمل سندنه شي کيدای، دومره کافي نه ده چې مونږ هغوی معذور وبولو اوملامت يې نه کړو اوددوی معامله خدای ته وسپارو په دې اړه دامام ابوحنيفه، امام ابويوسف اوامام محمد ويناوې داعتباروړ دي نه دابوبکرشبلي اوابوالحسن نوري عملونه، ددې زمانې خامو صوفيانودخپلو پيرانوعملونه بهانه کړي دي اوسازاونڅايې ددين په توګه اختيارکړي دي اوهغه طاعت اوعبادت بولي ﴿ اتخذوا دينهم لهوا ولعبا ﴾. دوی خپل دين لوبې اوتماشه ګرځولی دی. (۲)

---

(۱) مکتوب نمبر ۲۷۶/۱ دشيخ بديع الدين په نامه (۲) مکتوب ۱ج ۱۶۶ مخ دخوجه عبدالله او خواجه عبيدالله په نومونو.

www.abulhasanalinadwi.org

د مجددصاحب دشریعت داحمایت اومرسته دحمیت درجې ته رسیږي کله چې دی دکتاب اوسنت اوجمهوراهل سنت دعقیدې په خلاف کوم صوفیانه تحقیق واوري اود هغه سنددتصوف له کوم کتاب نه یاد بزرګانو له احوالو اواقوالو نه راوړل شي نودده فاروقي رګ په حرکت کې شي اوله قلم نه یې دشریعت دملاتړ او دسنت دغیرت توپان راپورته شي. یوه مریدیې دیوه بزرګ (شیخ عبدالکبیر یمني) کوم شاذ اودنفرت وړقول نقل کړی ومجدد صاحب ته یې زغمل ګران شو او بې اختیاره یې له قلم نه داجملې ووتلې. محترمه! فقیر دداسې خبرو اوریدل نه شي زغملای بې اختیاره زمافاروقي رګ په حرکت کې راشي اودتاویل اوتوجیه موکه نه راکوي داسې خبرې که شیخ کبیر یمني کړي وي یا شیخ اکبر شامي خوزمونږ کار دمحمدعربيﷺ له خبرو سره ده نه دمحی الدین بن عربي [1] صدرالدین قونوي او شیخ عبدالرزاق کاشي له خبرو سره، زمونږ کار له نص (شرعی دلیل) سره دی نه له فص [2] سره، دمدینې فتوحاتومونږ له فتوحات مکیه نه بې پروا کړي یو، [3] دحضرت مجددصاحب په نزد چې کوم عمل له شریعت سره سم وکړای شي هغه ذکر بلل کیږي.

په یوه مکتوب کې وایې: تول وخت باید انسان دخدای په ذکر بوخت واوسي کوم عمل چې په شریعت سره سم ترسره شي هغه ذکربلل کیږي که څه هم هغه پیرل اوپلورل وي نوپه ټولوحرکاتواوسکناتوکې باید دشرعي احکامو رعایت وکړای شي څو هغه ټول ذکرشي ځکه ذکردغفلت لرې کولوته وایې کله چې په ټولوافعالو کې دشرعي امرونو اونواهیومراعت وکړل شي نو کوونکی دحکم کوونکي (یوه

---

(۱) مراد یې شیخ محی الدین بن عربي دی چې په دمشق کې وفات اوهورې دفن دی.
(۲) له فص نه مراد دشیخ اکبر دکتاب "فصوص الحکم" کومه برخه (فص) ده.
(۳) مکتوب نمبر ۲ج ۱۰۰ مخ دملاحسن کشمیري په نامه

www.abulhasanalinadwi.org

خدای) نه چې رښتونی امر اوناهي دی غافله کیدای نه شي او دهمیشه ذکر نعمت به ترلاسه کړي.[۱]

ددې شرعي حمیت په اساس مجددصاحب تعظیمي سجده په ډیره سختي سره زدوله هغه چې ځینې مشائخو رواج کړې وه، ځینوخپلومریدانو ته یې (چې په دې اړه یې یوځه تساهل کاوه) ډیرې سختې خبرې لیکلې دې اوهغوی یې تنبیه کړي دي،[۲] دده په زمانه کې شرکي عملونه اورسمونه زیات شوي و، دمشرکانه مراسموتعظیم به کیده، له غیرالله نه مرسته اوارتیاو پوره کولوشرکې عقیدې وې، دکفارو دجشنونو تعظیم اودهغوی درسمونو اوعاداتوتقلیدکیده، دبزرگانولپاره څاروي نذرکیدل او حلالیدل، دپیرانو اوبیبیانوپه نیت روژې نیول کیدې ددې ټولومزمت اوتردیدپه اړه د مجددصاحب هغه اوږد مکتوب وګورئ چې دیوې نیکې عقیدتمنې میرمنې په نامه یې لیکلی دی.[۳]

دادعقائدوداصلاح، د شرک اوبدعت تردید اودخالص دین ددعوت هغه ستر تجدیدی کارو چې له ډیرې مودې وروسته مجددصاحب دهندپه ځمکه پیل کړ، له دې خطراتوسره دهندمسلمانان څکه مخامخ و چې دوی دیوه غټ نامسلمان اکثریت په منځ کې اوسیدل اوداسلام هم ډیره موده نه وه ورسره وتلې اوبیاددې تجدیدي کار د تکمیل او پراخوالي کار دده د سلسلې نومیالي شیخ حکیم الاسلام حضرت شاه ولي الله دهلوي اودهغه کورنی[۴] او حضرت سیداحمدشهید اودده ډلې په ژبه

---

[۱] مکتوب ۲ج۲۵ مخ دخواجه محمدشرف الدین حسین په نامه

[۲] وګورئی مکتوب ۲ج۹۲مخ دمحترم میرمحمدنعمان په نامه او مکتوب نمبر ۱ج ۲۹ مخ شیخ نظام الدین تهانیسري په نامه

[۳] مکتوب ۳ج۴۱ مخ یوې نیکې عقیدتمنې میرمنې ته

[۴] چې په دې کې دده نومیالی لمسی مولانامحمداسماعیل شهید (۱۲۴۶ هـ) په ځانګړې توګه د یادولو وړ دی

www.abulhasanalinadwi.org

اوقلم، کتابونواوتصنیفاتو، دحدیثواوقران ژباړواوپراخوتبلیغي دوروسره پرمخ بوتلو.

## دسنتو رواجول او دحسنه بدعت تردید

یوداسې شی چې الله اورسول په دین کې نه وي ګډکړی او په هغه یې حکم نه وي کړی په دین کې ګډول اوددین جزء ګرځول، دثواب اوخدایﷻ ته نږدیوالي لپاره د هغه کول اوله خپلو جوړوشویو شرائطو اوادابو سره دهغه داسې پا بندي کول لکه دیوه شرعي حکم؛ دابدعت بلل کیږي، بدعت په حقیقت کې په الهي دین کې دننه د انساني دین د تشکیل په معناده، ددې انساني دین بیله فقه ده او ځانګړې فرائض، واجبات، سنن اومستحبات لري چې په ځینې وختونوکې له الهي شریعت سره متوازي وي اوکله کله په شمیر اواهمیت کې له هغه نه زیات شي، په بدعت سره داحقیقت له نظره لویږي چې شریعت مکمل اوپوره دی دکوم شي چې تعین کیدل په کارو دهغه تعین شوی دی اوکوم شی چې فرض او واجب جوړیدل هغه فرض او واجب ګرځیدلي دي، په دین کې دنویو سکواچولوځای بندشوی دی اوس چې کومې نوې سکې هغه ته منسوب کول کیږي هغه به جعلي او کوټه وي امام مالک ډیرښه ویلي دي: من إبتدع في الإسلام بدعة یراها حسنة فقد زعم أن محمداﷺ خان الرسالة فإن الله سبحانه یقول: ﴿ألیوم أکملت لکم دینکم﴾ فما لم یکن یومئذ دینا فلا یکون الیوم دینا ژباړه: چا چې په اسلام کې کوم بدعت پیداکړ او هغه ښه وبولي هغه ددې خبرې اعلان کوي چې (نعوذبالله) محمدﷺ په رسالت کې خیانت کړی دی ځکه خدایﷻ فرمایي: ما ستاسو لپاره نن ستاسو دین پوره اومکمل کړ نوکومه خبره چې د رسالت په زمانه کې دین نه وه هغه نن هم دین نه شي کیدای. دخدایﷻ له لوري دنازل شوي شریعت ځانګړتیا دهغه سهولت او اساني اودهرچالپاره په هره زمانه کې دعمل وړکیدل دي ځکه چا چې دین وضع

www.abulhasanalinadwi.org

کړی هغه انسان هم پيداکړی دی هغه دانسان ارتياوې دهغه فطرت، څواک اوکمزوري پيژني.﴿ الايعلم من خلق وهو اللطيف الخبير﴾ اياده چې څوک پيداکړي هغه نه پيژني هغه باريک بين اوپوره باخبره دی [ سورة الملك ايت نمبر ١٤ ]

نوځکه په الهي شريعت کې ددې ټولو څيزونو رعايت شوی دی اوکله چې انسان په خپله شارع وګرځي نو هغه ددې لحاظ نه شي کولای دبدعتونو پيداکيدل اووخت په وخت زياتيدلونه وروسته دين دومره سخت، پيچلی او اوږد شي چې خلک دې ته اړ شي چې ددې مذهب اميل له غاړې وکاږي. د ﴿وما جعل عليكم فى الدين من حرج ﴾ خدای ستاسولپاره ستاسو په دين کې تنګی نه ده اېښې ) نعمت ختم کړي، ددې نمونه د عباداتورسمونو، فرائضواو واجباتو په هغه اوږده فهرست کې کتلای شئ چې په هغه کې بدعت په ازادي سره دلاسوهونې موکه پيداکړې ده، ددين اوشريعت يوه ځانګړتيا د هغه نړيوال يووالی‌دی، هغه په هره زمانه اوهرپير کې يودی،دنړۍ‌ديوه ګوټ مسلمان اوسيدونکی چې دنړۍ بل ګوټ ته ولاړشي نوپه شريعت باندې دعمل کولومشکل نه ورته پيداکيږي اونه يې کوم ځايې لاربنود ته اړتياپيداکيږي،ددې په خلاف په بدعت کې يووالی اووحدت نشته هغه دهرې سيمې په ځايې شکل او جول کې راوزي، هغه د ځانګړيو تاريخي اوځايې اسبابو، شخصي او انفرادي ګټو اوموخونتيجه وي له دې امله دهرهيوادبلکې کله خوديوه ولايت اوښاراو ان کليو اوکورنيوبدعتونه اونوي ديني ايجادات په هغوی پورې مخصوص وي،اوداډول دښار ښار اوکورکوردين سره مختلف وي.

ددې ټلپاته اونړيوالوګټو په اساس رسول اللهﷺ خپل امت ته تاکيدکړی چې دسنتو ساتنه وکړي اوله بدعته ځان وژغوري اوپه ډيرو بليغو الفاظو سره وايې:" من أحدث فى امرنا هذا ماليس منه فهورد "، څوک چې زمونږ په دې دين کې داسې

www.abulhasanalinadwi.org

خبره پیداکړي چې هغه په ده کې نه وي نوهغه خبره رد اودمنلونه ده،بل ځای وایي:
" إياكم والبد عة فإن كل بدعة ضلالة وكل ضلالة في النار"، له بدعت نه هروخت ځان
وژغورئ ځکه هر بدعت گمراهي ده اوهره گمراهي به په دوزخ کې وی اودا له
حکمته ډکه وراندوینه یې هم کړې چې: " ما أحدث قـوم بدعة إلارفع بها مثلهامن
السنة ... " کله چې کوم خلک په دین کې کومه نوې خبر پیداکوي نودهغه په اندازه
سنت له منځه ځي، صحابه کرامو له دوی وروسته داسلام فقهاو او امامانو
اودخپلې زمانې مجددینو اومصلحینواورباني علماو هروخت دخپلوزمانو دبدعاتو
په سختی سره تردیدکړی دی‌اوپه مسلمانه ټولنه اودینی حلقوکې یې ددې بدعاتو
درواج کیدلود مخنیوي خپلې هڅې نه دي سپمولې.

په بدعاتوکې دعوامو اوخوش عقیده خلکولپاره په هره زمانه کې یومقناطیسي
کشش پروت دی اوپه دې پورې دپیشه لرونکې مذهبي پانگه والو ډلواو افرادو
ذاتي گټې پرتې دي په قرانکریم کې ددې تصویرخدای داسې کښلی دی﴿
يـايهاالذين امنوا ان كثيرا من الاحبار والرهبان ليأكلون اموال الناس بالباطل ويصدون عن
سبيل الله﴾[سورة توبه اية۳٤] ای ایمان والوزیات احبار اورهبان دخلکومالونه په ناروا
توگه خوري اودالله له لارې یې گرځوي، په دې اساس دامصلحین له سختو
ستونزواوکړاوونوسره مخامخ شوي دي خودوی یې څه پروا نه ده کړې،اودایې
دخپل وخت جهادله تحریف اوکږوالي نه ددین دساتنې مقدس کاربللی،دغو
دبدعت مخالفینواودسنت دبیرغ پورته کوونکو ته دعوامو اودعوامو‌په خیرخوا
صوله خوا د"جامد"، "روایت پال " مذهب دښمن" لقبونه ورکړل شوي دي خودوی
یې هیڅ پروانه ده کړې، په دې ژبني اوقلمي جهادسره دحق ثابتولواوباطل محوه
کولوسره ډیربدعتونه داسې له منځه تللي دي چې دتمدن په ځینې تاریخونوکې یې
یادونه شوې ده اوکوم چې پاتې دي د هغو په خلاف اوس هم حقاني علما ولاړدي،

www.abulhasanalinadwi.org

﴿من المؤمنين رجال صدقوا ماعاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر ومابدلوا تبديلا﴾ [سورت احزاب ایت ۲۳] ژباړه: په دې مومنانوکې ځینې خلک داسې هم دي چې دکومې خبرې يې له خدای سره وعده کړې وه په هغه کې رېښتوني وختل بیا ځینې په هغوکې هغه دي چې خپل نذريي پوره کړی دی اوځینې يې په انتظارکې دي اودوی هېڅ زره تبدیل اوتغیرهم نه دی کړی، په دې لړکې ترټولو لویه مغالطه اوتیروتنه دحسنه بدعت مغالطه ده، خلکو بدعت په دوه ډوله کړی دی بدعت سیئه، بدعت حسنه یعنی ښه اوبد بدعت دوی وايي چې هربدعت بد نه دی ډېر بدعتونه ښه هم دي چې دحدیث شریف له (کل بدعة ضلالة) نه مستثنی دی.[1]

،حضرت مجدد صاحب چې ددې تقسیم اوحسنه بدعت په خلاف په څومره زورسره دجهادبیرغ پورته کړاوپه څومره اعتماد اوقوت اوعلمي استدلال سره يې دهغه تردیدوکړ دهغه ساری مخکې او وروسته نه پیداکیږي. په دې لړکې دمکتوبات څو اقتباسات راواخلو:

دنبوي سنتو په خپرولو اودبدعاتو دمخنیوي کې خپل مخدوم زاده خواجه محمد عبدالله هڅوې اوپه یوه مکتوب کې ورته لیکي: داهغه وخت دی چې د حضرت خیرالبشرﷺ په بعثت باندې زرکاله تیرشوي دي،اودقیامت دنښو څرګندیدل پیل شوي دي،دنبوت دزمانې دلرې والي له کبله سنت پټ کړل شوي اوڅرنګه چې زمانه له دروغو ډکه ده بدعت رواج اومنل شوی دی، یوه شاهین ته

---

[1] ددې خلکو ترټولو لوی دلیل دحضرت عمر داقول دی چې په جمعه تراویح کوونکې يې ولیدل اوويې ویل : نعمة البدعة هذه" دا ډېرښه بدعت دی. خودلته دعلماو اتفاق ده چې په لغوي توګه يې هغه ته بدعت ویلی‌دی اوکه نه تراویح کول په صحي حدیثو سره ثابتې دي اوپه تواتر سره. دبدعت دتعریف لپاره د امام شاطبي کتاب (الاعتصام بالسنة ) اودمولانااسماعیل شهید کتاب (ایصاح الحق الصریح فی احکام المیت والضریح) وګورئ چې په دې موضوع بهترین کتابونه دي.

www.abulhasanalinadwi.org

اړتیاده چې دسنت حمایت اومرسته وکړي اوبدعت په شااومغلوب کړي دبدعت رواج کول ددین دتخریب په معنی ده اودبدعتي تعظیم کول داسلام دماڼی دنړولو په معنی ده. په حدیث شریف کې راځي: من وقرصاحب بدعة فقد اعان علی هدم الاسلام. چا چې دبدعتي عزت وکړ ده داسلام دنړولو په کارکې برخه واخیسته. په پوره عزم اوهمت سره دې لوري ته دتوجه کولواړتیاده چې هر ډول سنت باید بیاژوندي کړای شي اوهرډول بدعت بایدله منځه یووړل شي، داکارهروخت ضروري و، خو داسلام دکمزوري په دې زمانه کې چې داسلام دمراسمو پلي کول دسنتو په خپرولواودبدعت په له منځه وړلوپورې تړلي دي؛ نورهم ضروري دي. له دې وروسته په دې مکتوب کې دبدعت هرډول ښه والی ردوي اود بدعت حسنه داصطلاح په خلاف داسې لیکي: په مخکې خلکوکې ځینو یې په بدعت کې یوڅه ښه والی اوحسن لیدلی اودبدعت ځینې ډولونه یې ښه بللي دي، خوپه دې مسئله کې دافقیرله دوی سره اتفاق نه لري اویوډول بدعت هم ښه اوحسن نه بولي اوپه دې کې پرته له تیاروااوکدورتونوبل هیڅ شی نه محسوس کیږي، رسول الله ﷺ فرمایي: کل بـــدعة ضـــلالة. هربدعت ګمراهي ده.[1]

په یوه بل کې چې په عربي یې دمیرمحب الله په نامه لیکلی‌کاږي: نه پوهیږم چې خلکوڅه ډول په یوه داسې کارکې حسن پیدا کړی چې داسلام په کامل دین اوالله ته منل شوي مذهب کې دنعمت له پوره کیدو وروسته راپیداشوی دی، ایا هغوی ته داغتیه خبره هم لانه ده معلومه چې له کمال، اتمام اوپوره والې وروسته په کوم دین کې نوې خبرپیداکړل شي نوپه هغه کې حسن نه وي. فماذابعدالحق إلاالضلال، له حقه وروسته دګمراهي درجه پاتې کیږي. که دوی‌ته معلومه وای چې په کامل

[1] مکتوب ۲ج۲۳ مخ دمخدوم زاده خواجه عبدالله په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

دین کې نوی پیدا شوی شی ښه بلل دهغه نه کمال اونقصان لا زموي اوددې اعلان دی چې دا دین لاپوره شوی نه دی نو ددې جرات به یې نه و کړی. (۱) په یوه بل مکتوب کې په دې استثنا باندې خبرې کوي اولیکې: کله چې هر نوی شی بدعت شو اوهربدعت گمراهي شوه نو په یوه بدعت کې دحسن پیدا کیدل څه معنی لري؟ کله چې له حدیثو نه په ښکاره توگه دامفهوم څرگندیږي چې هربدعت سنت له منځه وړي اوپه دې کې کوم تخصیص نشته نودامعني ورکوي چې هربدعت سیه اوبد دی. په حدیث کې راغلي دي: ماأحدث قوم بدعة إلارفع مثلهامن السنة فالتمسك بالسنة خيرمن إحداث بدعة کله چې یوقوم بدعت پیدا کوي نودهغه په اندازه سنت له منځه ځې نوله سنت سره تړاو دبدعت له پیداکولو نه غوره دي.

له حضرت حسان نه روایت دی چې رسول ﷺ فرمایلي: ما إبتدع قوم بدعة فى دينهم إلانزع الله من سنتهم مثلهاثم لايعيدها إليهم إلى يوم القيامة ،کله چې کوم قوم په خپل دین کې یو بدعت پیداکړي نوخامخاددوی له سنتونه ... چې له منځه کاږي بیا تر قیامته پورې هغه نه ورته راگرځي، بایدپوه ... چې خیني بدعتونه چې علماو او مشائخو حسنه بللي دي چې کله په هغو ... ندې ښه غور وکړل شي نومعلومه به شي چې هغه هم سنت له منځه وړي.(۲) په دې مکتوب کې د ... بدعت حسنه له وجودنه بیخي انکارکوي اولیکې: خلک وایې چې بدعت ... دوه قسمه دی: بدعت حسنه اوبدعت سیئه، هغه نیک عمل ته بدعت حسنه و ... ې چې درسول الله اوراشدینو خلفاوله زمانی وروسته پیدا شوی وي اوپه هغه ... د کوم سنت له منځه نه ځي اوبدعت سیئه هغه دی چې سنت له منځه وړي. دافقیرپه دې بدعتونوکې په یوه بدعت کې هم حسن او نورانیت نه ویني پرته له تیارې اوظلمته

---

(۱) مکتوب نمبر / ۱۹ لومړی توک. دمیر محب الله په نامه.

(۲) مکتوب نمبر / ۱۸۶ لومړی توک. دخواجه مفتي عبدالرحمن کابلي په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

هیڅ هم نه پکې لیدل کیږي فرض به کړو چې نن په کوم بدعت عمل کې دنظرد کمزوري له کبله تازګی اوصفايي لیدل کیږي خوسبا چې کله نظرتیز اولرلیدی شی نوله تاوان اوپښیماني پرته بله هیڅ نتیجه نه لري.

بـوقـت صبح شـود هم چـو روز معـلومـت
کـه بـا که بـا خته عشـق د رشب د یجو ر

سیدالبشر ﷺ وايي: من أحدث في أمرنا هذا ماليس منه فهورد. [۱] څوک چې زمونږ په دغه دین کې داسې شی پیدا کړي چې اصلاپه ده کې نه وي نوهغه رد اود منلوورنه دی، کوم حسنه بدعتونه چې په هغه زمانه کې رواج شوی و یویې دمولود شریف غونډه اوجلسه هم وه ددې دموخی اولورانتساب له کبله هغه ته بدعت ویل اود هغه مخالفت کول نازک اوګران کار و اوپه دې سره په عوامو کې بدګوماني پیداکیده اودبی ادبي اومیني دکموالي خطره یې وه خومجددصاحب په دې ښه پوهیده چې کوم شی په خیرالقرون کې نه وي ثابت شوی په هغه کې ددین ترقی اود امت ګټه نشته اوپه هغه کې دوخت په تیریدلوسره ګڼ شمیر بیلارې او مفاسدپیداکیږي.له ده نه پوښتنه وشوه چې که دمولودشریف په غونډه کې کوم دګناه کارنه وي نوڅه بدي پکې شته؟ ده په خواب کې ورته ولیکل : محترمه دفقیر په ذهن کې خو دا راځي چې ترڅوپورې ددې دروازه بیخې ونه تړل شي دهوا اوهوس خاوندان له دې نه نه منعه کیږي که یوه زره هم دهغه دجواز فتوی ورکړل شي نو ورو ورو به خبرکوم ځای ته ورسیږي قلیله یفضي الی کثیره.[۲]

---

[۱] همدا مکتوب.

[۲] مکتوب ۳ج۲۷ مخ دخواجه حسام الدین په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

داراز دمجدد صاحب په دې مبصرانه اوجراتمندانه اقدا( دبدعتونو ټولیز مخالفت اودبدعت حسنه له وجودنه انکار) سره دیوه لوی خطرمخنیوی وشو. او دیوه ستردیني انتشار دروازه وتړل شوه چې دسطحي علماو په تائید، دخانقاو په سرپرستي، دامیرانو او رئیسانو ددلچسپي اومرستې له کبله په اسلامي ټولنه کې په خپریدوو.

فجزاه الله عن الإسلام والمسلمين خيرالجزاء.

www.abulhasanalinadwi.org

# شپږمه برخه

## وحدةالوجود که وحدةالشهود ؟

### شیخ اکبر محی الدین ابن عربي اود
### وحدة الوجود دمسئلې تفصیل او تدوین:

مخکیني صوفیان به چې کله مغلوب الاحوال شول نو داسې" اتحادنما " خبرې به یې له خولې وتلې چې هغه په وحدة الوجوددلالت کوي لکه دستر اونومیالي شیخ او عارف حضرت بایزید بسطامي داخبرې چې ویل به یې: "سبحاني مااعظم شاني " او "لیس في جبتي الا الله " او دحسین بن منصور د "انا الحق " چیغه زیاتې مشهورې دي. خو شیخ محی الدین ابن عربي مړ ۶۳۸ ه چې دشیخ اکبر په نامه سره شهرت لري ددې مسلک مجدداوپه علمي توګه باني اوموسس دی او له هغې زمانې نه دده شهرت او مقبولیت دې درجې ته ورسیده چې په اهل تصوف کې یې دموسمي اغیزېه ډول نفوذ کاوه داسې چې ډیر ځواکمن خلک هم ځنې خوندي نه شول. تردې پورې چې دی د ذوق او تحقیق دخاوندانو شعار وګرځیده اوپه ګډه یې هرڅه په ده پورې تړل اُوله ده نه انکارکول یې د خپل جهالت دثبوت او له تصوف نه دناخبرتیا

www.abulhasanalinadwi.org

په معنی و لکه مجدد صاحب چې وايي : دوی دتصوف داسې بابونه اوفصلونه وټاکل لکه په علم نحو اوصرف کې چې ټاکل شوي دي (۱) د شیخ اکبر په نزد د وحدة الوجود حقیقت څه دی، دی هغه څه ډول وړاندې کوي، دهغه لپاره کوم دلایل وړاندې کوي اوداپه څه ډول یو روښانه حقیقت، یوه عملي تجربه اودکشف مشاهدې اومعامله ګرځوي،اوبیادی‌څه ډول دیوې خانګړې فلسفې اومکتب حیثیت اختیارکړ اوپه دې باندې یوه دومره ستره کتابخونه تیاره شوه چې دهغې دلنډې جایزې اخستلولپاره هم یوه ستردفترته اړتیاده په دې کتاب کې یې ضمني او اجمالي یادونه هم ګرانه ده.

څرنګه چې دا دتصوف او فلسفې ژوره اودقیقه مسئله ده چې دهغې لپاره دتصوف فلسفې ژوراصطلاحات پیژندل ضروري دي اوله باطني تجربواوعلمي سیراوسلوک سره هم تړاو لري نوځکه ددې کتاب په دې کوچنۍ برخه ( شپږمه برخه ) کې دهغې ځایول ګران دي، کوم لوستونکې چې په دې مسئله باندې په عملي توګه د پوهیدنې مینه لري هغه دې دشیخ اکبرمشهورکتابونه " فتوحات مکیه " او " فصوص الحکم " وګوري (۲)، حضرت مجددصاحب دوحدة الشهود داثبات په اړه اوږده مکتوبات لیکلي دي په هغوکې چې دشیخ اکبرمسلک په څه ډول وړاندې شوی‌اودهغه لنډیز اوترجماني یې کړېده له هغونه هم دده مسلک اومرادپیژندل اسانه دي اودهغوضروري اقتباسات به په دې لیکنه کې په خپل ځای‌کې راوړل شي مونږدلته دعلامه عبدالعلي بحرالعلوم لکهنوي مـړ۱۲۲۵هـ دکتاب "وحدة الوجـود" څـو اقتباسات وړاندې کوو، نوموړي د اصولو اوحکمت دفن ناپایه

---

(۱) مکتوب ۸۹ دریم ټوک دقاضي اسماعیل فریدابادي په نامه.

(۲) په دې لړکې دسیدشاه عبدالقادر مهربان فخري میلاپوري مړ۱۲۰۴هـ کتاب اصل الأصول في بیان مطابقة الکشف با لـمعقول و الـمنقول – (دمدراس پوهنتون دکال ۱۹۵۹م چاپ) مطالعه هم ګټوره ده

www.abulhasanalinadwi.org

سمندردی او دشیخ اکبر دوحدةالوجود دنظریې ترجمان دی اودهغه له کتابونوپه ځانګړې توګه " فتوحات مکیه " او" فصوص الحکم " سره ښه اشنااوماهر یې دی، دده په اقتباساتو سره به دشیخ اکبر دموخې اومراد په پیژندلو کې څه مرسته ترلاسه کړای شي که څه هم په دې کې داسې ګڼ شمیر اصطلاحات او تعبیرات راغلي دي چې په هغو باندې دفن ماهرین او هغه څوک پوهیږي چې ددې فن دپوهانو په ژبه اودبیان په اسلوب پوهیږي خومونږ له دې نه روښانه او واضح بل څه پیدانکړل څکه یې دلته رااخلو[1] دی لیکي: له خدای نه پرته چې څه دي هغه عالم شیونات او تعینات دي ټول شیونات اوتعینات دهغه مظاهردي اودی په هغوکې ساري اوڅرګنددې .

داسرایت دحلول دوالو سرایت نه دی اونه هغه چې داتحادوالو یې بیانوي بلکې دا سریان دهغه سریان په څیردی چې دشمیرې په عددونوکې د "یوه " دی. دشمارټول اعداد له واحدونو پرته نور هیڅ نه دي په نړۍ کې دیوه ذات ظهور شته. په کثرت کې دی ښکاره دی په خپله کثرت وجودنه لري دالله پاک دذات له وجود سره هغه ښکاره شوی دی اودالله پاک ذات په هغه کثرت کې ښکاره شوی، الله اول دی، الله اخر دی، الله ظاهردی، الله باطن دی، الله له شریک نه پاک دی، دالله پاک نوم له کوم مظهر پرته نه ښکاره کیږي، هغه مبارک نوم که تنزیهي وي یاتشبیهي اوس چې څرنګه اسماء په مظاهرو پورې وتړل شول او له مظاهرو پرته دهغو دکمال تصورنه شي کیدای نو الله پاک دنړۍ اعیان او ذاتونه موجودکړل څو هغه دده مظاهرشي اودهغه داسماو او نومونوکمال په پوره توګه څرګند شي، الله پاک په

---

[1] په دي ليکنه کي ډيرداسې اصطلاحات شته چي دهغو پښتو کول دګتې په ځاي تاوان کوي دهرعلم وفن خپل ځانګړي اصطلاحات اوتعبيرات وي چي دخپل فن خلک يي کاروي نودهغوترشاپراخي معناوې پرتې وي د پښتو په يوڅوتوروکي هغه نه شي ځايول کيدای ځکه موپه خپل ځاي پريښودل (ژباړن)

www.abulhasanalinadwi.org

خپل ذاتي کمال کې په يقيني توګه غني اوڅه شي ته اړنه دی ( خود نومونو دکمال په مرتبه کې دعالم له خارجي وجود نه غني نه دی ) [۱] حافظ شيرازي وايې :

پرتو معشوق گر فتاد برعاشق چي شد
مابدومحتاج بوديم او به مشتاق بود

يعنې که دمعشوق سيوری په عاشق ولوېږي نوڅه خبره ده؟ مونږهغه ته اړ وو او دی مونږ ته ليواله، دابيان له دې قدسي حديث څخه ثابت دی: کنت کنــزا مخــفيا فأحببت ان اعرف فخــلقت الــخلق زه يوه پټه خزانه وم ماوغوښتل چې وپيژندل شم له دې امله مې مخلوق پيداکړڅو زما اوزما دنومونو مظهر شي، څوک چې د دوو وجودونو قايل وي يود الله وجود بل دممکن وجود نو هغه شرک کوي او داشرک خفي اوبڼ دی او څوک چې يواځې يو وجود مني اووايې چې وجود يواځې دالله دی له ده پرته چې څه دي هغه دده مظاهراو ښکاريدو ځايونه دي اودمظاهرو ډيرښت دهغه له يووالي او وحدت سره منافي نه دی نو داکس"موحد" دی، ته له حق سره يوشی اوعين حق نه يې ځکه حق تعالی وجود مطلق حقيقت دی اوته مقيداومتعين يې اومتعين په هيڅ ډول عين مطلق نه شي کيدای هوکې ته په خپل حقيقت کې عين حق يې حق تعالی په تاکې متعين دی الله پاک دموجوداتو په ذات کې دتعين له قيدنه ازاد اودتعين په قيد سره مقيد بياموميې يعنې الله پاک په متعين کې څرګنديږي لاموجود ولا اله الاالله. له الله پرته نه موجود شته اونه معبود[۲] ددې مسئلې اغيز دشيخ اکبرله زمانې وروسته دومره هر اړخيزېلکې نړيوال شوی و چې ويل کيږي په صوفيانو، فلاسفه و اوشاعرانوکې نوي په سلوکې ددې مسئلې قائل

---

[۱] دقوسينوپه منځ کي عبارتونه که داسې ليکل شوي واي نو احتياطي به و چي: دالله تعالی دنومونو دکمال څرګنديدل دعالم خارجي وجود غوښت (کتونکي)

[۲] دبحرالعلوم علامه عبدالعلي انصاري لکهنوي له کتاب (وحدة الوجود) څخه چي مولانا شاه زيدابو الحسن فاروقي مجددي ژباړلی او ندوة المصنفين دهلي خپور کړی دی مخونه ۲۹-۵۶ .

www.abulhasanalinadwi.org

اومنونکې و اویایې له رعب لاندې راغلي اوهمغږي شوي يې وو، د شيخ مخالفت کوونکې زيات دحديثوعلماء فقهاءاوهغه علماووچې علماء ظاهربلل کيدل په دوی کې دا لاندې نوميالي علماءاودفن ماهرين هم وولکه:حافظ ابن حجر عسقلاني، علامه سخاوي، ابوحيان مفسر، شيخ الاسلام عزالدين ابن عبدالسلام، حافظ ابوزرعه، شيخ الاسلام سراج الدين البلقيني، ملاعلي القاری اوعلامه سعدالدين التفتازاني، دانوموړي علماء که څه هم دکتاب اوسنت ښه عالمان اوددينې علومو ماهرين وو خوله يو دوو پرته دانور په باطني علوموکې داهل تصوف په نزد منل شوي نه وو نو ځکه ددوی مخالفت په دې مقوله او اصل باندې حمل کيده چې: الناس اعداء ماجهلوا. خلک چې په کوم شی پوهيږي نه دهغه دښمنان دي.

## شيخ الاسلام ابن تيميه اودوحدة الوجود دنظريې مخالفت

ابن تيميه دوحدةالوجود مسئلې دمخالفينوعلمبردار دی ،ده په دې مسئله باندې دکتاب اوسنت اود تصوف د وروستيو پايلو اواغيزو په رڼاکې تنقيدونه اوتبصرې کړي دي په دې لړکې دشيخ الاسلام تقي الدين حافظ ابن تيميه ۶۶۱ - ۷۲۸ه نوم تر هر چاروښانه دی، دی دشيخ اکبرله وفات ۶۳۸ ه نه درويشت کاله وروسته پيداشوی دی ، شيخ اکبر چې په کوم ښار "دمشق " کې وفات شوی دی اوپه کوم ځای کې دفن شوی دی په همغه ځای کې ابن تيميه په ښه اوبد پوهه شوی او ښوونه او روزنه يې هم هورې شوې ده او سترو علمي اوذهني کمالاتوته رسيدلی دی، کله چې دده شعوربالغ شو او چاپيريال ته يې په تنقيدي نظر وکتل نوهغه مهال دشيخ اکبر دمړينې ايله څلويښت، پينځه څلويښت کاله وتلي وو په مصر اوشام کې دده علمي تحقيقاتو شورماشور جوړ کړی وو اودعلم اومعرفت خمونه دده دتوحيدله ذوق نه ډک وو په مصرکې شيخ ابوالفتح نصر المنجبي دشيخ اکبر په سرسخته عقيدتمنوکې و اودسلطنت ټولواک اود تور او سپين خاوند رکن الدين

www.abulhasanalinadwi.org

بیبرس الجاشنګیر دشیخ نصرالمنجبي مرید و، په شام اوډیرو عربي هیوادو کې دشیخ کتابونه په ځانګړې توګه" فتوحات مکیه " او" فصوص الحکم " په ټولیزه توګه رواج وو اوخلکوپه خوندخوند ویل، په خپله ابن تیمیه په دې اعتراف کړی چې په فتوحات مکیه، کنه الـــمحکم المربوط، الدرة الفاخرة ، مطالع النجوم او نوروکې ډیرې زیاتې علمي ګټې او غوره نکات پراته دي .

دشیخ اکبر دمسلک په پرمخ وړونکو کې چې ډیر شهرت ته رسیدلي وو هغه لکه :ابن سبعین، صدرالدین قونوي ( چې دشیخ اکبرشاګردو ) بلیاني او تلمساني وو، امام ابن تیمیه په دوی ټولوباندې شیخ اکبرغوره بولي اوله دې نه جوتیږي چې ابن تیمیه دانصاف اوتحقیق لمنه نه ده پریښې اوپه " اذا حکمتم بـین الناس ان تـــحکموا بالعـــدل " باندې یې عمل کړی دی، دی لیکې: ابن عربي له دې خلکونه اسلام ته ډیرنږدې دی اودده خبرې په ډیروځایونو کې نسبتاښې دي ځکه دی دمظاهر اوظاهرپه منځکې توپیرکوي امر، نهی اوشرعي احکام په خپل ځای ږدي مشائخوچې دکومو اخلاقو او عباداتو تاکید کړی دی هم دهغود اختیارکولو مشوره ورکوي له دې کبله ډیرصوفیان دده له خبرونه سلوک ترلاسه کولای شي که څه هم هغوی دده حقائق په سمه توګه نه شي پیژندلای اوڅوک چې دده حقائق پیژني اوله هغو سره موافقت کوي بیادده دخبرو حقیقت ورته څرګندیږي،[1] بل ځای په یوه لوړرتبه مسلمان باندې دښه ګومان اود خپل حکم لګولو باریک مسئولیت احساس کوي اولیکې: خدای پوهیږي چې دده خاتمه به په څه ډول شوي وي خدای دې نرو او ښځو، مړو او ژوندیوته ښښنه وکړي ﴿ ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان ولاتجعل فی قلوبنا غلا للذین امنوا ربنا انك رؤف رحیم﴾ خدایه مونږ اوزمونږ هغو وروڼو ته ښښنه وکړي چې له مونږنه مخکې له ایمان سره تیرشوي دي اوزمونږ

---

(۱) دشیخ الاسلام مکتوب دشیخ نصرالمنجبي په نامه چي په " جلاء العینین " کي راغلی دی ۵۷

www.abulhasanalinadwi.org

په زړونوکې دایمان دخاوندانولپاره کږوالی مه اچوه ! زما ربه ته د ډیر شفقت والا او مهربانه یې .[۱]

## دوحدة الوجود دعقیدې سرسخته داعي او دهغه اغیزې

خوداسې معلومیږي چې ددې تحقیق خاص مزاج دده ټولیزه خپراوی او تبلیغ اوپه زده کړه او تلقین کې له جوش نه کار اخیستل کیده اوداحتیاط نه کولوله امله په خپله په شام کې چې ددیني علومو لوی مرکز و او دمصر دترکي توکمه حکومت یو ولایت و؛ یوډول ذهني اواخلاقي انتشارپیداشوی‌وخلک دشریعت،عقل او اخلاقو له پولواوښتي ووااوپه اسلامي ټولنه کې یو بحراني کیفیت په راښکاره کیدو و، دیوه حکیم له وینا سره سم: ونه په جرړو نه په میوه پیژندل کیږي د"وحدة الوجود " دعقیدي ونه چې په څه ډول پاښو او میوې ته رسیدلې وه هغه دشریعت دساتونکې اوغیرتي عالم او داعي لپاره دتشویش وړ وه اوحق یې درلود چې نیوکې پرې وکړي ابن تیمیه په نقل کولوکې په ټولیزه توګه احتیاطي دی، دی نقل کوي چې تلمساني د وحدةالوجودپه علم کې ترټولو مخکې دی، دی نه یواځې دوحدةالوجودقائل و بلکې عمل یې هم پرې کاوه ده به شراب څښل اودمحرماتو ارتکاب یې کاوه (چې موجود یوشي نودحلالو او حرامو توپیر له کومه شو؟ )

امام ابن تیمیه لیکي: ماته یوه باوري سړي بیان کاوه چې ده له تلمساني نه فصوص الحکم وایه اودایې داولیاءالله اوصوفیانوخبرې بللې کله چې ده فصوص ووایه اوورته معلومه شوه چې دده مضامین له قرانکریم سره څرګند مخالفت لري

---

[۱] دشیخ الاسلام مکتوب دشیخ نصر المنجبي په نامه چې په " جلاء العینین " کې راغلي دي ۵۷

www.abulhasanalinadwi.org

نوده تلمساني ته وويل چې داخوله قران نه مخالف دی تلمساني ځواب ورکړ چې قران خو ټول له شرک نه ډک دی ځکه هغه دخدای اوبنده په منځ کې توپیرکوي توحیدخو زمونږ په خبرو کې دی دده دامقوله چې دکشف په ذریعه هغه ثابت شوې چې هغه ټول دعقل په خلاف دي، [۱] دی زیاتوي: یوسړی چې له تلمساني اودهغه له همفکره څخه و ماته یې ویلي چې مونږ په یوه مړه پمن سپي باندې تیریدو دتلمساني ملګري وپوښتل چې دا هم دخدای ذات دی؟ هغه ځواب ورکړ ایاکوم شی هم دده له ذات نه وتلی دی هوکې هر څه دده په ذات کې دننه دي .[۲]

دی په خپل کتاب ( الـــرد الاقـــوم على فصوص الـــحکم ) کې لیکي: ځینې خلکو وویل چې کله وجود یودی نو ولې خپله ښځه حلاله ده اومورحرامه ده؟ دې محقق ځواب ورکړ چې زمونږ په نزدټول یوډول اوبرابردي خودې محجوبینو ( هغه چې له ریښتونی توحید سره ناآشنا دی ) وویل چې مور حرامه ده نومونږ ورته وویل چې هوکې په تاسو باندې حرامه ده .[۳] دانه شی ویل کیدای چې ددې بیباکه خبرو او اخلاقی انارشی مسئولیت دشیخ اکبر په څیرمحقق او عارف په غاړه دی یا د هغه له کتابونو نه راپیدا شوی دی ؟ دی په اخیری درجه دسنتو تابع و.[۴] خورانیک او زاهد انسان و، ریاضت کوونکې، مجاهد اوله خپل ځان سره یې محاسبه کوله، دشیطان له فریبو اود نفس له مکاری نه پوره خبر و .[۵]

---

[۱] الفرقان بین الحق والباطل ۱۴۵ .

[۲] همدا اثر .

[۳] الرد المحکم علي فصوص الحکم . ۴۲ .

[۴] شیخ اکبر دامام داود ظاهري دظاهري مذهب پیرو و چې هغوی قیاس نه مني او دحدیثو اوقران په ظاهر باندې عمل کوي .

[۵] دبیلګې په توګه د ده کتاب (روح القدس) وګورئ .

www.abulhasanalinadwi.org

خو له ده نه ځيني داسې ويناوې رانقل شوې چې څوک له وړې خبرې نه غرونه جوړوي دهغو لاس ته يې ډېر څه وروستي دي. لکه داچې دموسى عليه السلام په زمانه کي دخوسي عبادت کونکو په حقيقت کي دخداي عبادت کاوه موسى عليه السلام هارون عليه السلام ځکه وواهه چي ده دخوسي دعبادت مخالفت ولي کاوه؟ ( دخوسي عبادت عين د خداي عبادت دي ځکه موجود يو دی )، ددوی په نزد موسى عليه السلام له هغوعارفينو څخه نه وو چې په هر شي کې يې دحق مشاهده کوله اودا يې له هرشي سره عين باله. دده په نزدفرعون په خپله دې دعوی کې په حقه و چې ويل يې : ﴿انا ربكم الاعلى﴾ بلکې هغه عين و څرنګه چې په تکويني توګه فرعون حکومت ترلاسه کړی و اود حق څښتن و نودده داخبره په ځای ده چې: ﴿انا ربكم الاعلى﴾ ځکه چې کله ټول په يو نسبت رب کيږي نوزه په هغو ټولو باندې لوړ يمه ځکه ماته په ظاهره په تاسو باندې د حکومت کولو اوفيصلې کولو اختيار راکړی شوی دی وايې چې کله جادوګر دفرعون په صداقت وپوهيدل نودوی دهغه مخالفت نه دی کړی بلکې دده اعتراف يې وکړ او ويې ويل: ﴿ اقض ماانت قاض انما تقضى هذه الحياة الدنيا ﴾ ته چې کومه پريکړه کوي هغه وکړه! ته ددې دنياپه ژوندکې حکم چلولای شې. له دی کبله دفرعون داخبره بيخی په ځای وه چې ويل يې ﴿انــاربــكم الاعــلى ﴾ دی په نوح عليه السلام باندې تنقيدکوي اود هغه کافرقوم چې د کانو عبادت اوتعظيم يې کاوه ښه بولي دی وايې چې هغو بت پالوپه حقيقت کې دخدای عبادت کاوه .اودنوح عليه السلام طوفان په حقيقت کې دالله د معرفت دطغياني سمندرجوش و چې هغوی پکې غرق شول .[1]

په دې اساس ډېر مشائخ اوعارفين چې د شيخ اکبر دلوړی مرتبې قائل هم وو

[1] دشيخ اکبرداټولي ويناوې له " الرد الا قوم علي مافي كتاب فصوص الحكم " او " الفرقان بين الحق والباطل " نه اخيستل شوي دي اوابن تيميه دا له فصوص الحكم نه راخيستي دي داخبر ښکاره کول ضروري دي چي دشيخ اکبرله علوموسره تړاولرونکې يوه ډله داهم وايي چي دشيخ په کتابونو په ځانګړې توګه "فصوص الحكم" کي زښت زيات الحاقات اوزياتونې شوي دي .

www.abulhasanalinadwi.org

اودی یې په مقبولینوکې باله دوی خپل اړوند خلک دده دکتابونو له مطالعې نه په سختۍ سره منعه کول د(النور السافر) مصنف شیخ محی الدین عبدالقادر عیدروسی له خپل شیخ علامه بحرق نه روایت کوي چې دهغه مرشد اودخپل وخت نومیالی شیخ ابوبکر عیدروسي بیان کاوه چې زما نه په یاد کیږي چې زه دې خپل پلار ( شیخ عبدالله ابن ابی بکر حضرمی ) کله وهلی یا سپک کړی یم یواځې یوځل هغه ماته ډیر په غصه شو اوهغه ځکه چې ده زماپه لاس کې دشیخ اکبرد کتاب ( فتوحات مکیه ) یوټوک ولید. اوماله هغې ورځې راپه دیخوا بیادهغه کتابونوته لاس هم ور نه وړ. دی‌وایې چې زما پلاربه خلک دشیخ له دواړوکتابونوفتوحات او فصوص له مطالعې نه په ډیره سختې سره منعه کول خوله دې سره به یې دا ټینګار هم کاوه چې په شیخ اکبرباندې بنه ګومان کوئ او ویل به یې چې دهغه په اړه په دې عقیده اوسئ چې دی له اولیاء الله او عارفینونه وو.[۱]

## په هندوستان کې دوحدةالوجود عقیده

په اتمه پیړۍ کې چې کله داعقیده هندوستان ته راغله نوله دی‌کبله چې هندوستان په خپله ددې عقیدې اومسلک ډیرپخوانۍاوسرسختۍمنونکۍاوداعې پاتې شوی‌اودتصوف دځینې مورخینوله ویناسره سم دایران،عراق اومغرب متصوفینو د وجودي توحید سبق له هندوستان څخه وړی دی . د اسلام له راتګه وروسته هم پرته له څه پریکون نه داهیواد ددې مسلک او عقیدې علمبردار اود( همه او ست ) قائل و. اود اریایې نسلونو دمزاج اوددې ځای دمذهبو او فلسفو ( چې د سامی قومونو او دانبیاو په سیمه کې د پیداشویو مذاهبو په خلاف له قیودونه ازاد اوله زړهاوکلونو راهیسې دوحدت وجود او وحدت ادیان قائل وو ) د ازادی له کبله دی

[۱] النورالسافر مخ ۳۴۶ .

www.abulhasanalinadwi.org

مسلک او مشرب نورهم ژور او شوخ رنګ غوره کړ. اودلته په راتګ سره ددې فلسفي مزاج له ځایې مزاج سره همغږی شو او یو نوی جوش او نوی فکري مکتب یې پیداکړ،ددې ځای په مشاېخوکې ګڼ شمیر یې ددې عقیدې مبلغین او داعیان لیدل کیږي. په دوی‌کې په ځانګړې توګه دچشتیه صابریه طریقې نومیالی شیخ شاه عبد القدوس ګنګوهی مړ ۹۴۴ه شیخ محمد بن فضل الله جهنجهانوی مړ ۱۰۲۹ه اوشیخ محب الله اله ابادی مړ۱۰۵۸ه دوی هر یو په خپل وخت کې ابن عربي اوپه خپلو سیمو کېابن فارض وو. په دوی‌کې زیات یې د مجدد صاحب نه څه مخکې یادده له زمانې سره نږدی یادده په زمانه کې په ارشاد او تحقیق باندې بوخت وو.

## شیخ علاء الدوله سمنانی او دوحدة الوجود مخالفت

لکه مخکې چې وویل شودوحدة الوجودپه مسلک او شیخ اکبرباندې تنقید کوونکې زیات هغه خلک دی چې دظاهری علومو ماهرین دی اود معرفت او حقیقت له کوځې، درياضت اومجاهدی له نږه او معارفواود حقائقو او علمي تجربو سره نا اشنا دی. ځکه خو له دی مسلک سره اشنا خلک ددوی په تنقید سره دا وایې اوپروایې نه کوي:

لذت می نشناسی بخدا تاپخشی او ـ چون نه دیدند حقیقت ره افسانه زدند

لومړی مسلمان او محقق صوفي اوعارف چې په ځانګړتیا اواهمیت سره یې په دې مسلک باندې تنقیدکړی دی هغه شیخ رکن الدین ابوالمکارم علاء الدوله سمناني دی، (۱) علاء الدوله السمناني ۶۵۹ ـ ۷۳۶ه د خراسان په سمنان کې په یوه

---

(۱) مکتوبات امام رباني ۸۹ دریم دفتر.

www.abulhasanalinadwi.org

شتمنه او مشهوره کورنۍ کې زېږېدلی دی، دده دکورنۍ ډېرغړي دحکومت په لوړوعهدو او منصبوبوکې مقرر وو ده له شیخ نورالدین عبدالرحمن الکسرقي الاسفرائني څخه په کبروي طریقه کې باطني استفاده وکړه اواجازت یې ځنې ترلاسه کړ، دشیخ اکبرد وحدة الوجود دنظریې په خلاف هغه پرلپسې مناظرې جاري وساتلې اوپه خپلو لیکونو کې یې هم ځای په ځای دهغې یادونه کړې ده، دده په نزددطریقت دلاروي وروستنی هدف ( توحید ) نه دی بلکې ( عبودیت ) دی، دده خبرې دده مریداقبال بن سابق سیستاني ترتیب کړي دي چې د هغه څونسخې د(چهل مجلس) یاملفوظات شیخ علاء الدوله السمناني په نومونوسره په کتابخانوکې خوندي دي دجامي د( نفحات الانس ) مخونه ۵۰۴ ــ ۵۱۵ زیاته برخه دده له ملفوظاتواخیستل شوي دي.[1]

## وحدة الشهود

زماله پوهې اومطالعې سره سم دوه نومیالي شخصیتونه داسې تیرشوي دي چې له هغوسره د وحدةالوجود متوازي د وحدةالشهود یادونه اودهغې لوري ته نغوتې شته دي، دا دواړه سره له دې چې دبیلولارو لارویان دي خوپه ښه نیت، دذوق سلامتیا او اخلاص کې سره شریک دي چې په دې سره دهدایت د دروازو دپرانستلو قراني وعده موجوده ده: ﴿والذين جاهدوا فينا لنهد ينهم سبيلنا﴾ یو شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه دی چې اصلا محدث، متکلم او فقیه و، دویم مخدوم الملک شیخ شرف الدین یحی منیري دی چې اصلا عارف محقق او د تصوف امام و، دلومړي له کتاب ( العبودية ) نه په صفا توګه څرګندیږي چې هغه د وحدةالشهودله کوڅې سره اشناو اوله دې حقیت نه خبرو چې دسلوک لارویان ددې

[1] مقاله – F. Meier له اردو دائرة المعارف اسلامیه نه .

www.abulhasanalinadwi.org

لارې په منځ کې له دې مقام سره مخ کيږي اوهغه مقام د انبياو عليهم السلام، دهغو دپيروانو، صحابه کرامو اونورولـه معرفت نه ټيټه درجه لري خودوحدةالوجود له مقام نه لوړ اوبهتر دی.[۱] خو څرنګه چې دا دده اصلي ميدان نه دی نوځکه يواځې په اشاراتو او نغوتو اکتفا اوبسنه کوي خومخدوم بهاري مړ۷۸۲ه په خپل مکتوبات کې دامسئله په ډيره ښه توګه وړاندې کړې ده دی دخپلې ذاتي تجربې اوددې مقام دتحقيق په رڼاکې چې ده ترلاسه کړې و وايې چې : په عامه توګه چې څوک د وحدةالوجود اوله حقه پرته عدم محض او کامله فناء بولي په اصل کې ددوی په اندحقيقي وجودپه مخکې نورموجودات داسې مغلوب شوي دي لکه دلمردرڼاپه وړاندې دستورو درڼا مغلوبيدل اودزراتو وجودبې حقيقته کيدل، دی په دوو توروکې داحقيقت په دې ډول بيانوی : نابودن ديگر و نا د يدن ديگر. ديوه شي نشت والی يوشی دی اونه ليدل يې بل شی دی اووايې چې دايوداسې باريکه ځای دی چې دډيرو ښواوتکړه خلکولينګې پکې ګېرېيدلي دي اودخدایﷻ له توفيق او کامل فضل نه پرته دحقيقت په لاره دريدل ډيرګران او له ستونزو ډک دي.[۲]

## يوه نوي تجديدي شخصيت ته اړتيا

خوددې مسئلې دسپينولو اود اتمام حجت لپاره يوه داسې شخصيت ته اړتياوه چې هغه دسلوک له دې ازغنولارو تيرشوی وي دهغه سترمنازل يې طی کړي وي اوحقيقت دسيندلامبوزن وي څود عملي تجربوله څپې لرونکې اوتوپاني سيندنه تير شي اود حقيقت ساحل ته ځان ورسوي، هغه نه علم ديوشي دنشتوالي دليل وګڼه

---

(۱) رسالة العبودية مخونه ۸۵-۸۸ واما النوع الثاني فهو الفناء عن شهود السوى إلخ وګورئ "المكتب الإسلامي دمشق".

(۲) مکتوبات اول دري سويز مکتوبات اودهغه اقتباس دتاريخ دعوت و عزيمت په دريمه برخه مخونه ۲۸۴- ۲۸۶ وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

مكتبة العلامة عبد الرحمن الحسني
دار عرفات رائے بریلی الهند

بولې بلکې د يوه عيني شاهد اولو رهمتي مساپر په څير په پوره باور څيرکتياسره دا ووايي چې تر کومه ځايه د وجودي توحيد تړاو دي :

هون اس کوچه کے هر زره سے اگاه - ادهر سے مدتو ن ايا هون

ژباړه: ددې کوڅې له هرې زرې نه خبريم ـ دلته مې ډيره موده تګ راتګ شوی دی اوله دې سره داهم ووايې چې :

ستارون سے اگے اور بهی هين

له ستوروها خوا بله نړۍ هم شته

دوحدة الوجود په لړکې تردې وخته پورې دمنونکې اونه منونکې درې مسلکه وو:

۱) دوحدة الوجود پوره منونکي اوداچې هغه يوځرګندحقيقت دی اود تحقيق او معرفت وروستی منزل دی .

۲) دوحدې الوجود مکمل انکار اوداچې هغه وهم او خيال دی دمتخيله قوت کار اوله باطني مشاهدې پرته هيڅ نه دي

۳) د وحدة الوجود متوازي نظريه وحدة الشهود منل، اوداچې په حقيقت کې دسلوک لاروي ته څه په سترګو ورځي اوکوم حقيقت اونفس الامر دی هغه داسې نه ده چې وجود يو دی اوله واجب الوجود خدای پرته د هر شی وجود په حقيقي توګه نشت اومعدوم دی بلکې حقيقت دادی چې ټول موجودات په خپل ځای موجود اوشته دي خو د واجب الوجود د حقيقي وجود نور او رڼاپه هغوی باندې داسې پرده غوړولې ده چې هغه معدوم او نشت ترسترګوکيږي. لکه څرنګه چې دلمرله ختلو وروسته ستورې ورک شي اوڅوک ووايې چې ستورې نشته نو هغه دروغژن نه دی داراز موجودات دهغه دحقيقي او کامل وجودپه وړاندې داسې بې حقيقته ترسترګوکيږي چې ګواکې له سره وجود نه لري .

## د مجدد صاحب زياتو نه او تجديدی کارنامه

مجدد صاحب ددي دريو مسلکونو په مقابل کې يوځلورم مسلک غوره کړ هغه دا چې وحدة الوجود دسلوک دلاروي يو منزل دی هغه ته په مشاهده اوسترګو داسې ليدل کيږي چې له حقيقي اوکامل وجود پرته يوشی هم وجود نه لري هر څه چې دي دا ټول يو وجود دی. پاتې نور ټول دده رنګونه او ډولونه دي يادشيخ اکبر اود هغه د پيروانو په وينا ( تنزلات ) دي خوکه چيرته دخدای مرسته وي اود شريعت د مشال لاربښوونه وي اود سلوک د لاروی همت لوړوی نو بل منزل هم مخته راځي او هغه د وحدة الشهود منزل دی . دا راز حضرت مجددصاحب وحدة الوجود هم نفي نه کړ هغه چې له پيړيو راهيسې دلوړ استعداده سالکينو، عارفانو اوځيرکوحکماو مسلک پاتې شوی و. اود هغه له ستر علمبردار شيخ اکبر محي الدين عربي نه يې هم انکار ونه کړ دهغه په سترمقام، مقبوليت او اخلاص باندې يې جرحه ونه کړه ځکه دهغه له علومو، معارفو، اسرارو اوکمالاتو نه انکار مکابره ده . بلکې په ډيرو ښو الفاظو يې دهغه يادونه کړې او دازياتونه يې هم وکړه هغه يوه نوې موندنه ( دريافت )اعلان کړه چې يوخواد جمهورو مسلمانو له عقيدې اوکتاب اوسنت سره برابرده بل لورته دپه شاتګ اوديوې سترې ډلې په علومو اوتحقيقاتو باندې دنسخې کربښې کشلو په ځای يوداسې شی زياتوي چې له شرعي دلا ئلو، قطعي اصولو، اخيري کشفياتو او تحقيقاتو سره مطابقت لري .

## ذاتي تجربه او مشاهده

له دې تمهيدنه وروسته دمجدد صاحب له څو اسانه او واضح خو بلندپايه مکتوباتو نه يوڅه را اخلو او سره لولو يې ! دخپلې روحاني لوړتيا اوله وحدة

الوجود نه د وحدة الشهود مقام ته درسیدلوکیسه یوه مرید شیخ صوفي ته په یوه لیک کې کارې اولیکي : محترمه ! له وړوکوالي نه ددې فقیرعقیده داهل توحید عقیده وه د فقیرپلار ( قدس سره ) په ښکاره په دې عقیده و اوپه ځانګړې توګه یې له دې لارې سره تړاو درلود ... لکه چې وایي :( إبن الـفقیه نصف الـفقیه ) د فقهي زوی نیم فقهي وي. فقیر هم په دې نسبت سره په علمي توګه پوره برخه لرله اوپه دې کې مې د ډیر خوند احساس کاوه. تردې پورې چې لوی څښتن له حقائقو اومعارفو خبردار، مویدالدین ، د خدای لارې ته بلونکی شیخ محمدالباقی ( قدس سره ) خدمت ته ورسولم . هغه محترم دې فقیرته دنقشبندیه طریقه ورزده کړه اودده په حال یې پوره توجه وکړه. په دې ستره طریقه کې له بوختیا وروسته په کمه موده کې دتوحیدوجودي انکشاف راته وشو اوپه دې انکشاف کې یوډول افراط پیداشو.دهغه مقام دعلومو اومعارفو زیات فیضان وشواوددې مرتبې په دقائقوکې داسې هېڅ نه و چې انکشاف دې نه وې شوی.

دشیخ محی الدین ابن عربي نازک اودقیق علوم چې په څه ډول وایي مخته راغلل اوپه هغه ذاتي تجلی هم مشرف شوم چې شیخ اکبر بیان کړې ده او هغه اخري اوج یې ترلاسه کړی وه چې په اړه یې دی وایي: مابعد هذا العدم الـمحض. ( له دې وروسته مطلق نشتوالی دی ) ددې تجلی علوم اومعارف شیخ په هغه چاپورې خاص کوي چې د ولایت اخیري پوړته رسیدلی وي . خوماته هغه په تفصیل سره حاصل شول . په دې توحیدکې سکر اود حال غلبه دې حد ته ورسیده چې ځینې عرائض مې چې حضرت خواجه ته لیکلي و ، په هغه کې د سکر شعرونه لیکل شوي دي دا حالت تر اوږدې مودې پورې وغځیده اوله میاشتوڅخه کلونوته خبر واوښته . چې ناڅاپه د لوی څښتن زیاته مهرباني د غیب له درځې نه راښکاره شوه هغه څرګنده شوه اود( لیس کمثله شئ ) په ځیر چې کومه پرده غوړیدلې وه هغه

يې لرې کړه اوهغه پخواني علوم چې د اتحاد او وحدة الوجود خبرېې راوړي وو مخ په زوال شول او احاطه، سريان ، ذاتي قرب اومعيت چې په هغه مقام کې يې انکشاف شوی و مخ پټې شول اوپه پوره يقين سره معلومه شوه چې خدای تعالی له دې عالم سره په هغو نسبتونوکې يو نسبت هم نه لري دهغه احاطه اوقرب علمي دی لکه څرنکه چې دا د اهل حق عقيده ده (شکرالله سعيهم ) هغه پاک ذات له يوه شي سره هم متحد نه دی . هغه بې چون او بې چگون دی هغه دڅرنګه او څه ډول په څواب کې نه راځي اوعالم ټول په دې داغ داغل شوی دی .

څوک چې بی کيفه دی هغه دکيف واله عين او په څيرڅنګه کيدای شي واجب ته عين ممکن ولې ويل کيږي ؟ قديم عين حادث هيڅکله نه شي کيدای . دچاچې نشت والی ممنوع وي هغه له داسې چاسره نه شي يوکيدای چې د هغه نشتوالی روا دی . د حقائقو انقلاب ( عقلا او شرعا ) ناشونی کاردی . ديوه په بل باندې حمل کول هم سم نه دي . خورا د حيرانتيا اوتعجب خبره ده چې شيخ محی الدين اود هغه پيروان د واجب الوجود ذات مجهول مطلق بولي اوپه هغه باندې هر ډول حکم کول سهي نه بولي بيا له دې سره سره ذاتي احاطه اود معيت ذاتي قرب ثابتوی. په دې باره کې سهی خبره هغه ده چې داهل سنت علماو کړی ده هغه دا چې ټوله معامله دقرب علمي او احاطه علمي ده .

دوجودي توحيد سره منافی علومو اومعارفو دحصول دا زمانه په فقير باندې ډيره په سخته تيره شوه ځکه چې ده له دی توحيد نه پورته بل شی نه پيژندل اوپه ډيره عاجزی اوزاريو سره به يې دعاکوله چې دامعرفت له منځه ولاړنه شی تردې پورې چې ټولی هغه پردی چې په دې حقيقت باندې پرتې وی پورته شوی اودنفس الامری حقيقت انکشاف وشو. اومعلومه شوه چې عالم که څه هم دالله پاک دصفاتی کمالاتو لپاره دهنداری حيثيت لري خو مظهر هغه عين ظاهرنه دی. اود

www.abulhasanalinadwi.org

هنداري عكس په ځان دعكس څښتن نه دی . اوسيوری دهغه شی عين نه دی چې دی يې سيوری دی . لكه څرنګه چې د وجودي توحيد د منونكومسلک دی دا مسئله په يوه مثال سره روښانه كيدای شی. دبيلګی په توګه ديوه داسې عالم او پوه چې په ټولوعلومو او فنونوكې ماهر دی په زړه كې داغوښتنه پيداشوه چې دی خپل ډول ډول كمالات څرګندكړی اوخپلی پټی ښيګنی اوكمالات ډاګيزه كړی نو توری ( حروف ) او غږ ونه (اصوات) يې ايجادكړل څودهغو په ذريعه خپل پټ كمالات ښكاره كړی په دې صورت كې دانه شی ويل كيدای چې داتوری اوغږونه چې دهغو پټوكمالاتوهنداره دی له هغو كمالاتوسره عين اوياپه ځان هغه كمالات همداتوری اوغږونه دی اويا هغوته نږدې او ذاتي معيت ورسره لري بلكې ددوی په منځ كې هغه نسبت دی چې د دال او مدلول په منځ كې دی. توري او غږونه ددې كمالاتو لپاره له دليل كيدوپرته نورهيڅ نه دي . او كوم نسبت چې پيدا شوی هغه وهمي اوخيالي دی . په حقيقت كې د ( عينيت ، اتحاد ، احاطه، قرب،معيت ذاتي ) له نسبتونوڅخه يونسبت هم نه دی ثابت خوڅرنګه چې ددې كمالاتو او تورو اوغږونو په منځ كې دظاهر اومظهر، او مدلول او دال كيدلو نسبت ثابت دی له دې كبله ځيني خلكو ته دځينې عوارضو په اساس دا وهمي نسبتونه حاصليږي خوپه نفس الامر اوحقيقت كې دا كمالات له دې ټولونسبتونوڅخه پاک اوخالي دی دحق تعالی اومخلوق په منځ كې هم له دې داليت اومدلوليت، ظاهريت اومظهريت نه پرته بله علاقه نشته.

ځيني خلک دتوحيد مراقبه زياته كوي چې بيا هغه ددې وهمي احكامولامل شي ددې مراقبو صورت په خيالي قوت كې نقش شي نورو خلكو ته دتوحيد دعلم اود هغه د اړولو اوتكرار له امله ددې احكامو يوډول ذوق حاصل شي اودځيني خلكو دې لوري ته دميلان اود وحدة الوجود دقائل كيدلولامل دمينې اومحبت

www.abulhasanalinadwi.org

غلبه وي . ځکه دمحبوب دمحبت دغلبې په مهال دمحبت کوونکي په سترګوکې یواځې محبوب وي اونور هرڅه وتل و . خوپه واقع کې بیاداسې نه وي چې ګواکې له محبوب پرته نور هیڅ نشته ځکه دا دحسن، عقل اوشریعت مخالف ده اوکله همدامحبت سړی د احاطې اوقرب ذاتي حکم لګولوته تیار اود توحیددا ډول له مخکینیو دوو ډولو څخه لوړ اوعالي دی. اود احوالو په دائره کې داخل دی .که څه هم له نفس الامر اوعقل سره موافق نه دی له شریعت اونفس الامر سره ددې دتطبیق هڅه بیځایه تکلیف دی . لنډه داچې دا کشفي خطایې ده اوداجتهادي خطایې حکم لري اوملامتیا ورباندې نشته بلکې په یوه حیثت خود حال اومغلوبیت له کبله هغه سم اوحق ته رسیدلی هم کیدای شی [۱].

## شهودي توحید

په یوه بل مکتوب کې چې شیخ فرید بخاري ته یې لیکي کاږي: هغه توحید چې د سلوک په دوران کې صوفیانو ته حاصلیږی په دوه ډوله دی : شهودي توحیداو وجودي توحید شهودي توحید د یوه لیدلوته وایې یعني دسالک مشهود پرته له یوه نه وي او وجودي توحید یوموجودبلل اوغیر له هغه نشت اومعدوم بللوته وایې. وړاندې لیکي او وایې: دبیلګې په توګه یوه سړي ته دلمر د وجود او شته والی یقین پیدا شو ددې یقین له غلبې سره دا خبره لازمه نه ده چې په دې مهال کې ستوري منتفي او نشت وبولي خوپه کوم مهال چې دی لمر ته ګوري ستوری نهویني نودده مشهود له لمره پرته بل شی نشته خوپه کوم وخت کې چې دی ستوري نه ویني په هغه وخت کې هم دی پوهیږي چې ستوري نشت نه دي بلکې دی

[۱] مکتوب ۳۱ لومړی ټوک دشیخ صوفي په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

پوهیږی چې هغه شته خو پټ دي او د لمر رڼاکې مغلوب شوي دي .[۱] جناب حضرت خواجه باقی بالله څه موده د وجودي توحیدعقیده لرله اوپه خپلو رسالو اولیکونوکې یې ددې څرګندونه هم کړې ده خوپه اخرکې یې د خدای تعالی په زیاته مرسته سره له دې مقام نه ترقي وکړه اوداسې لارې ته یې برابرکړی چې ددې معرفت له تنګي نه یې خلاصی په برخه شوه .[۲]

په یوه مکتوب کې دشیخ اکبر اود هغه دپیروانومسلک بیانوي اولیکې: هغه د وحدة الوجود قائل دی دی په دې اندې چې په خارج کې یوموجود دی اوبس. اوهغه دخدای تعالی ذات دی نورعالم په خارج کې هیڅ وجودنه لري خودی دهغه دعلمي ثبوت قائل دی او وایي (الاعیان ماشمت رائحة الوجود). یعني خارجي موجوداتو د وجود او، شتون بوی هم نه دی بوی کړی. دی وایې چې عالم د حق تعالی سیوری دی خو دده په اند داظلي وجودیواځی دحسن په مرتبه کې دی اوپه خارج او نفس الامرکې مطلق نشت دی.[۳] په دې مکتوب کې دخپلی ترقی کیسه کوي اولیکې: مامخکې دوجودي توحیدعقیده لرله دوړوکوالي په زمانه کې ددې توحیدعلم راسره و اوپه زړه کې مې دا یقین پوخ و.

که څه هم په دې معامله کې په هغه وخت کې دحال ښنبتن نه وم چې کله مې د سلوک په لاره پل کیښود نو اول دوجودي توحیدانکشاف راته وشو اوڅه موده ددې مقام په منازلوکې وګرځیدم اوله دې مقام سره ور ډیرعلوم راته حاصل شول اوهغه مشکلات اوستونزې چې دتوحیدڅښتنان ورسره مخ کیږي هغه په دې کشفیاتو او

[۱] مکتوب ۴۳ لومړی ټوک د شیخ فرید بخاري په نامه .
[۲] مکتوب ۴۳ لومړی ټوک دشیخ فرید بخاري په نامه .
[۳] مکتوب ۱۶۰ لومړی ټوک دیارمحمدالجدیدالبدخشي الطالقاني په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

فیضاني علوموسره حل شول څه موده وروسته په دې فقیر باندې بل نسبت غلبه وکړه اوددې غلبې په مهال د وجودي توحید په اړه له توقف سره مخ شوم خوله دې توقف سره سره ښه ګومان و او انکار نه و څه موده په دې توقف کې تیره شوه په اخرکې خبره انکار ته ورسیده اوراته ښکاره شوه چې داد وجودمرتبه ډیره ټيټه ده اوهغه دظلیت مقام ته ورسیدم چې له دې نه لوړدی. ددې انکار په معامله کې زه بې اختیاره وم او نه مې غوښتل چې له دې مقام نه ووزم ځکه چې لوی لوی مشائخ په دې مقام کې اوسیدل . خوچې کله د ظلیت مقام ته ورسیدم اوخپل ځان اوعالم مې سیوری وموندل نودا ارزو راته پیدا شوه چې له دې مقام نه بیل نه شم ځکه چې ماهغه پوره وحدة الوجود باله اودی مقام له هغه سره څه ناڅه نسبت درلود، خوتقدیري خبره وه چې د خدای تعالی په زیاته مرسته سره له دې مقام نه مخکې ولاړم اود(عبدیت) مقام ته یې ورسولم هغه مهال مې ددې مقام کمال ترسترګو شو اوددې مقام لوړتیا راته ښکاره شوه اوله تیرو مقاماتو مې توبه وکړه او بښنه مې وغوښتله که چیرته داعاجز دې لاری ته نه وای رسیدلی اوپه یوه مقام باندې دبل لوړوالی نه وای راته ځرګندشوی نومابه دامقام خپل ټيټ والی باله ځکه زما په اند له وجودي توحید نه لوړ بل مقام نه و . والله یقول الحق وهو یهدی السبیل .[1]

## دشیخ اکبر په اړه منصفانه اومعتدل مسلک

ددې اختلاف سره سره دشیخ اکبر په اړه خپل مسلک بیانوي اولیکې: دافقیر شیخ محی الدین په مقبولیت کې بولي خو دده هغه علوم چې دجمهورو له عقائدو، کتاب اوسنت دظاهر په خلاف دي هغه خطا اوتاواني بو لي، خلکو دده په اړه د افراط او تفریط لاره غوره کړې ده اوله منځلاری نه لري تللی دی یوه ډله

[1] مکتوب ۱۶۰ لومړی ټوک دشیخ یارمحمد الجدید البدخشي الطالقاني په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

خلک شیخ ته بد رد وایي اودده معارف اوحقائق هم غلط بولي، بلې ډلې د شیخ مکمل تقلیدغوره کړی دی اودده ټول معارف اوحقائق سم اوپه حقه بولي اوپه دلائلو او شواهدو سره دهغو حقیقت ثابتوي په دې کې شک نشته چې دواړه ډلو د افراط او تفریط لاره نیولې ده اوله منځلاری نه لرې تللي دي. عجیبه خبره ده چې شیخ محی الدین په مقبولیت کې ترسترګوکیږي اود هغه زیات معارف اوتحقیقات چې د اهل حق په خلاف دي خطا او ناسم ترسترګو کیږي .[۱]

یوځای د ځان او د وجودي توحید دمخالفینو توپیر بیانوي او لیکي: دا فقیر د وجودي توحیدله منونکو سره دکشف اوشهود له لاری اختلاف لري علماء وحدة الوجود اودغیرالله د وجودمطلق نشتوالی بد بولي دا فقیر د وجودي توحید ددې اقوالو اواحوالو په ښه والي کې څه مشکل نهویني خوپه دې شرط چې له هغو نه عبور او تیریدل رامنځته شي .[۲]

## دوجودي توحید دمخالفت اړتیا

دلته داپوښتنه پیداکېږی چې کله وجودي توحیدد سلوک یومنزل اودسلوک دلاروي لپاره یوه عبوري مرحله ده چې هغه ته په هره زمانه کې دسلوک دلارویانو یوه ډله ور رسیدلې په دوی کې یوه لویه ډله دی مرحلی ته په رسیدو سره په دې ځای دریدلی ده او ځینې يې بیادخدای تعالی په مرسته له دې نه واړندې دشهودي توحیدمقام ته رسیدلي دي نوپه دې کې څه بدي ده اومجددصاحب يې په دومره شد ومد سره مخالفت ولې کوي اوددې په مقابله کې په دومره زور اوشور سره

---

[۱] مکتوب ۲۶۶ لومړی ټوک دخواجه عبدالله اوخواجه عبید الله په نومونو .

[۲] مکتوب دخواجه جمال الدین حسین په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

دشهودي توحيد په اثبات اودهغه ترجيح باندې ولې خبرې کوي؟ ددې ځواب دادی چې دحضرت مجدد صاحب په زمانه کې د. وجودي توحيدپه منونکو، مبلغينو اوداعيينوکې يوګڼ شمير داسې يې هم پيداشول چېخپل ځانونه يې له شرعي قيودواواسلامي فرائضواو واجباتو نه ازاد بلل اودايې ويل چې ټوله ټول دحق له لوري دی بلکې ټول حق دی نو بيادحق اوباطل تفريق اودکفر او ايمان توپير څه معنی لري ؟ [1] دوی شريعت او په هغه عمل دعواموکار وباله ددوی په اند ارموخه ( اصلي مقصود ) له وجودي توحيدنه هاخوا له هغه بل لوړمقام و چې کاملينو سالکينوته حاصليده .

لسمه هجري پيړۍ د حضرت مجدد صاحب د ذهني اوروحاني ارتقااولوړتيا زمانه وه په دې زمانه کې ددې وجودي توحيدرنګ په ټول هندوستان کې داسې خپورشوی و چې عارفانه ذوق لرونکو شاعرانو ټولوددې سندرې ويلې اوکفراو ايمان يې برابر بلل . بلکې کله خوبه يې کفرته په ايمان باندې ترجيح ورکوله په هغه زمانه کې د خلکو په خولوکې داسې ډيرشعرونه ووچې داپورتنی مضمون يې افاده کاوه لکه :

کـفر وايـمان قـريـن يـک ديـگرنـد ـ هـرکــه راکـفر نيـست ايمان نيـست

اوپه يوه کتاب کې ددې تشريح شوې ده : له دې معنی وروسته اسلام په کفرکې دي اوکفر په اسلام کې دی﴿ تولــج الليل فــیالنهار وتــولــج الــنهار فــی اللـيل ﴾ له ليل نه مراد کفر اوله نهارنه اسلام دی .(۲) بل ځای داشعر رانقل کوي :

---

[1] دديارلسمې هجري پيړۍ د اردو مشهور شاعرمرزاغالب ددې خلکوترجماني په خپل شعرکې داسې کړې ده : هم موحد هين همارا کيش هی ترك رسوم ـ ملتين جب ميت گيئن ا جزاي ايمان هوگيئن موږموحدين يو زموږ عقيده درسمونو پرېښودل دي ملتونه چې کله ختم شي نودايمان اجزاء وګرځي.

[2] رساله عشقيه مخ ۱۷ .

www.abulhasanalinadwi.org

عشق رابا کا فری خو یشی بود ـــ کا فری درعین د رو یـــشی بود .

وړاندې ليکي: ( العلم حجاب اکبرست، مراد ازين علم عبوديت که حجاب اکبر است،اين حجاب اکبر اگر ازميان مرتفع شودکفربه اسلام واسلام به کفراميزد و عبادت خدای وبند گي برخيزد.)[١]

مجددصاحب ته خدای تعالی د ديني حميت اوفاروقي غيرت پوره برخه ورکړې وه اودده په ذات سره ددې مشهورحديث وړاندوينه مقدرشوې وه چې وايي: يــحمل هذالــعلم من کل خلف عدوله ينفــون عنه تــحريف الغالين وانتحال المــبطلين وتاويل الــجاهلين[٢] ددې علم به په هرنسل کې داسې عادل اومتقي وارثان وي چې دادين به د افراطي خلکوله تحريف، داهل باطل له غلطودعوواودجاهلانوله بيکاره تاويلاتونه لرې ساتي د مجدد صاحب لپاره داشي‌ددې عقيدې اودعوت علمي اوديني احتساب باعث شوچېد هغه په تبليغ اوخپرولوکې په هغه زمانه کې له ډيرجوش او زور نه کار اخيستل کيده، مجددصاحب ليدل چې ددې په اغيزسره دشريعت زورکميږي اودهغه سپيلځلتيا او احترام دخلکوپه نظر کې مخ په کمښت روان دی.

مجددصاحب په خپله په يوه مکتوب کې ليکي: " اکثرابناء وقت بعض به تقليد وبعض مجرد علم و بعض ديگر به علم متمزج بذ وق ولوفی الجمله وبعض بالحاد وز ند قه دست بدامن اين توحيد وجودي زده اند وهمه را از حق ميدانند بلکه حق ميدانند وگرد نهائی خود را از ربقـه تکليف شرعی بالحيله ميکشانيد و مدا هنات در احکام شرعيه مينمايند وباين معامله خوشوقت وخور سنداند وايشان او امرا شرعيه را اگر اعتراف دارند طفيلی* ميدانيد مقصود اصلی وراء شريعت

---

[١] رساله عشقيه مخ ٧٣

[٢] مشکوة دويم فصل (کتاب العلم).

www.abulhasanalinadwi.org

خيال مى كنند حاشا وكلا ثم حاشا وكلا ، نعوذ بالله سبحانه من هذا الإعتقاد السوء ﴾.[۱]

په دې مکتوب کې يوبل ځاى ليکي:﴿ درين زمان بسيارى ازين طائفه كه بزي صوفيان خود را وا مى نمايند توحيدوجودي رامشائع ساخته اند وكمال راجز ان نمى‌دانند وبعلم ازعين بازمانده اند و ان اقوال مشائخ رابمعانى متخيله خود فرودمقتداء روزگارخود ساخته اند و بازار كاسد خودرا با ين تخيلات رائج داشته اند ﴾.[۲]

## دمجددصاحب ځانګړتيا

دمجدد صاحب تجديدى کارنامه يواځې دابه وه چې هغه د وحدة الوجودعامه منل شوى نظريې او رائج الوقت سکې په اړه داثابته کړه چې هغه دسلوک او معرفت اخرى منزل نه ده بلکې په دې لړکې دهغه دانفراديت اوځانګړتياراز دادى چې هغه په دې باندې دخپلى ذاتي تجربى اومشاهدى په رڼاکې تنقيدوکړ اوداېې ثابته کړه چې ده په دې درياب کې غوټه وهلى ده اودهغه تل ته رسيدلى اوبيرته راستون شوى‌دى‌اودخداى‌تعالى‌په مرسته سره يې دخپل معرفت اوتحقيق بيړۍ د مراد ساحل ته رسولى ده. اوپه دې اړه به په مشکل سره څوک، دده څير پيدا شي.

غربى ليکوال پيټر هارډى Peter Harday که څه هم په دې مسائلو کې دسنددرجه نه لري خوبيا هم ليکي : د شيخ احمد سرهندى ستر برياليتوب دادى چې ده هندى اسلام ته له افراطى تصوف نه په خپله دتصوف په ذريعه نجات ورکړ

---

[۱] مکتوبات لومړي دفتر مکتوب ۴۳ دشيخ فريد بخاري په نامه .

[۲] دشيخ فريد بخاري په نامه .

www.abulhasanalinadwi.org

ممکن ددې لامل داو چېکومه نظریه هغه ردکړه دهغه دمطلب،مفهوم اوارزښت له ده سره په خپله په ذاتي توګه ژورادراک و [۱]

## له مجدد صاحب نه وروسته دتوحید وجودي په اړه دمشائخو او علماو سولئیزه رویه

مخکې له دی چې دابرخه پای ته ورسوو دیوه بی طرفه مورخ په حیث ددې حقیقت څرګندول ضروری بریښی چې له حضرت مجددصاحب نه وروسته (دده له هغې څانګړې‌طریقی پرته چې دحضرت خواجه محمدمعصوم په ذریعه په هند اوله هندنه د باندې خپره شوی وه ) دوحدة الوجود په اړه هغه قطعی اوفیصله کوونکې رجحان او په وحدة الشهود باندې یقین باقی پاتی نه شو دکوم بیرغ چې مجدد صاحب پورته کړی و او دی په پوهه اوځیرکتیا سره په هغه ولاړ اوداعي یې و دده له وفات نه سمدستی وروسته د تصوف او معرفت په کړیو کې او ځینې هغو حلقو کې هم چې ده ته یې نسبت کیده، دوحدة الوجود او وحدة الشهود په منځ کې دمفاهمت او مطابقت تمایل ښکاره شو . ځینې لوړ پوړیو علماو او محقیقینو داهم ولیکل چې: دا اختلاف یواځی لفظی شخړه ده .

او ځینو خو لاداهم ولیکل چې له مجدد صاحب نه په دې اړه تسامح او تیروتنه شوی ده او دشیخ اکبر ټول کتابونه دده له نظره نه دی تیرشوی له دی امله دمجددیه طریقی دنومیالی شیخ حضرت مرزا مظهر جانِ‌جانان رحمه الله په اشاره سره دهغه مرید مولانا غلام یحی بهاری مړ۱۱۸۰ھ د "کلمة الـــحق" په نامه کتاب

(۱) Sources OF Indian Tradition N.Y.P ۴۴۹

www.abulhasanalinadwi.org

ولیکه چې په هغه کې یې د مجدد صاحب تحقیق او مسلک په ښکارد ټکو کې بیان کړ او دهغه تطبیقی میلان تردیدیې وکړ چې په خپله دمجددیه طریقی په ځینې کړیو کې لیدل کیده .

## حضرت سید احمد شهید دمجدد صاحب په یله

په دې عالیه طریقه کې له مجددصاحب نه وروسته که له کوم دطریقته شیخ، عارف او محقق سره دوحدة الشهود صفا او ځرګنده نظریه پیدا کیږي او هغه په دې اړه دحضرت مجددصاحب په پله باندې روان ښکاریږی نو هغه دمجددیه احسنیه[1] طریقی مشهور شیخ، داعي الی الله او مجاهدفی سبیل الله حضرت سیداحمد شهید رائی بریلوی شهید ــ ۱۲۴۶ھ دی [2] چې له هغه سره دوحدة الوجود دهیڅ تاویل او اعتذار نه لیدل کیږي [3]

---

[1] دحضرت مجددصاحب دخلیفه سید ادم بنوري ځانګړې طریقې ته ادمیه او احسنیه ویل کیږي .

[2] داد هغه دکورنې ذوق نتیجه هم کیدای شي چې دده ځلرم نیکه حضرت شاه سیدعلم الله دحضرت سیدادم بنوري معتبر خلیفه و اوپه خپله دهغه دتحقیقي مقام اواجتهادنتیجه هم کیدای شي کوم ته چې دی رسیدلی و .

[3] "صراط مستقیم" ځلرم هدایت دثمرات حب عشقي په بیان کې افاده ۱ مخ۱ " دلاهور د سلفیه مکتبې چاپ " وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

# اوومــــه بــرخه

## له اکبرنه ترجهانګیره پورې دسلطنت سمې لارې ته په راوستوکې دده پټې هڅې

### داکبراوجهانګیردزمانې میړنی اوحقپال علماء اومشائخ

مخکې له دی چې مونږ دمجددصاحب دهغوهڅو یادونه وکړو چې په هغو سره یې دسلطنت مسیر سمې لارې ته برابرکړ ددې حقیقت څرګندول ضروري دی چې داکبر دزمانې په اړه داګومان سم نه دی چې په هندوستان کې له یوه سرنه تربله پورې چوپتیااوخاموشي وه اوداکبر کړو وړوته دانتقاد ګوته نیوونکې نه و اوددې حدیث په دویمه اودریمه درجه عمل کوونکی هم نه وو چې وایې: من رأى منكم منكرا فليغيره بيده فان لــــم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبلقبه وذالك أضعف الإ يــــمان[1]

ژباړه : په تاسو کې چې څوک دشریعت خلاف اومنکر کار ووینی نوهغه په خپل

---

(1) صحیحین.

www.abulhasanalinadwi.org

لاس سره برابر کړيي اوکه داسې نه شي کولای نوپه ژبه سره (دهغه انکار اوترديدوکړي ) اوکه داسې هم نه شي کيدای نوپه زړه کې هغه بد وايسوي‌ي اودا دايمان ترټولو کمزوري درجه ده.

داکبر دزمانې ددې لاندې علماو په اړه په تاريخ کې داشهادت ترلاسه کيږي چې هغوی هريوه په خپل ځای اوله خپل وس سره سم خپل خپګان، ناراضايت اواسلامي جذبه څرګندده کړې ده شيخ ابراهيم محدث اکبرابادي مړ ۱۰۰۱ه يوځل داکبر په بلنه دهغه عبادت ځای ته ورغی اودباچالپاره غير شرعي اداب او احترامات يې ونه کړل په خپله ويناکې يې له ترغيب اوترهيب نه کاړواخيست اودباچا درعب او جلال يې څه پروا ونه کړه.

شيخ حسين اجميری چې له کال ۱۰۰۹ه نه وروسته وفات شوی چې کله اکبر اجمير ته ورغی نو دی يې په ورتګ خپه شو اوله هغه ځايه ولاړ اکبر هغه دخانقاه اودرګاله توليت نه معزول کړ اوحجازته دتګ امر يې ورته وکړ اوتبعيديې کړ چې کله بيرته هندوستان ته راغی بيايې هم تعظيمي سجده ونه کړه په دې سره باچا ورته په غصه شو اود بکهر کلا کې يې بندکړ چې هورې بياځوکاله و.چې کله خلاص شو بيا يې هم شاهي اداب نه ترسره کول اودباچاتحفې يې نه منلې. شيخ سلطان تهانيسري چې له نږدې درباريانوڅخه و اودباچاپه امر سره يې (مهابهارت ) په فارسي ژباړلی و .دغوايې دحلالولو په تور باچا ورته په غصه شو اوبکهر ته يې جلاوطنه کړ بيا دعبدالرحيم خان خانان په سپارښتنه سره په تهانيسر کې داوسيدو اجازه ورکړل شوه او دماليې تولوول په دنده يې وټاکه څه موده وروسته بيایاچا ته دهغه شکايتونه ورسيدل چې دده په اسلامي کړنوباندې ولاړ و. چې بيايې په مرګ

www.abulhasanalinadwi.org

محکوم کړ. داپیښنه په کال۱۰۰۷ھ کې رامنځته شوې ده.[۱] په دې لړکې ترټولو جرء تمندانه اقدام دشهبازخان کنبوه مړ ۱۰۰۸ ھ دی چې داکبر په سترو امیرانوکې و اوپه اخر کې یې د" میر بخشي " منصب ترلاسه کړ ده به هر وخت دباچاپه وړاندې حقه وینا کوله، ده ږیره هم ونه رخییله، شراب یې هم نه څښل اونه یې داکبر الهي دین ته څه میلان ښکاره کړی دی . د( ماثرالامراء ) مصنف شاهنوازخان روایت کوي چې یوه ورځ په فتح پور سکیري کې دمازدیګر او ماښام په منځ کې باچادیوه ډنډ په غاړه چکر واهه اوشهباز خان هم حاضرو باچادده لاس په لاس کې نیولی و ورو ورو روان و اوله ده سره یې خبرې کولې خلک په دې فکر و چې شهبازخان له باچانه خپل لاس نه شي خلاصولی اونن به دماښام لمونځ خامخا ورنه قضا کیږي دده داهم عادت و چې له مازدیګره وروسته له ماښامه پورې به یې له چاسره خبرې نه کولې شهبازخان چې ولید چې لمر په لویدو دی نوله باچانه یې دلمانځه اجازه وغوښتله باچاپه بې تکلفی سره ورته وویل:یواځې مه پریږده لمونځ دې قضاشي. شهبازخان خپل لاس ځنې څنډ واهه خپل څادر یې په ځمکه ویړ کړ اودلمانځه نیت یې وتاړه. له لمانځه نه چې خلاص شو په خپلو ورځنیو اورادو بوخت شو باچادده مخته ولاړ و اوسخت الفاظ یې ورته ویل امیرابو الفتح اوحکیم علي ګیلاني هم په دې وخت کې موجود وو دوی د موکې نزاکت محسوس کړ رامخته شول اودباچا دمتوجه کولو په خاطریې وویل: اخر مونږ هم د شاهي توجه وړیو؟ دباچاغصه یوڅه سړه شوه شهبازخان یې پرېښود اوله هغوی سره روان شو.

شیخ عبدالقادر چې هم له هغو زړورو خلکونه و چې دشریعت په خلاف کارونو کې یې دباچاملګرتیانه کوله یوه ورځ باچاهغه ته افیون وړاندې کړل خو ده یې له خوړلونه انکار وکړ په دې سره باچاخپه شویوه ورځ په عبادت ځای کې له فرضو

---

[۱] منتخب التواریخ . دی دحضرت مجددصاحب خسر و.

www.abulhasanalinadwi.org

وروسته په نفلوبوخت شو باچاله خپلې مانۍ ته راووت او ورته ويې ويل چې نفلونه باید په خپل کورکې وکړې مولا ناعبدالقادرځواب ورکړ چې جنابه ! دلته په عبادت ځای کې ستا سلطنت نشته باچاډیر په غصه شو او ورته ويې ويل که زما سلطنت دې خوښ نه وي نوله دې ځایه ولاړشه دی هغمه وخت د " اچ " په لوري روان شو اوپه عبادت اوخلکوته په ګټه رسولو باندې بوخت شو دده همنامی شیخ عبدالقادر لاهوري مړ۱۰۲۲ هـ نه هم دهغه د دینداري له کبله باچاخپه شو او حکم يې ورته وکړ چې حجازته ولاړ شه ! . مرزاعزیزالدین دهلوي کوکه مړ۱۰۳۳هـ داکبر همزولی اودشیدو ورور و اوپه اکبر باندې ډیر ګران و په شریعت اودیني مسائلو کې يې داکبر هيڅ لحاظ نه کاوه. اوهغه ته به يې سپيني خبرې کولې له دې کبله دې اکبر دګجرات له صوبيداري نه معزول کړ بيايې دبنګاله اوبهارصوبيداري ورکړه اود" خان اعظم" لقب يې ورکړ خوله دې نږديوالي سره سره هغه تعظیمي سجده نه کوله ريره يې هم ونه رخپيله اوپه نورو کارونو کې يې له باچاسره موافقت نه کاوه.شيخ منور عبدالحمید لاهوري مړ ۱۰۱۵ هـ هم په دې خلکو کې و. چې په کال ۹۸۵ هـ کې اکبردصدارت منصب ورکړ خودی هم دخپل ديني استقامت له امله دباچاله غصې سره مخ شو اوپه سخت قيدکې يې واچاوه اوهمالته وفات شو[1]

کله چې جهانګير په تخت کيناست نوترڅه مودې پورې داکبر دزمانې رسوم او ائين جاري و داسلام څرګندمخالفت يې پريښود نورې هماغسې طريقې په سلطنت کې رواج وې. اوترهغه وخته پورې پاتې وې ځوچې په خپله په جهانګير باندې دمحمدي شريعت دتعظيم اوداسلام دشعائرو احترام نه و پيداشوی. په دې وخت کې هم ګڼ شمير علماو اومشائخو خطرې ته غاړه کیښوده دشريعت خلاف اوله دې سره منافي ادابو اورسمونو اداکولو نه يې انکار وکړ. دشريعت له حدودو نه

[1] داټول نومونه اوداکبر دمخالفت پيښې د " نزهة الخواطر له پنځم ټوک نه اخيستل شوي دي.

www.abulhasanalinadwi.org

وتلو ته تیار نه وو اوله حقې وینانه یې دریغ ونه کړ په دوی کې دهندوستان دشمال لوید یځوحدودویودطریقت خاوند بزرګ احمدبن محمدبن الیاس حسیني غرغشتي و. دی جهانګیر دربارته ورغوښت ده د دربار له ادابواورسمونوسره سم سلام او ادابونه انکار وکړ جهانګیر دی دګوالیار په کلاکې بندي کړ چې تر دریوکلونو پورې هوري وبیاپه کال ۱۰۲۰ه کې ازاد کړل شو.اوجهانګیرله خپله ځانه سره اګرې ته راوست.[۱]

خوحقیقت دادیچې دسلطنت دبیلارې منظم مخالفت اوسمې لارې ته په راوستلو کې مکملې اوله حکمته ډکې هڅې حضرت مجددصاحب ترسره کړې دي. او ددین د ساتنې او داسلام اومسلمانانودمرستې کارنامه دهمده په نصیب کې لیکلې وه. اوده داهڅې د تکمیل پړاو ته ورسولې اوپه هندکې یې داسې خاموش انقلاب رامنځته کړ چې داسلامي هیوادونو اونورو سلطنتونو په تاریخ کې ساری نه لیدل کیږي. ددې انقلاب په نتیجه کې چې له اکبر نه وروسته دمغلي سلطنت په تخت باندې کوم سلاطین راغلل هغوی له خپلو مخکینیو نه بهتر، داسلام دمخالفت له جراثیمو نه پاک اوددین په احترام اوداسلام په حمیت کې وتلی و ترديٰ پورې چې ددې زرین ځنځیر وروستۍ کړۍ دمحی الدین اورنګزیب عالمګیر په څیر انسان و.

## دجهانګیر په تخت کیناستل اودمجددصاحب دسلطنت داصلاح دکارپیل

جلال الدین اکبر په کال ۱۰۱۴ه کې ومړ په دې مهال دحضرت مجدد صاحب عمر دره څلویښت کاله و داکبر دسلطنت اخري پېر چې په هغه کې په هندکې د

---

[۱] نزهةالخواطر پنځم ټوک.

www.abulhasanalinadwi.org

اسلام عزتمن ژوند اوپه دې هيواد کې داسلام غلبه اواقتدار له ښکاره خطرې سره مخ و: د مجدد صاحب د روحاني تکميل او لوړتيازمانه وه.دسلطنت له غړيو سره هيڅ تعلقات اوراشه درشه نه وه اونه تراوسه پورې هغه وخت راغلی وچې هغوی دده له لوړې مرتبې ، اخلاص، للهيت اوباطني کمالا تو نه خبر شي له دې امله هغه مزې دده لاس ته نه و ورغلي چې دهغه په ذريعه شاهي دربار ته خپل احساسات اوتاثرات ورسوي ياد دين او ائين په اړه دحکومت په تګلاره اغيز وکړای شي.

په دې وخت کې دسلطنت دمشر په مزاج اودربار باندې هغه خلک مسلط و و چې نه يې غوښتل څوک مخلص او ديندراه انسان باچاته نږدې شي. اودوی له باچا شاو خوايوه داسې اوسپنيزه کلا راتاو کړې وه چې هغې ته له بهر نه تازه اوپاکه هوا نشوای راتلای، په دې ازاد اوپراخه هيواد کې په پرله پسې توګه د مسلمانانو ازاد سلطنتونه تيرشوی وو خوداسلام او مسلمانانوحال په همدې هيوادکې هغه حالت ته ورته وچې قرانکريم يې په دې ټکو کې نقشه کښلې ده:﴿ ضاقت عليهم الارض بما رحبت وضاقت عليهم انفسهم وظنوا ان لا ملجأ من الله إلا إليه ﴾ [ سورة التوبة ۱۱۸] ځمکه سره خپلې پراخي دوی ته تنګه شوه اوله خپلو ځانونه تنګ شول اودوی پوهه شول چې دخدای ﷻ له نيونې ) نه يوځای هم پناه نشي پيداکولای له دې پرته چې همغه ته رجوع وکړي.

خود جهانګير په تخت کيناستلو۱۰۱۴هـ سره داحالت پاتې نه شو. که په کې دخپل پلار دځانګړې ښوونې او روزنې له کبله څه ښکاره ديني سموالی،له شريعت سره تړاو. داسلام دفرائضو پابندي اوڅرګند ديني رجحان نه و نوپه ده کې له اسلام نه لريوالی او وحشت، له بلې مذهبي فلسفي ياقومي تهذيب نه مرعوبيت اوله هغه سره مينه، اودکوم نوي دين او ائين داجرا کولوشوق: هم نه و ورسره په

www.abulhasanalinadwi.org

لندوټکو کې که داسلام حامي نه و نوماحی ( محوه کوونکې ) يې هم نه و.

په ټولیزه توګه دتخت اوتاج څښتن واکمن چې په عیش او خوندونو يې زړه بايللی وي دیوه داسې نظام له منځه وړل چې ټولوته دمنلو وړ وي اودیوه بل نظام د پلي کولو سرخوږی یې زړه نه غواړي، دهغه یواځې له خوندونو اوداقتدار له عزت سره سر اوکار وي، په عامه توګه لیدل شوي دي چې په داسې خلکوکې له هغوهستیو سره پټه عقیدت اواحترام وي چې هغه له مادي سطحې نه لوړ وي او له دنیوي منصبونو نه بې پروا وي، اودهغو خلکوپه پرتله چې دیوه منصب مدعي یا دنوي تحریک اوفلسفې داعي وي په دوی کې دحق دمنلو زیات استعداد او وړتیاوې. جهانګیر دسلطنت د مشرانو له دې قسم نه و، اوکله چې دی دسلطنت په تخت باندې کښیناست نو دنظر خاوندان پوهه شول چې اوس دسلطنت مسیر بدلیدای شي اوپه تدریجی توګه یې سمې لارې ته دراوستلو وخت راغلی دی.

## دکار سمه طریقه

په دې وخت کې دحضرت مجددصاحب اوهغوټولو حضراتو لپاره چې په دیني علم اوباطني کمالاتو سمبال وو دخپلې بوختیا اوسیرفي الله له نعمت نه برخمن وو له دیني حمیت اوغیرت نه ډک و ددې حالت په وړاندې چې په هغه وخت کې يې د سلطنت په قلمرو باندې سیوری کړی و؛ دری لارې وې.

۱ ــــ هیواد اوسلطنت په خپل حال پریښودل دخپل ځان لپاره، داسې ګوښې ځای غوره کول چې په ډاډه زړه دپاک خدای تعالی په ذکر بوخت شي دمریدانو روزنه وکړي او په یواځیتوب کې په ذکر اوعبادت باندې لګیاوي. داډول عمل اوکړنه دحضرت مجدد صاحب په زمانه کې په لسهاو بلکې په سلهاو علماو او مشائخوغوره کړې وه، دهیوادپه ګوټ ګوټ کې يې خانقاوې وې اوپه پوره

www.abulhasanalinadwi.org

یواځیتوب اوپټه خوله یې کار کاوه. اودخدای ﷻ مخلوق ته یې زیاتې روحاني او ایماني ګټې رسولې.

۲ــ دهندوستان تش په نامه مسلمان سلطنت اودهغه خپل سري مشر( چې یواځې په مسلمانه کورنۍ کې پیداشوی و) داسلام مخالف او دښمن بلل چې ددې د ثبوت لپاره دده ذاتي عمال اواخلاق کافیوو دده له اصلاح نه یو مخ نا امیده کیدل اوپه خلاف یې دیني محاذ پرانستل اوداسلام سیال اومقابل بلل اوپه خلاف یې صفونه منظم کول. اوکه په دې سره هم کارنه وای شوی نودجهاد لپاره هغه خلک یوځای کول چې دیني غیرت اوحمیت لري وله موجوده حالا تونه خوښ نه ویدا راز خپل عقیدتمندان اومریدان یوځای‌کول، اوپه سلطنت کې نظامیاوسیاسی انقلاب راوستل اودسلطنت په تخت باندې دیوه نیک اودینداره شخص کینول که هغه دمغلو له کورنۍ نه و هم اوپه دې سره دسلطنت تګلاره اومکمل حالات بدلول.

۳ــ د سلطنت له غړیو اود دربار له امیرانوسره اړیکې پیداکول اوله چاسره یې چې مخکې اړیکې وې اوله ده سره عقیدت درلود اودده په خلوص یې باور و په هغو کې دیني حمیت اوجذبه پیداکول اودهغو په زړونوکې دایمان پټې سپرغۍ تازه کول.باچا ته په ښه مشوره ورکولو اماده کول دهغه داسلامیت رګ چې له ایمانداره نیکونو او پلرونوڅخه په میراث ورته پاتې و؛ په خوځښت راوستل، هغه داسلام حمایت اود مسلمانانو دټپي زړونو دمرهم پټۍ لپاره تیارول اودتیروخت د تلافي لپاره اماده کول په خپله له هرډول قدرت اومنصب غوښتنې بلکې له سیورې یې هم لرې اوسیدل، دمکمل زهداواستغناثبوت ورکول. سلطنت د سلطنت والوته اومنصبونه دمنصب والو ته سپارل. دداسې لوړنظري اوپاکې ښرګندول چې ډیرسخت مخالف اودښمن یې هم دقدرت غوښتنې تور پرې ونه لګولای شي اوڅه مخالف سازش هم په دې لړکې کامیاب نشي.

www.abulhasanalinadwi.org

ترکومه ځایه چې دلومړي طرزالعمل تعلق دی نوهغه دمجددصاحب له وینې طبیعت، عزیمت اولوړ منصب سره چې خدایﷻ ورکړی و هیڅ مناسبت نه لري حضرت مجددصاحب ته له خپل باطني تکمیل اوتربیت نه وروسته ددې خبرې یقین پیداشوی و چې خدایﷻ غواړي له ده نه یوبل لوی کار واخلي اوهغه یواځې دلازمي اوانفرادي عباداتو اوپیری مریدۍ لپاره نه دی پیداشوی اوده ته دخپلې طریقې دیوه لوی شیخ حضرت خواجه عبیدالله احرار مړ٨٩٥ﻫ داخبره په یاد وه چې وایې : "اگر من شیخی کنم هیچ پیر درعالم مرید نیابد اما مر کار دیگر فرموده اند وان ترویج شریعت و تائید ملت است" که زه یواځې پیري اومریدي غوره کړم نوپه دنیاکې به یوه پیرته هم مرید پیدانشي خو پاک خدای ماته نورکارونه راسپارلي دي چې هغه دشریعت رواج کول اودملت مرسته کول دي. بیادپورتنۍ جملې په شرحه کې وایې: دی به دباچاهانومجلسونوته ورته اوپه خپل باطني ځواک اوروحاني اغیزسره به یې هغوی تابع کول بیابه یې دهغوپه ذریعه شریعت پلی کاوه.

اوترکومه ځایه چې د دویم نمبر طرزالعمل تعلق دی دادیوه سیاسي ذهنیت لرونکې لندفکره داعي یامشر طرزالعمل کیدای شي چې خپل کارپه شک اوبد گوماني سره پیل کوي اوپه خپله عجلت خوښونه، حکمت، دعوت، د خیرخواهي جذبه اونصیحت باندې جگړې ته ترجیح ورکوي اوپه دې نتیجه کې حکومت اواقتداردځان لپاره سیال اومقابل گرځوي. او د دین دغلبې امکانات نورهم دځان لپاره تنگوي . ددین د داعي کارځان غوښتنه نه وي هغه یواځې ددین غلبه او دشرعي احکامو پلي کول خپله موخه بولي هغه چې دچاپه لاس وي پروایې نه کوي. ترکومه ځایه چې دعملي اقدام خبره ده هغه له ډیروخطرونه ډکه وه اودهندوستان دهغه وخت دسیاسي نقشې په چاپیریال کې داسلام په باره کې یو ډول دځان وژنې اقدام و په مغلي سلطنت کې د هیڅ ډول کمزوري او ضعف اثارنه لیدل کیدل ځکه هغه د بابرپه مټزبوتولاسوجوړ شوی، همایون دهغه لپاره ډیرسخت کارونه ترسره

www.abulhasanalinadwi.org

کړي اواکبرپه خپلوپرلپسي فتوحاتو اود هیوادونو په ایل کولوسره هغه زیات مستحکم کړی و. دشیرشاه سوري په ځیردسترعزم خاوند باچاځای ناستی سلیم شاه دهغه په ختمولوکې بریالی نه شو په مختلفو وختونوکې په هیوادکې راپورته شوي بغاوتونه ټول ناکام شوي وو. بیاکه چیرته له سلطنت نه دمغل واکمن دلرې کولوهڅې بریالی شوی هم وای نوداقوي خطرموجودو چې حکومت د راجپوتولاس ته ورنه شي ځکه دوی داکبر په زمانه کې لوړمنصبونه ترلاسه کړی وو او ددوی نظامي ځواک دسلطنت لپاره ترټولوزیات دباور وړ و چې بیابه په دې هیوادکې د مسلماناتواقتدارد همیشه لپاره پای ته رسیدلی و. او بیاداتجربه یوځل مخکې له ناکامی سره مخ شوی وه. داکبرپه زمانه کې دشیخ بایزید (چې دپیر روښان اوپیر تاریک په متضادو نومونوسره مشهور و ) په قیادت کې یوستردیني تحریک د روښانیه ډلې په نامه سره راپورته شوی و دوی په کلونوکلونو دمغلي سلطنت د پیاوړو ځواکونو په میړانه سره مقابله وکړه د سلیمان په غره کې یې خپل ځای جوړ کړی و، او دخیبر په دره یې هم قبضه کړې وه اوپه شاوخوا سیمویې هم حملې وکړې اکبر ددوی د مقابلې لپاره راجه مان سنګهه ، راجه بیربل او زین خان ورولیږل.

خو هغوی ټول ناکام شول اوبیربل په یوه جګړه کې مړشو روښانیانوله یوه ستر لښکر سره په غزني حمله وکړه او ویې نیو دافتنه دجهانګیرپه زمانه کې یوڅه سړه شوه اودشاهجهان په زمانه په پوره توګه له منځه ولاړه. خوله دې هرڅه سره دې بغاوت له ګډوډۍ پرته بله نتیجه نه لرله او اخر یې ددې منظم اومحکم مغلي سلطنت په وړاندې توره اوډال وغورځول اوپه تاریخ کې یې یواځې نوم پاتې شو. دا ډول فوځي اقدامات چې داصلاح په نامه ترسره کیږي دسلطنتونواود اقتدارد خاوندانو دمختلفوبدګومانیو نښانه ګرځي. دوی دین خپل سیال اوحریف وبولي اوله منځه یې وړي اود هغو دپیروانو اوهم خیالوپه لټه کې بوخت شي اوله منځه یې وړي.غالبا له دې کبله دګوالیارله بندنه دخلاصیدلو او دلښکرله ملتیانه څلور

www.abulhasanalinadwi.org

پنځه کاله وروسته په کال ۱۰۳۵ ه کې چې کله دجهانګیر د زمانې مشهور امیر او وزیر مهابت خان بغاوت وکړ نوځیرکو اوپوهه خلکو هڅې وکړې څو هغه له دې اقدام څخه منعه کړي د مجددصاحب دایماني فراست خورا لوی دلیل اود الهي مرستې څرګندثبوت و چې هغه دانقلاب راوستلوله خطره ډکه لاره غوره نه کړه اود تخریب په ځای یې تعمیر، د نفیې په ځای یې داثبات او ایجاب اود ازالې په ځای یې داماليې لاره غوره کړه چې له هر ډول خطر نه خوندی او بې ضرره لار وه.

اوس د مجددصاحب په مخکې یوه لاره پاتې وه اوهغه دا چې دسلطنت له غړیو سره اړیکې ټنګې کړې چې په هرصورت مسلمانان وو. حضرت مجددصاحب ژوره پوهه لرله اوزیات ذهین و هغه ته معلومه وه چې دوی داکبر په اسلام مخالفو پروسوکې شریک نه دی هغوی د اکبر زیات کارونه نه خوښول خومجبور وو په دوی کې یې ډیر داسې هم و چې له اسلام سره یې مینه وه اودیني غیرت پکې و په دوی کې یې څوتنه داسې هم ووچې که دده اودده دمرشد حضرت خواجه باقی بالله مریدان نه وو خومینه اومحبت یې ورسره کاوه اواړیکې یې ورسره لرلې. هغوی دمجدد صاحب له اخلاص، بې غرضې اواسلامې درد نه خبر وو. په دوی کې دا لاندې کسان وتلي و: نواب سیدمرتضی مشهور په شیخ فریدمړ ۱۰۲۵ ه ، خان اعظم مرزا کوکه مړ۱۰۳۳ ه خان جهان لودهې مړ۱۰۴۰ ه ، صدرجهان پهانوی مړ۱۰۲۷ ه او لاله بیګ جهانګیري.

## چې له زړه خیژي په زړه لویږي

مجدد صاحب دا ستر امیران اود سلطنت غړي مخاطب کړل، هغو ته یې د لیکونو لړۍ پیل کړه ؛ اود کاغذپرمخ یې دخپل زړه ټکړې ورته کیښودلې. دا لیکونه له خورا درد او اخلاص نه ډک وو جوش اوتاثیر، د قلم زور اود انشاء ځواک پکې وو د دنیاپه هره ژبه کې چې ددیني تحریک په تاریخ کې څومره لیکونه لیکل شوي دي په هغوکې

www.abulhasanalinadwi.org

يې وتلی مقام درلود. اوله سلهاوو کلوتيريدلو وروسته اوس هم په هغوی کې ژوراثر او اغيزلاپروت دی.(١) له هغونه دااندازه لګول کيدای شي چې چاته يې ليکونه ورليږلي دي دهغو په زړونوبه يې خامخااغيز کړی وي. په حقيقت کې دالیکونه د مجددصاحب د دعوت اوتبليغ څری وو د هغه د تېپي زړه سهي ترجمان ، داوښکې څاڅکې اود زړه ټوټې وې. اوپه لسمه پيړۍ کې چې دهندوستان په ستر مغلي سلطنت کې کوم لوی انقلاب راښکاره شو په هغه کې ددې ليکونو اساسي برخه اوتر ټولو زيات دخل وو.

## دسلطنت داميرانوپه نومونو دعوتي ليکونه

ددې دعوتي ليکونوګڼ شمير دنواب سيدفريدپه نامه دی.(٢) چې دسلطنت په غړيو اود هيوادپه واليانوکې يې لوړمقام درلود اوداکبرله زمانې دسلطنت په نږدې اوباوري کسانوکې و له حضرت خواجه باقي بالله سره يې هم تعلق اوعقيدت درلود

---

(١) دمکتوباتو د ادبی حيثيت په اړه دليکوال هغه تبصره د دويم ځل لپاره وګوری چې ده د " تاريخ دعوت وعزيمت " په دريمه برخه کې دحضرت مخدوم شيخ شرف الدين يحی منيری د دری سوئيزو مکتوباتو په اړه اودمکتوبات امام ربانی په ذيل کې ليکلی ده. وګوری " تاريخ دعوت وعزيمت " دريمه برخه مخونه ٢۴٠ - ٢۴۵ .

(٢) اميرکبير نواب مرتضی بن احمد بخاری چې په سيدفريد سره يې شهرت درلود يوعجيب دکمالاتو جامع اوخوارخيزه شخصيت و. د سخاوت اوميرانی، سياست او نظم، عاجزی او اخلاقو، دين اوله اهل دين سره مينی ، لوړهمتی اولوړ نظری ؛ يوه عجيبه نمونه وه داکبر په زمانه کې دميربخشي منصب ته رسيدلی و کله چې جهانګير په تخت کيناست نوده ته يې منصب ورلوړکړ اودصاحب سيف وقلم او مرتضی خان لقبونه يې ورکړل. لومړی دګجرات بيايې دپنجاب والي مقررکړ چې بيادژوند تر پايه په دې منصب باندې پاتی شو. په سخاوت اوخلاص لاسی کې يې ساری نه درلود کله به يې خپلی جامی هم سوالګروته ورکړی کوندو، بی وزلو او اړو خلکوته به يې ورخنې اوکلنی روپی ورکولی له يتيمانو سره به يې دخپل پلارپه څيرمينه کوله دبی وزله نجونو ودول د هغو لپاره جهيز اود واده سامان برابرولوسره يې زښته زياته مينه وه اودايې محبوب ترينه بوختياوه. هره ورځ به دده په دسترخوان باندې

www.abulhasanalinadwi.org

دده له مشرتوب اوديني حميت نه مجددصاحب ګټه پورته کړه دی يې واسطه کړ اودخپلو ديني اوکورنيو وجيبوترسره کولوته يې تيارکړ. اوداچې جهانګيرته نيکې مشورې ورکړ ځود سلطنت له هغولارو نه راوګرځوي چې اکبر پرې روان کړي و اوسلطنت د اسلام حمايت اود مسلمانانو بې کسي ورځې ته متوجه کړي. له بده مرغه چې په دې ليکونوباندې دليکلو مهال نيټې نه دي ليکل شوې اوکه دانيټې پرې ليکلې واى نود حکمت اودعوت اود تدريجي ارتقامهمې برخې به ښکاره شوې وې اومعلومه شوې به وه چې دده دليکونو په ذريعه باچاپه سلطنت کې داسلام دحمايت کوم کوم کارونه کړي و. اودتير حکومت کوم دشريعت خلاف کارونه يې له منځه وړي و اود هغه په ځاى يې داسلام دحمايت اواسلام پيژندنې څه ډول کارونه ترسره کړي و مونږ له خپلې اندازې سره سم ددې ليکونو اقتباسات په يوځه ترتيب سره وړاندې کوو.

دنواب سيدفريدپه يوه ليک کې چې غالبادجهانګيرله تخت ناستي وروسته ليکل شوى ده ته دخپلو پلرونو اوپه ځانګړې توګه درسول الله ﷺ په سمه لاره دثابت اوسيدلوله دعاوروسته ليکې: باچاله ولس سره داسې تړاو لري لکه زړه چې له بدن سره که زړه سهى اوصالح وي نوبدن به همغسې وي اوکه هغه فاسد وي نوبدن به هم فاسد وي،د باچا صلاح اوسموالى دنړۍ صلاح ده،اودده فساد نړۍ فاسدوي تاته ښه معلومه ده چې په تير وخت کې ( داکبر زمانه ) په مسلمانانو باندې څومره مصيبتونه تيرشول،له هغه نه په مخکې پيړيوکې که څه هم داسلام دغربت زمانه وه خو بياهم دمسلمانانو ذلت اوخواري له دې نه زياته نه وه، په هغه زمانه کې خوداسې و چې مسلمانان دې په خپل دين اوسي اوکفاردې په خپل دين عمل کوي

---

دوه نيم زره کسانو ډوډۍ خوړه دفريداباد ښارد ده نامه ته منسوب دی . په کال ۱۰۲۵ ه کې وفات شوى دى. " نزهة الخواطر پنځم ټوک لنډيز يې "

www.abulhasanalinadwi.org

. لکم دينکم ولـی دين . خو په دې تيره زمانه کې اهل کفرغالب شول اوپه څرګنده يې په دارالاسلام کې دکفراحکام جاري کول اومسلمانانو خپل شرعي احکام په څرګنده توګه نه شوای ترسره کولای . که به چا همت وکړ نودمرګ له سزا سره به مخ کيدل، واويلا، وا مصيبتاه، واحسرتاه، دمحمدرسول الله صلی الله عليه وسلم ( چې د رب العلمين محبوب دی ) منونکي خوار او ذليل وو اودده نبوت نه منونکي عزتمن او با اعتباره وو. مسلمانانوله خپلوتپي زړونو سره په اسلام باندې اوښکې تويولې ،او دښمنانويې په استهزاء اوملنډو سره په ټپونو باندې مالګې شيندلې . دهدايت لمر د ګمراهي په پردوکې پټ و اودحق رڼادباطل په پردو کې نغښتی اومخ پټې وه.نن چې داسلام دغلبې اواقبال په مخکې کوم خنډونه وو دهغو دلر يکيدلو اوپه تخت باندې داسلام دباچادکيناستلوزيری دخلکوغوږوته رسيدلی دی، مسلمانان دا دځان مسئوليت بولي چې له باچاسره مرسته وکړي اودشريعت درواج کولو اودملت د څواکمن کولولاره ورته وښيي دامرسته که په ژبه اويا په لاس سره سره وي.

بياڅوکرښې وروسته دتيرې زمانې د رنځ سهي تشخيص کوي اوليکي: په تيره زمانه کې چې کوم مصيبت زمونږ په سراغلي و هغه دعلماء سوء يا بدوملايانو د نحوست اوبدمرغی له لاسه و باچايان همداخلک له سمې لارې نه کږوي په ملت کې چې دوه اوياډلې جوړوي اوهغوی کومه دګمراهي لاره اختيارکړې وه دهغو سرلاري همداعلماء سوء وو په علماوکې کم کسان داسې ګمراه کيږي چې د هغوی ګمراهي په نورو باندې اغيز وکړي ددې زمانې زيات صوفي ډوله جاهلان هم د علماء سوء په څير اغيزکولای شي، دهغوی فساد اوبيلارې هم متعدي اوساري ده که څوک ددې خيرپه کارکې ( ددين مرسته ) ددين دمرستې وس اوتوان لري اوپه هغه کې کوتاهي وکړي او داسلام په کارکې سستي راشي نوهغه کوتاهي کوونکې هم د شکايت وړ دی. په دې اساس هم دا فقيراوبې وسه هم غواړي چې داسلام

www.abulhasanalinadwi.org

سلطنت دمرسته کوونکو په ډله کې برخه واخلي اوله خپل وس سره سم دلاس پښو په وهلوسره په (من کثرسواد قوم فهومنهم) کې راشي. څومره خوندبه وکړي چې داناتوانه هم په دې ستره ډله کې شامل کړي، دی خپل ځان دهغې بودۍ ښځې په څیربولي چې هغې څه پړي تیارکړل اوغوښتل یې چې ځان دیوسف په پیرونکوکې شمارکړي امیدکوم چې ژربه دا فقیرستاپه خدمت کې حاضرشي تاته توقع اوامیدکیدای شي ځکه ته دباچاپه خاصونږدې کسانوکې یې اوددې خبرو درسولوموکه په لاس درځي په خلوت اوجلوت کې دمحمدي شریعت د پلي کولو هڅې کوه اومسلمانان له دې غربت اوبې کسی نه وکاږې.(۱)

دسیدفریدپه نامه په یوه بل لیک کې کاږي: په دې وخت کې دغریبو مسلمانانو چې په دې ګرداب کې راګیردي دخلاصون او نجات امید یواځې د اهل بیت کشتۍ ته لري. رسول اللهﷺ فرمایي: ( مثل اهـــل بیتی کمثل سفینة نوح من رکبها نجا ومن تخلف عنها هلك.(۲) ) زما داهل بیت مثال داسې دی لکه دنوحؑ کشتۍ څوک چې هغې ته ورسپاره شول نجات یې وموند اوڅوک چې ځنې پاتې شول هلاکت یې په برخه شو، خپل لوړهمت دې ستر هدف ته متوجه کړه څوداستره نیکمرغي په لاس درشي. دخدای تعالی په مرسته هر ډول جاه او جلال اوشوکت اوعظمت دې په برخه ده، له دې ذاتي شرف اوکورني سیادت سره که دانیکمرغي هم ملګري شي نوله تولونیکمرغواوسعادتمندو نه به میدان وګټې دافقیر دداډول خبروعرض کولوپاره چې موخه یې دشریعت مرسته ده؛ ستاخدمت ته د حاضریدلو اراده لري.(۳)

---

(۱) مکتوب ۴۷ لومړی دفتر.

(۲) مشکوة عن ابی ذر "رض" له سند احمدنه.

(۳) مکتوب ۵۱ لومړی دفتر.

www.abulhasanalinadwi.org

په درېیم لیک کې وایي: محترم سیدصاحب ! نن ورځ اسلام بیکسه اوغریب دی که په دې وخت کې یوه روپی د اسلام په ځواکمنولوباندې ولګول شي په کروړونو به شماروي کتل کیږي به چې کوم شهباز له دې سترنعمت نه برخمن کیږي، ددین درواج کولو اوملت دځواکمنولوکار چې په کومه زمانه کې دچاله خواترسره شي ښه اونیکمرغه کاردی، په دې وخت کې اسلام غریب اوبې وطنه دی ستاسوساداتوسره ډیره ښه ښايي چې دانعمت ستاسوپه کورنۍ کې زیږېدلی دی ستاسولپاره بالذات دی اود نورولپاره بالواسطه. ددې نیکمرغۍ په ترلاسه کولوکې دخپل نیکمرغه نیکه وارث کیدل ډېر ارزښت لري. رسول اللهﷺ یووخت صحابه کراموته وویل : تاسوپه داسې زمانه کې اوسئ چې که د اوامرو اونواهیولسمه برخه پرېږدی نو هلاک به شی له تاسو وروسته به داسې یوه ډله راشي چې که د اوامرو او نواهیوپه لسمه برخه عمل وکړي نونجات به بیاموي،دا هماغه وخت دی اوداډله هماغه ډله ده .

گـو ئی توفیق و سعادت درمیان افگنده اند
کـس به میدان درنمی اید سواران راچه شد .

له سیدفریدنه وروسته مجددصاحب دمغلي سلطنت سترغړی خان اعظم [1] دغه

(۱) نوم یې مرزاعزیزالدین دی دی داکبر رضاعی ورور و نو ځکه دکوکه خطاب ورکړل شوی و اول غزنی بیاپه دهلی کې اوسیده په کال ۹۸۰ هـ کې دگجرات والی و دمحمدحسین مرزا د محاصرې له خلاصولو نه اکبر له اگره نه تر احمداباد پورې ځوارلس سوه میله په نه (۹) ورځوکې ووهله له گجرات نه وروسته دبنگال اوبهار والی شو اود (خان اعظم) خطاب ورکړل شو. دویم ځل بیاپه کال ۹۹۷ هـ کې دگجرات والی وتاکل شو له دې نږدیوالی سره سره یې داکبر دغیرشرعي کارونومخالفت کاوه اوله دې سره شاهی مهر " مهر اوزک " ورته سپارل شوی و. اودمطلق وکیل منصب یې ورکړ. جهانگیرهم د حکومت مهم منصبونه ورته وسپارل . اودگجرات ولایت یې ورکړ اوپه کال ۱۰۳۳ هـ کې وفات شو. دنزهة الخواطر لنډیز.

www.abulhasanalinadwi.org

خدمت ته غوره اومنتخب کړ چې له شاهي کورنۍ سره یې نږدې اړیکې لرلې. له جهانګیرسره هم دهغه داهمیت اوارزښت احساس و، دنقشبندیه طریقې له مشائخو سره یې هم عقیدت اومحبت درلود. غالبادجهانګیرله تخت ناستي نه وروسته مجدّدصاحب دالاندې لیک هغه ته لیکلی دی: ایدکم الله سبحانه وتعالی ونصرکم علی اعداء الاسلام فی اعلاء الاسلام. درسول اللهﷺ له دې حدیث سره سم: الاسلام بدأ غریبا وسیعودکما بدأ فطوبی للغرباء. د اسلام پیل په غربت اوبې کسي کې شوی دی اوبیابه دې غربت اوبیکسي ته ورسیږي، نوهغه خلک مبارک دي چې له اسلام سره په هر حال کې مله وي، داسلام بیکسي اوغربت دې حدته رسیدلی ده چې کفارپه څرګنده توګه اسلام ته بد وایې اودمسلمانانودې بیانوي اوپه بیباکې سره دکفر احکام جاري کوي او په بې شرمي سره په بازارونواوکوڅوکې دهغه ستاینه کوي. ددې په مقابل کې مسلمانان داسلام احکام نه شي پلي کولی اوکه عملي یې کړي نو بد رد ورته ویل کیږي:

پـــری نهفته رخ و دیـــو در کرشـــمـه نا ز
بسوخت عقل زحیرت که این چه بوالعجبی است.

وړاندې لیکې: نن ورځ ستاسوجناب وجودمونږغنیمت بولو اوپه بایللي لوبه کې له تاپرته بل دمیدان میړني نه لرو، خدایﷻ دې مرستندوی اوسه. بحرمة النبی واله الامجاد علیه وعلیهم الصلوات والتحیات والتسلیمات والبرکات. په حدیث کې راغلي دي: لن یؤمن احدکم حتی یقال انه مجنون. ستاسو یو به هم ترهغو پورې مکمل مومن نه شي څو دهغه په اړه دا ونه ویل شي چې دی لیونی دی، په دې وخت کې هغه لیونتوب چې اساس یې اسلامي غیرت دی ستاپه طبیعت کې احساس کیږي. الحمدلله سبحانه علی ذلك نن هغه ورځ راغلي ده چې دلږعمل په بدل کې زیات اجر ورکول کیږي، اصحاب کهف یواځې عملي هجرت کړی و له دې پرته یې بل داسې څرګندعمل نه لیدل کیږي چې هغه اهمیت ولري ددښمن دغلبې په مهال کې که

www.abulhasanalinadwi.org

وفادار سپاهي له مستعد اوتیارولیدل شي نوډیرعزت یې کیږي په خلاف دهغه وخت چې دښمن په خپل ځای کې وي اوامنیت ټینګ وي، دقولی جهاد داموکه چې نن تاته په لاس درغلي ده داجهاد اکبر دی اوغنیمت یې وبوله او هل من مزیدووایه دا دژبې جهاد .توري اونیزي له جهاد نه په دې وخت کې غوره وبوله مونږ غریب خلک بې لاسه اوبې پښو یو اوله دې نعمت نه محروم یو.

هنیـــئا لا باب النعیم نــعیمها ـــــ وللعاشــق الــمسکین مایتـــجرع

دادیم ترا از ګنج مقصود نشان ـ ګرما نرسیدیم توشاید برسی

ساله څوکرښو وروسته لیکي: په تیر سلطنت کې چې له محمدي دین سره کوم عناد اودښمني لیدل کیده په شکاره په دې سلطنت کې هغه عنادنشته اوکه وي هم دناپوهي له وجې ده، داویره شته چې دلته به هم معامله هغه عناد ته ورسیږي اود مسلمانانوژوندبه په تنګ کړل شي. چو بید بر سر ایمان خویش می لرزم . (۱) د جهانګیر ددربار دیوه بل مشرچاروا کې خان جهان (۲) په نامه دالندمضمون لیکي: ته چې په کوم خدمت بوخت یې که په محمدي شریعت باندې له عمل کولو سره دا خدمت یوځای کړی نودانبیاوعلیهم السلام کاربه وکړای شي علیهمالصلوات والتسلیمات اوسپیڅلی دین به منوراوروښانه کړ،زه فقیرکه په کلونوکلونوهڅې وکړم نو ستاسو په څیرخوانانو ګردته هم نه شم رسیدلای.

ګوئی توفیق و سعادت درمیان افګنده اند
کس به میدان درنمی اید سواران راچه شد

---

(۱) مکتوب ۶۵ لومړی دفتر.

(۲) امیرکبیر خان جهان ددولت خان لودهی زوی و جهانګیر په ده باندې ډیراعتماد کاوه اوله ده سره یې ډیره مینه کوله. په علم مین اوعلماء به یې ډیرنازول. له عاموخلکوسره یې هم ښه چلن کاوه. دشاهجهان په وخت کې یې بغاوت وکړاوپه کال ۱۰۴۰ه کې ووژل شو. نزهة الخواطر پنځم ټوک.

www.abulhasanalinadwi.org

په يوه بل سپړلي ليک کې کاږي: هغه نعمت چې لوی څښتن تاته درپه برخه کړی‌دی اوخلک دهغه ارزښت نه بې خبره دي ( ويره ده چې ته به هم له هغې نه پوره خبرنه يې ) داچې باچا له اوو پشتونو نه مسلمان دی اوله اهل سنت سره تړاولري او حنفي مذهبه دی که څه هم له څوکلونو راهيسې په دې قيامت ته نږدې زمانه کې اود نبوت له زماني نه لرې والي کې ځينې پوهه خلکو دباطن دککړتيا اوتمې له کبله باچا ته نږديوالی ترلاسه کړی اودهغه په چاپلوسي کې يې په دين کې شکوک اوشبهات پيدا کړي دي اوساده خلک يې بيلارې کړي دي دجهانګير په ځيرستر باچاچې ستاخبره په غور سره اوري اوباور ورباندې کوي نوڅومره عجيبه موکه ده چې ته حقه وينا( داسلام خبره ) چې داهل سنت والجماعت له عقيدي سره سمه وي ( شکر الله سعيهم ) صراحة يا اشارة دهغه غوږ ته ورسوې، اوکه کيدای شي داهل حق خبرې ورته وړاندې کړي بلکې ددې خبرې هڅه وکړه چې داسې يواځېتوب ورسره پيداکړي چې په هغه کې د مذهب او ملت خبره رامنځته شي څو د اسلام د حقانيت اودکفردبطلان اوبدي موکه په لاس درشي.[1]

دسلطنت له دې غړيوپرته ديوه بل دسلطنت مسئول لاله بيګ ته هم په دې مضمون ليک وليکه چې داکبرباچادزوی سلطان مراد دفوځ معتمدو اودبهار والي هم پاتې شوی و دی ليکې: زادنا الله سبحانه واياکم حمية الاسلام .سل کاله کيږي چې داسلام غربت اوبيکسي دې حدته رسيدلې ده چې په اسلامي هيوادکې کفاري يواځې په دې نه دي قانع چې کفري احکام پلي کړي بلکې غواړي چې اسلامي احکام بالکل له منځه يوسي اودمسلمانانو اومسلماني هيڅ اغيزپاتي نه شي، خبره يې دې حدته رسولې ده که چيرته مسلمان ديوه اسلامي حکم(مثلا دغوا حلالول )څرګندول وغواړي نودمرګ له سزاسره مخ کيږي. وړاندې ليکې: دباچاهی

---

[1] مکتوب / ٦٧ دويم دفتر.

www.abulhasanalinadwi.org

په پیل کې که مسلماني رواج شي اومسلمانان څه عزت پیداکړي نوډیره ښه اوکه عیاذا بالله سبحانه خبره په ټپه ودریږي نومعامله به دمسلمانانولپاره ډیره سخته شي الغیاث الغیاث ثم الغیاث، ګوروبه چې کوم داقبال خاوند به داسعادت اونیکمرغي ترلاسه کوي اوکوم ځوان به دانعمت لاس ته راوړي. ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء والله ذوالفضل العظيم. [۱]. دجهانګیردسلطنت یوبل امیر صدرجهان و[۲] هغه ته په یوه لیک کې لیکي : یقین دی چې داسلام مخکښان، محترم سادات، علماءکرام به په پټه اوښکاره توګه ددین په ترقي او تقویت او د صراط مستقیم په تکمیل باندې بوخت وي. داعاجزه او ناتوانه به په دې اړه څه وکړای شي. [۳]

## تیرې شوې خطاوې باید تکرار نه شي

اخر هغه مبارک وخت راغی چې جهانګیر ته دخپلې غلطي احساس وشو،او ده د خپل حکومت له اصولوسره سم داوغوښتل چې دعلماویوه ډله دې په دیني چارو کې دمشورې ورکولولپاره اوله خطاو نه دژغورلوپه خاطر په دربارکې موجوده وي. ده له خپلو دینداره سلطنتي غړیونه وغوښتل چې څلورتنه دین دوسته علماء پیدا کړي اوپه دربارکې دهروخت حاضریدلولپاره دي تیارکړي څوشرعي مسائل روښانه کړي اودلارښوونې کارترسره کړي. مجددصاحب ته لوی څښتن ریښتونی

[۱] مکتوب ۸۱ لومړی دفتر.

[۲] مفتی صدرجهان دپیهانی ( اوسنی د هردوئی ولسوالی ) اوسیدونکې و دعربیت په علوموکې یې خاص مهارت درلوداول په شاهی لښکر کې مفتی وټاکل شو بیادصدارت په منصب مقررشو جهانګیر دده شاګرد و اوڅلویښت حدیث یې له ده نه یادکړی و جهانګیر دڅلور زریزو منصب ورکړ اوزیاتی ځمکې یې هم ورکړی یوسل اوشل کاله یې ژوندکړی دی خوله دې سره یې دماغ اوحواس روغ او سلامت و په کال ۱۰۲۷ھ کې وفات شوی دی. ( نزهة الخواطر پنځم ټوک )

[۳] مکتوب ۱۹۴ لومړی دفتر.

www.abulhasanalinadwi.org

فراست اولوړديني بصيرت ورکړی و دتيرسلطنت دانحراف اوکږوالي تاريخ اودهغه اسباب ښه ورته معلوم وکله چې په دې خبره باندې خبرشو په ځای ددې چې خوشاله شي خپه او اندېښمن شو يوليک يې شيخ فريداو يو نواب صدرجهان ته وليکه: دخدای لپاره! داسې غلطي مه کوی دګڼ شميرعلماوپه ځای يومخلص، پاک اورباني عالم وټاکی. دشيخ فريدپه نامه ليک کې يې هغه ته داسې وليکل: ثبتکم الله سبحانه علی جادة ابائکم الکرام. وامې وريدل چې داسلام باچادخپل ښه فطرت او اسلاميت په اساس ( چې دايې په طبيعت کې شته دی ) تاته ويلي دي چې د څلورو ديندارو علماو خدمتونه ترلاسه کړي چې په درباركې اوسي اوشرعي مسائل بيانوي څودباچا کوم حکم اوعمل د شريعت په خلاف صادر نه شي الحمد لله سبحانه علی ذلك. دمسلمانانولپاره به له دې ښه خوشخبري اودغم څپلولپاره به له دې ښه دخوښی زيری نورڅه وي. خودافقيرخامخااوله مجبوري په دې لړکې څه عرض کول غواړي هيله من يم چې معذور مې وبولي دغرض خاوند ليونی وي.

عرض داده چې داسې ديندارهٔ علماء لومړی په خپله بيخي کم دي چې دقدرت او چوکې مينه نه لري اودشريعت له پلي کولو اودملت له ځواکمنولو پرته بله هيڅ موخه اوغرض يې نه وي، که داقتدار دميني له امله په دې علماوکې کوم يولوري غوره کوي اوخپله برتري اوفضيلت څرګندول غواړي،اختلافي مسائل رامنځته کوي اوپه دې لاره باچاته نږديوالی اوعزت ترلاسه کول غواړي خامخابه ددين کار خراب شي، په تيروخت کې خودعلماو اختلافاتو خلک په مصيبت کې اچولي و او اوس بيا هغه ويره رامخته نه شي، ددين پلی کول خوڅه کوي چې ددين دتخريب لامل به شي. العيا ذ بالله سبحانه من ذلك ومن فتنة العلماء السوء. که دڅلورو په ځای ددې هدف لپاره يوعالم وټاکی نوښه به وي که چيرته هغه داخرت له علماو نه وي نوداخوبه ډيره ښه وي اودهغه وجودخو سورکبريت دی ( يعنی لکه چې سره ګوګرد کم يابه وي داسې يو عالم هم کميابه وي ) اوکه داخرت په علماو کې څوک

www.abulhasanalinadwi.org

نه شي پيدا نوپه نورو علماو کې له ټولونه ښه عالم وټاکې مـا لايدرك کله لايتـرك کلـه. له دې نه وروسته ليکي: نه پوهيږم چې څه وليکم څرنګه چې دمخلوق خلاصون په علماو پورې تړلی دی داراز دعالم نقصان هم له دوی سره تړاولري، په علماوکې چې څوک ښه وي هغه په ګردمخلوق کې ترهرچا ښه دی اوکوم يويې چې بد وي هغه له ټولو مخلوقاتو بد دی، هدايت اوګمراه کول په دې ډله پورې تړل شوي دي. يوه بزرګ شيطان وليد چې خوشي اوبيکاره ناست و هغه يې د لامل پوښتنه وکړه چې ولې بيکاره ناست يې؟ ده ورته وويل چې دامهال علماء زمونږ کارکوي. اود اغوا اوګمراهي کار دوی ترسره کوي.

عـالم که کامرانی و تن پروری کند
او خویشتن گم است کرا رهبری کند

لنډه داچې په دې اړه له پوره غور، تامل اوسم فکر نه کاروا‌خلی اوپه احتياط سره ګام پورته کوی کله چې معامله له لاسه ووتله نوبيايې هيڅ ډول علاج کارنه شی کولای زه شرميږم چې داسې خبرې ( ستاسو په خير ) ځيرک اوهوښيار سړي ته کوم خودځان لپاره مې دنيکمرغي باعث بللي اماد سر دردوګرځيدلي.[1]

## عقيدتمنو سلطنتي غړيو ته ليکونه

له هغوتيرو کسانوپرته چې مجددصاحب هغوی ته ليکونه ليږلي وو اوداسلام په غربت اوبيکسي، داسلام داحکامو اوشعائرو بې حرمتي اودمسلمانانو په بې وزلي يې دوينو اوښکې ورته بهولې وې اوهغوی يې هڅولي و چې له خپل نږديوالي او

[1] مکتوب / ۵۳ لومړی دفتر - دصدر جهان په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

اعتماد، سترومنصبونو اود لوړو عهدو له اغيزنه كارواخلي باچاحالاتوته متوجه كړي اودهغه داسلاميت ميراثي رګ په خوځښت كې دراوستلوهڅې وكړي ديوڅه سترو اميرانو اوسلطنتي غړيو په نومونو دده ډير ليكونه شته چې هغه اصلاحي اوتربيتي دي. په هغوكې يې دسلوك اوتصوف ځينې دقيق مسائل حل كړي دي له دنيانه بې رغبتي او داخروي نعمتونواوباطني ترقيو دترلاسه كولولوري ته يې توجه غوښتل شوي.

داليكونه ددې لاندې كسانو په نومونوليكل شوي دي: امير الامراء عبدالرحيم خان خانان مړ ١٠٣٦ھ ، قليج خان اندجاني اكبري مړ١٠٢٣ ھ ، خواجه جهان مړ ١٠٢٩ھ ، مرزا داراب بن خان خانان جهانګيري مړ١٠٣٤ھ اوشرف الدين حسين. له دې ليكونو څخه دااندازه لګيږي چې ددې ستروااميرانوله حضرت مجددصاحب سره ژور عقيدت اومحبت و، داليكونه داسې دي لكه يو شيخ يې چې خپلو مريدانو ته ليږي دهغو ښوئيدنې ورته په ګوته كوي، هغوی ته وعظ او نصيحت هم كوي اودهغوپه ديني ترقي اوروحاني استعدادباندې خوښي هم ښكاره كوي. له دې نه دااندازه لګول كيدای شي چې له دې ځواكمن تړاو او ژورعقيدت وروسته دې سترو اميرانو دمجددصاحب دسلطنت داصلاح ارمان ترسره كولو په خاطر باچاته په حقه ويناكولو، داسلام خيرخواهي همدردي كې هيڅ كوتاهي نه ده كړي، دوی به مجددصاحب دارمان ترسره كيدو لپاره زياتې هڅې كړې وي اوله هغو نورو اميرانو سره چې ( ده ليكونه ور ليږلي وو ) به يې هم مرسته كړې وي.

www.abulhasanalinadwi.org

## دحالت په اصلاح کې دمجددصاحب ذاتي اغیز

تراوسه پورې چې کوم تفصیل بیان شو دهغې تړاو دمجددصاحب له بالواسطه هڅوسره و یعنې هغه سترو امیرانو اوسلطنتي غړیوته ددین دمرستې اونصرت اود باچاداسلام داحترام اودحالاتودبدلون لوري ته متوجه کولولپاره هغوی ته پرلپسې لیکونه ولیږل چې داسلام دحمایت رڼاپکې ځلیږي یقیناچې دده هغه هڅې به خوشې نه يې تللي، ده چې چاته لیکونه لیږلي په ځانګړې توګه نواب سید فرید د حکومت په تګلاره بدلولو کې مهم اومرکزي رول لوبولی دی. خوتراوسه پورې د سلطنت دټولواک جهانګیر په مزاج اوطبیعت کې هغه بدلون نه و راغلی کوم ته چې ددې ستر اوګران کار اړتیاوه، په شخصي اوموروثي سلطنتونوکې دباچاذات هغه مرکزي محور وي چې دحکومت ټول نظام پرې څرخي. ښکاره ناشوني شي نه یوائې شوني بلکې حقیقت ګرځوي. تراوسه پورې جهانګیر دحضرت مجددصاحب له علمي او روحاني مقام سره نا اشنا و .دی له هغو علماو او مشائخونه نه و چې دربارته به ورتلو، اوس به ددې څه صورت و چې دجهانګیر له ده سره مخامخ تړاو پیداشي هغه دده له ستر مقام څخه له خپلې وړتیا اواستعداد سره دده یوې خبرې ته اراده کول، یوه خبره دده ذهن منل، دخدای ﷻ له یوه مخلص اوسپېڅلي بنده سره دهغه مینه اوعقیدت پیداکیدل، اودهغه په اخلاص باندې باور کول د زرهاوو میلو فاصله په ساعتونواوګړیوکې وهل کیږي ، اوکله خوپه سم خبر شي الهي حکمت ددې هم په عجیبه ډول کاربرابرکړ چې د ﴿ عسى ان تكرهوا شيئا وهو خير لكم ﴾ ممکنه ده یو شي به تاسو نه خوښوی خوهغه به ستاسولپاره غوره وي. تفسیر و.

www.abulhasanalinadwi.org

## په جهانګیرباندې اغیز

په دریمه برخه کې لوستونکو دګوالیارکلادبندي کیدلو اوله شاهي لښکر سره د نظر بندي داستان لوستلی حضرت مجددصاحب درې نیم کاله له شاهي لښکر سره و، [1] له باچاسره یې مجلسونه وشول په دیني مسائلو یې خبرې ورسره ترسره شوي باچا د مجددصاحب دیني ټینګوالی اواستقامت ولید هغه یې ولید چې له تعظیمي سجدې اوشاهي ادابو نه انکار کوي اوپوهه شو چې دګوالیار بندیخانه یې په پوره خود داري اوله عزت نفس سره وزغمله امامعافي اوبښنه یې ونه غوښتله دمجددصاحب روحاني فیوضات اوبرکات اودهغه دملګرتیااغیز یې دسلګونو نامسلمانوداسلام منلوپه شکل کې ولید، بیایې دشاهي لښکر په اوږده ملګرتیاکې دهغه زهد اواستغناء اود عباداتو اونورو معمولاتو پابندي ولیدله، په مجلس اوخبرو کې یې دهغه علم رسوخ او زیات والی هم درک کړ اویقیناچې هغه یوسلیم الطبع، ذهین اوهوښیار واکمن و؛ د خپل پلار اکبرله وخته رانیولې ترهغه مهاله یې دګڼ شمیراميرانو،علماو، مشائخو، دیندارو اودنیاوالو خلکوحالات لیدلي اومطالعه کړي و اوپه دې اوږده موده کې یې د مردم شناسي هغه وړتیا ترلاسه کړې وه چې بل چاته دکوټه آوکره د تللو دومره اوږده موده په لاس نه وي ورغلی نوبناء دمجدد صاحب په اړه به ورته معلومه شوې وي چې دی دهغوخلکوپه څیرنه دی چې په دربار کې اوسي اویادفقر په دښتو کې شپې تیروي له دې لاندې پیښې نه چې جهانګیر په خپله په تفصیل اویوه اندازه دشکر اوفخرله څرګندونې سره یې لیکلې ده؛ دحضرت مجددصاحب دصحبت اوجذباتواغیزپه څرګنده ښکاریږي. دجهانګیرددې اقدام اهمیت نورهم زیاتیږي که چیرته داپیښه مخته کیږدو چې داکلا دتکړه مسلمانوسالارانو په څای دراجه بکرماجیت په لاس فتحه شوې وه.

---

[1] دګوالیار له کلا نه خلاصون په جمادی الثاني کال / ۱۰۲۹ هـ کې رامنځته شوی و اوله شاهي لښکر نه په ذي الحجه کې رخصت شوی و په دی توګه دری نیم کاله جوړیږي.

www.abulhasanalinadwi.org

جهانګير ليکي: دهمدې مياشتې " دی " په څلورويشتمه نيټه [۱] دکانګړکلا دسيل په نيت ووتلم ما امر وکړ چې قاضي، ميرعدل اونور علماء دې هم راسره ملګري شي اسلامي شعائر اود محمدي دين شرائط دې په دې کلا کې عملي شي لنډه داچې له يو کوس مسافت وهلو وروسته دکلالوړوته ورسيدو دخدایﷻ په توفيق سره زماپه موجودګۍ اذان وشو، خطبه ولوستل شوه، غوييي مال حلال شو چې ددې کلاله جوړيدورا په دې خوا دا عمل دلته نه و شوی داهرڅه زماپه مخکې وشول، په دې عمل باندې مودشکرسجدې وکړې څکه يوه باچاته هم ددې توفيق نه و ورپه برخه شوی، ما امر وکړ چې په دې کلاکې دننه يوستر جومات جوړکړي ، [۲]په دې بالواسطه او بلاواسطه هڅوسره لومړی دسلطنت مخ له اسلام سره دتغافل بلکې دتجاهل او ان مخالفت په ځای د اسلام داحترام لوري ته راوا ړول شو داسلامي شعائرو له لوړوالي اوله اسلام سر دباچادلچسپي پيداشوه داسلسله دجهانګير له اخري دور نه پيل ددويم باچا شاه جهان دسلطنت زمانې ته ورسيده.

## د شاهجهان دور

دشاهجهان باچا ۱۰۰۰هـ = ۱۰۷۵پېر چې دسلطنت پيل يې په ۱۰۳۶ هـ کې شوی و له ډيرشان اوشوکت سره يې يوديرش کاله دوام وکړ اودمجددصاحب له وفات نه دوه کاله وروسته په تخت باندې کيناست، دادتدريجي اصلاح اوښه والي دور و، دشاه جهان په اړه ددې خبرې هيڅ باوري ثبوت نشته چې ده له حضرت مجددصاحب اويا دده له زوی خواجه محمدمعصوم صاحب سره دبيعت اوعقيدت تړاو درلود خوپه دې

[۱] دربيع الاول له لومړي نيټی ۱۰۳۱ هـ سره سمون خوری .
[۲] توزک جهانګيری دنوروز شپاړسم جشن مخ / ۳۴۰.

www.abulhasanalinadwi.org

کې شک نشته چې په زړه کې يې له مجددصاحب سره مينه، اخلاص اواحترام و ځکه کله چې مجددصاحب دباچاپه غوښتنه سره دربارته دحاضريدلونيت وکړ اودامعلومه وه چې مجددصاحب تعظيمي سجده اود دربار اداب نه مني نو شاه جهان افضل خان اومفتي عبدالرحمن ( چې دشهزاده ملګري و ) له څوفقهي کتابونوسره مجددصاحب ته ورولیږل اوورته يې ويل چې تعظيمي سجده دسلاطينو لپاره رواده اوپه ځانګړو حالاتوکې فقهاو ددې اجازه ورکړې ده، که ته دملاقات په مهال دباچالپاره دا اداب په ځای کړې نوزه ددې خبرې ذمه واري وهم چې تاته به هيڅ ډول تاوان ونه رسيږي. حضرت مجددصاحب دده داخبره ونه منله اوويې ويل چې دارخصت ده اوعزيمت دادی چې له خدايه پرته بل چاته په هيڅ حالت کې هم سجده ونه شي، [1] دشاهجهان په اړه دمورخينو اتفاق دی چې هغه يونيک زړی باچاو، دشريعت احترام يې کاوه، د سترو جوماتونو له جوړولو سره يې زياته مينه لرله اوپه خپله دشرعي فرائضو پابندو، علماء اونيک خلک يې له ځانه سره ساتل، اوپه هغو يې باورکاوه، دده هوښيار وزير جملة الملک سعدالله خان علامی مړ ١٠٦٦ھ دخپل وخت نوميالی عالم اومدرس و.[2]

له دې دينداري اوخدای ترسي سره سره چې ديوه ستر سلطنت دټولواک په ژوندکې وي غنيمت بلل کيږي. شاهجهان دتيروخت ځينې دشريعت خلاف رسومات اواداب بندکړل، شمس العلماء مولوی ذکاء الله صاحب دفارسي دمعاصروتاريخونو، بادشاه نامې اونورو دخبرو په اساس ليکي: کله چې شاهجهان په تخت کيناست نوپه محمدي شريعت اودهغه په ادابوکې چې کوم خلل اونيمګړتيا رامنځته شوې وه هغه يې ختمه کړه په لومړي ځل يې امروکړ چې دتعظيم دسجدې وړ يواځې حقيقي معبود دی له دې وروسته به څوک دبل چالپاره خپل تندی په خاورو باندې نه ږدي، دمهابت خان په

[1] دتفصيل لپاره ددې کتاب دريمه برخه وګوری.

[2] تفصيلی حالات يې دنزهة الخواطر په پنځم ټوک کې وګوری.

www.abulhasanalinadwi.org

ویلوسره دسجدې په ځای " زمین بوس " وټاکل شو خوپه دې کې هم له سجدې سره مشابهت و اوبندیې کړ اوځلرم تسلیم یې رواج کړ.[۱] سر رچرډبرن sir Richard Burnلیکي چې: شاهجهان غوښتل چې په ډېره سختي سره ددویم ځل لپاره اسلامي عقائد نافذکړي خو دنورومذاهبو له منونکو سره یې ټکر هم نه خو ښاوه، هغه ډېرژر د شاهي تخت ته دسجده کولو رسم له دربارنه ختم کړ، الهي سنه هم چې اکبر رواج کړې وه په دولتي کاغذاتواوسکوکې دهغي کارول هم دشا ه جهان له تخت ناستي څوکاله وروسته ختم شوو، په کال ۱۶۳۴ه کې چې په پنجاب اوکشمیرکې دمسلمانانواو هندوانو په منځ کې دنکاح کولو رواج و بندکړل شو.[۲]

مولوي ذکاء الله صاحب لیکي: ددولت له خاص مقام نه قاضي او ښوونکي وټاکل شو، څودشریعت داحکامواودعبادت دادابوتعلیم وکړي شیخ محمودګجراتي یې مقرر کړ څوله تحقیق اوثبوت نه وروسته مسلمانې میرمنې دهندوانوله تصرف نه خلاصې کړي اودهغوی ودانې اوجوماتونه بیل کړي هغه له دې حکم سره سم عمل وکړ یوڅو جوماتونه چې دهندوانو په تصرف کې وو هغه یې له هغوی نه واخیستل هندوان یې جرمانه کړل اویه هغو یې داجوماتونه ودان کړل، کوموهندوانوچې دقران مجید بې ادبي کړې وه هغوی ته یې له ثبوت نه وروسته عبرتناکې سزاوې ورکړې، بیاباچاحکم وکړ چې دپنجاب په ټول ولایت کې چې کوم ځای داسې څه شوي وي دهغه دې له شریعت سره سم تحقیق وکړل شي.[۳] خودشریعت له دې احترام اویوڅه دیني حمیت سره سره په دې کې هیڅ شک نشته چې شاهجهان دخپل دینداره، عالم، اوبا صلاحیته زوی اورنګزیب په پرتله خپل مشرزوی داراشکوه خوښاوه سره له دې چې هغه دټولنیزې سولې پلوي او ازادخیاله و اوهغه یې دتخت اوتاج وارث اوخپل ځان

---

[۱] تاریخ هندوستان اووم ټوک مخونه / ۵۵ - ۵۶ لنډیز یې.

[۲] Cambridge History of India . vol .۶ . P . ۲۱۷.

[۳] تاریخ هندوستان اووم ټوک مخونه / ۱۷۵ - ۱۷۶ لنډیز یې.

www.abulhasanalinadwi.org

ناستی تاکلی و اودادشخصي اومیراثي سلطنتونو اوددین اوسیاست دبیلولو د اصولو پابندو، واکمنو هغه خصوصیت اوځانګړتیاده چې هلته دده ذاتی دینداري نه دسلطنت په چارو اغیز وکړای شي اونه دکوم غلط یامضر ځای ناستي په تاکنه مانع ګرځیدلی شي.

## شهزاده داراشکوه

دعالمګیر په زمانه کې چې کوم تاریخونه لیکل شوي دي یواځې په هغوی باندې په باورکولوسره مونږ د داراشکوه په اړه څه پریکړه نه شوکولای، اونه په قطعي توګه په هغه باندې دبې‌دینی اوخرابې عقیدې حکم ګولای شي، اونه داویلای شو چې د تخت او تاج لپاره دورونو داجګړه یواځې ددووفلسفو، ددوومفکورو اودین اوبې دیني جګړه وه، خودنامسلمانو اوبې طرفه مورخینو له خبرو نه هم دومره معلومولای شو چې دی غور نیکه اکبرته نږدې و، دادیانو دیووالي له نظریې نه اغیزمن و، او هڅه یې کوله چې د شریعت او ویدانت (دهندو انودفلسفې اودینیاتو نظام) په منځ کې مطابقت ثابت کړي.

فرانسوي ډاکټر برنیر لیکې چې: دیوزی صاحب فلیمش عیسایې ملادیني مواعظ به یې ډیرپه مینه سره اوریدل، دهندوانو اومسلمانانودمذهبونو یوکول یې غوښتل د اسلامي دائرة المعارف دلیکوال په وینا: ده له تصوف سره زیاته دلچسپي لرله اوله هندوفلسفې نه اغیزمن و دمشهورازادخیاله وجودي سرمداو بابالال داس بیراګي کبیر پیرو هم و، د دارا له وروستیوتحقیقاتوڅخه داسې بریښي چې دی ذوحدة الوجود دنظریې منونکې و، دی دهندوفلسفې اوبتانو تراغیزې لاندې و چې له دې کبله هغه داسې دګنو ملحدانه خیالاتو لوري ته مائل وچې هغه په هندوفلسفه کې پیداکیږي او په اسلام کې هیڅ ځای نه لري ، دارا دې نتیجې رسیدلی و چې "ویدانت " او تصوف چې په هغو سره حق پیداکول کیږي په خپلوکې سره مخالف نه دي، یواځې لفظي توپیر لري د" اوپنشدو " په ژباړه کې چې دی یې دوحدت سرچینه بولي دارا ددوو لویو مذاهبو اسلام

www.abulhasanalinadwi.org

اوهندومذهب دپیروانودمشترکونظریاتوپه یورنگ کولوکې ډیرې هڅې کړې دي، دا راز ده غوښتل چې دهندوانو له اعتقاداتو سره مسلمانان اشناکړي.[۱]

د دارا خیالات، افکار، جذبات اوتمائلات دهندله مسلماني ټولنې نه پټ نشوای پاتې کیدلای اوله دې نه هوښیارشهزاده اورنګزیب پوره ګټه پورته کړه په دې کې د تعجب ځای نشته چې دهندوستان دینداره خلکو، علماو، دشریعت پیروانو دطریقت مشائخو اودهغو پیروانو چې داکبر په زمانه کې یې داسلام بې وسي او بیکسي لیدلي اویایې له مشرانو نه اوریدلې وه؛ ددې ورونو په جګړه کې د دارا شکوه په ځای د اسلام دساتونکې، دشریعت پیرو شهزاده اورنګزیب مرسته کوله هغه ته یې دعاګانې کولې او خلک یې دهغه مرستې ته هڅول،[۲] ددې کشمکش نتیجه ټولو ته معلومه ده چې اورنګزیب په داراشکوه باندې برلاسی شو او په کال ۱۰۶۸هـ کې یې دسلطنت واګې په لاس کې واخیستل او پوره پیړۍ یې په ښه شان اوشوکت سره حکومت وکړ.

## محی‌الدین اورنګزیب عالمګیر او دهغه دیني حمیت

اورنګزیب عالمګیر دمجدد صاحب له کو رنۍ سره عقیدت اودده مسلک سره یې له پیل نه تړاو درلود ده له حضرت خواجه محمدمعصوم سره دبیعت او ارادت تړاو درلود،[۳] ددې خبرې ګڼ شمیرشواهداوښبې شته چې دباچاتړاو اوعقیدت له حضرت خواجه صاحب سره معمولي اوسرسري نه و بلکې له هغه سره یې داصلاح اوتربیت

---

[۱] اسلامي اردو دا ئرۍمعارف دداراشکوه مقاله ټوک مقاله لیکونکې شیش چندر (واداره) داراز-- Aurangzib - دظهیر الدین فاروقی مخونه ۳۸-۴۷- هم وګورئ.

[۲] دتفصیل له پاره دپروفیسر محمد اسلم دامقاله وګورئ (داور نګزیب په تخت ناستی کې دعلماو او مشائخو کردار) چې دپروفیسر محمد اسلم په تاریخی مقالا تو کې را غلی ده مخونه /۲۲۶ - ۲۴۳ -

[۳] مکتوبات سیفیه مکتوب نمبر ۸۳ دصوفي سعدالله افغانی په نامه.

www.abulhasanalinadwi.org

تعلق و کله چې اورنګزیب کشر شهزاده و په هغه وخت کې هم حضرت خواجه محمد معصوم هغه ته زیاته پاملرنه کوله اود( شهزاده دین پناه ) په لقب سره به یې یاداوه چې دایوه واړندوینه اونیک فال و، حضرت خواجه سیف الدین خپل پلار حضرت خواجه محمدمعصوم ته په یوه لیک کې کاږي: دجلالتماب باچاله حضرت صاحب سره څه بل ډول اخلاص دی له شپږو لطائفواو دسلطان الاذکار له ذکر نه تیرشوی دی په دې وخت کې دنفي اواثبات دذکر په مقام کې دی، دی وایې چې کله کله مطلق وسوسه نه راځي اوکله چې راشي هغه استقرارنه لري، دی له دې شي نه خوندي اوساتلی دی، وایې چې له دې نه وړاندې به د وسوسو اوخاطراتو هجوم پریشانه کولم اودی ددې نعمت شکر اداکوي.[1]

دخواجه سیف الدین ددې لیک په څواب کې چې خواجه محمدمعصوم کوم لیک نیکلی دی په هغه کې ده دخدای شکر اداکړی دی چې هغه باچاته روحاني مرتبې ور ښنلي دي له دې لیک نه داهم معلومیږي چې باچاد( فناء قلبي ) مقام ترلاسه کړی دی چې داپه سلوک کې یولوړمقام دی،[2] ابوالفتح په اداب عالمګیري[3] کې لیکي: د اورنګزیب له تخت ناستي سمدستي وروسته خواجه محمدمعصوم اودهغه مشر ورور خواجه محمدسعیدشاهي دربارته راغلل اورنګزیب په دې موکه درې سوه طلایې اشرفۍ نذرکړي دي. پروفیسرمحمداسلم صاحب په خپل مضمون(داورنګزیب په تخت ناستي کې دعلماو اومشائخوکردار) کې د(مرات العالم)او(فتوحات عالمګیري )[4] په

[1] مکتوبات سیفیه مکتوب / ۲.

[2] مکتوبات خواجه محمدمعصوم مکتوب ۲۲۰.

[3] دابوالفتح " اداب عالمګیری " قلمي نسخه انډیاافس لائبرری لندن ایتهی ۳۱۷پاڼه / ب / ۴۳۱، محمدکاظم " عالمګیر نامه " چاپ کلکته ۱۸۶۸ء مخ ۲۹۳. ( دپروفیسر محمداسلم له تاریخی مقالات نه نقل شوی دی )

[4] دادواړه کتابونه دانډیاافس لائبرری اوبرټش میوزیم په کتابخونه کې دی.

www.abulhasanalinadwi.org

حواله ګڼ شمیررانقل کړي دي له هغه څخه معلومیږي چې باچاله دې کورنۍ اود مجددصاحب له زامنوسره ژورې اړیکې لرلې،[۱] دوی به له باچاسره ملاقات کاوه او باچابه دوی ته ګران بیه تحفې ورکولې له دهلي نه چې به لاهورته تلو اوبیرته به راتلو نوڅوځله سرهندته ورګرځیدلی له حضرت خواجه معصوم اودمجددي کورنۍ له نورو غړیوسره یې لیدلي دي، دمفتي غلام سرور د(خزینةالاصفیاء)له روایت سره سم باچاله حضرت خواجه محمدمعصوم نه څوځله غوښتنه وکړه چې که دی په سفر اوحضرکې له باچاسره اوسي خوده دخپل پلارله وصیت سره سم له باچا سره اوسیدل خوښ نه کړل او

---

(۱) دخواجه سیف الدین مکتوبات دباچاعالمګیر په نامه دی اود " مکتوبات سیفیه " په نامه سره خپاره شوی دی که چیرته دامکتوبات په غورسره مطالعه شي نودا اندازه کیدای شي چې له مجددي کورنی اوپه ځانګړی توګه له خواجه سیف الدین سره دباچاتړاو یواځې داحترام اوعقیدت تړاو نه و لکه څرنګه چې د دینداره اودښی عقیدي خاوندو باچاهانودخپل هیوادله علماو اومشائخوسره وی بلکې دا تړاو له ضابطې نه زیات درابطې، له عقیدت نه زیات دتربیت اواستفادې و حضرت خواجه سیف الدین دخپل نومیالي پلارپه نامه په یوه بل مکتوب کې لیکې: ( چې په ترتیب کې دریم مکتوب دی) : جناب حضرت ! په دی ورځوکې اوږده اوږده مجلسونه کیږي اوپه ځینی دقیقو مکاتیبو بانډې خبرې هم سره کوو اوباچاپې په ډیر اخلاص سره اوري په مکتوب ۱۴۲ کې چې دشیخ محمدباقرلاهوري په نامه ده لیکې: جلالتماب باچا دشنبې په شپه چې ددې میاشتی دریمه شپه وه زماغریبه ځای ته تشریف راوړکومه بې تکلیفه ډوډی چې حاضره وه هغه یې وخوړله مجلس اوږدشو په منځ کښې چوپتیا مجلس هم راغلی‌لنډه داچې امیدکیږي چې د مخلصینو له غوښتنې سره سم به دعالیه طریقې رواج هم ښکاره شي. داړیکو اواغیزو دالړی دعالمګیر له وفات نه وروسته هم جاری وه دنظامی چشتی طریقې مشهور شیخ چې داطریقه یې بیا نوی کړه شاه کلیم الله جهان ابادی مړ۱۱۴۳ﻫ چې خپل ځانګړی خلیفه شیخ نظام الدین اورنګ ابادی ته کوم لیکونه لیکلي دی په هغوکې په ځینو لیکونوکې هدایت شوی دی چې څرنګه چې دامهال له باچاسره په اورنګ ابادکې دمجددې کورنی صاحبراده ګان هم دی له دی کبله دسماع اوقوالی مجلسونوپه انعقادکې احتیاط کوی هسې نه چې دا حضرات خپه شي ( تاریخ مشائخ چشت پروفیسر خلیق احمدنظامی مخونه ۴۱۸ = ۴۱۹ له دی څخه په ښکاره توګه څرګندیږی چې د ذکن په مهم اودهغه ځای په اوږده قیام کې ددې کورنی مشران کسان وخت په وخت له باچاسره یوځای وو اوپه دعاګانو اوتوجهاتوکې له هغه سره ګډ اوشریک وو.

www.abulhasanalinadwi.org

په خپل ځای یې خپل زوی خواجه سیف الدین دهلي ته ولیږه په ( مکتوبات معصومیه ) کې دوه مکتوبه یو / ٢٢١ / دویم / ٢٤٧ / دباچاپه نامه دي اوله هغونه په څرګنده ښکاري چې دباچاله ده سره دعقیدت اوتربیت تړاو و، دده اوباچادارپیکو اوله ده نه د باچاااغیزمن کیدل اودده په هدایاتویاندې دعمل کولو یادونه به په اتمه برخه کې د خواجه سیف الدین په یادونه کې راشي، خواجه سیف الدین له باچاسره اوسیده اود شریعت په پلي کولو اودسنت په ژوندي کولوکې یې هڅې کولې دده دلیکونوټولګه د (مکتوبات سیفیه ) په نامه ده اودادباچاپه نامه اتلس لیکونه دي [1] چې په دې کې یې دباچادبدعاتوختمولو، دسنت احیاء اودکلمةالله اعلاء ته متوجه کړی دی.

دسلطنت دواکمن او یوه ټولواک باچا دټولواعمالو اواخلاقو د هغه د پریکړو او اقداماتو ذمه اخیستل یوڅه ګران دی اوداټول له اسلامي تعلیماتواوشرعي احکامو سره سم ثابتول ناشوني دي داخبره یواځې دخلفاء راشدینو اوهغوڅو واکمنوپه اړه کیدای‌شي چې د اموي خلیفه حضرت عمر بن عبدالعزیزؒ په څیر یې خلافت د نبوت په لاره سم کړی و، بیاداشخړئیز اقدامات اوسیاسي اوامنیتي کړنې دکومو مجبوریو اومصلحتونو په نظرکې نیولوسره عملي شوي دي اومورخینو چې کوم تصویر وړاندې کړی هغه ترکومه حده په خبرتیاباندې ولاړدي له اوږدې زمانې تیریدلو وروسته اودسهي شهادتونو دنشتوالي له کبله دهغه په اړه پریکړه کول اسانه کارنه دی بیاهم دعالمګیر په اړه چې کوم باوري تاریخي موادشته دي دهغوپه اساس په باورسره ویل کیدای شي چې باچادحضرت مجددصاحب له تجدیدي او اصلاحي تحریک نه ، دسلطنت داسلام نړوونکې جوړولو په ځای داسلام دخادم ګرځولوله انقلاب پاروونکو خو پټو هڅو اودهغه له زامنو اودکورنۍ له برجسته غړیو نه په پوره توګه اغیزمن و او دحضرت مجددصاحب له دعوت اواهدافوسره هم غږی شوی و هغه د سلطنت په نظام

---

[1] مکتوب : ٢٠/ ٢٢/ ٢٣ / ٢٦/ ٣٥ / ٣٩/ ٥٦ / ٧٥ / ٥٩ / ٦٠ / ٦٧ / ٧٢ / ٧٤ / ٧٦ / ٨٠ / ١٦١ /١٦٤/ ١٦٥.
مکتوبات سیفیه .

www.abulhasanalinadwi.org

اوټولنه کې په زړه پورې زيات بدلونونه راوستل غوښتل اوهغه په لومړي ځل کې ځينې داسې اصلاحات نافذکړي و چې که څه يې هم دحکومت ماليه اغيزمنه کړې وه خودشريعت دځرګندو احکامو نفاذو، دده دذاتي ژوندپه اړه دټولومورخينواتفاق دی چې دی متشرع دشريعت پابند اومتقي انسان و، مونږ دلته دده د ژوند په يوڅوبيلګو راوړلوسره نورله هغه نه تيريږو:

دروژې مياشت وه ګرمې هواوې چليدې، ورځې لويې وې باچابه دورځې روژه نيوله وظائف به يې لوستل، تلاوت اوليکنه به يې کوله، قرانکريم به يې ياداوه اودعدالت اوسلطنت کارونه به يې سرته رسول مابنام به يې روژه ماته کړه دغسل خانې په جومات (موتی مسجد) کې به يې لمونځ، تراويح اونفلونه کول په نيمه شپه کې به يې يوڅه کم خوراک وکړ دشپې به ډيرکم ويده کيده زيات وخت به يې عبادت کاوه ځينې متبرکې شپې به يې ټولې په عبادت سره ويښې تيرولې داډول ټوله مياشت تيره شوه،[1] مورخ دده دوفات حال بيانوي اوليکي: د(جلوس) يوپنځوسم کال ١١١٨ﻫ تبه يې بيخې زياته شوه دومره تقوی يکې وه چې له سختې ناروغۍ سره يې څلور ورځې لمونځ په جمعه سره وکړ ده دخپل تجهيز اوتکفين په اړه يوه وصيت پاڼه ليکلې وه : ماپه خپل لاس خولۍ جوړې کړې وې دهغوله روپيونه څلورروپۍ پاتې دي په هغوسره زماتجهيز او تکفين وکړی او اته سوه پنځه روپۍ مې دقران ليکنې په اجرت ترلاسه کړې وې هغه دې په غريبانووويشل شي دجمعې ورځ اته ويشتم دذی القعدي٥١ جلوس چې له ١١١٧ ﻫ سره سمون خوري باچادسهار لمونځ وکړ اودتوحيدد کلمې ذکريې پيل کړ د غرمې مهال و چې له دې فاني نړۍ يې سترګې پټې کړې اودخپل محبوب په لوري ولاړ.[2]

---

[1] تاريخ هندوستان اتم ټوک دشمس العلماء مولوی محمدذکاء الله دهلوی تصنيف مخ ٢١۴.( له ما ثرعالمګيری اونورونه اخيستل شوی دی.

[2] تاريخ هندوستان مخ / ۴۶۵.

www.abulhasanalinadwi.org

مونږدلته يواځې دعالمګير دهغواحکاماو فرامينو يادونه کوو چې هغه داسلام د شعائروله احترام اودشرعي احکاموله نفاذ اواجراء سره تړاولري، دکال۱۰۶۹ه اود جلوس ددويم کال دپيښنو په ترڅ کې مورخ ليکي: دجلال الدين محمداکبرشاه له زمانې نه ددفتراوجلوس کال اومياشت دفروردي له مياشتې نه کيدې په دې تاريخ لمر دحمل په برج کې داخليږي دپسرلي موسم وي ددې باچادجلوس تاريخ هم دې نيټې ته نږدې ونوده ټول حساب له فروردی نه د اسفندار[1] له مياشتوپورې مقررکړ او دې مياشتی ته يې دالهي مياشتې نوم کيښود، څرنګه چې داطريقه داورپالو باچاهانو اومجوسيانوسره مشابه وه له دې کبله باچادشريعت لحاظ وکړ دجشن، جلوس اودفتر دحسابونولپاره يې دعربي قمري کال اومياشتې وټاکلې او امر يې وکړ چې په لمريز کال به عربي کال او مياشت مخکې وي اود نوروز جشن به بالکل بندوي، ټول پوهيږي چې په موسمونوکې هروخت قمري مياشتې بدليږي رابدليږي دقمري مياشتې اوکال دحساب په ټاکلوسره ډيرمشکلات رامنځته کيږي خودې ديندراه باچا دحساب اسانتياته هيڅ توجه ونه کړه يواځې د اورپالو اومجوسيانودمشابهت له کبله يې د نوروزجشن بندکړ، ددويم جلوس تاريخ يې دروژې مياشت وټاکله اوداي د جلوس لپاره نوی‌کال وټاکه اودنوروزدجشن په ځای يې دکوچنې اخترجشن مقررکړ[2]

ديوه ستر دولتي عائد( چې په نارواتوګه دولت ترلاسه کاوه) دبنديزيه يادونه کې مورخ ليکي : باچاامروکړ چې په لارکې اخيستونکې ماليې به معاف وي داماليې به په هر سر اوهرمعتبر سرحدباندې اخيستل کيدې اوددې عايدات به ټول ددولت په خزانه کې لويدل، پاندري اوهغه ماليه چې له دکانوپرته په بل شي لګيدلې وې اوله دې لارې له سلهاو زره روپې شاهي خزانې ته راتلې داراز له رواوناروا لارو، مسکراتو ،

---

[1] فروردی، اسفندار دايران دلرغونی کليزی مياشتی دی.

[2] تاريخ هندوستان اتم ټوک مخونه ۸۳ = ۸۴.

www.abulhasanalinadwi.org

جرمانواوشکرانو اونوروډیرومالیوچې بې حسابه روپۍ به له دې لارې خزانې ته راتلې داتولې یې په هندکې بندې کړې،[۱] دمحتسب منصب دشرعي حکومتونو یومهم منصب اوداسلامي خلافت شعارو ډیرو علماو ددې منصب په نوعیت اودهغه په دندو باندې د ( الحسبة فی الاسلام ) په نامه کتابونه لیکلي دي، د هندوستان په مسلمانو سلطنتونوکې له ډیرې مودې راهیسي دامنصب تړل شوی اوله کاره لویدلی و باچاداسنت هم ژوندیکړ مورخ لیکې: باچایوعالم عوض وجیه محتسب مقررکړ هغه ته امرشوی وچې خلک له منهیاتواو محرماتو نه په ځانګړې توګه شرابو، بنګو اوټولونشیې توکو له کارولو نه منع کړي اوله وسه دې هڅه کوي چې خلک له بدوکارونوځخه منع کړي ،[۲] له یولسم کال نه تریووشتم پورې ۱۰۷۸ ه پیښې لیکلو په ترځ کې مو رخ لیکې: ورځ په ورځ دشریعت په پلي کولو اوداوامرو او نواهیو دلحاظ کولوکې دباچامینه زیاتیده، په تفصیل سره احکام جاري شوي و چې د لارو مالیې اونور ډول ډول مالیې به بندې وې چې له هغونه دولتي خزانې ته هرکال بې شمیره روپۍ راتلې،[۳] دمسکراتوکارول اوشراب خانې یې بندې کړې، وړاندې لیکې: باچاامر وکړ چې ساز اونڅاوې به بندې وې جهروکه درشن [۴] ددهلي د لال کلا د سیل کړکۍ) یې ناروا کار وباله په هغوکړکیوکې په خپله هم نه کیناسته اوله هغه لاندې یې دخلکو جمعه کیدل هم منع کړل.[۵]

دلرغوني دخلکوله دستور اواعتمادسره سم مسلمان باچابه هم په علم نجوم او نجومیانوباندې ډیر باورکاوه اودهغوله حسابونواوپریکړوسره سم به یې دکارونو لپاره

---

[۱] تاریخ هندوستان مخ ۹۰. [۲] تاریخ هندوستان اتم ټوک مخ ۹۲.

[۳] دنزهة الخواطر مصنف دفارسی تاریخونوپه حواله لیکلی دی چې عالمګیر په کال ۱۰۶۹ه کې شپږ اتیاډوله نارواماليې بندی کړي چې دهغو کلنی عائدات دیرش لکه روپۍ وی.

[۴] جهروکه له کړکې نه بهر یوه وړوکې برنډه وه چې باچاهان به پکې کیناستل اوحکمونه به یې جاری کول خلک به لاندی ورته ولاړ وو. دغه دلا هور په شاهي قلعه کې هم شته

[۵] نزهة الخواطر مخونه ۲۷۵ = ۲۷۶ لنډیز یې.

www.abulhasanalinadwi.org

ورځې ټاکلې عالمګیرداهم بندکړو اوترټولوزیات داچې دعدالتې پریکړو ټول تړاو د امیرانو والیانوپه پریکړوپورې و خوعالمګیر شرعي قاضي مقررکړ اوهغه ته یې زیات اختیارات ورکړل په شاعراونجومي باندې زیات باورکیده په ځانګړې توګه د شاهجهان په زمانه کې؛ ده هغه هم ختم کړ دملکي چارو اوجزئي مقدماتولپاره یې قاضیان مقررکړل هغوی دومره اختیارات ترلاسه کړل اودومره مستقل شول چې د سلطنت غړیو به رخه ورسره کوله .[۱]

په ټول سلطنت کې دیوه شرعي قانون اوائین دجاري کولولپاره اودقاضیانو د اسانتیا لپاره یې دفقهي مسائلودتدوین اوترتیب نوی کار پیل کړدمستندو علماو یوه ډله یې ددې لپاره وټاکله څوهغوی په اسانه عبارت جزئي مسائل رایوځای کړي اوپه ظاهرالروایت باندې اکتفاء وکړي اوله خاصوحالاتو پرته د(نوادرو)خواته توجه ونه کړي اوله کوم ځای نه چې عبارت را اخلی په هغه دې حواله هم ورکوي ددې لپاره یې د سلطنت په لوړیوکسانوکې مولانانظام الدین برهانپوري مقررکړ ده له هغو سترو علماو نه مرسته وغوښته چې په حنفي فقه کې یې امتیازدرلود،[۲]دا کارپه شپږو ټوکونوکې مکمل شو اوپه دې باندې دشاهي خزانې دوه لکه روپۍ ولګیدې چې ددې وخت خورازیاتې روپۍ څنې جوړیږي، داپه هندوستان کې د(فتاوی‌عالمګیریه) په نامه اوپه مصر، شام، ترکیه کې د(فتاوی الهندیه)په نامه سره شهرت لري، اودادځینې ځانګړتیاو په اساس خورازیات اهمیت لري، له دې نه زیات جرئتمندانه اقدام داو

---

[۱] نزهة الخواطر مخ ۲۷۷ داراز دظهیرالدین فاروقی کتاب ( اورنګزیب ) باب .Areformer مخونه / ۵۵۹ = ۵۶۲ هم وګوری .

[۲] مولاناحکیم سیدعبدالحی د" نزهة الخواطر " مصنف په خپل غوره کتاب ( الثقافة الاسلامیه فی الهند ) کې په ډیر تحقیق اوپلټنه سره دهغوخلکو نومونه راجمعه کړي دی چې دعلماو په دی ډله کې شامل وو ده شل داسې نومونه لیکلی دی چې دټول هندوستان دعلمي کړیو نمایندګی کوی . وګوری " الثقافة الاسلامیه فی الهند ددمشق اکیډمی چاپ مخونه ۱۱۰ = ۱۱۱ .

www.abulhasanalinadwi.org

چې باچادخپل ځان په خلاف هم ولس ته داستغاثې کولو اوله شریعت سره سمې پریکړې کولو اجازه ورکړه اوددې کارلپاره یې شرعي وکیل مقررکړ، دهندوستان مورخ لیکي: په کال / ۱۰۸۲ه کې باچاامر وکړ چې زماپه وړاندې اوپه ښارونوکې دې اعلان وکړل شي چې که څوک په باچاباندې شرعي دعوی لري هغه دې راشي اودباچا وکیل ته دې مراجعه وکړي اوله اثبات نه وروسته دې خپل حق واخلي اوامر یې وکړ چې دباچاله لوري دې دده په حضورکې اوپه لرې اونږدې ښارونوکې شرعي وکیل مقرر شي څوهغه څوک چې باچاته نه شي رسیدلای هغه دده په ذریعه دخپل حق ترلاسه کولو دعوی وکړي.[1]

دمغلوپه درباراودمغلي شاهانولپاره په عامه توګه په سرتیټولو سره سلام کول او ځانګړې اداب او رواج و چې په هغوکې له مبالغې ډک تعظیم اودشریعت خلاف اعمال شامل و دسنت طریقې سلام کولو خودربارڅه کوې دامیرانو اورئیسانو بلکې علماو او مشائخو په مجلسونوکې هم رواج نه و باچاداکارهم اصلاح کړ اوپه سنت طریقه سلام کولو باندې یې تاکیدوکړ. مورخ لیکي: په دې ورځوکې حکم وشو چې کله کوم مسلمان له باچاسره ملاقات کوي نوپه شرعي سلام(السلام علیکم)باندې دې اکتفاءکوي دکفاروپه څیردې په سرباندې لاس نه ږدي والیان دې هم له عامو اوخاصو سره داډول چلن کوي،[2] ددې اقداماتوله کبله دهندوستان دیني کړیوعالمګیرباچاته د(محی‌الدین)لقب ورکړ. علامه اقبال له هغوکسانو څخه دی چې دهندوستان په رجحاناتو اوفلسفو، د ویدانت اوشریعت مقابلو، اودهندوستان په ائنده یې ژور نظر و دده په اند هم عالمګیرله هغوڅوتنوڅخه شماردی چې داسلام ساتنه یې په دې

---

[1] نــزهة الــخواطر مخ / ۳۰۰.

[2] دعالمګیر دځرګند دیني تمایل اوپه هیوادکې دارډو بدلونونو دتفصیل لپاره دجادوناتهٔ سرکار کتاب : Hestory of Aurang zib – vol ۳ . P. ۸۱= ۹۰ داراز د استینلی لین پول کتاب : Aurang zib ( oxford) P.۶۴ = ۶۶

www.abulhasanalinadwi.org

کې په لوړه کچه سره کړې ده، ماپه لاهورکې دده په ځای کې په ۲۲ نومبر کال ۱۹۳۷ء کې له ده سره یواوړدملاقات درلود دهغه مجلس کیسې مې تولې په یوه مضمون کې لیکلی دي چې عنوان یې دی ( دهندي عارف په خدمت کې څوګړۍ ) په دې مضمون کې دي : په هندوستان کې داسلام دتجدیداوبیاژوندي کولو خبره رامنځ ته شوه، نوعلامه دمجددالف ثاني حضرت شیخ احمدسرهندي، حضرت شاه ولی الله دهلوي اوسلطان محی الدین عالمګیرډېره ستاینه وکړه اوویې ویل چې زه هروخت وایم چې که ددوی وجود او هڅې نه وای نواسلام به په هندو تهذیب اوفلسفه کې تحلیل شوی و، ده دهمدې یقین او تحقیق په اساس د عالمګیر په شان کې دالاندې له جوشه ډک او فکر پاروونکې شعر ویلی دی

شـاه عالمگـیردون اســـتان
اعتبـار دو د مـان گـورگـان

پا یـه اسـلامیان بـر تر ازو
احتـرا م شرع پـیغمـبر ازو

درمیان کـارزار کـفر و دیـن
ترکش مارا خـدنگ اخـرین

تخم الـحادکـه اکبـر پرورید
باز انـدر فطرت دارا دمیـد

شمع دل درسینه هاروشن نبود
ملت ماز فساد ایمن نبـود

حـق گزیدازهند عالـمـگیر را
ان فـقیر صاحب شمشیر را

از پـی احیـاء دین مـامورکـرد
بـهرتجـدید یقین مامور کرد

برق تـیفش خرمن الحادسوخت
شـمـع دین درمـحفل مابرفروخت

کور ذوقان داستانها ساختــند
وسعت ادراک اونشناختند

شعـلـه توحید را پرو انه بود
چـون براهیـم اندرین بتـخانه بود

درصف شاهنشاهان یکتاستی
فـــقر او از تر بتــش پیداستی(۱)

---

۱) کلیات بیخودي

www.abulhasanalinadwi.org

بالاخر دحضرت مجدد صاحب د ددو سترو خليفه ګانو او ربښتونو ځای ناستو:
حضرت خواجه محمدمعصوم او حضرت سیدادم بنوري اوددوی مخلصوخلیفه ګانو او ځای ناستوکوبنبنونواوهڅوپه دې هیوادکې نتیجه ورکړه اوورو ورو په دولسمه هجري پیړۍ کې داهیواددټولې اسلامي نړۍ ( چې دفکري او علمي اضمحلال وريځې پرې خپرې وې ) روحاني اوعلمي مرکز وګرزیده ،اوداسلامي نړۍ له لرى پرتو ګوټو څخه خلک دلته دروحاني اوعلمي تندې اوبولولپاره، دتزکیي او احسان د منزلونوطی کولو لپاره اودحدیثو دزده کړې لپاره، راتلل دلته ځای په ځای مجددي خانقاوې اود کتاب او سنت اوحدیثو دزده کړو مرکزونه جوړشوي و او نړۍ والو فیض څنې ترلاسه کاوه

## دحضرت مجدد دمخالفت او تضلیل پاڅون اودهغه وتلې څیرې

داخبره به ناپوره اونیمګړې پاتې شي اودلوستونکو په مخکې به یواځې یو اړخ کیښودل شي هغه چې ډیرغوره او روښانه ده اودمجدد صاحب په سیرت او تاریخ کې دغه اړخ غالب اوڅرګنددی، که چیرته مونږ دده دمخالفت دپاڅون او هغه مهم یادونه ونه کړوچې ذمجددصاحب دژوندپه اخري دورکې پیل شوی واود هندوستان له پولوتیرشو حرمینو ته ورسیده اوددې مخالفت اساس دمجدد صاحب په ځیني لیکنواودلیکنوپه عباراتواومضامینوباندې ولاړو،مجددصاحب ته خدای پاک د هغه په ژوندکې زیات مقبولیت وربه برخه کړله اهل ذکراوعلم نه نیولې تر حکومتي کړیو پورې په ټولوباندې دده اغیزپروت و، په کمه موده کې په هند او له هنده دباندې د مجددیه نقشبندیه طریقه مشهوره شوه، دا راز ده چې کوم علوم او تحقیقات په خپلو لیکونو اومجلسونوکې ښکاره کړل چې له هغو سره خو عوام څه کوې چې خواص هم نامانوسه و اویوه اندازه که د وحشت لامل نه و نودحیرانتیا لامل خومخا و .

www.abulhasanalinadwi.org

اوپه دې علوموکې يې ځينې داسې وو چې دهغونه حلقاتو دمسلموحقائقوپه خلاف و چې له يوه نسل نه بل نسل ته انتقال شوي وو اوله داډول معاملې سره هغه وتلي او نوميالي خلک زيات مخ کيږي چې ديوه علم اوفن مجتهد، دکومې طريقې موسس اودخپلې زمانې له عامې ذهني اوباطني سطحې نه لوړوي، هغوی ته الله پاک وهبي علوم اوکمالات ورپه برخه کړي وي اودعاموا صطلاحاتو او زړوتعبيراتوله دائرې نه دباندې وزي، بياچې ده دحسنه بدعت په خلاف کوم قلمي جهادپيل کړ، دمشائخو لپاره دتعظيمي سجدې مخالفت يې وکړ، وجداوسماع، دلمانځه لپاره لفظي نيت تړل، دتهجدلمونځ په جماعت سره کول، اودمولود دمجلسونو اوغونډومخالفت يې وکړ اودا هرڅه يې ٠کړل يادمکاشفاتوحجت نه کيدل. دطريقودمشائخو اوسترو اولياو په ځای يې دمجتهدينواماما نوقول حجت کيدل ثابت کړل اودکشف په صحت اوقطعيت کې يې خبرې وکړې اودخپلې زمانې اودسيمودډيرو طريقو اوخانقاو مروج اومتعارف معمولات يې دسنت خلاف وبلل، اوبياترټولوزيات د وحدةالوجودله نظريې نه (چې يو بديهي حقيقت اودمحققينو صوفيانواجماعي مسئله وه) اودشيخ اکبرله علوماو تحقيقاتونه (چې دعلم اومعرفت سدرة المنتها او اخري اوج بلل کيده) يې ګام هاخوا واړاوه اوله هغه سره متوازي دوحدة الشهود نظريه يې وړاندېکړه .له دې ټولونه وروسته دده په اړه دژبو او قلمونو يو مخ چوپ کيدل ، اودکوم مخالف يا ردکوونکې بلکې تضليلی او ګمراه بللو پاځون دده دژوند په اخر يا له وفاته سمدستي وروسته نه پيداکيدل به يواځې داصلاح اوتجديد دتاريخ بلکې دعلم اوتدوين دتاريخ هم يوه نادره پيښه وه .دااختلافات يامخالفتونه مونږ په دوه ډوله ويشلای شو يوه هغه مخالفت چې دمخالفينو دکوم غلط بيان په اساس ياکومې غلط فهمي په نتيجه کې پيداشوي وي او ددې غلط بياني اوسازش دروښانه کيدلو ياغلط فهمي په

www.abulhasanalinadwi.org

لري کيدلوسره هغه مخالفت له منځه تللی وي، دويم هغه مخالفت چې دعقيدي او مسلک په اختلاف يا عصبيت او ذاتي دښمنی باندې ولاړوي.

په لومړی ډول کې مونږ دحضرت شيخ عبدالحق محدث دهلوي مړ۱۰۵۲ه اختلاف رااخلي چې دهغه علمي او ديني درجه ،خلوص اوللهيت او ديني حميت منل شوی دی، اودحضرت مجددصاحب دپيری دور هم و ، اودخپل پيرخليفه اومجاز هم و ده له حضرت مجدد صاحب سره اختلاف وکړ د هغه په ځينې ويناو اوتحقيقاتو يې ډيره حيرانتياوخپگان ښکاره کړ اوپه ليک کې يې چې دمجدد صاحب په نامه دی ددې څرګنده ونه هم وکړه،[1] دحضرت شيخ عبدالحق په دې اوږ ده ليک کې چې د مجددصاحب کومې خبرې رانقل شوي دي دهغو په اړه دمجددي طريقې زيات علماء اودنظرخاوندان په دې چې هغه تحريف شوي او غلطې دي دايوشخص ليک و حضرت شيخ په خپل کتاب ( المکاتيب والرسائل ) کې نه دی راوړی ، دحضرت مرزامظهر جان جانان له وينا سره سم شيخ وصيت کړی و چې دامکتوب بايد ضائع شي ددې مکتوب په ليکلو کې چې اصلاً کومه ولوله کارکوي ( اوهغه په خپله ښه هم ده ) هغه دشيخ دا فکر دی چې دمجددصاحب له ځينی ويناو اوتحقيقاتوځخه دځينې داسې لويانو او بزرګانو تنقيص اونيمګړتيا بيانول څرګنديږي چې دهغه په لوړشان باندې دامت اتفاق دی ،خودده دمکتوباتو ماهر اوشارح اودمجددصاحب داهدافو اوموخو رمز اشنا څو ځله ځواب ورکړی دی

[1] دامکتوب دپروفيسر خليق احمد نظامي دکتاب ( حيات شيخ عبدالحق ) په اخرکې په مکمله توګه راغلي دي وګورئ مخونه ۳۱۲ - ۳۴۴ ددې مکتوب په ځواب کې زياتې رسالې ليکل شوي دي چې په هغو کې دشيخ بدرالدين سرهندي ،شيخ محمديحی ( دمجددصاحب کشر زوی )، شيخ فرخ ، شاه عبدالعزيز محمدشاه دهلوي، قاضي ثناء الله پاني پتي اوحضرت شاه غلام علي دهلوي، نومونه اخيستلای شو. مولا ناوکيل احمد سکندرپوري ددې په ردکې د" هديه مجدديه" په نامه ځانګړی کتاب ليکلی دی چې ۳۳۶ مخونه لري -

www.abulhasanalinadwi.org

اوپه خپله مکتوبات مطالعه اودمجددصاحب ژونددديې ترديد کوی، ددې مکتوب يو سترمحرک دحضرت شيخ له سيدناعبدالقادر جيلانی قدس سره هغه يواځنې عقيده اومينه ده چې دعشق او فنائيت درجې ته رسيدلی و هغه په هر ډول نه يواځې دستاينې وړبلکې درشک اورخې وړدی ،

اوپه دې کې امت زياته برخه په هروخت اوهر هيواد کې له ده سره شريکه ده ، حضرت شيخ فکرکوی چې دمجددصاحب له خبرونه داسې ښکاريږی چې دی په هغه باندې ځان ته ترجيح ورکوی ددې له پاره هم په هغورسائلو کې ځواب شته چې دشيخ دمکتوب په ردکې ليکل شوي دی ،دلته دهغه مکتوب دمختلفو برخو تفصيلي ځيړنه موخه نه ده ددې له پاره بايد هماغه رسائل وکتل شي چې مونږ يې يادونه وکړه په دې مکتوب کې حضرت مجددصاحب ته ځينې داسې ويناوې منسوبې شوي چې مونږ يادونه وکړه په دې مکتوب کې حضرت مجددصاحب ته ځينی داسې ويناوی منسوبی شوي دي چې په ښکاره توګه بی اساسه دي ، اوددښمنانو تورونه دي ، سړی حيران شي چې حضرت شيخ په هغوځنګه باورکاوه اوپه خپل مکتوب کې يې ليکلی، حضرت شاه غلام علي دهلوي د درنښت او وقارمجسمه دی ده چې داډول عبارتونه ليدلي دي نوبې اختياره يې له قلم نه داالفاظ وتلي دي: العياذبالله اين چه خلا ف نويسى است، واين چه بى تحقيق گوئىاست، درهيچ مکتوب ايشان اين چنين عبارت نيست. يا شيخ عفاالله عنک !

خوځرنګه چې حضرت شيخ مخلص وکله چې ورته معلومه شوه چې کومې خبرې حضرت مجددصاحب ته منسوبې شوې وې هغه بی حقيقته اوبې اساسه دي نوډيرې حيرانتيا اوخپګان ځرګندونه يې وکړه او دده موخه يواځې اويواځې ديني اوعلمي وه.نودمجددصاحب په اړه يې غلط فهمي لرې شوه اودهغه لوړمقام ورته روښانه شو نو دهغه په جبران اوتلافي کې يې هيڅ کوتاهي اوناوختي ونه کړه اوپه

www.abulhasanalinadwi.org

ډيرولوړوالفاظو يې له مجددصاحب سره داخلاص اوميني څرګندوه وکړه چې دده په څير رباني عالم له مقام سره ښايې همداسې، ده حضرت خواجه حسام الدين احمددهلوي ته دا لاندې مکتوب وليکه:

سلمکم الله وابقاکم على روس المحبين والطالبين المخلصين د رين د و سه روز که ازاحوال شريف خبرنه گرفت يابه جهت تقصيری که درجبلت بشر است يابه قصد ان که مطلقااز الائش وفترت پاک شده باشند يابه خبر مسرت اثر صحت کلي وعافيت تام مشرف ومسرورگردد واميد که به اعلام ان مشرف گردانند ديده محبت درراه انتظار وصول اخبار مسرت اثاربندگی حضرت مياشيخ احمد دوچار است اميدوار هست که دعاء محبان به اجابت رسيده اثر عظيم ارد نسبت اين فقير در اين ايام وصفائي باطن به خدمت ايشان ازحدمتجاوز است واصلا پرده بشريت وغشاوه جبلت درميان نه مانده نه مى داند که ازکجااست باقطع نظر از رعايت طريقه انصاف و حکم عقل که به اين چنين عزيزان وبزرگان بدنه بايدبود ودر باطن به طريق ذوق و وجدان وغلبه چيزي افتاده است که زبان از تقدير ان لال است سبحان الله مقلب القلوب و مبدل الاحوال شايد که ظاهربينان درين جا استبعاد کنند من نمی‌دانم که حال چيست وبه چه منوال است زياده چی گويد وچه نويسد " والله اعلم بحقيقة الحال .(۱)

په دويم ډول مخالفت کې مونږ ترټولو مخکې د دولسمې پيړۍ يوه حجازي عالم شيخ حسن عجمي ثم المکي ( چې په مدينه منوره کې يې دحديثو درس ورکاوه او

(۱) اشارات مظهريه دشاه نعيم الله بهرائچي دندوة العلماء دکتابخونې مخطوطه / ۱۲۸۱هـ

www.abulhasanalinadwi.org

د هغه وخت مشهور حنفي عالم و اودحضرت شاه ولي الله صاحب دحديثو داستاد ابوطاهركردي استادو[۱] كتاب (الصارم الهندى فى جواب سوال عن كلمات السرهندى[۲] ته كتنه كوو ددې كتاب په سريزه كې ليكل شويدي چې له هندوستان نه حرمينو شريفينوته په كال ۱۰۹۳ھ كې دشيخ احمدسرهندي اودده دځينې نامناسبو كلماتوپه اړه چې دده له مكتوبات نه نقل شويدي يوه پوښتنه راغله اودحرمينو شريفينوله علماو نه استفتاشوې وه چې څوک داډول خبرې په ژبه سره اداكړي يايې

[۱] حضرت شاه ولي الله صاحب په ( انفاس العارفين ) كې دده يادونه كړې ده دى ليكي چې ده په حديثوكې دشيخ درجه لرله په مختلفو علوموكې مهارت درلود فصيح ژبه اوقوي محافظه يې وه ډيره استفاده يې له شيخ عيسى مغربي نه كړې وه له شيخ احمدقشاشي، شيخ محمدبن العلاء بابلي، او شافعي مفتي شيخ زين العابدين بن عبدالقادر طبري سره يې هم صحبت كړى و دنعمت الله قادري په څير اهل طريقت سره يې هم ملاقات شوي و اوداسماء ددعوت بوختيايې هم لرله دده دحديثو په درس كې به دشاه ولي الله استادشيخ ابوطاهر كردي مدني په عامه توگه قاري و دژوندپه اخري شپوكې يې په مكه كې اوسيدل پريښودل اوپه طائف كې يې يواځيتوب اختياركړ اوهورې په كال ۱۱۱۳ ھ كې وفات شو اودحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه خواته دفن شو. انفاس العارفين مخونه ۱۸۶ـ ۱۸۷ . خيرالدين زركلي په "الأعـلا م " كې العجيمي ليكلي دى دپلارنوم يې علي بن يحى او ابوالبقاء يې كنيت و اويماني الاصل و. اوپه ۱۰۴۹ ھ كې زيږيدلى و. دويم ټوک مخ ۲۲۳.

[۲] عربي مخطوطه خدابخش خان لا ئبرري بانكي پور پټنه ۲۷۵۳ . داكتاب په كال ۱۰۹۴ ھ كې مكمل شوي دى دخدابخش خان لا ئبررى مخطوطه نسخه دمصنف له نسخى نه شيخ سليمان جيتوا نقل كړي ده له دى امله هغه څمخاداعتبار وړده. داكتاب داصفيه دكتابخونى په مخطوطاتوكې هم شته ( شامل كتاب قدح الزند نمبر ۲۲۴. فن كلام پاڼه ۸ ) خوپه سرپاڼه يې يواځې "العصب الهندى" نوم ليكلى دى دمصنف په قلم باندې دكتاب دنامه يوځاى هم يادونه نه ده شوي . داصفيه دكتابخونى په محظوطاتو كې په دى موضوع باندې ( دحضرت مجدد صاحب دويناو او تحقيقاتو پرديد) دوه نور كتابونه هم شته . ۱ ـ قـدح الـزند وقـدح الزند فى رد ضلالات اهل سر هند للسيد مـحمد البرزنـجى كتاب نمبر ۲۲۴ . فن كلام پاڼه ۳۴ ۲ـ الناشرة الفـاجرة للـفرقـة الناصرة للـكلمات الفاجـرة للسيد مـحمد البـرزنـجى نمبر ۲۲۳ فن كلام پاڼه۲۶. ليكل ۱۰۹۵ ھ )

www.abulhasanalinadwi.org

په هغوباندې عقیده وي یادهغوپه پلي کولو اوخپرولو کې برخه ولري دهغه شرعي حکم څه دی؟ له دې وروسته دکتاب لیکوال لیکلي دي چې ماته خپل محترم استادمولاناالشیخ ملا ابراهیم بن حسن کوراني هدایت وکړ چې ددې ځواب ورکړم اودحرمینو له علماونه په دې اړه دهغوی نظریات اوفتواوې رانقل کړم، دکتاب لیکوال په خپل کتاب کې د دوو عالمانو فتواوې رانقل کړې دي یوهمدا نوموړی ملاابراهیم کوراني مدني دی اوبل علامه جمال الدین محمدبن عبدالرسول البرزنجي دی، له ټولومخکې ددې استفتاء د دوو ځواب ورکوونکو: ملا ابراهیم کوراني مدني اوجمال الدین محمدبن عبدالرسول برزنجي ؛شخصیتونه پیژندل ضروري دي.

دلومړني یادونه حضرت شاه ولي الله صاحب په انفاس العارفین مخونه ۱۸۴ ــ ۱۸۶ کې کړې ده، دی دشاه ولي الله صاحب دحدیثواستاد شیخ ابوطاهر کردي پلار اوشیخ دی شاولي الله صاحب لیکلي دي چې ده دهغه وخت په یوه لوی شیخ اوبزرګ شیخ یحی شاوي باندې دتجسیم فتوی ولګوله له همدې امله دترکیي د سلطنت وزیر چې د هغه معتقد هم و هغه په سپکاوي سره له مجلسه وایست نودنوموړی شیخ له دې رایې اوفتوی څخه داسې معلومیږي چې دده په مزاج کې یوڅه خشکې اوسختي وه اودرایې په قائمولو کې یې بیړه کوله. دسید محمد برزنجي (۱) چې ددې کتاب دویم مفتي دی په اړه شاولي الله صاحب لیکي : فی الجمله یبس مزاج داشت. مخ ۱۸۴له دې وړاندې وروسته دفتوی، دعلماودنظریاتواودشرعي حکم دبیان اواعلانولوپه تاریخ کې باید داتاریخ حقیقت

(۱) دسیدمحمدبرزنجی پوره نوم محمدبن عبدالرسول بن عبدالسیدالحسنی البرزنجی دی په ۱۰۴۰هـ کې زیږیدلی اوپه ۱۱۰۳هـ کې وفات شویدی . دی په شهروزکې پیداشوي اوپه اخرکې یې په مدینه طیبه کې هستوګنه غوره کړه دده یوکتاب د( حل مشکلات ابن العربي ) په نامه هم دی داهغه برزنجی نه دی چې په عربوکې زیږیدلی دی . الاعلام للزرکلی اووم ټوک، مخ ۷۵.

www.abulhasanalinadwi.org

هیرنه کړای شي چې دعلماواومفتیانوپه مخکې چې په څه ډول پیښه بیانیږي اوڅه ډول منقولات اواقتباسات وړاندې کول کیږي دوی هماغه مخته ړدي او له هغوسره سم فتوی ورکوي اوشرعي حکم بیانوي مشهور متل دی [تنهاپیش قاضي روی راضي بیائي ] یواځې قاضي ته ورشه : اوله خپلی خوښې سره سمه فتوی څنې راوړه، داعلماء اومفتیان نه په دې خبره مکلف دي اونه دومره وخت لري چې ددې اقوالو شاومخته، سیاق اوسباق وګوري اوددې پخّتن وکړي چې دانقل شوې خبرې سهي اوربښتیادي ، اوداسې خونه ده چې له سیاق اوسباق پرته یواځې دانقول له عوامي توکې سره سم د﴿ لاتقربواالصلوة﴾ په څیر دخپل تائیدلپاره راوړل شوي دي ، ددې خبرې پوره نښې شته چې ځواب ورکوونکو علماومستقیما مکتوبات نه وه مطالعه کړې اونه هغوی له درس اوافتاء نه دومره خلاص و چې زیات تحقیق وکړي ،دارازپه دې وخت کې په حرمینوشریفیوکې ددې سلسلې داسې علماء هم نه وو چې له حقیقت نه یې خبرکړي وای .

ترکومه ځایه چې دفتوی غوښتونکي دپوهې،امانتداري اومسئولیت داحساس خبره ده دهغه له پاره یواځې یومثال کافي دی هغه داچې حضرت مجددصاحب د کعبې الله شریفې دحقیقت په اړه کومه ژوره عا رفانه وینا کړې ده دایې په دې محمول کړې ده چې دی وایې چې دکعبې (ان الکعبة هی البنیة المعروفة وذلك کفر) او په دې کفر یاتو کې دده له دې خبرې نه انکار هم راځي چې دا موجوده معروفه ودانې کعبه ده، اوس ددې په مقابل کې هغه مکتوب ولولئ چې دشیخ تاج الدین سنبهلي په نامه دی چې تازه دبیت الله له صبح نه راستون شوي و مجدد صاحب دبیت الله شریفې دحالاتو داور یدلو مینه او نا رامي څرګندوي او لیکي چې : دفقیر په نزد چې څرنګه درباني کعبې صورت دمخلوقاتو دصورتو او اجسامولمه پاره(که انسان وي او که ملائکې وي ) مسجود الیهاده ددې حقیقت په

www.abulhasanalinadwi.org

تولو حقائقو له پاره مسجودالیها ( سجده ورته کونکې ده ) ده داراز دا حقیقت په تولو حقائقو باندې پورته دی اوکوم کمالات چې په دې پورې تړاو لري له هغو تولو کمالاتو نه چې په نورو حقائقو پورې تړلي دي فوقیت اولوړوالی لري ګواکې داحقیقت دکوني او الهي حقائقو تر منځ برزخ دی ، (۱) له دې یوه مثال نه په شعوري یاغیرشعوري توګه دتکفیر دفتوی حقیقت او ماهیت اندازه لګیدلای شي چې په هغونقلونو اواقتبسا توبا ندې جاري شوی وه، له دې سره مصنف په اخرکې دا احتیاط کړی دی اولیکي: داهم لرې نه ده چې خدای پاک ددخبروپه کوونکو اودی لیکونوپه لیکونکي باندې فضل کړی وي اوپای او خاتمه یې په خیر تما مه شوې وي لکه څرنګه چې دخدای جل جلاله معامله له خپلو بندګانوسره ده اودده له کریمي ذات نه څوڅوځله داسې شوي دي اوددې یوه نښه دا هم ده چې کله دده له صلبي اولادنه ځیني یې حرمینوته راغلل نودحدیثود سند اخیستلولیوالتیایې څرګنده کړه اوهغه وویل چې ددوی دطریقې اساس دمحمدي سنت پیروي اودنبوت په پله تګ کول دي هغه دحدیثوله استادانولکه زین العابدین طبري نه دحدیثو سند تر لاسه کړ اوزمونږ شیخ عیسی محمدبن المعربي جعفري یې زیات ډاډه کړ اودهغه دومره مینه ورسره پیداشوه چې له شیخ محمدمعصوم نه یې د نقشبندیه طریقې زده کړه وکړه څوهغه ددې عالي رتبه مشائخوبرکت ترلاسه کړي.(۲)

دمصنف له دې وروستیوخبروچې دیانة یې راوړی دی په څرګنده توګه داسې ښکاري چې دافتوی یواځې دهغونقولوپه اعتمادلیکل شوې ده چې دې مفتیانو ته دپوښتونکي له خواوړاندې شوی و اوپه خپله مفتیان په دې اړه دوه زړي وو ، دمجددي کورنۍ دلوړرتبه افرادو حرمینوته حاضریدل اوپه ځانګړې توګه دحضرت خواجه محمدمعصوم دسیرت، اخلاقو اولوړو احوالوله لیدلووروسته نه یواځې

(۱) مکتوب نمبر ۲۶۳ لومړی دفتر .

(۲) الصارم الهندی ( مخطوط ) مخ / ۲ .

www.abulhasanalinadwi.org

داچې غلط فهمي له منځه لرې شوه بلکې په خپله دمصنف يوه لوی استاد شيخ عيسی مغربي له حضرت خواجه محمدمعصوم نه بيعت وکړاوله نقشبنديه مجدديه طريقې سره يې نسبت پيداکړ شاه ولي الله صاحب په ( انفاس العارفين ) کې دده ستاينه کړيده او ليکلي يې دي: ( بالجمله يکي ازعلماء متقنين بود ووی استاد جمهور اهل حرمين است ويکي از اوعيه حديث وقرئت ، سيدعمر باحسن به حق وی گفتی: من ارادأن ينظر إلى شخص لايشك فى ولايته فلينظرالى هذا.)[١] ځوک چې غواړي داسې شخص ووينې چې دهغه په ولايت کې شک نه وي نوده(حسن)ته دې وګوري.

له دې فتواو نه وروسته له ترکستان نه يو مجددي عالم محمد بيګ الازبکې حجاز ته راغی ، ده دخپل کتاب (عطية الوهاب الفاصلة بين الحق و الصواب ) په ليکلو سره دا ثابته کړه چې دا فتواوې د مکتوبات دعباراتو په غلطه ژباړه باندې بنا شوی دی او داتحريف په شعوري توګه شوی دی ، ده دغلطو ژباړوګنې بيلګې وړاندې کړي دده په دې ځرګندونو سره ډير علماء له خپلو را يو واوښتل او ځينو يې دامام رباني په تائيد او دفاع کې کتابونه هم وليکل ، په دوی کې يو هم حسن بن محمد مرادالله التونسوي المکي دی چې د(العرف الندى فى نصرة شيخ احمد السرهندى) په نامه کتاب يې وليکه ده په خپل کتاب کې په ډاګه کړه چې دحضرت مجدد صاحب په خلاف کوم مهم پيل شوی و دهغه اساس غلط او تحريف شوې ژباړې وې ، بل عالم احمدالشيشي المصرى الشافى الأزهرى دی ده داخبره په صفا ټکوکې کړې ده چې دحضرت مجددصاحب تکفيريواځې دتصوف په اصطلاحاتو اونظرياتو باندې په سمه توګه دنه پوهيدلو ياغلط پوهيدلوله کبله شوی دی کوم اصطلاحات چې ده کارولي دي ، محمدبيګ دحجاز له علماو سره په دې موضوع باندې مباحثې هم کړې دي او مخامخ خبرې يې هم ورسره کړې دي چې له دې کبله

---

[١] انفاس العارفين مخ / ١٨٣

www.abulhasanalinadwi.org

البرزنجي د ( الناشرة الفاجرة ) په نامه کتاب ولیکه په دی کتاب کې هغه محمدبیګ ډیرپه سپکه خوله یادکړی دی اوناپوهه یې بللی دی، په هندوستان کې دحضرت مجددصاحب دمخالفت اوپه هغه باندې دنیوکو یودتوجه وړ سند چې دمخالفینو اواعتراض کوونکودذهنیت اواند دود څرګنده ترجماني کوي او ددې ډلې استازیتوب کوي؛ هغه دشیخ عبدالله خویشګي قصوري ( ۱۰۴۳ هـ ـ ۱۱۰۶ هـ ) کتاب ( معارج الولا یة ) دی چې خورالوی کتاب دی ،[1] عبدالله خویشګي په لنډه توګه په عبدي سره هم یادیده، دده له حالا تو نه معلومیږي [2] چې زیات کتابونه یې لیکلي دي د خپلې زمانې په مروجه علوموکې یې پوره لاس لاره په تصوف کې له چشتیه طریقې سره تړاولري اوذوقا اومشربا وجودي دی بلکې داسې بریښي چې په وحدة الوجودکې په افراطي توګه مخکي و.

دده استادان اوعقیدتمندان هم زیات دحضرت مجدد صاحب مخالفین دي اووحدة الوجودپلوه صوفیان دیاوپه دوی کې یې ځینو لکه شیخ نعمت لاهوري دقصور قاضي نورالدین دمجددصاحب دتکفیرپه فتوی باندې لاسلیکونه هم کړیدي، اندازه داسې ده چې هغه دسیدمحمدبرزنجي د( قدح الزند) لیکوال له متعلقینونه هم اغیزمن شوي و ، چې په اورنګ ابادکې اوسیدل، [3] په کال۱۰۹۶هـ کې چې خویشګي خپل کتاب پوره کاوه نودهغه وخت یوکتاب ( کاسر المخالفین ) یې هم یوماخذو چې د حضرت مجددصاحب اودده دپیرانو په ردکې لیکل شوي و،

---

[1] ددې کتاب قلمي نسخه مادپروفیسر خلیق احمدنظامی صاحب په ذاتی کتابخونه کې مطالعه کړی ده داسې معلومه شوه چې یوه نسخه یې په لاهور کې هم شته .

[2] دتفصیل له پاره دمحمداقبال مجددي کتاب ( احوال واثار عبدالله خویشګی قصوری ) وګورئ ! چې دلاهور دارالمو رخین خپورکړی دی .

[3] اندازه داسې ده چې اورنګ اباد دیوولسمې پیړۍ په اخرکې ددې مخالفت دپاڅون لوی مرکز و اوله همدی ځایه دامسئله حجازته ورسیده.

www.abulhasanalinadwi.org

دقصوري د اندود او دعلم دپايي اندازه له دې نه کيداى شي چې هغه په مجدد صاحب باندې کومې نيوکې کړيدي په هغوکې يوه داهم ده چې ده دلمانځه لپاره په ژبه نيت نه تاړه؛ دى ليکي:

چون براى تحر يمه نمازبرخاستی اغلب اوقات نيت را به دل کردی و زبان را ساکت گردانيدی و گفتی که رسول اللهﷺ نيت به دل کرده نه بزبان ز يراکه نيت فعل قلب است نه فعل لسان خويشگی .

مکتوبات څه ډول مطالعه کړي و، په ده کې دمسئوليت احساس څومره و، اود چادويناو اوخيالاتوپه منسوب کولو کې يې څومره احتياط کاوه ددې تولو اندازه ده له دې لاندې عبارت نه کيداى شي :

بعض مشائخ متقد مين هرکه قائل به وحدة وجود شده چنانچه حسين منصور وشيخ محی الدين عربي وامثال ان اورامـلحد زنديق گفتی، درمکتوبات خودکه مجلدبسه مجلداست دراکثر مواضع شيخ محی‌الدين عربي راتکفير نموده ود ر بعضی محال نسبت مذاهب اعتزال به وی ثابت نموده وباين همه اورا ازجمله مقبولين شمرده.

له دې نيوکوسره دمجدد صاحب ستاينه هم کوي اوليکي:

به دعوت طالبان حق ارشاد کرده پس وی اکثرطالبان راهدايت نمودی وبه جانب حق دلالت فرمودی وبهاجراء شرائع تقيدفرمودی وتارک شرائع راتوبيخ وزجر کردی ومرتکب شرائع را دوست داشت. دمجددصاحب له خوانه تاويل هم کوي اوبنه گومان هم ښکاره کوي مخالفينو چې په کومو الفاظو او عباراتو نيوکې کړيدی دهغوله نقل کولو وروسته ليکي:

www.abulhasanalinadwi.org

وقتی لازم ایدکه مراد ازین الفاظ معنی ظاهري بود فاما اگر مراد ازو معنی باطني بود چنان که گذ شت هیچ تکفیر وی وتشنیع لازم نیاید.

خوبیاهغه خیال چې دمجلس اوچاپیریال اودافواهو دکثرت له امله دده په ذهن کې ځای شوي غالبه کیږي اولیکي:

ولیکن حق انست که ایراد کلا می که موهم به نقص بود بجناب نبوی خالي ازنقص وقصور نیست کمالایخفی.

ددې کتاب زیاتْ اهمیت اوشهرت له دې کبله پیداشو چې په دې کې دقاضي شیخ الاسلام لیک راغلی دی،[1] هغه چې ده داورنګ ابادقاضي، قاضي هدایت الله ته لیږلی و، اودهغه په اړه لیکوال وایې چې داداسلام دباچا(اورنګ زیب عالمګیر) په امرسره جاري شوی دی اوپه هغه باندې دقاضي شیخ الاسلام ټاپه وه دلیکوال له وینا سره سم په هغه باندې دشوال۲۷ کال۱۰۹۰ھ نیټه لیکل شویده دالیک یافرمان لیکوال له (کاسرالمخالفین[2]) کتاب نه رانقل کړیدي اودلته یې کټ مټ رااخلو:

ازقرار بتاریخ بیست وهفتم شهر شوال سنه یک هزار ونود هجري انکه شریعت پنا فضائل وکمالات دستګاه فقاهت انتباه قاضي هدایت الله بعافیت باشند، درین ولا بعرض مقدس معلی رسید که بعض مواضع

---

[1] قاضي شیخ الاسلام دقاضي القضاة عبدالوهاب ګجراتي زوی اودعالمګیر دزمانې په نومیالیو قاضیانوکې و په کال / ۱۰۸۶ ھ کې عالمګیر ده ته دقاضي القضاة منصب ورکړ. په کال ۱۰۹۴ھ کې یې له دی منصب نه استعفاء ورکړه اوحج ته ولاړ دعالمګیر له ټینګار سره ددویم ځل لپاره ده دا منصب ونه مانه دحکیم سیدعبدالحی صاحب له یادأیام (تاریخ ګجرات) مخونه ۷۸ = ۷۹ څخه (له مآثر الامراء اونورو نه نقل شوي)

[2] متاسفانه چې دکتاب دلیکوال حالات معلوم نه شول.

www.abulhasanalinadwi.org

مکتوبات شیخ احمد سرهندی ظاهر درمخالفت عقائد اهل سنت وجماعت است و معتقدان شیخ مذکور که در بلاد اورنگ اباد خجسته بنیاد سکونت دارند وترویج ان بیشتر دهند وتدریس می نمایند اعتقاد حقیت عقائد باطله مذکوره دارند ، حکم والا شرف صدور یافت که این خادم شریعت باشریعت پنا بنویسد که انهارا از رشد ودرس ان منع بکند کسی که معلوم شود که معتقد عقائد باطله مذکوراست اورا به سزا شرعي رسانند لهذا نگارش شدبایدکه بر طبق حکم واجب الاتباع بعمل ارند وحقیقت برنگارند.(۱)

دې شاهي فرمان ته په اوس وخت کې په ډیرکتابونوکې زیات اهمیت ورکړل شوي اوګواکې دایوستر تاریخي انکشاف دی چې له مجددي تحریک نه د عالمګیر داغیز من کیدلو اوله حضرت مجددصاحب اودهغه له کورنۍ سره دده دعقیدتمندانه تړاو اواړیکو تړله ودانۍ نړوي ،(۲) خوکه په دقت سره ورته ځیر شو نو لکه فکر چې کیږي دومره دتعجب اوحیرانتیاخبره نه ده لومړۍ خبره داده چې په دې فرمان کې چې د مکتوبات یادونه شوې ده هلته ویل شوي: ظاهردر مخالفت عقائد اهل سنت و الجماعت،، دویمه خبره داچې دکومې خبرې تشویش ښکاره شوي هغه ددې مضامینو تدریس اوترویج دی اوکوم شي چې منعه شوي دي هغه همدا تولیز خپرول اودرس اوتدریس دی، ښکاره خبرده چې په دې دقیقواو ژورو مضامینو پوهیدل دمحقیقنو داصطلاحاتو په خبرتیااودسلوک اوتصوف په عملي

---

(۱) معارج الولایة مخ / ۷۰۸.

(۲) دبیلګې په توګه دیهودی لیکوال Yohanan Friedmann کتاب :
**Shaykh Ahmad sirhundi an out Line his Thought and a study of hid image in The Eyes of posterity-** چاپ
**Mcgill university Monreal and London . ۱۹۷۱-**

www.abulhasanalinadwi.org

تجربو پورې تړلي دي نوددې مضامينو په عمومي توګه خپرول اوکشرانو او مشرانوته يې تدريس کول دفکر دګډوډۍ او اختلاف لامل کيږي، اويوه داسې باچا ته مصلحتا دپابندي لګولو او احتياط کولو حق شته چې هغه دشريعت حامي وي، دی غواړي چې خپل هيواد او ټولنه له هرډول انتشارنه وژغوري، اودلويانو په اړه له بدويني خلک وساتل شي او داسې باچاچې له دې کورنۍ اودهغې له دعوت سره دزړه له کومې اخلاص لري اوپه خپل اقتدارسره دهغودبرياليتوب هڅې کوي. که دعالمګير ذاتي ژوند، دهغه حقيقي تمايلات اوجذبات اوله دې کورنۍ سره دده اړيکې(چې مخکې يې يادونه وشوه) ددې مکتوب يافرمان له څوجملوسره؛ وکتل شي نودهغه ټول تاريخ دله منځه تللو اودعالمګيرد کړو وړو دترديد دومره داعتبار وړ شي نشته پکې،

عالمګيرچې مغلي سلطنت سمې لارې ته برابرکړ اواسلامي شريعت يې پلی کړپه دې کې پرته له څه شکه دحضرت مجدد صاحب، د هغه دکورنۍ، خليفه ګانو اوپيروانو؛ اساسي برخه وه په هرصورت چې هرڅه و په هندکې اوله هندنه دباندې د مجدد صاحب له وفا ته وروسته دده په مکتوبات اوځينې تحقيقاتو باندې چې د مخالفت اوتضليل کوم تحريک پيل شوی و اودعلماوو اومفتيانو هم يوشمير پکې برخه وال و و هغه ددولسمې پيړۍ په لومړۍ څلرمه کې له منځه ولاړ او اوس هغه يواځې دتاريخ په پاڼوکې نغښتي و هغه هم په څوقلمي کتابونوکې ددولسمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې له هندوستان نه تر ترکستان پورې مجددي خانقاوې او د دعوت اوارشادمرکزونه قائم وو، دمجدديه طريقي مشائخواوعلماوو دمکتوبات مستندې او باوري ژباړې په زياتو اسلامي هيوادونوکې خپرې کړې وې. محمد مراد مکي قزاني دحضرت مجددصاحب، دده داولاد، دده دطريقې دعربو او ترکو مشائخويه عربي کې تعارف وکړچې د (ذيل الرشحات) په نامه خپور شو، دار ازيې مکتوبات هم وژباړه اود (المكنونات النفيسة) په نامه سره خپور شو، دا راز

www.abulhasanalinadwi.org

دشيخ محمدنورالدين بيگ الاوزبكي عربي كتاب (عطية الوهاب الفاصلة بين الخطأ والصواب) هم خپورشو په عربياوتركي هيوادو نوكې دمكتوبات داسې خپراوى وشو چې ټولې بدگوماني اوغلط فهمي لرې شوې.[۱]

دعلماووسرخيل علامه شهاب الدين محمودالوسي بغدادي مړ۱۲۷۰هـ په خپل وتلى تفسير ( روح المعانى ) كې دمجددصاحب نوم ډيرپه احترام سره يادوي اود مكتوبات زيات اقتباسات وړاندېكوي اواوس يوځاى هم دعلماو له كړيو نه دمخالفت او تضليل كوم تحريک نه ليدل كيږي ﴿ فاماالزبد فيذهب جفاء واما ما ينفع الناس فيمكث فى الارض كذلك يضرب الله الامثال ﴾ هغه ځگ به خوشې ولاړشي اوكوم شى چې خلكوته گټه رسوي هغه به په ځمكه پاتې شي،

دا راز خداى ﷻ ( دخلكو دړوهې لپاره ) بيلگې بيناوې، دادالهي حكمت عجيبه كارو چې دمخالفت اوتضليل په دې تحريک دحجاز علماو زياته برخه واخيسته چې كردي الاصل وو، شيخ ابراهيم الكوراني كردى اوسيد محمد برزنجي هم په شهر زور كې پيداشوى و، خداى ﷻ دمجدديه نقشبنديه طريقې دتبليغ اوخپرولو لپاره يوكردى عالم مولانا خالدشهرزوري وټاكه چې دده په نيكوهڅو اودنسبت په ځواک سره داطريقه په عراق، شام، كردستان اوتركيه كې داسې خپره شوه چې دهغه سارى موندل گران دى،[۲] ﴿ ولله جنود السموات والارض ﴾ .

---

[۱] كوموشاغليوچې رجوع كړيده اويايې دحضرت مجددصاحب اوددۀ دطريقې ددفاع وجيبه سرته ورسوله دهغونومونه دنزهة الخواطر په پنځم ټوک مخ / ۴۸ كې وگورى !

[۲] تفصيل به په اتمه برخه كې راشي.

www.abulhasanalinadwi.org

# اتمه برخه

# د حضرت مجدد صاحب دوه سترخليفه ګان اود هغو د پيروانو په ذريعه دده د تجديدي کار پراخوالی او تکميل

## د مجدد صاحب مشهور خليفه ګان :

دحضرت مجدد دسترو خلفاو نومونه او کارنامې ليکل ګران کار نه بلکې تقريبا ناشونی کاردی ځکه دهغو شميرخو زره بشوول شوی اوهغوی په ټوله نړی. کې خپاره اوپه کاربوخت دي دګڼ شمير هغوخليفه ګانو نومونه مخکې تير شوي دي چې ده ځينې باندنيو هيوادونو ته د اصلاح او تربيت لپاره ليږلي وو يايې په هندوستان کې په دې کار باندې ګومارلي وو، دلته دالفبا په ترتيب سره د دوی دځو نوميااليو لړليک را اخلو بيا به ددوومهمو خليفه ګانو ( حضرت خواجه محمد معصوم او حضرت سيد ادم بنوري ) په ژوند يوڅه په تفصيل سره وګړېږو، بيابه ددوی دسترو خلفاو، دهغو د طريقو دخپرولو اوددوی په ذريعه کوم کارونه ترسره شوي، مهم تربيتي او روحاني مراکز جوړ شوي دي، اوله دې نه عوامو اوخواصو کومې ګټې ترلاسه کړي دي ددې به اجمالي يادونه راشي. له هغې نه به معلومه

www.abulhasanalinadwi.org

شي چې خدایﷻ دحضرت مجدد صاحب طریقې ته څومره مقبولیت ورپه برخه کړی و او دده اصلاحي او تجدیدي هڅې څومره ګټورې وې اودا هرڅه دخدایﷻ له خوښې او ارادې، غیبي مرستې، قبولیت عندالله، زیات اخلاص اودسنت له اتباع ؛ پرته نه شوای کیدای.

این سعادت بزور بازو نیست _ تانه بخشد خدای بخشنده.

۱- حضرت سیدادم بنوري. ۲-مولانااحمدبرکي. ۳-مولانا احمددیبني. ۴- مولاناامان الله لاهوري. ۵ - مولانا بدرالدین سرهندي. ۶- شیخ بدیع الدین سهارنپوري. ۷- شیخ حسن برکي. ۸- شیخ حمید بنګالي. ۹- حاجي خضرخان افغاني. ۱۰- میر صغیراحمد رومي. ۱۱- شیخ طاهر بدخشي. ۱۲- شیخ طاهر لاهوري. ۱۳- خواجه عبیدالله مشهورپه خواجه کلان. ۱۴- خواجه عبدالله مشهورپه خواجه خورد. ۱۵- شیخ عبدالحی حصاري . ۱۶- مولانا عبدالواحدلاهوري . ۱۷- شیخ عبدالهادي فاروقي بدایوني. ۱۸- مولانا فرخ حسین هروي. ۱۹- مولانا قاسم علي. ۲۰- شیخ کریم الدین بابا حسن ابدالي. ۲۱- سیدمحب الله مانکپوري. ۲۲- شیخ محمد صادق کابلي ۲۳- مولانامحمدصالح کولابي. ۲۴- مولانا محمد صدیق کشمي، ۲۵- شیخ مزمل. ۲۶- حافظ محمود لاهوري. ۲۷- شیخ نور محمد پټني. ۲۸- مولانا یارمحمدجدید بدخشي طالقاني. ۲۹- مولانا یارمحمد قدیم. ۳۰- شیخ یوسف برکي. ۳۱- مولانا یوسف سمرقندي.[1]

---

(۱) دالفبا په ترتیب سره دافهرست دمولانا سیدزوارحسین له کتاب (حضرت مجددالف ثاني)چي د کراچي مجددیه اداري چاپ کړی نه اخیستل شوی. ددوي دحالاتولپاره پورتني کتاب مخونه ۷۲۴-۸۰۰ اودمولانامحمدمنظورنعماني په کتاب (تذکره امام رباني مجددالف ثاني) کي دمولانانسیم احمد فریدي مقاله (تذکره خلفاء مجددالف ثاني) مخونه ۳۵۱، ۳۱۰ وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

## حضرت خواجه محمد معصوم (۱)

دطريقت شيخ، دوخت امام، نوميالى عالم حضرت معصوم بن احمد بن عبدالاحد العدوي العمري يعني خواجه محمد معصوم نقشبندي سرهندي دخپل پلار ګران اوخوږ زوی و، په شکل اوصورت کې هم ده ته ورته و، په اتباع اوپيروي کې وتلى ، دده دعلوموخصوصي حامل اوپه زامنوکې يې ترټولو مشهور او د ډير برکت وال و.

په يولسم دشوال کال نه يا اوه باندې زر هجري ۹-۱۰۰۷ه کې پيدا شوی دی ،څينې درسي کتابونه يې له خپل مشرورورخواجه محمدصادق نه وويل اوزيات يې له خپل محترم پلار او شيخ محمد طاهر لاهوري نه وويل اودطريقت زده کړه يې هم له خپل پلار نه وکړه. په دريو مياشتو کې يې قرانکريم ياد کړ، دپلار دعلومو اونسبت په زده کړه کې دی هم دشرح وقايه مصنف صدرالشريعه ته ورته و دهغه نيکه به چې څه ليکل ده به سمدستي له ليکلو وروسته يادول څکه خودی هغې مرتبې ته ورسيد چې دپلارپه شا ګردانوکي يي يوهم نه و ورته رسيدلی او پلار يې د "قيوميت" او نورو.. مقاماتو زيرې ورکړ، دپلارله وفات نه وروسته دهغه دارشادپه ځای دی کيناست حرمينوشريفينو ته دحج لپاره ولاړ، يوڅه موده په مدينه منوره کې له اوسيدو وروسته بيرته هندوستان ته راستون شواوپه درس اوافاده کې يې عمرتيرکړ،تفسير بيضاوي،مشکوة ،هدايه، عضدي او تلويح به يې زيات تدريس کول، شيخ مراد بن عبدالله قزاني په "ذيل رشحات " کي ليکي : دی دخپل پلار په څير دخدایﷻ په نښانوکې يوه نښه وه، ده نړۍ روښانه کړه،اودخپلو توجهاتواولوړو حالاتوپه برکت يې دجهالت او بدعت تيارې لرې کړې

(۱) دخواجه محمدمعصوم دالنډکی يادونه چي ضروري خبرې پکې راغلي دي دنزهة الخواطر له پنځم ټوک نه اخيستل شوي دي

www.abulhasanalinadwi.org

په زرهاو انسانان چي له الهي اسرارو بې برخې و دده دصحبت په برکت لوړوحالاتوته ورسيدل، ويل کيږي چې نه سوه ۹۰۰زره انسانانو له ده نه بيعت اخيستی وو چې په دې کې يې دخليفه ګانوٌ شمير اووه زره ۷۰۰۰ ته رسيږي او په دې کې شيخ حبيب الله بخاري هم دی چې په خپله زمانه کې د خراسان او ماوراء النهر ترټولو لوی شيخ و، دده په وجه دبخاری فضاوې دبدعت له تيارو پاکې اودسنت په رڼاروښانه شوې، ده څلور زره کسانو ته دخلافت اجازه ورکړې وه اوهغوی‌يې د کمال پولو ته رسولي وو، دشيخ محمدمعصوم مکتوبات په درې ټوکه کې دي اود پلار(حضرت مجدد الف ثاني ) دمکتوبات په څيرله اسرارو اولطائفو ډک دي او زيات يې دمجددصاحب ددقيقوعلومو اومعارفو دتفسير او تشريح خيثيت لري، په نهم د ربيع الاول کال ۱۰۷۹ھ دسرهندپه ښار کې وفات شو اوهلته دفن شوی قبريې مشهور دی او خلک يې زيارت ته ورځي .

## حضرت سيدا دم بنوري (۱)

عارف شيخ، لوی ولي، حضرت ادم بن اسماعيل بن بهوه بن يوسف بن يعقوب بن حسين حسيني کا ظمي بنوري دنقشبنديه طريقي له لويو مشائخو نه و، دده پلارته په خو ب کې دده دپيدا کيدلو زيری رسول اللهﷺ په خپله مبارکه ژبه ورکړی وو دسرهند په بنور ( د باء زور دنون په شد سره ) نومي کلي کې پيدا شوی او هلته لوی شوی دی، ده په ملتان کې دمجددصاحب له يوه مريدحاجی خضر روغاني نه روحاني استفاده وکړه دوه مياشتې يې له هغه سره تيرې کړې بيادهغه په امرسره دمجددصاحب په خدمت کې حاضر شو او دده په خدمت کې څه موده پاتې شو اودطريقت زده کړه يې ترلاسه کړه، په "خلاصة المعارف"کې راغلي دي چې ده دشيخ

(۱) دحضرت شيخ ادم بنوري تذکره هم دنزهة الخواطر له پنځم ټوک نه اخيستل شوې ده چي په دې لړکي د " عاقل ودل " ښه مصداق دی .

www.abulhasanalinadwi.org

محمدطاهرلاهوري په خدمت کې رباني کشش ترلاسه کړ، چې هغه له خپل شیخ اسکندر نه اوهغه له خپل نیکه شیخ کمال الدین کتیهلي نه ترلاسه کړی و؛ لنډه داچې هغې مرتبې ته ورسیده چې دده ډیر همعصره مشائخ نه وو ورته رسیدلي .

دده طریقه دمحمدي شریعت او نبوي سنت پیروي وه چې له هغه نه د سر د ویښته په اندازه هم نه کږیده، له ده نه زیاتوخلکواستفاده کړې ده ویل کیږي چې له ده نه څلور سوه زره (۴۰۰۰۰۰) انسانانوبیعت کړی وو په دې کې زروکسانو دعلم او معرفت زیاته برخه ترلاسه کړې وه ویل کیږي چې هروخت به ددهٔ په خانقاکې له زرو تنو کم کسان نه و، داټول به دده میلمانه و اوله ده نه به یې استفاده کوله په " تذکره ادمیه " کې راغلي دي چې په ۱۰۵۲ھ کې چې حضرت سیدادم لاهور ته ولاړ نوله ده سره لس زره مشائخ اودهرې طبقې خلک وو په دې وخت کې شاهجهان باچاهم په لاهورکې و چې دده له داډول مقبولیت نه په تشویش کې شو اوخپل وزیر سعدالله خان یې شیخ ته ورولیږه خودې ملاقات ښه نتیجه ورنکړه نوموړي وزیرباچاته دشیخ شکایت وکړ بناء باچاشیخ ته امر وکړ چې حرمینو شریفینو ته ولاړشه هغه و چې. ده له خپلوخپلوانو اودوستانوسره یوځای‌حجاز ته دتګ نیت وکړ له حج نه وروسته په مدینه منوره کې هستوګن شو او همالته وفات شو.

په حقائقو او معارفوکې شیخ ادمؒ بنوري ګڼ شمیرکتابونه او رسائل لیکلي دي چې په دې کې په فارسي کې په دوه ټوکه کې د " خلاصةالمعارف" په نامه کتاب هم دی چې پیل یې داسې شوي دی. "الحمد لله رب العلمين حمدا كثيرا بقدر كمالات اسمائه والائه. الخ [1] په دې کتابونوکې " نکات الاسرار " هم دی، شیخ ادم بنوري امي و

[1] مصنف دتحدیث بالنعمة په توګه لیکلي دي چې داکتاب دده په ذاتي کتابخونه کې شته دی .

www.abulhasanalinadwi.org

ده څه علمي زده کړه نه وه کړې، دی په درویشتم دشوال کال ١٠٥٣هـ کې په مدینه منوره کې وفات شو او په جنت البقیع کې دحضرت عثمانؓ د زیارت خواته دفن شو.

## مجددیه معصومیه طریقه او دهغې لوی مشایخ

مونږ مخکې دحضرت خواجه محمدمعصوم دطریقې دلویومشائخوپه لنډه توګه یادونه کوو څومعلومه شې چې دهغه طریقې څومره مقبولیت درلود، دهغې دافادې او فیض دائره څومره پراخه وه، په هغو باندې به دخدایﷻ دمخلوق هجوم او ازدحام څومره زیات و اوپه اسلامي ټولنه اودمسلمانانوپه ژوندیې څومره ژورې اغیزې شندلې وې؛ دهغه دمفصلوحالاتو اوژوندلیکونولپاره بایدهغه کتابونه وکتل شي چې یواځې ددوی په حالاتو باندې لیکل شوي دي، یا هغه کتابونه چې ددوی اجمالي یادونه پکې شوې ده، ترکومه ځایه چې دهندوستان خبره ده نودهغوی لپاره دمولاناحکیم سید عبدالحی دنامتو کتاب " نزهة الخواطر" پنځم، شپږم او اووم ټوکونو کتل کافي دي.

## حضرت خواجه سیف الدین سرهندي

دحضرت خواجه محمدمعصوم دطریقې خپرول اودطریقې د موسس حضرت مجدد الف ثاني دمقاصدو تکمیل ( چې له خدایﷻ سره دتعلق تجدید، دسنت پیروي رواج کول او دبدعتونوله منځه وړل پکې و ) دحضرت خواجه محمدمعصوم دنیک خلف او نیک خلیفه حضرت خواجه سیف الدین سرهندي (١٠٤٩هـ ـ ١٠٩٤هـ )؛ په ذریعه ترسره شو، ده دخپل پلارپه امر په پلازمینه دهلي کې اوسیدل غوره کړل دده په لاسونوسره هغه خانقاجوړه شوه چې وروسته حضرت مرزا

www.abulhasanalinadwi.org

مظهرجان جانان اوحضرت شاه غلام علي دهلوي دروحاني تربيت په نړيوال مرکز بدله کړه اودهغې په انوارو باندې يوه لور ته افغانستان اوترکستان روښانه شول اوبل خواته عراق، شام اوترکيه اود شاعر دا وينا ټکي په ټکې رينښتونې وختله چې وايي :

چراغ هفت کشور خواجه معصوم ـــــ منور از فروغش هند تا روم

سلطان اورنګزيب عالمګير لکه مخکې چې تيرشو له خواجه محمدمعصوم نه بيعت کړي و اوله حضرت خواجه سيف الدين نه يې روحاني تربيت ترلاسه کړ په تاريخ کې راغلي[1] چې حضرت خواجه به شاهي محل ته ورتلو او په ديوالو باندې په انځورشويو تصويرونو به يې اعتراض وکړ باچا امر وکړ چې داتصويرونه رنګ کړي او بياهغه له منځه يوړل شو. حضرت خواجه سيف الدين خپل پلار په دې خبره باندې خبر کړاوخواجه دباچاپه نامه په يوه ليک کې دخپلې خوښۍ څرګندونه داسې وکړه : چه نعمتی است که باين همه طمطراق بادشاهي ودبدبه سلطاني کلمه حق به سمع قبول افتد وگفته نامرادی موثر شود[2]خواجه سيف الدين په باچا کې دذکر اثاروليدل اودباچاپه ځينې دسلوک منازلوطی کولو باندې هم پوه شو اودې خبرې هم پلارته ورکړ اوخواجه محمد معصوم په دې باندې هم خپله خوښي او ډاډ څرګند کړ اوپه يوه مکتوب کې يې وليکل: ددين پناه باچاد کومواحوالو يادونه چې تا کړې لکه په لطائفو کې د ذکر سرايت، ذکر سلطان او رابطه ترلاسه کول، د خطراتوکموالی،حقه وينا منل، دخدای ﷻ شکر بايداداکړای شي دباچاهانوپه طبقه کې داخبرې دعنقاپه څير نايابې دي[3] باچادا روحاني اړيکه جاري وساتله د "

---

[1] دشيخ محمد مراد القزاني کتاب ذيل رشحات مخ ۴۸ المطبعة الميرية بمکة المحمية سنه ۱۳۰۰ هـ

[2] مکاتيب حضرت خواجه محمد معصوم دريم ټوک مکتوب ۲۲۷ .

[3] همداکتاب دريم ټوک مکتوب ۲۲۰ .

www.abulhasanalinadwi.org

ماثرعالمګیري"مصنف محمدساقي مستعدخان ددولسم کال ۱۰۸۰ھ (دیارلسم د محرم ) په پیښوکې لیکلي دي: باچا دشپې په لومړۍ برخه کې له خپل بڼ نه د حضرت خواجه ځای ته تشریف یووړیوه ګړۍ هورې کیناست اودهغه له برکتي مجلس اوپاکو خبرونه مستفید شواو دهغه له عزت او احترام کولو نه وروسته بیرته شاهي محل ته راستون شو .(۱)

دحضرت خواجه له امر بالمعروف اونهی عن المنکر سره خاصه مینه وه اوپه دې کې به یې ډیرې هڅې کولې د "ذیل رشحات"دمصنف شیخ مراد بن عبدالله القزاني له وینا سره سم دده ددې هڅو اغیز دومره و چې نږدې وه دهندله هیوادنه بدعات ټول ختم شي له دې کبله یې پلار ده ته د"محتسب الامة"لقب ورکړی و، دی دځورا ځواکمن اغیز، جذب اوتصرف خاوند و خلک به دبې خودۍ اواستغراق په حالت کې دده په خانقاکې پراته وو،اوله دې سره یې زیاته دبدبه اوعظمت هم لاره، سلاطین اوامیران به دده په مجلس کې ډیر په ادب سره ولاړ و اودده په مخکې یې دکیناستلو جرات نه شو کولای، دخلکو دعامې رجوع داحال و چې هره ورځ به ځوارلس سوه کسانو ددواړو وختوډوډۍ له خپل ذوق اوخوښې سره سمه دده له لنګرنه خوړه (۲) له خواجه سیف الدین نه ورسته دده خلیفه سیدنورمحمدبدایوني مړ ۱۱۳۵ھ دده ځای ابادکړ اودده خانقا یې په نورمحمدي سره روښانه کړه له ده نه وروسته دده په ځای مرزا مظهر جان جانان کیناست چې دده تذکره به وروسته راشي .(۳)

---

(۱) ماثر عالمګیري مخ۸۴ چې دبنګال ایشیا ټک سوسایټي په کال ۱۸۷۱م کې خپورکړی .

(۲) ذیل الرشحات مخونه ۴۸-۴۹ .

(۳) د برګ قبر موجوده خانقاه اصلا دحضرت شاه غلام علي په زمانه کې جوړه شوې ده هغه داځای چې حضرت مرزا په کې دفن دی واخیست اوجومات او خانقاه یې پکې جوړکړل .

www.abulhasanalinadwi.org

# له خواجه محمد زبیر نه تر مولانا فضل الرحمن ګنج مرادابادي پورې

دحضرت خواجه محمدمعصوم دويم زوى خواجه محمدنقشبند و(١٠٣٤هـ / ١١١٤ هـ) چې دحجت الله نقشبندي په نامه سره مشهور و حضرت خواجه محمد معصوم دى خپل ځاى ناستى اوخليفه ټاكلى و اودهغه له وفات نه وروسته دى په ارشاد اوتلقين باندې بوخت شو، دده په خليفه ګانو كې خواجه محمد زبير ( ابن ابي العلا بن خواجه محمد معصوم مړ١١٥١هـ و، ده ته مريدان اودحق غوښتونكې داسې رامات شول چې دده په زمانه كې يې سارى نه تر ستر ګوكيږي كله به چې دى له خپله ځايه جومات ته راتلو نواميرانو به خپل ځادرونه او پګړۍ ترجوماته پورې دده په لاركې ويركړي وو ځو دده پښه مباركه په ځمكه ونه لګيږې اوكله به چې دناروغ پوښتنې ياد ميلمستيا لپاره چيرته تلو نو دده سوارۍ به دباچا هانو په څير وه .[1]

له حضرت خواجه محمد زبير نه لوى لوى خليفه ګان پاتې شوي دي چې په دوىكې يې درې ډير مشهوردي حضرت شاه ضياء الله چې شاه محمدافاق يې له خليفه ګانو نه يو وتلى خليفه و، دويم حضرت خواجه محمدناصرعندليب چې خواجه ميردرد دهلوي يې زوى اوخليفه و، دريم حضرت خواجه عبدالعدل چې دقرانكريم ژباړن اود حضرت شاه ولى الله دهلوى زوى؛ شاه عبدالقادر دهلوى يې خليفه و حضرت خواجه ضياء الله خورا لوى شيخ اودطريقت خاوند و، حضرت شاه غلام علي به ويل : چاچې مجددي نسبت مجسم نه وي ليدلى نو هغه دې حضرت خواجه ضياء الله ته وګوري.[2]

---

(١) "درالمعارف "دحضرت شاه غلام علي ملفوظات . (٢) همدا اثر مخ-١٦ .

www.abulhasanalinadwi.org

دده خليفه حضرت شاه محمدافاق ۱۱۶۰ه _ ۱۲۵۱ه ته خدای ﷻ زيات مقبوليت ورکړی و اوډير زيات شهرت يې په برخه شوی و له دهلي نه ترکابله پورې خلکو فيض څنې حاصل کړ، کابل ته چې ولاړنو دافغانستان باچا زمان شاه بيعت څنې وکړ، د حضرت شاه محمدافاق خليفه دخپل وخت اويس قرني حضرت مولانافضل الرحمن گنج مراد ابادي ( ۱۲۰۸ه _ ۱۳۱۳ه ) و چې دده په قوي جذب، گرم نفس، زهداويواځيتوب، د شريعت پيروي، دحديثواوسنت علم، الهي عشق او نبوي مينې سره له نيمي پيړۍ نه زيات دهندوستان ( په ځانگړې توگه شمالي هند ) فضا گرمه اوروښانه وه اوپه خپله دده په وينا: دعشق ددکان بازار گرم و [1] دهندوستان دپراخ نظره اومحتاط مورخ مولانا حکيم سيدعبدالحی(نزهةالخواطر) مصنف په وينا: عقيدتمندانوبې دپتنگانو په څير هجوم پرې راوړ،اودتحفو باران پرې اوريده، لوی لوی اميران او رئيسان له لرې پرتو سيمونه په ډيره مينه ورته حاضريدل او دده ذات دمخلوقاتو مرجع وه اودومره مقبوليت اومحبوبيت يې پيداکړ چې دده په زمانه کې به يوه دطريقت شيخ هم نه وي پيداکړی، ترکومه ځايه چې دده دکشف اوکراماتوخبره ده نوهغه دتواتر حد ته رسيدلي دي اوپه دې اړه په مخکينيو اولياو کې له شيخ عبدالقادرجيلاني پرته بل څوک دده ځای ته نه شي رسيدلای[2] دده دتفصيلي ژوندليک لپاره دليکوال کتاب (تذکره حضرت مولانا فضل الرحمن گنج مرادابادي ) وگورئ.

---

[1] دندوة العلماء زيات بانيان اوناظمان دحضرت مولانامريدان و لکه: مولاناسيدمحمدعلي مونگيري دندوی العلماءموسس اولومړی ناظم، مولانا مسيح الزمان خان شاه جهانپوري دحضرت محبوب علي خان نظام دکن لوی استاد، مولاناسيدظهورالاسلام فتحپوري، مولاناسيدتجمل حسين بهاري، مولاناحکيم سيدعبدالحي دندوی‌العلماء ناظم، نواب صدريارجنگ مولاناحبيب الرحمن خان شرواني د حيدراباد دکن دمذهبي چارو صدرالصدورحسام الملک صفي الدوله نواب سيدعلي حسن خان دندوی العلماءناظم. دمولاناسيدمحمدعلي مونگيري په ذريعه دحضرت مولانا دسلسلې خپراوی په ډيره پراخه پيمانه سره شوی دی.

[2] نزهة الخواطر اتم ټوک.

www.abulhasanalinadwi.org

## مرزا مظهرجان جانان او حضرت شاه غلام علي

دحضرت سید نورمحمد بدایوني خلیفه حضرت مرزامظهرجان جانان شهید[۱] (۱۱۱۱هـ /۱۱۱۳هـ ـ ۱۱۹۵هـ) و چې پنځه دیرش کاله یې دخلکوزړونه په خپلو قدسي انفاسومنوراوروښانه وساتل او په پلازمینه دهلي کې دعشق د بازار تودوخه اوج ته رسیدلې وه . دده معاصرحکیم الاسلام حضرت شاه ولي الله دهلوي دده په اړه وایي: دهندوستان دخلکو حالات له مونږ نه پټ نه دي، ځکه مونږ دلته پیدا شوي یواوهمدلته لوی شوي یو، عربي هیوادونه مې په خپله لیدلي دي او دهغو دوره مې کړې ده، دافغانستان او ایران دخلکوحالات مې دهغو ځایو له باوري خلکو اوریدلي دي، له دې ټولو وروسته دې نتیجې ته رسیدلی یم چې داسې بزرګ چې دشریعت په لار اوطریقت باندې سم روان وي او دکتاب اوسنت پیرو وي دهغه په څیر سم او مستقیم وي اودمریدانو په لارښوونه کې دهغه درجه دومره لوړه وي اوتوجه یې دومره قوي وي؛ زمونږ په دور کې په دې ملکونو کې چې مونږ یې مخکې یادونه وکړه دده په څیربل بزرګ نه دی تیر شوی په تیره زمانه او سلفوکې خامخاداسې بزرګان تیر شوي دي اوکه رښتیا ووایو په هره زمانه کې دده په څیرزیات شمیر بزرګان نه دي تیرشوي اودا دفساد اوفتنوزمانه خوڅه کوي[۲] دمولانانعیم الله بهرائچي۱۱۵۳هـ ۱۲۱۸هـ د"معمولات مظهریه" مصنف، اودوخت بیهقي حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي مړ۱۲۲۵هـ)د"تفسیرمظهري" او"مالابد منه" مصنف، اومولاناغلام یحی بهاري مړ ۱۱۸۰هـ)؛ په څیرنومیالي علماء او مشائخ

---

[۱] اصلي نوم یې شمس الدین حبیب الله و، مظهر یې تخلص دپلارنوم یې مرزاجان و په دې نسبت باندې عالمګیر د"جان جانان " نوم پرې کیښود چې دجان پلار زوی دی اودخلکو په خولو باندې "جانجانان" جاري او مشهور شو.

[۲] کلمات طیبات مخونه ۱۶۴- ۱۶۵

www.abulhasanalinadwi.org

دحضرت مرزا مظهرجان جانان په خليفه ګانو کې وو [۱]

خودمرزاصاحب دطريقې بلکې دمجدديه طريقې نړيوال خپراوی خدای دده د وتلي خليفه حضرت شاه غلام علي بټالوي [۲](۱۱۵۶ھ ـ ۱۲۴۰ھ ) په برخه کې ليکلیو، دی بايددمجدديه طريقې مجددوبلل شي بلکې دديارلسمې پيړۍ دسلوک، تزکيه او احسان مجدد بايدوبلل شي په ده باندې دعربو اوعجمومريدان دپتنګانوپه څيررامات شول په هندستان کې به داسې ښارنه وي چې هلته دې دده خليفه نه وي يواځې د انباله په ښار کې دده پنځوس خليفه ګان وو، سرسيد احمد خان مرحوم په"اثارالضاديد" کې ليکي! مادحضرت په خانقاکې په خپلو سترګو د روم، شام، مصر، چين اوحبشو خلک ليدلي دي چې بيعت به يې اخيست اودخانقا چوپړيه يې تلپاتې نيکمرغي بلله اودنړدې ښارونو لکه هندوستان، پنجاب او افغانستان دخلکو ګڼه ګوڼه خو له شماره وتلې وه، دحضرت په خانقاکې به له پنځه سوه کم فقيران نه اوسيدل اودټولو ډوډۍ او جامې به ده ورکولې.[۳]

شاه روف احمدمجددي په "درالمعارف" کې يواځې ديوې ورځې دمريدانو د ځايونو د نومونو فهرست ليکي چې دجمادی الاول په اته ويشتم کال ۱۲۳۱ھ کې د دهلي په دې خانقاکې داستفادې لپاره حاضروو:سمرقند ، بخارا ، غزني، تاشقند حصار، قندهار، کابل، پيښور، کشمير،ملتان، لاهور، سرهند ، امروهه، سنبهل، رامپور، بريلي، لکهنو، جائس، بهرائچ، ګورکهپور، عظيم اباد ، ډاکه،حيدراباد ، پونا اونور .. [۳] دده دې عام فيض ته په کتلوسره دهغه مريدمولاناخالدرومي دافارسي شعر بالکل دپيښې سهي انځور ګري کوي :

---

[۱] دخلفاو اومشرانومريدانو دحالاتو لپاره "مقامات مظهري" له ۶۴ مخ نه وګورئ په دې کتاب کې يې د۴۳ خليفه ګانو نومونه راخيستي دي .

[۲] اصلي نوم يې عبدالله و او دشاه غلام علي په نامه سره مشهور و . [۳] اثارالصناديدڅلرم باب .

[۳] درالمعارف مخ.۱۰۶ مطبع نامي .

www.abulhasanalinadwi.org

خبرازمن دهیدان شاه خو بان رابه پنهانی
که عالم زنده شدبا ر از ابر نیسا نی [١]

دحضرت شاه غلام علي خورا لوی لوی خلیفه ګان وو په دوی کې حضرت شاه سعد الله هم دده خلیفه و اودشاه سعدالله خلیفه شاه محمدنعیم چې په مسکین شاه مړ۱۲۶۴ﻫ سره مشهور و ددریالسمې پیړی په نمیایي کې حیدرابادته راغی اوډیر وخت دلته پاتې شو اصف جاه شپږم اعلی حضرت میرمحبوب علی خان له ده سره عقیدت درلود.[٢] دشاه سعدالله دویم خلفه سیدمحمدپادشاه بخاري مړ۱۳۲۸ﻫ و [٣] دحضرت شاه غلام علي صاحب یو خلیفه حضرت شاه روف احمد صاحب مجددي (۱۲۰۱ﻫ ـ ۱۲۶۶ﻫ) په بهوپال کې دمجددیه خانقا تاداو کیښود،[۴] په بهرائچ کې مولانا شاه بشارت الله بهرائچیمړ ۱۲۵۴ﻫ دنقشبندیه مجددیه طریقې اشاعت کاوه په بخاری کې شیخ ګل محمدشیخ الکل جوړشو اودمجددیه طریقې فیض یې عام کړی و [۵] شیخ احمد بغدادي قادري له بغداد نه راغی اوبیعت اواجازت یې ترلاسه کړ.[۶]

## مولانا خالد رومي

په عراق، شام اوترکیه کې خدای دحضرت شاه غلام علي صاحب دطریقې د

---

[١] دادپنځوسو شعرونو قصیده ده، شاه عبدالغني محدث دهلوي تړوله رانقل کړې ده.

[٢] مخبردکن مدراس دویم دجنوري ګال ۱۸۹۶م.

[٣] چي دده خلیفه مولاناسیدعبدالله شاه صاحب (مړ۱۳۸۴ﻫ) د" زجاجة المصابیح " مصنف ډیره موده په حیدر اباد کي په تربیت اوارشادباندي بوخت و.

[۴] چي پیر ابواحمدصاحب اودده زوی مولاناشاه محمدیعقوب صاحب په خپل خپل وخت کي اباده کړي وه.

[۵] درالمعارف مخ ۱۲۵.

[۶] همدا اثر مخ ۱۴۴.

www.abulhasanalinadwi.org

خپراوي کارله يوه کردي وتلي عالم مولانا خالدرومي نه واخيست، ده چې په خپل هيوادکې دحضرت دفيض او ارشاد اوازه واوريده نو مينه يې زياته شوه او نارامه شو له ډيرو مزلووروسته په يوه کال کې دهلي ته راورسيده اوپه خانقا کې داسې بوخت شو چې په لنډوخت کې يې د تکميل او سلوک منازل ووهل او په اجازت او خلافت خاصه باندې مشرف شو، په دې موده کې دده د يکسويې او يواځيتوب حالت داسې و چې د دهلي علماء ( چې له کلونو راهيسې يې دده دعلم اوکمال شهرت اوريدلی وو) به دده دليدلو لپاره راغلل نو ده به ورته ويل: فقير چې دکومې موخې لپاره راغلی ځويې هغه ترلاسه کړي نه وي هيچاته نه شي متوجه کيدلای، دوخت نامتوعالم،سراج الهند حضرت شاه عبدالعزيز صاحب راغی اوويې ويل: القادم يزار" ( له د باندې راغلی کس سره وينم ) دده شاگردحضرت شاه ابو سعيد صاحب ورغی او عرض يې وکړ چې د هنداستاد له تاسره دليدلو لپاره راغلی دی ده ورته وويل چې زما سلام ورته وايه او ورته ووايه چې کله مې موخه ترلاسه کړه زه به په خپله درشم، چې وطن ته راستون شو نودحق غوښتونکې دپتنگانوپه څيرپرې راټول شول اودعامو خلکو مرجع وگرځيده ، مولاناشاه روف احمد مجددي صاحب په خپل کتاب المعارف کې دجمعې دورځې ځلورويشتم درجب ١٢٣١ھ حال ليکي چې يوه مغربی بزرگ دده نوم و اوريده له ډير مزلو وروسته بغداد ته دمولاناخالدرومي په خدمت کې حاضرشو ده دمولانادمقبوليت حال بياناوه چې تقريبا يوسل زرو خلکو بيعت ځنې اخيستی وو او زرتنه متبحرعلماء دده په طريقه کې داخل شوي وو اودده په خدمت بوخت وو .[١]

په خپله مولاناخالدچې دشاه ابوسعيدپه نامه کوم ليک ليکلی په هغه کې دتحديث بالنعمة په توگه ليکي: ټول هيواد ،روم او عرب اوحجازاوعراق اوځينې

---

(١) درالمعارف مخ ١٧٠ .

www.abulhasanalinadwi.org

دعجموهيوادونه اوټول كردستان د نقشبنيديه طريقې له اغيزو اوجذباتو نه برخمن شوی دی‌شپه ورځ په ټولومجلسو، جوماتواومدرسوكې دحضرت امام ربانې مجدد و منور الف ثاني د محاسنواوښيګڼويادونه داسې د وړو او زړو په خوله جاري شوې ده چې ګومان نه كيږي كله دې هم په كوم هيواد ياكوم وخت كې دزمانې غوږونو داسې زمزمه اوريدلې وي اونه دخلكوسترګو داسې ولولې اوميني چيرته ليدلې دي. دداډول خبرو يادونه كه څه هم سپين سترګي او خودبيني ده دافقير پرې شرمنده كيږي خودا بې ادبي مې د دوستانو لپاره وكړه [1]علامه ابن عابدين چې په علامه شامي سره شهرت لري د"ردالمحتارشرح درالمختار" مصنف دعلامه خالدرومي شاګرد اونږدې دوست دی ده د مولانا رومي په مناقبو كې يوه رساله ليكلې ده چې ( سل الحسام الهندی لنصرة مولانا خالد النقشبندی) نوميږي .[2]

ځينې حاسدينواوكينه ګرو دمولانارومي په مخالفت اوتضليل كې يوه رساله ليكلې وه چې علامه شامي يې په دې رساله سره ځواب وركړ، درسالې په پای‌كې يې دمولانا رومي لنډحالات ليكلي دي له هغه معلوميږي چې دی سلمانيه ته نږدې د قره داغ نومي كلي اوسيدونكی و. په كال ۱۱۹۰هـ كې زيږيدلی دی دوخت له استادانو يې مروجه علوم حاصل كړل، په معقولاتو، رياضياتو، هيئت او نورو كې يې مهارت پيدا كړ بيا سليمانيه ته راستون شو دحكمت،علم كلام اوبلاغت اخري كتابونه يې تدريس كړل په كال۱۲۲۰هـ كې دبيت الله شريفې حج ته ولاړ په مكه معظمه كې دهلی ته دتګ غيبي اشاره ورته وشوه لومړی شام ته راستون شو هورې يې له يوه هندستاني نه د حضرت شاه غلام علي صاحب خبرې واوريدې

(۱) ژباړه يې دمولانا عبدالشكورله هغې مقالې نه راخيستل شوې چې په تذكره " امام رباني مجدد الف ثاني" كې راغلې دي .

(۲) دارساله په مجموعه رسائل ابن عابدين كې راغلې ده چاپ سهيل اكيډمي لاهور پاكستان .

www.abulhasanalinadwi.org

نوېه ۱۲۲۴هـ کي په ایران او افغانستان باندې ورغی هرځای يې دخپل علم سکه په خلکو ومنله او دلاهورله لارې دیوه کال په موده کې دهلي ته ورسیده هلته يې په عربي کې شوقیه قصیده وویله چې پیل يې په دې شعر سره کیږي:

کـمـلـت مسا فـة کعبة الأمال _ حـمـد ا لـمـن قـدمن بالإکـمـال .

یوکال لانه وړوره شوی چې په پنځوطریقوکې يې اجازت اوخلافت ترلاسه کړ، بیا د خپل مرشد په ټینګ امرسره خپل وطن ته ستون شو بغدادته چې ورسیده دتربیت او ارشاد سلسله يې پیل کړه پنځه میاشتې يې هورې تیرې کړې بیاخپل وطن ته واپس شو په کال ۱۲۲۸هـ کې بیا بغداد ته ولاړ هلته چې خلکو دده مقبولیت اوعامه رجوع ولیده نوکینه يې ورسره پیدا شوه اودده په خلاف يې یوه فتنه پورته کړه د بغداد والي سعیدپاشاځینې علماودهغی د رد کولو اشاره وکړه، د بغدادعلماو په خپلومهرونو سره یوه فتوی صادره کړه چې دده براءت اوپاکې پکې ثابته شوې وه او دده لوړه مرتبه يې تسلیم کړې وه.

کردیانو، دکرکوک خلکو، دموصل، اربل، عمادیه، عیتاب، حلب ،شام، مدینه منوره، مکه مکرمه او بغداد؛ په زرهاو خلکوله ده نه ګټه واخیستله. مصنف له دې وروسته دده دغوره اخلاقویادونه کړې ده اودده دتصنیفاتوفهرست يې راخیستی دی ده د خپلې زمانې دمشهور ادیب اوشاعر شیخ عثمان سند دیوه کتاب یادونه هم کړې ده چې دمولانا خالد په ژوندیې لیکلی دی چې " اصفی الـمواردفی ترجمة حضرت سید ناخالد" نومیږي، اخر مولاناخالدپه شام کې هستوګنه غوره کړه ده په کال ۱۲۳۸ هـ دخپلو خلیفه ګانو او مریدانو له یوې ډلې سره شام ته سفر وکړ اودشام خلک هم پرې راتوی شول، له سلوک اوارشاد سره دشرعي علومو خپرولواود جوماتونو بیاودانولوته هم متوجه و، اخرپه کال ۱۲۴۲هـ کې دذي القعدي په څوارلسم دطاعون په ناروغی شهید شو اودقاسیون په لمن کې دفن شوی دی، مولانا په نسب عثماني و. دکتاب لیکوال وايي چې ماده ته خوب بیان کړ چې

www.abulhasanalinadwi.org

ماولیدل حضرت عثمان بن عفان وفات شوی وی اوزه یې دجنازی لمونځ کوم ده وویل چی دازمامړینې ته نغوته ده زه دهغه اولادیم، دا خوب هغه په مابنام کې ورته ویلی و مولاناخالد چی دماخستن لمونځ وکړ وصیت یې وکړ اوځای ناستی یې وټاکه کورته ولاړ په دې شپه کې طاعون حمله پرې وکړه او وفات شو.[۱]

## حضرت شاه احمد سعید او دده خلفاء

دحضرت شاه علي صاحب اصلي ځای ناستی، اودده دطریقې په ټوله نړۍ کې خپروونکی، دده خاص روزل شوې او دمجددي کورنۍ دسترګو تور: شاه احمد سعید بن شاه ابو سعید ۱۲۱۷هـ _۱۲۷۷هـ ) و. [۲] دی دخپل پلار له وفات نه وروسته په کال ۱۲۵۰هـ کې دحضرت شاه غلام علي او مرزامظهرجانان په ځای‌کیناست اوپوره درویشت کاله ۱۲۵۰هـ ۱۲۷۳هـ د مجددیه طریقې په خپرولو بوخت و اوپه همدې کال ۱۸۵۷هـ کې په هندوستان کې د خپلو پلرونو او نیکونو خانقاه په پرېښودلو مجبور شو اوپه محرم ۷۴هـ کې له دهلي نه روان شو په شوال ۷۴هـ کې مکې مکرمې ته ورسیده، بیایې په مدینه منوره کې هستوګنه غوره کړه دوه کاله ژوندی و اوبیاوفات شو په دې دوه کلنه موده کې په سلهاو ترکو او عربو بیعت ځنې واخیست دیوه عیني شاهدپه وینا: که له ده سره ژوند وفا کړې وای اودالړۍ جاري وای نودمریدانوشمیربه یې سلهاوزروته رسیدلی‌وو.[۳] د حضرت شاه احمدسعیدخلفاء له شماره وتلي دي په" مناقب احمدیه" [۴] کې یې د اتیا

(۱) په "سل الحسام االهندي مخونه ۳۱۸، ۳۲۵ په شام اوترکیه کې دمولاناطریقه اوس هم موجوده ده مایه دمشق، حلب اوترکیه کې ددې طریقې ګڼ شمیر مشائخ لیدلی دي .

(۲) دتفصیلي حالاتو لپاره دنزهة الخواطر اوم ټوک اودمولانا شاه ابو الحسن زید فاروقي"مقامات خیر" وګورئ

[۳] دشاه محمد عمربن شاه احمدسعید لیک د مولانا سید عبدالسلام هسوي په نامه .

[۴] دشاه محمد مظهر تالیف . (۳) په مغربي پنجاب دمیانوالي په ولسوالي کې یوښارګوټی دی .

www.abulhasanalinadwi.org

خلیفه گانونومونه راغلي دي، په هندوستان کې دده دطریقې دخپرولوکار یوخوا د شیخ دوست محمد قندهاري په ذریعه وشو.

بیادده لوی‌خلیفه خواجه عثمان داماني مړ۱۳۱۴ھ د ډیره اسماعیل خان په موسی زي نومي کلي کې اوسیده دعشق فضایې توده ساتله اود نقشبندیه طریقې په خپرولو بوخت و اودده لوی خلیفه خواجه سراج الدین مړ۱۳۳۳ھ داطریقه لرې لرې ځایوته ورسوله، خدای پاک ده ته لویه دبدبه ورکړې وه ده دارشاد اوتربیت کار په ټینګ عزم سره دعلم الحدیث له بوختیاسره په مخ بیو اودخپلوپلرونوکارته یې ملاتړلې وه له خواجه سراج الدین وروسته دده کار دده خلیفه دتوحیدداعي اودقران مفسرمولانا حسین علي شاه صاحب ۱۳۶۳ھ -۱۳۸۳ھ په اوږوواخیست چې د وابچهرا[۳] اوسیدونکی و، ده دعقائدو داصلاح اودخالص توحید کار دومره په مخ بوتلو چې په هغه زمانه کې یې ساری نه لیدل کیږي، په دې زمانه کې دمجددیه طریقې یو بل لوی شیخ شاه امام علی۱۲۱۲ھ _ ۱۲۸۲ھ مکانوي و.[۱] په ده باندې دخلکو دراټولیدو او مقبولیت حالت داسې و چې دده په پختن ځای کې به هره ورځ دمیلمنو لپاره دړې سوه وزی حلالیدلې [۲] دده سلسله دحضرت عبدالاحد وحدت چې مشهور په شاه گل و په ذریعه حضرت مجدد صاحب ته رسیږي. مولاناشاه سیدعبدالسلام صاحب واسطي هسوي۱۲۳۴ھ _ ۱۲۹۹ھ هم د حضرت شاه احمدسعیدصاحب لوی خلیفه و چې خورا ستر اوداستقامت خاوند شیخ و اوپه متحده صوبو کې یې دطریقې د خپرولوکارپه مخ بیو.[۳]

(۱) مکان شریف په گرداسپور ولسوالی کې یوکلی دی چې زوړنوم یې رترچهتردی.

(۲) دتفصیل لپاره وگورئ تذکره بې مثل راجگان راجوراز مرزا ظفرالله خان مخونه ۵۰۸-۵۲۱.

(۳) دتفصیل لپاره دنزهة الخواطر اووم توک وگورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

دحضرت شاه احمدسعیدصاحب یو زوی شاه عبدالرشید و۱۲۳۷ھ _ ۱۲۸۷ھ چې د رامپور والي نواب کلب علی خان هم تربیت ځنې ترلاسه کړی و په مدینه منوره کې دخپل پلار له وفات وروسته دهغه په ځای کیناست، په اخرکې مکې مکرمې ته راغی اوهلته دمریدانوپه روزنه بوخت و چې بیاهورې وفات شو اوجنت‌المعلاةکې دفن شو،دده زوی شاه محمدمعصوم ( ۱۲۶۳ھ _ ۱۳۴۱ھ ) په رامپور کې دمعصومي خانقاه تاداو کیښود دووه دیرش کاله په رامپورکې اوسیده اوپه ۱۳۴۱ھ کې په مکه مکرمه کې وفات شوی[1] دحضرت شاه احمدسعیددویم زوی شاه محمدمظهر( ۱۲۴۸ھ ۱۳۰۱ھ ) هم خورالوی شیخ اودارشادخاوند و دسمرقند ، بخارا ، قزان، روم، افغانستان، ایران ، جزیرة العرب او شام په سلهاو مریدانو فیض ځنې اخیستی و په کال ۱۲۹۰ھ کې یې په مدینه منوره کې بنکلې درې پوړیزه خانقاه جوړه کړه چې د " رباط مظهري " په نامه مشهوره وه . او دباب النساء اوجنت البقیع په منځ کې واقع وه دریم زوی یې شاه محمد عمر و ( ۱۲۴۴ھ _ ۱۲۹۸ھ ) او دده زوی حضرت شاه ابوالخیر مجددي و .

## حضرت شاه عبدالغنی

لوی شیخ او ستر محدث حضرت شاه عبدالغنی ( ۱۲۳۵ھ _ ۱۲۹۶ھ ) دحضرت شاه احمد سعید کشر ورور و ده د حدیثو درس له سلوک اوتصوف سره داسې یوځای کړ چې له حضرت شاه عبدالعزیزدهلوي پرته یې ساری موندل ګران دي، له باطني شتمني ، مجددي نسبت او کامل شیخ کیدلو سره په حدیثو کې دوخت شیخ اودهنداستاد و ، دده دتدریس په حلقه کې دمولانامحمدقاسم نانوتوي

[1] دده زوي مولانا ابو سعید اوس هم ژوندی ذی .

www.abulhasanalinadwi.org

اومولانارشیداحمدګنګوهي په ځیر علماء تیار شوي وو. اوپه هندوستان کې دحدیثوسلسله پیل شوه اودحدیثو د تدریس لپاره دیوبند او مظاهرالعلوم په ځیر ستري مدرسې جوړې شوې.

دکال ١٨٥٧ع په بوږنوونکې پېښه کې ده هم له خپل ورور سره یوځای له هندوستان څخه هجرت وکړ اوپه مدینه طیبه کې یې هستوګنه غوره کړه اود" کنزالعمال " دمصنف علامه شیخ علي متقي سنت یې ژوندی کړ په حرمینوکې ټول عمرپه حدیثوبوخت و اوعربو اوعجمواستفاده ځنې کوله اوهمالته وفات شو [(١)] د حضرت شاه عبدالغنی صاحب درې خلفاء ډیرمشهورو چې هغه لومړی مولانا عبدالحق اله ابادي مهاجرمکي چې دصاحب الدلائل په نامه مشهورو اوپه کال ١٣٣٣ه کې وفات شوی دی. دویم شاه ابواحمدمجددي بهوپالي مړ١٣٤٢ه و اودریم شاه رفیع الدین دیوبندي "ددرالعلوم دیوبند لومړی مهتمم و" حضرت مفتي عزیزالرحمن دیوبندي مړ١٣٤٧ه دده خلیفه و اودی په ١٣٠٨ه کې وفات شوی دی، حضرت شاه احمدسعید اوحضرت شاه عبدالغنی چې له هندوستان نه هجرت وکړ له هغه وروسته ددوی خانقاه چې نیمه پیړۍ اباده وه تشه اوخالي پاتې شوه.[(٢)] بالاخرددې ستري کورنۍ یوه بل نومیالي غړي اوددې طریقې لوی شیخ

---

(١) دده شاګرد شیخ محمدیحی ترهتي دده اوډده دمشائخو په حالاتو کې په عربي کې مستقل کتاب لیکلی دی چې" الیانع الجني في اسانیدالشیخ عبد الغني " نومیږي اودا دیوه هندوستاني قلموال دعربیت اوانشاء بهترینه نمونه ده .

(٢) مصنف دمولاناسیدعبدالسلام هسوي یولیک لیدلی دی چې نوموړي دیوه داسې سړي په خوب کې لیکلی و چې له هندنه ددې خطراتوله تګه وروسته دخانقاه دخالي پاته کیدلو شکایت یې کړی و حضرت شاه عبدالغني صاحب له مدینې طیبې نه خوب ورته راولیږه چې ملاعبدالسلام صاحب هسوي بوزۍ اوزمونږپه ځای یې کښینوې په دې وخت کې هغه ددې ځای لپاره ترټولو ښه اومناسب دی.

www.abulhasanalinadwi.org

حضرت شاه ابوالخیر مجددي ۱۲۷۲ه ۱۲۴۱ه چی د شاه احمد سعید صاحب باکماله لمسی و دا خانقا یې اباده کړه اوبیادمخلوقاتومرجع وګرځیده .[۱]

دحضرت مجددصاحب کورنۍ له څلورم یاپنځم پشت وروسته له سرهند نه ووتله او دنړۍپه مختلفوسیموکې خپاره شول دمجددي کورنۍ له سرهندنه په وتلو کې ډیر حکمتونه او ګټې دي یوخودا چې دوی خدای دخپلومشرانودقبرونو له مینجورتوب نه وژغورل چی په دې کې ډیر مفاسد اوبیلارې رامنځته کیږي اودا مشاهده شوې ده، او بل دا چی ددوی په خپرولو سره مجددي طریقه هم په نړۍ کې خپره شوه، دمجدد کورنۍ یوه پښه په کابل کې (چې اخري مرکز یې قلعه جواد[۲] دی ) میشته شوه هلته په عزت اووقارسره ژوندکوي اوپه ارشاداوتربیت باندې بوخت دي. حضرت نور المشائخ فضل عمر مجددي چی په شیراغا سره مشهور دی له دې پښې سره تړاو لري چی د مریدانو شمیریې له سلهاو او ښتی دی اوپه هند اوپاکستان کې خپاره دي .[۳] دده کشر ورور شیخ محمد صادق مجددي په منځنې ختیځ کې دافغانستان سفیر او درابطه عالم اسلام دمجلس تاسیس غړی دی د خپل علم، صلاح تقوی اواسلامي مسائلوسره ددلچسپی له کبله په عربي هیوادونو کې دعزت په سترګه ورته کتل کیږي په هغه عوامي پاڅون کې دواړو ورونو مرکزي اوقائدانه رول درلود چی په نتیجه کې یې امان الله خان له تخت او

---

[۱] دتفصیل لپاره دشاه ابو الخَیر دځای ناستي شاه ابو الحسن زیدفاروقي کتاب "مقامات خیر" وګورئ.

[۲] له بده مرغه چې روسي یرغلګرو قواواو دافغانستان کمونست حکومت له لاسه دامرکز له خاورو سره خاورې شو، علماءیې څوک بندیان اوځینې جلاوطنه شول ما په ۱۹۷۳ع کې دافغانستان اوایران د دورې په مهال دامرکز ودان اوښکلی لیدلی و اودمولانامحمدابراهیم په بزرګانه شفقتونو باندې مشرف شوم.

[۳] دمحرم په ۲۵ کال ۱۳۷۶ه کې هغه وفات شو په مکه معظمه اولاهور کې می دده زیارت کړی دی

www.abulhasanalinadwi.org

تاج نه لاس په سر شو او نادر شاه په تخت کښیناست.[١] په سند کې هم ددې کورنۍ یومعتبر شاخ د ټنډه سائیې داد په کلي حیدرابادکې هم میشته دي چې خواجه محمدحسن مجددي اودده زوی حافظ محمدهاشم جان مجددي یې وتلي غړي دي .[٢] په مدینه طیــبه اومکه مکرمه کې هم دمجددي کورنۍ ښښې شتون لري هغوی هم له خپلوکورنیو عنعنانو اوکړو وړوسره دمعاش او معاد په شریفانه بوختیاو کې لګیادي او د ښه نام څښتان دي.

## احسانیه طریقه او دهغې مشران شیوخ

حضرت سید ادم بنوري که څه هم دحضرت مجددصاحب دعالي طریقې په لمن کې لوی شوی او روزل شوی دی خو دخپل لوړ استعداد اوښه فطرت په اساس په مجددیه نقشبندیه طریقه کې دیوه ځانګړې رنګ لرونکی اودیوې ذیلي طریقې باني دی چې طریقه یې دډیرواجتهادي ځانګړتیاوله کبله په ځانګړې توګه په " احسنیه طریقه " سره نومول شوې ده . دادالهي حکمت جلوه ګرې وه چې دکومې عالي کورنۍ تاداو دیوه امې په لاس کیښودل شوی ودهغه په برخه کې د هندوستان نومیالي علماء، محدثین، دوخت استادان، دکتاب او سنت خپروونکې ، داعیان اومصلحین ، ددیني مدارسو بانیان ، مصنفین او محقیقین ؛ راغلل ، اوهغه په دې اړه هم دخپل نیکه دسنت پیرو اودهغه دمیراث وارث دی، حکیم

---

[١] دلیکوال کتاب " دریاي کابل سے دریاي یرموک تک " مخونه ۴۲-۴۳ .

[٢] ماپه کال ۱۹۴۴ع کې حضرت شاه محمد حسن مجددي دهغه دکلي په خانقاه کې لیدلی دی دي دښه علم خاوندو او تضیفات هم لري مولاناحافظ هاشم جان به ددهلي نظام الدین ته راتلو او د لیکوال وطن دائره شاه علم الله رائی بریلي ته هم یوځل راغلی و رحمه الله دکابل اوټنډه سائي داد دواړه مجددي کورنۍ په حضرت شیخ غلام محمدمعصوم چې په مشهور په معصوم ثاني سره و، باند ې سره ګډیږي اوداشیخ دخواجه دمحمد معصوم لمسی و .

www.abulhasanalinadwi.org

الاسلام حضرت شاه ولی الله دهلوي ، سراج الهند حضرت شاه عبدالعزیز، داعي الی الله اومجاهدفي سبیل الله حضرت سیداحمد شهید اومولانامحمد اسماعیل شهید ، سندالهندحضرت شاه اسحاق دهلوي، د دارالعلوم دیوبند باني حضرت مولانامحمدقاسم نانوتوي اوعالم رباني مولانارشید احمدګنګوهي ؛ ددې احسنیه طریقې دمشرانو شیوخو په ذریعه په مجددیه نقشبندیه طریقه کې داخل شوي او په دې طریقه کې یې خلافت ترلاسه کړی. حضرت شاه ولي الله دهلوي دتصوف دطریقومبصراودنسبتونورمز پیژندونکي دحضرت سیدادم بنوري په اړه ډیرې اوچتې خبرې کړي دي او دی دسلوک اواحسان دفن په مجتهدینو او ځانګړو طریقو په بانیانو کې شماري.

دحضرت سید ادم بنوري دخلفاو شمیرخورا زیات وو اودهغوټولو په دې لنډه برخه کې ځایول ګران دي په "نز هة الخوطر" کې دالاندې ځونومونه راغلي دي چې له حضرت سید ادم بنوري سره یې نسبت او عقیدت و او ځینو یې خلافت او اجازت ترلاسه کړی وو لکه : دیوان خواجه احمدنصیر ابادي مړ١٠٨٨هـ، شیخ بایزید قصوري مړ١٠٩٠هـ شاه فتح الله سهارنپوري مړ ١١٠٠هـ،شیخ سعدالله بخاري لاهوري مړ ١١٠٨هـ ) خودده د طریقې دخپرولوکاردې لاندې څلورو خلفاو ترسره کړی دی چې دده دروزنې اوتعلیم نمونې اودده یادګار وو: حضرت سیدشاه علم الله حسني مړ ١٠٣٣هـ ١٠٩٤هـ ) حضرت شیخ سلطان بلیاوي،حضرت حافظ سیدعبدالله اکبرابادي اوشیخ محمد شریف شاه ابادي .[١]

(١) دده یومشرخلیفه خلیفه عبدالنبي و " شام جوراسي دجالندهرولسوالي " چې دخپلې زمانې لوی عارف اوشیخ و، دده په ولایت اولویوالي باندې دده وخت خلک یوه خوله دي شاولي الله صاحب په " انتباه في سلاسل اولیاءالله " کې دده یوباریکه لیک نقل کړیدی دتفصیل لپاره د"نزهةالخواطر" شپږم ټوک وګورئ.

www.abulhasanalinadwi.org

# حضرت سید شاه علم الله او دهغه کورنی

دحضرت سید شاه علم الله[۱] په اړه حضرت سیددهجرت په مهال ویلي و چې: سیده ! په ډاډه زړه ځه ! او په خپل ځای کښینه! اودده په مشائخوکې به ستانسبت داسې وي لکه په ستوریوکې دلمر"دحضرت سیدادم بنوري مجاز اونږدې بزرگ خواجه محمد امین بدخشي دده په اړه وایي: ددنیابوډې یې ځان ته نه پرېښودله په هندوستان او عربو کې هم دده دتقوی او استقامت په اړه خبرې کیږي، ډېروخلکوو به چې ده ته کتل ویل به یې شاید صحابه کرام به همداسې وو[۲].

د"بحرنرخان " مصنف دده په ژوند لیک کې کاږي: مجاهداتیکه ازان بیگانه زمانه درباب نفرت دنیا باتباع طریقه نبویه بظهورامده بعدازصحابه کرام در دیگر اولیاء امت متاخرین کمتر یافته می شود . دی وایي: ( کله چې حج ته لاړ) دمکې معظمی اومدینې منورې خلکو چې دده قوي عمل، پوره اتباع، اوعزیمت ولید نوویل به یې چې: هذا کابي ذر " یعنې شاه علم الله صاحب په دې زمانه کې د ابو ذرغفاري نمونه دی او داجمله په حرمینو کې دهر چاپه خوله وه. ددې مکملې اتباع نتیجه وه چې دده دوفات په شپه عالمگیرخوب ولیدچې نن شپه رسول الله ﷺ وفات شوی وي باچا په دې خوب سره ډېراندیښمن شو له علماءو نه یې دتعبیرپوښتنه وکړه هغوورته وویل چې: په دې شپه کې به سید شاه علم الله وفات شي ځکه هغـه گام په گام درسول الله پیـروي کـوي ددولتي خبرلوخ له اطلاع نه

(۱) دده مفصل حالات په دې لاندې کتابونو کي وگورئ: دمولاناغلام رسول مهرکتاب "سیداحمدشهید" لومړی برخه، دلیکوال کتاب"سیرت سیداحمدشهید" لومړی برخه، دمولوي محمد الحسني مرحوم کتاب " تذکره شاه علم الله حضرت شاه ولي الله په " انفاس العارفین" کي هم دده یادونه کړې ده .

(۲) نتائج الحرمین دشیخ عبدالحکیم په حواله .

www.abulhasanalinadwi.org

معلومه شوه چي په همدې شپه هغه جناب وفات شوی و .[۱]

دده په کورنۍ کې احسنیه طریقه په پرلپسې توګه جاري وه چی په دوی کې دده ځلورم زوی حضرت سید محمد مړ۱۱۵۶ﻫ دهغه زوی حضرت سید محمد عدل مشهور په شاه لعل صاحب سمړ۱۱۹۲ﻫ، حضرت سید محمد صابرین سعید ایت الله ابن شاه علم الله مړ۱۱۶۳ﻫ ، حضرت شاه ابوسعید ابن سید محمد ضیاء بن سید ایت الله بن علم الله ۱۱۹۳ﻫ حضرت سید محمد واضح بن سید محمد صابر[۲] مولانا سید محمد ظاهر حسني مړ ۱۲۷۸ﻫ ؛ مولانا سید خواجه احمد ابن یسین نصیر ابادي مړ۱۲۸۹ﻫ او حضرت شاه ضیاء النبي مړ۱۳۲۶ﻫ ؛ خورا لوی لوی بزرګان اولوړ رتبه مشائخ تیر شـوي دي چی له دوی نه په زرهاو انسانانو دایمان اواحسان نعمت، عمل په شریعت اودسنت دپیروي توفیق ترلاسه کړی دی[۳].

---

(۱) دشیخ وجیه الدین اشرف په کتاب "بحرزخار" کې په مفصله توګه اودحضرت شاه غلام علي د ملفوظاتو په مجموعه " درالمعارف" ترتیب کونکي شاه روف احمد مجددي مخ۴۶ کي په لنډه توګه دا ریبنتونی خوب راغلی دی .

(۲) دی د دیارلسمې پیړۍ په پیل کي وفات شوی دی .

(۳) دحالاتو لپاره یي د نزهة الخواطر شپږم او اووم ټوکونه وګورئ

www.abulhasanalinadwi.org

# شیخ سلطان بلیاوي

د حضرت سعید ادم بنوري دویم لوی خلیفه شیخ سلطان بلیاويؒ و[۱] له "نتائج الحرمین " نه د اسې معلومیږي چې دحضرت سید ادم بنوري په مشرانوخلفاو کې اکثره دده نوم له شاه علم الله صاحب سره یو ځای راځي [۲]

# حافظ سید عبد الله اکبرابادي او ولي الالهیه طریقه

د حضرت سیدادم بنوري دریم سترخلیفه چې دده په ذریعه دده دطریقې خپراوی تر هر ځایات وشو هغه حافظ سیدعبدالله اکبرابادي و دحکیم الاسلام حضرت شاه ولي الله دهلوي پلار عبدالرحیم فاروقي مړ ۱۱۳۱ھ دده خلیفه او تربیت یافته و[۳] دحضرت شاه ولي الله اوشاه عبدالعزیز په سلسله کې حضرت سید احمد شهید راځي.

---

[۱] بلیا دبهارپه ولایت کې دګنګا په غاړه اباده وه اوس داځای د (بیګوسرای ولسوالی) لکهمنیه په نامه سره شهرت لري مونګیرته مخامخ ددریاب په بله غاړه ده

[۲] متا سفانه چې دده حالات او ملفوظات نشته اوس په دې کلي کې دده کورنی اباده ده.

[۳] دحافظ سیدعبدالله اکبرابادي دفضائلواومناقبو له پاره د" انفاس العارفین" مخونه ۶-۱۵ وګوري دحضرت شاه عبدالرحیم دحالاتو اوکمالاتو لپاره شاه ولي الله صاحب "انفاس العارفین" لیکلي دي او په تفصیل سره یې دده ژوند لیک او د کورني حالات راخیستي دي داکتاب په کال ۱۳۳۵ھ کې په مطبع مجتبایي کې چاپ شوي وګوري مخونه ۱۵-۸۷.

www.abulhasanalinadwi.org

بیادهغه په واسطه حضرت حاجي عبدالرحیم شهیدولایتي، میانجي نور محمد جهنجهانوي اودده په واسطه شیخ العرب والعجم حضرت حاجي امدادالله مهاجر مکي اودده خلیفه ګان: مولانامحمدقاسم نانوتوي، حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي، حکیم الامت مولانااشرف علي تهانوي، بیادمولانا رشیداحمد ګنګوهي په واسطه حضرت شیخ الهندمولانامحمودحسن دیوبندي ، حضرت شاه عبدالرحیم رائپوري، حضرت مولاناخلیل احمدسهارنپوري اومولاناحسین احمد مدني د حضرت شاه عبدالرحیم په خلفاوکې: حضرت مولانا عبدالقادر رائپوري اود مولانا خلیل احمدصاحب په خلفاوکې: حضرت مولانا محمد الیاس کاندهلوي (دنظام الدین دتبلیغي جماعت باني ) اوحضرت شیخ الحدیث له احسنیه مجددیه طریقې سره تړاو درلود او ددې طریقې مجاز و او دارشادخاوندان دي. دحضرت شاه ولي الله اوشاه عبدالعزیز صاحب په اړه په دې برخه کې څه لیکل ناشوني دي :

سفینه چاهیے اس بحر بے کران کیلئے

دده ژوند لیک د " تاریخ دعوت وعزیمت " یوځانګړې توک غواړي چې شاید ددې لړۍ پنځم توک شي دحضرت مرزامظهرجان جانان په اړه دشاه ولي الله صاحب خبرې تیرې شوې. دحضرت شاه ولي الله په اړه حضرت شاه غلام علي صاحب په "مقامات مظهري" کې دمرزاصاحب داقول رانقل کړی دی: شاه ولي الله صاحب دیوې طریقې وضاحت وکړ، دحقائقواومعارفو داسرارو او دقیقو علومو په بیانولو کې هغه یوځانګړی اسلوب لري په علماو کې هغه دریاني لقب ور دی اوپه هغو صوفیانو اومحققینوکې هم چې دظاهري اوباطني علم جامع و داسې خلک دګوتو په شمیرلو ور دي؛ چاچې دده په څیر په علوماو مضامینو خوله خلاصه کړې[1]،

---

[1] مقامات مظهري مخونه ۶۰-۶۱ چاپ مطبع احمدي .

www.abulhasanalinadwi.org

دمعقولاتوامام علامه فضل حق خيرابادي چې کله دشاه صاحب کتاب " إزالة الخفاء" وليد نود خپلو شاګردانوپه مخ کې يې په ډاګه وويل: ددې کتاب مصنف يوژور او پلن درياب دی چې ساحل يې نه ترسترګوکېږي. سترعالم علامه مفتي محمود عنايت احمد کاکوروي وايې: شاه ولي الله صاحب د طوبی د ونې په څيردی چې بيخ يې دده په کورکې دی ښاخونه اوڅانګې يې دهرمسلمان کورته رسيدلي دي[۱] تر کومه ځايه چې دشاه عبدالعزيز صاحب خبره ده؛ په جامعيت،په معقولاتو، منقولاتو اوادبي فنونوکې يوډول مهارت، دتدريس قوت، باطني فيض، ښه تربيت اود تصنيف ځواک، دخبر خوږوالی، داخلاقوپراخي، دهنددمسلمان ملت لپاره زړه سوی اودزړدمندي او زيات فيضان کې به په لرې لرې ځايونو کې دده ساری پيداکول ډير ګران کار وي .[۲]

## حضرت سيد احمد شهيد او دده ډله

دسيداحمدشهيد له احسنيه مجدديه طريقې سره خصوصي تړاو و اودده په حالاتو اوژوند ليک باندې لوی لوی کتابونه ليکل شوي دي مولانا غلام رسول مهر دده په ژوند باندې يوکتاب ليکلی چې (سيد احمد شهيد) نوميږي اوپه څلور ټوکه کې دی اودليکوال کتاب د(سيرت سيداحمد شهيد) په دوه ټوکه کې دی اودده د ژوندلپاره ددې کتابونو مطالعه کافي ده[۳]، ده چې په خپله زمانه اودهندوستان په تاريخ کوم اغيزشيندلی دی اوخدای ﷻ دخلکودهدايت اوداسلام دخپرولو اوساتنې

---

(۱) دتفصيل لپاره د نزهة الخواطر شپږم ټوک وګورئ .

(۲) دتفصيلي حالاتو اوکمالاتو لپاره دنزهة الخواطراوو م ټوک وګورئ .

(۳) په دې لړ کې دليکوال دکوچني کتاب (تحقيق وانصاف کي عدالت مين ايک مظلوم مصلح کامقدمه ) مطالعه هم ګټوره ده .

www.abulhasanalinadwi.org

کوم کارځيني اخيستی دهغوپه اړه په يوځوشهادتونو بسنه کوو، دهغه وخت يود نظر خاوندعالم مولوي عبدالاحدصاحب ليکي: دحضرت سيدصاحب په لاس له څلويښت زره زيات هندوان اونورکفارمسلمان شول، او دريې سوه زره مسلمانان دده په لاس بيعت کړی دی اوکومه طريقه چې دده خلفاو اودخلفاو خلفاو په ذريعه دځمکي په مخ جاري شوې ده په دې طريقه کې په کروړونو مسلمانان دده په بيعت کې داخل شوي دي[1]، نوميالی رباني عالم اومجاهدمولاناولايت علي عظيم ابادي مړ۱۲۹۹ه ليکي: په زرهاوو انسانانوخپل دين پرېښود اوپه اسلام مشرف شول اوپه زرهاوو انسانانو له باطلومذاهبونه توبه وکړه، دېنځو شپږوکلونو په موده کې په هندوستان کې ديرش لکه کسانو له سيدصاحب نه بيعت وکړ اودحج په سفرکې تقريبا يولک خلکو بيعت ځيني وکړ[2].

دهندوستان مشهوراو نوميالي مصنف نواب سيدصديق حسن خان دبهوپال والي مړ ۱۳۰۷ه دسيدصاحب دښوني اوروزنې اغيزې په خپله ليدلې دي دېې چې ليدلی و دهغوخلکو زمانه يې ليدلې ده اوهغه خلک يې په خپله ليدلي دي په "تقصارجيود الاحرار" کې ليکي: دخدای دمخلوق په لارښونه اودخدای لورته په بللوکې هغه دخدای يوه نښاني وه زيات مخلوق اويوه نړۍ په قلبي توجه اوبدني تربيې سره دولايت درجې ته ورسيدل دده دخلفاوو وعظونو دهندځمکه دشرک اوبدعت له خزلو پاکه کړه اودکتاب اوسنت په لاره يې برابر کړل تراوسه پورې دده دوعظ اوپندبرکتونه جاري دي. وړاندې ليکي: لنډه داچې په دې زمانه کې ددنياپه يوه هيوادکې هم دده په څيردکمالاتوخاوند څوک نشته اوکوم فيوض چې دحق له دې ډلې مخلوقاتوته

---

[1] سوانح احمدي.

[2] د مولانا ولايت علي عظيم ابادي رساله " دعوت " چې د ده د نهو رسالو په مجموعه کې راغلي ده مخ ۶۵ .

www.abulhasanalinadwi.org

رسیدلي دي دهغولسمه برخه هم ددې زماني علماء اومشائخو نه دي رسولي، لکه چې مخکې تیر شول دسیدصاحب په واسطه ددیوبندمشران اودصادقپور [۱] مشران په مجددیه نقشبندیه طریقه کې داخل اواجازت او خلافت یې ترلاسه کړی دی له دې حضراتو نه چې په دې وچه کې ددیني علومو دخپرولو، دمدارسوجوړولو اوداصلاح اودعوت کوم ستر کارونه عملي شوي دي اویود انصاف خاوند هم انکارنه شي ځني کولای؛ هغه ټول دحضرت مجدد الف ثاني دتجدد او اصلاح نتائج او دده دثمراتو اوبرکاتو په فهرست کې شامل دي.

همده دیوولسمې پیړۍ دله ستونزو ډک دورپه پیل کې ددې کارونو لپاره لاره هواره کړه ددې لپاره یې حالات برابر اوفضاسمه کړه په زړونوکې یې دهغه جذبه او ولوله راویښه کړه اویوه داسې ډله یې یادګار پریښوده چې دزړه په سوز اوباطني نورسره یې ددین شمه روښانه اوځلانده وساتله اوبیاله یوې شمې نه بلې پسې لګیده اوپه دې هیواد کې یې دکفر او جهالت، شرک اوبدعت تیارې داسې خپرې نه پریښودې لکه د لسمې پیړۍ په اخرکې چې:

اغوشته ایم هرسرخاري بخون دل = قانون باغباني صحرا نویشته ایم.

---

[۱] صادقپور دپټنې مشهوره محله ده چې د سیدصاحب دجهاد اواصلاح دتحریک تر ټولو لو ی مرکز و اوهورې داکار ترپایه پورې جاري و اوپه دې لړ کې یې زیاتې قربانۍ ورکړې چې وتلې او بارزغړي یې دالاندې کسان و: حضرت مولانا ولایت علي عظیم ابادي، مولانا یحی علي، مولانااحمدالله، مولاناعنایت علي غازي، مولاناعبدالله(امیرمجاهدین چمرقند)اومولاناعبد الرحیم صادقپوري ﴿من المؤ منین رجال صدقوا ما عاهد وا الله علیه فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظر وما بدلوا تبدیلا﴾.

www.abulhasanalinadwi.org

# دحضرت مجددصاحب کتابونه اورسائل

په پای کې دمجددصاحب دکتابونو په فهرست وړاندې کولوباندې اکتفاکوو دهغوتفصیلي پیژندنې لپاره لوستونکو ته مشوره ورکووچې دمولاناسید زوار حسین شاه دغوره کتاب "حضرت مجددالف ثاني"[1] مضمون: دحضرت مجدد الف ثاني قدس سره عالي تصنیفات وګورې چې په هغه کې لیکوال دهریوه کتاب تفصیلي تعارف کړی دی اودهغوپه اړه یې ارزښتناک موادیوځای کړي دي.[2]

۱- إ ثبات النبوة :

"عربي" قلمي نسخه یې دمجددي کورنۍ په کتابخونواوخانقاوکې خوندي وه د اداره مجددیه کتابخونوناظم ابادکراچې له خواپه کال۱۳۸۳ه کې اصل عربي متن له اردو ژباړې سره چاپ کړ بیااداره سعدیه مجددیه لاهورپه کال ۱۳۸۵ه له نورورسائلو سره یواځې عربي متن پرته له اردو ژباړې چاپ کړ.

۲- رد روا فض : دارساله دځینې ایراني شیعه علماو درسالې په ځواب کې لیکل شوې ده اوغالبادکال۱۰۰۱ه په شاوخواکې لیکل شوې ده ددې رسالې ځینې مضامین په لومړي دفترمکتوب ع۸۰ ـ او-۲۰۲ کې هم راغلي دي. ددې رسالې فارسي متن دفارسي مکتوبات شریف په اخرکې ډیرو چاپ ځایونو خپورکړی دی، حشمت علي خان صاحب په کال ۱۳۸۴ه کې له رامپورنه ددې فارسي متن دډاکتر

---

(۱) خپرونکې اداره مجددیه ۲/۵ ایچ ناظم اباد ع-۳.
(۲) مخونه ۶۷۶- ۶۸۷.

www.abulhasanalinadwi.org

پروفیسرغلام مصطفیخان له اردو ژباړې سره یوځای خپورکړ، بیااداره سعدیه مجددیه لاهورفارسي متن بیل او اردوژباړه بیله چاپ کړه حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي ددې رسالې شرح لیکلې ده چې چاپ شوې نه ده .

۳– رساله قلیلیه: "عربي" دارساله په کال ۱۰۱۰ه کې ترتیب شوې ده ددې یواځې قلمي نسخې وې اداره مجددیه ناظم اباد کراچې په کال۱۳۸۴ه کې عربي متن له اردو ژباړې سره خپورکړاو اداره سعدیه مجددیه لاهورپه کال **۱۳۸۵**ه کې یواځې عربي متن له نورو رسائلو سره چاپ کړ .

٤– شرح رباعیات: دا دخواجه باقي بالله دوه څلوریځې دي چې ده په خپله تشریح کړې دي او حضرت مجددصاحب دهغې شرح شرحه لیکلې ده اداره سعدیه مجددیه لاهور اواداره مجددیه ناظم ابادکراچي په ترتیب سره په کال ۱۳۸۵ه اوکال۱۳۸۶ه کې چاپ کړېده شاه ولي الله صاحب هم ددې څلوریځو دشرح شرحه لیکلې ده چې "کشف الغین في شرح رباعیتین"نومیږي اومطبع مجتبائي دهلي په کال ۱۳۱۰ه کې چاپ کړې ده .

۵– معارف لد نیه: " فارسي": په دې کې دمجددصاحب خاص معارف او دسلوک اوطریقت مهم مباحث پکې راغلي دي چې په خپله مجددصاحب په کال ۱۰۱۵ه یا د ۱۰۱۶ه کې ترتیب کړې ده هرمضمون ته یې د"معرفت"عنوان ورکړی دی دټولو معارفوشمیر۴۱یوڅلویښت دی ددې رسالې فارسي متن تر ټولوحافظ محمدعلي خان شوق درامپورله احمدي چاپ ځای نه په دسمبر۱۸۹۸ع کې چاپ کړی دی بیادحکیم عبدالمجیدسیفي مجلس علمي دابهیل، اداره سعدیه مجددیه،اواداره مجددیه په مختلفوکلونوکې خپورکړی دی .

www.abulhasanalinadwi.org

٦- مبد أومعاد: " فارسي" په دې رساله کې دحضرت مجددصاحب علوم او معارف راغلي دي ددې مضامين دمختلفومسودو په شکل کې و چې دحضرت مجدد صاحب خليفه محمدصديق کشمي په کال۱۰۱۹ه کې مدون اوترتيب کړل اومضامين يې د" منها" په عنوان سره بيل کړل ټول مضامين يې يوشپيته دي په چاپ شوي نسخوکې يې ترټولوزړه فارسي نسخه دمطبع انصاري دهلي کال ۱۳۰۷ه ده، بيائوځله په مختلفوکلونوکې چاپ شوې ده، په اخرکې په کال ۱۳۸۸ه کې اداره مجدديه ناظم ابادکراچې فارسي متن دمولاناسيد زوارحسين شاه له اردوژباړې سره خپورکړ ددې کتاب " مبداومعاد" عربي ژباړه دشيخ مراد مکي په قلم شوې ده اودعربي مکتوبات په حاشيه کې راغلي .

۷- مکاشفات عينيه: دامجموعه دحضرت مجددصاحب په داسې مسودوباندې مشتمله ده چې ځينې خلفاويې خوندي کړې و، دحضرت مجدد صاحب له وفات نه وروسته مولانامحمدهاشم کشمي په کال ۱۰۵۱ه کې ترتيب کړ دارساله دلومړي ځل لپاره اداره مجدديه ناظم ابادکراچې فارسي متن له اردو ژباړې سره په کال ۱۳۸۴ه کې چا پ کړ .

۸- مکتوبات إمام رباني : دادمجددصاحب ترټولولوی علمي، اصلاحي او تجديدي يادګاردی اودهغو وهبي کمالاتو، اجتهادي اوتحقيقي مقام، دتحقيق اومعرفت اودده دزړه جذباتو اواحساساتو هنداره ده چې دده له امله ده "مجددالف ثاني" لقب ورکړل شوی دی. دده علمي مقام څرګندول اودهندوستان په فارسي ادب کې(چې دده اهميت ) د"هندي سبک" په طنزيه نوم سره نه کميږي ) دهغه مقام ټينول اودده دعلومو اومعارفودراڅرګندولولپاره يوځانګړی کتاب په کاردی. داکتاب دهندوستان په

www.abulhasanalinadwi.org

هغه ځانګړوکتابونوکې شماردی چې له هندنه دباندې سترو پوهانواوعلماووتوجه ورته کړېده په عربي اوترکي ژبوکې یې ژباړې شوې دي

دعلمي اوروحاني مرکزنو په درسي نصاب کې داخل شوی اهل علم اواهل سلوک هروخت دده په مطالعه بوخت پاتې شوي دي اودده په تازه والي کې تراوسه پوري کوم توپیرنه دی راغلی دمکتوباتومجموعي شمیرپنځه سوه شپږ دیرش۵۳۶ دی اوپه دریودفترونو کې دی، په لومړي دفترد‌ري سوه دیارلس ۳۱۳لیکونه یامکتوبات دي دادفتردحضرت مجددالف ثاني په نغوته دده خلیفه یارمحمد جدید بدخشي طالقاني په کال ۱۰۲۵ه کې ترتیب کړی دی. په دویم دفتر کې نه نوي ۹۹ لیکونه راغلي دي اودادخواجه محمدمعصوم په اشاره په کال ۱۰۲۸ه کې مولانا عبدالحي حصاري شادماني ترتیب کړي دي . په دریم دفترکې یوسل او څوارلس ۱۱۴ لیکونه دي دادده مشهورخلیفه مولانا محمدهاشم کشمي په کال ۱۰۳۱ه کې ترتیب کړی دی. وروسته لس نور لیکونه چې په اخر وخت کې لیکل شوي و په دي کې شامل کړل شواوددي دفتر دټولومکتوباتو شمیر یوسل او څلورویشت ۱۲۴شو ، دمکتوبات شریف ګڼ شمیرچاپونه په مختلفووختوکې خپاره شوي دي لومړی چاپ غالبادلکهنود نولکشورچاپخې دی له دې نه وروسته څوځله همدې چاپ ځای چاپ کړی دی له دې وروسته له مطبع احمدي دهلي، مطبع مرتضوي دهلي نه څوځوځله چاپ شوی دی. په کال۱۳۲۹ه کې مولانا نوراحمد امرتسري په ډیراهتمام سره اوپه ډیره ښکلي بڼه چاپ کړ چې ډیري ځانګړتیاوې لري [1]

---

[1] دمولاناسید زوارحسین شاه له کتاب " حضرت مجدد الف ثاني " نه یې غورچڼ اخیستل شوی دی
دژباړې د ختم ورځ ۱۳مارچ ۲۰۰۲ دچهارشنبي و ر‌ځ د ورځې یوه نیمه بجه سرای نورنګ ضلع لکي مروت محمد وزیر "حامد"

www.abulhasanalinadwi.org

مــل

په افغانستان کې

# دحضرت مجدد صاحب کورنۍ

لیکنه : د ښاغلی مولوي صاحب رحیم الله زرمتي

www.abulhasanalinadwi.org

بسم الله الرحمن الرحيم

بنايې دکتاب په اوږدوکې مولوستي وي چې مولف په افغانستان کې د جناب مجدد صاحب دکورنۍ په اړه دپوره معلومات له ښودلوڅخه خپله ناوسي څرگنده کړې اوداچې دهندد وچې تاريخ پوهان اوسوانح ليکونکې تل دادريغه اوافسوس کوي چې دافغانستان سرشاره خاوره ډيرې علمي تاريخي او سترې ملي څيرې لرې خو هويت او پيژندوينه يې نه ده ساتل شوې . دپورته دوو ارمانونو له مخې اودې کبله چې دجناب مجددصاحب هغه پور او حق مو څه ناڅه ادا کړی وي چې پرموږ يې لري دخپلو نيمگړو هڅو اودهغو ځاني ليکلويادابښتونو په پايله کې مې لاندې ضميمه تياره کړه، خدای دې وکړي زمادغه هڅه په خپل دربارکې قبوله کړې.

که څه هم مجددصاحب په هند کې زيږيدلی اوهلته لوی شوی خو کورنۍ يې له افغانستان نه سرچينه اخلي ځکه چې ددوی نيکه جناب فرخ شاه صاحب دافغانستان اوسيدونکی و اوقبريې اوس هم دکابل شمال دنجراب په ولسوالۍ " دره فرخ شاه " کې دی، دکتاب ليکوال د نومو ړي د ژوندليک دکتاب په دريمه برخه کې راوړی . مـو لف رحـمه الله تـعالی ليکلي دي چې دامام مجددقـد س سره بزرگان اولادونه په څلورم پنځم پشت له سرهندڅخه ووتل اودتبليغ او طريقې مبارکې د خوروولو لپاره په نوروسيموکې ميشته شول په دې کې يوه ځانگه (شاخ) په کابل کې و چې( قلعه جواد )يې وروستی مرکز اوخانقاه وه په پوره عزت او وقار په افاده او ارشاد بوخت وو، په دې ترڅ کې يې دحضرت مولاناومرشدنا نورالمشائخ اودده فرزند اوجانشين حضرت

www.abulhasanalinadwi.org

حضرت مولاناومرشدنا ضیاء المشائخ قدس سرهما یادونه کړې ده مګر له هغه نه پورته بزرګواران یې نه دي یادکړي. کیدای شي چې کره معلومات په لاس نه وي ورغلي؛ څرنګه چې ددغې څانګې ( شاخ ) یوه څانګړتیاداده چې ټول مشایخ کرام یې قدس سرهم دحضرت امام مجددقد س سره له اولاد نه أباعن جد علماء اوکامل مکمل شیوخ دي قـدس سرهـم نومناسبه ده چې دغه بزرګواران قدس سرهم له سره تر پایه ددوی مبارکانود رواج شوې شجرې په ترتیب سره یاد کړل شي:

## دکابل دحضرت صاحبانو دکورنۍ شجره

دامام مجددقـدس ددریم فرزندحضرت خواجه محمدمعصوم (قدس سره) مشر فرزند اوخلیفه قیوم زمان حضرت خواجه محمد صبغة الله( قد س سره) دی چې دکابل حضرات کرام قدس سرهم دده اولاده ده ، نوموړی دحضرت امام مجدد قـدس سره دبختور ژوندپه وخت په سرهند شریف کې په ۱۰۳۳هـ کې کې پیدا شوی دی اودغه نوم هم هغه جناب ورته غوره کړی دی په عمدة المقامات[1] کې یې حالات په تفصیل سره راغلي دي. او وفات یې په ۱۱۲۱ هـ لیکلی دی .

دده دوم فرزنداوخلیفه حضرت امام العارفین قدوة العالمین صاحب کمال وتکمیل شیخ محمداسماعیل (قدس سره) دی. دده دپرهیزګاري واقعه اونورکمالات په عمدة المقامات کې راغلي دي [2] کال۱۱۳٦ دجمادی‌الاول په ۲٦مه کې وفات شوی . دده فرزند او خلیفه حضرت (قطب الأقطاب غوث الأغواث سرمست باده، قیوم زمان) حضرت شیخ حاجي غلام محمدمعصوم قدس الله تعالی سره دی. باطني کسب یې له خپل نیکه حضرت قیوم زمان قد س سره څخه کړی اودخلافت درجه یې هم له هغه جناب څخه ترلاسه کړې ده دده په هکله

(۱) عمدة المقامات ۳٤۲ ـــ ۳۸۷ .

www.abulhasanalinadwi.org

حضرت خواجه عروة الوثقى قدس سره دده غورنيكه، دده نيكه حضرت قيوم زمان ته وړاندوينه (پيش گويي) كړې وه چې :

" از نسل تو فرزند عزيز الوجود تولد خواهد شدخواه از توبى واسطه و

خواه از فرزندان تو بواسطه چون ان عزيز رادريابى‌ان راقايم مقام من دانسته اسم مرابوى ذارى كه وارث نسبت مجددى و معصومى وى خواهد بود و فيوض و بركات اوالى يوم القيامت دراولاد و منتسبان ا و خواهد ماند و طريقه عليه اكابر را رواج ديگر خواهد افزود " [عمدة المقامات۳۹۶ مخ ] [۱]

هماغسې جامع الكمالات شيخ وگرځيده او هماغسې بركات يې په اولاده كې تر پايه پورې وو. دده زيات مناقب په عمدة المقا مات[۲] كې راغلي دي. وفات يې په ۱۱۶۱هـ دځه كم سلوكالو په عمرواقع شوى قد س الله تعالى سره دحضرت قطب الاقطاب امام الاولياء حضرت شاه غلام محمدمعصوم قـد س سره ډيرزامن وو چې ډيرومسلمانانو ته يې گته

(۲) عمدة المقامات ۳۸۱ ــ ۳۸۶ .

[۱] عمدة المقامات دعمدة العرفاء الكاملين " زبدة العلماء الراسخين قدوة اولياء الله حضرت خواجه محمد فضل الله قدس الله تعالى سره تاليف دى چې د ۱۲۳۳هق كال دروژې مباركې په ۲۹ مه يې دسند په ټندو محمدخان كې پاى ته رسولى دى دعمدة المقامات وروستى چاپ د جناب مرشدنا ووسيلتنا إلى الله تعالى حضرت خواجه ضياء المشائخ صاحب قدس سره په لاربښوونه دكابل دنعماني كتابخانې مالک جناب حاجې بهادرخان رحمه الله په زيارميزان ۱۳۵۵ه كې چاپ شوى دى چې جناب ضياء المشائخ صاحب په خپله يوه سريزه هم پرې ليكلې ده .

دياددوړ ده چې جناب حضرت خواجه محمد فضل الله اوجناب حضرت خواجه ضياء الحق شهيد دافغانستان دكوهستان دحضراتو كرامو نيكه (قدس سرهما) نيكه دى، دواړه دجناب حضرت بې بې صاحب كلان (قدس سرها) زامن و، نوموړې د جناب قيوم جهان دخور لور او دنوموړي خليفه هم وه ډيرزيات كرامات كمالات الله تعالى وركړى و، زيارت يې دمزارشريف په روضه مباركه كې دى، ددې پلار حضرت امير شريعت سيد عطاء الله شاه بخاري دى، اوموريې دقطب الاولياء حضرت خواجه غلام محمد معصوم لوروه قدس الله تعالى اسرارهم .

[۲] عمدة المقامات( ۴۲۳-۴۳۳ مخ)

www.abulhasanalinadwi.org

رسیدلې ده په دوی کې جناب قدوة الأولياء حضرت شاه غلام محمد (قدس سره) چې په حضرت جي صاحب مشهور و اوزیارت یې د پېښوردشعبه بازارپه ختیز پلوکې نبي لاس ته د یولوی جومات په څنګ کې دی، دوالدصاحب په ژوندکې کمال او تکمیل ته رسیدلی دی اوعالمونه عالمونه یې مریدان اومخلصین وو. دی مبارک به دکال شپږمیاشتې په لاهورکې له تولې کورنی اومخلصینوسره اوسیده اوشپږ میاشتې په پېښور کې په عمدة المقامات (۳۹۶ـ ۴۲۳مخ )کې یې ډیرمناقب راغلي دي په ۱۱۷۷هـ کال کې د وروکي اخترپه شپه په پېښورکې وفات شوی دی.

یوبل فرزندیې حضرت خواجه عزت الله قـد س سره د مسلمانانوپه عرفاني خدمت بوخت په کابل کې وفات شوی دی چې زیارت یې دکابل د مرنجان غونډۍ په جنوب شرقي څنډه باندې واقع دی قـد س سره. د حضرت قطب الا قطاب وروستنی فرزند حضرت مجدد (مائة ثالث العشرغو ث الجن والبشرقطب زمان قیوم جهان زبده اهل الله) حضرت حاجی محمدصفی الله قـد س سره، ډیرجامع بزرګوار اود زیاتومناقبوخاونددی اوعمدة الــمقامات هم دده په حالا توپاى ته رسیدلی دی. دی مبارک د کابل،کوهستان، چارباغ دحضراتو کرامو غورنیکه دی قدسناالله تعالی بأسرارهم العالیه.

نوموړي په کابل کې سکونت اواوسیدل غوره کړ، دولادت کال یې ۱۱۵٦هـ یاد کړی دی، اود دوم حج په سفر د۱۲۱۲هـ ق دذي القعدي په ٦مه د( جدیدې ) په بندرګاه کې وفات شوی دی اوهماته یې زیارت هم دی قدسناالله بسره العالی. له ده مبارک څخه ډیرزامن پاتې شول چې دکمالا تو خاوندان وو قـد س سرهـم. ددوی ډیرې عرفاني ګټې مسلمانانو ته رسیدلي جزاهم الله خیرا عن الإسلام والمسلمین[1].

---

(۱) دحضرت قیوم جهان (قدس سره) په اتو زامنوکې شپږم زوی حضرت خواجه میا ظهورالله قد س سره دی چې له وړکتوب څخه په خپل والد صاحب ( قدس سره ) ډیرګران و دننګرهار د چارباغ صفادحضراتوکرامو قـدس الله تـعالی اسرارهم نیکه دی اوهلته یې مبارک زیارت دی. نوموړی د زیات علم اوعرفان خاوندو، دریم زوی یې حضرت خواجه عطای معصوم (قدس سره) دی چې ډیربزرګوار، ستر عالم، عارف، متقي اوډیر پرهیزګار و،دخپلو پلرونواونیکونو قدس سرهم دعلمي اوروحاني امانتونوپوره ساتندوی او وارث و رحمهم الله تعالی. دده مبارک په څلورو بزرګانو اوعلماوو

www.abulhasanalinadwi.org

زامنو کې مشر زوی جناب حضرت خواجه شاه ضياي معصوم قدس الله سره دی. دی دمجددیت دباغ هغه ښايسته اوزره وړونکې گل و چې دده ښايست او خوشبويي ددغه باغ ښايست دوه برابره پسې زيات کړ. دی هغه بې تاجه بادشاه و چې د فقيرۍ په بڼه کې يې باچايي کول خلکوته ورزده کړل، داميرعبدالرحمان غوندې مستبد اوتريخ طبيعته باچابه رسی په غاړه ده جناب ته ولاړو، او اميرحبيب الله خان خويي له باچا کيدو دمخه مريدو، دده مبارک صفات، مناقب اوکمالات له دې نه ډيرزيات دي چې په دغه پای ليک کې ځای شي خوجناب ډاکټرصاحب ابوالخيرمحمد زبيرته دې الله تعالی ډيرخير او اجرونه ورکړي چې ددوی په هکله يې ځانگړی کتاب (تجليات ضيای معصوم) په اردو ژبه په پوره تفصيل ليکلی.

په دغه کتاب کې يې دده جناب احوال، فضائل، کمالات اوخوارق يادکړي دي جزاه الله تعالی خيرا. دده جناب دوه بزرگواران زامن و چې په علمي اوروحاني کمالا تو کې هو به هو دخپل بزرگواروالدصاحب په څېرو، مشريی حضرت شاه عبدالقادر صاحب چې په شهزاده جان اغامشهورو ، دی په خپل وخت کې دعلم، کمال او معرفت بوه مجموعه وه اوجناب والدصاحب دټولوکارونو مټ او وزر و، ډير ورباندې گران و، دالله تعالی تقدير و په ځوانۍ کې وفات شو رحمه الله تعالی. اوجناب والد صاحب اوبختورې کورنۍ او مخلصينو زړونه ورباندې داغ داغ شول رحمهم الله تعالی. تفصيل يې د ډاکټرصاحب ابوالخيرپه کتاب کې وگورئ. او دوم زوی يې حضرت شاه غلام محمدصاحب قدس الله تعالی سره چې په حضرت مياجي جان اغا يا حضرت ميانجيو اغا مشهورو، نوموړی تکړه حافظ، عالم اودښکاره کراماتوخاونداو مرشد و رحمه الله تعالی. دډاکټرصاحب ابو الخير په کتاب کې يې تفصيلات دي قد سنا الله تـــعالی بأسرارهم العاليه .

دغه جناب دخپل والدصاحب (قدس سره)يوازينی جانشين و دچارباغ صفا اود افغانستان ډيرې سيمې يې دعلم اوطريقت په رڼاخلانده کړي بيايې دافغانستان دبې خونده حالا توله امله دحرمينوشريفينوپه لورمخه وکړه اوله ځوکلونو وروسته يې هند ته تشريف يووړاوهلته يې ډيرې سيمې دعلم اوطريقت په رڼا وځلولې، بياد پاکستان له جوړيدولوسره سم دپاکستان ددولت مشرانو دی جناب پاکستان ته دعوت کړ اود کراچی دمليرکالوني په سيمه کې ميشته شو اوهمغلته يې زيارت مبارک دی قـدس سر ه دی جناب د اوس وخت دچارباغ صفا اودکراچی دحضراتو کرامو والد او مرشد و رحمه الله تـــعالی . په چارباغ صفاکې دده مبارک جانشين اوخليفه دده مشرفرزندجناب حضرت صاحب غلام احمداغا و چې په شاه اغاجان سره مشهورو دی هم په علم او روحانيت کې دخپل والدصاحب قـــدس سره غوره ښېلگه وه، مگردکمونستانو خونخوار او ملحدرژ يم دمجددي باغ ډيرگلونه وريژول

www.abulhasanalinadwi.org

ترتولوکشرزوی‌اوجانشین یې حضرت سیدناومرشد نا الشهیر المشتهر قطب رباني حضرت خواجه عبدالباقي الکابلي( قدس سره ) دی ،د حضرت خواجه عبدالباقي قـدس سره دژوند په هکله همدومره معلومه شوېده چې یوکامل مکمل شیخ و اوپه خپل ژوندکې یې دارشادلړی په دېره ښه توګه په مخ بوتله اوطریقه شریفه یې ودانه اوجاري وساتله، انساب الانجاب په ۱۰۲ مخ کې دمولانامحمدابراهیم له خولې چې دده له خلفاوو څخه و لیکي :درسفرحرمین شریفین با جناب حضرت قیوم جهان قدس سره بودم ایشان فرمودند که بعدازمن صاحب نسبت های خاص و جانشین بالاختصاص میا عبدالباقی است دران هنګام یکنفر بزبان الهام ا رشاد فرمود :

بهار در ګذر است وشتاب کن ساقی = زګلستان صفی مانده یک ګلی باقی (۱)

په دغه الهامي شعرکې هم دحضرت خواجه عبدالباقي قـدس سره نیابت ثابتیږي اوهم دحضرت خواجه قیوم جهان قد س سره دمبارک عمرخزان ثابتیږي ځکه چې له ګلستان څخه

---

چې په هغوکې یوهم دی جناب او بو یې څلورم وروروجناب حضرت فضل محموداغا و چې دقلعه جواددحضرت صاحب جناب مولا نا ومرشدناضیاء المشائخ زوم و ددوی نور ورونه جناب حضرت صاحب نوراحمداغا، جناب حضرت صاحب عبدالله اغا، جناب حضرت صاحب فضل ربي اغا ، جناب حضرت صاحب فضل الرحمن ا غاپه کراچي کې دخپل والد صاحب قدس سره دخانقاه اوطریقې پالنه کوي سلـمهـم الله تـعالی وایانـا ،وثـبتهم الله تـعالی وایـانـا علی صراط مستقیم. أمـین.

(۱) په یوه بله لیکنه کې چې محترم ډاکترابوالخیرپه اردو ژبه په کراچي کې د چارباغ دحضراتو کراموپه هکله لیکلی دی په هغه کې هم دانساب الانجاب په حواله دغه واقعه راغلې ده خوپه دې تفاوت سره چې هغه لیکي: حضرت خواجه محمدصـفی‌الله رحمه الله تعالی علیه په دغه سفرکې د خپل عمرپه وروستیوشپو کې خپل خاص خلیفه مخدوم محمدابراهیم رحـمه الله تعالی علیه ته وفرمایل چې زمونږدخاصو نسبتونوامین(ساتونکې)به زماترتولو وروکی فرزند میا عبدالباقی وي اود هغه په نوم یی مهرجوړکړ اودغه شعریې په مهرکې ولیکه اودغه بیت دحضرت قیوم جهان صاحب خپل شعردی، بیایې دغه مهرجناب مخدوم محمد ابراهیم رحـمه الله تـعالی علیه ته ورکړ اوورته یې وفرمایل چې ته به د هغه دعمر پسرلی ونه لیدلی شي مګرستازوی مخدوم محمدهاشم به دده له صحبت څخه برخمن شي اودغه امانت به بیا زمادغه جانشین میاعبدالباقی ته وسپا ري .

www.abulhasanalinadwi.org

دیوګل پاتې والي د ګل اوګلزار پای ښکاره کوي. دده جناب په هکله دغه کتاب ( تسلسل تجدید) لیکي: دی مبارک دډیروظاهري اوباطني فضلیتونوخاونداوارشادتخت دده دفیوضاتو په رڼاسره تازه و. دده مشرفرزنداوخلیفه جناب مولا ناومرشدناحضرت شمس المشائخ قدس سره دده مبارک دوفات نیټه په یوبیت کې راوړې ده :

نها دافسر فردوس را و رضوان گفت ــ مجد د ما ئه رابع عشر امد
۱۳۳۰ ه ق.

د تسلسل تجدید کتاب(۱) (۱۰۲مخ ) کې دده جناب وفات د ۱۲۸۵ه ق په شاوخواکې لیکلی دی، د شوربازار سویل خوا ته غر، چې کوه خواجه صفا یې بولي اوبالاکوه هم ورته ویل کیږي دلویې ادیرې په منځ کې چې دحضراتو کرامو ادیره ده هلته یې زیارت مبارک دی قدس سره. دده مبارک په زامنو کې چې ټول دعلم او ارشادخاوندان وو.

دویم فرزند اوخلیفه یې(سیدناومرشدناوعارف راه خدا ولي الله بالتحقیق حضرت خواجه غلام صدیق(قدس سره)دی چې علم یې له حضرت والدصاحب اودوخت له علماوو کرامورحمهم الله تعالی څخه زده کړ. اوددغه کتاب له وینا سره سم دسلوک پړاوونه یې دخپل مرشداو والد قدس سره په لارښوونه پای ته رسولي و اودوالدصاحب له وفات څخه وروسته دارشاد ګدی، ورباندې ښایسته شوه. ډیرمسلمانان یې له ارشادڅخه برخمن شول په خپل وخت کې یې دپرهیزګارۍ اومعرفت سارى نه و ټول عمریې بدن په مجاهده اوزړه یې په مشاهده کې و، په ۱۳۰۹ ه ق کې وفات شوی اودخپل مرشد او والد ترڅنګ یې زیارت دی .قدسنا الله تــعالی باسرارهم .

## حضرت خواجه غلام قیوم صاحب

(۱) چې دیوه معاصر لیکوال حضرت شاه اغا صدیق مجددي ډیر ښکلی تالیف دی.

www.abulhasanalinadwi.org

دده مبارک یوازینی فرزنداوخلیفه یې(سیدناومرشدناووسیلتناعندالله مجددمائةرابع العشر حضرت خواجه غلام قیوم (قدس الله سره) دی. دده مبارک ډیرعمر په ناروغتیاکې تیریده له دې سره سره یې دشریعت اوطریقت وظایفو دومره رعایت کاوه چې خلک به ورته حیران وو ده جناب یوڅه وخت دتبلیغ اوتدریس لپاره د هندوستان کاتیاوار نومي ځای ته تشریف وړی و هلته یې دشریعت اوطریقت په تبلیغ اوتطبیق څه وختونه تیرکړل او ډیرخلفای کرام رحمهم الله یې وروزل، په خپله یې بیرته کابل ته تشریف راوور، ددغو تورولیکونکې له جناب مولاناومرشدناحضرت ضیاء المشائخ قدس الله سره المکرم څخه دخواجه غلام قیومقدس الله سره په هکله داسې خبره اوریدلې ده ده جناب دغزني دشلګر دجان ابادکلی دملاصاحب رحمه الله تعالی په حواله وفرمایل ( یووخت جناب حضرت صاحب مجددمائة ۱۴ ه ق په مجلس کې وفرمایل :چې ځینې زړونه له کاڼي څخه هم سخت دي کاڼي ته چې صاحب دمعرفت په خاص نظروګوري هغه ماتیږي خوپه ځینو زړونواغیزنه کوي. په دې ترڅ کې یې په تاکې (طاقچه) کې یوې ایښودل شوې تیږې ته وکتل اوهغه تیږه ماته شوه) ددغه کرامت د ښکاره کیدواغیزبه یقینا په ډیرو زړونو پریوتلی وي ؛ ددغې خبرې داوریدلو ډیرکلونه وتلي دي خوپه ځینویادوکې پاتې ده. د تسلسل تجدیدلیکوال لیکي : دی جناب دنقشبندیي شریفې ښایسته کونکی اود مجددي لویي کورنۍ ویاړو، له ډیروښایسته خدمتونو وروسته چې داسلام لپاره یې وکړل د ۱۳۳۰ھ ق کال دشعبان په میاشت کې یې له فاني نړۍ سره خدای پاماني وکړه .[1]

جناب حضرت غلام صفدر مجددي رحمه الله تعالی چې په صوفی اغا مشهور و اودجناب حضرت مجدد مائة رابع العشر قدس سره زوم و دلوګر له حضراتو کرامو څخه و ،دده مبارک فرزند اوپه ځای ناست جناب حضرت غلام داود مجددي چې بابه جان اغا ورته ویل کیده عجیبه اخلاق اوتواضع یې لرل دغزني په ارزو کې دطریقې شریفې په خدمت بوخت و چې ظالمو کمونستانو له دوو زامنو حضرت رفیع الله مجددي اوحضرت ضیاء الله مجددي سره بوتلل. ددغې سریزې لیکونکې د جناب حضرت بابه جان اغا قدس سره په ملاقات په وار وار مشرف شوی و عجیبه اخلاق، عجیبه شفقت

---

[1]تسلسل تجدید ۱۰۳مخ.

www.abulhasanalinadwi.org

اوزږه سواندي ، عجيبه تواضع اومهرباني يې لرله. عجيبه شخصيت و " رحمهم الله تعالى. [1]دحضرت شهيد جناب رفيع الله جان مجددي يوه لور پاتې شوه. اوجناب شهيد حضرت ضياء الله جان مجددي واده نه وکړی.جزاه الله عن الإسلام والمسلمين خيراجزاه الله تعالى عن الإسلام والمسلمين خيرا.

## د حضرت خواجه غلام قيوم صاحب کورنۍ (دکابل حضرت صاحبان )

دده جناب(حضرت غلام قيوم صاحب ) درې زامن وو:

[۱] ـ جناب مولا نا ومرشدناحضرت ايشان خواجهشمس المشا يخ ( قدس سره ) .

[۲] ـ جناب مولانا ومرشدناحضرت خواجه نورالمشايخ ( قدس سره ) .

[۳] ـ جناب مولا ناومرشدنا حضرت ايشان خواجه اغای گل صاحب( قــد س سره).

دواړه مشران مکرمان دخپل مرشد او والدصاحب(قدس سره) په ژوند خلافت ته رسيدلي وو اومسلمانانو ته يې د طريقې مبارکې لارښوونه کوله مروج علوم يې له خپل والدصاحب ( قدس سره) [1] اوجناب شهيد پرهيزگار عالم او قاضي سيد عبدالرحمان صاحب يغماني قــد س سره څخه لوستلي وو[2] .

---

(۱) دحضرت بابه جان اغا نور زامن چې ژوندي دي ۱ -جناب حضرت صاحب وحيدالله جان مجددي چې الحمدلله دښه شخصيت او لوړو اخلاقو خاوند دی. داسلامي خدمت روحيه لري. ۲- صفی الله جان مجددي . ۳- ثناء الله جان مجددي . سلمهم الله تعالى ووفقهم لخدمة دينه على نهج ابائهم الكرام.

(۱) دجناب اغای گل صاحب ( قدس سره ) له رسالې " مختصر البيان " څخه چې د خپل استاد شهيد قاضي عبدالرحمن رحمه الله تعالى په هکله يې ليکلې ده .

www.abulhasanalinadwi.org

# حضرت شمس المشائخ فضل محمد مجددي رحمه الله

دحضرت قيوم جهان رحمه الله تعالى سجاده نشين امام رباني جناب( سلطان الأولياء زبدة الأ تقياء خلاصة العلما) شمس المشائخ فضل محمد رحمه الله تـعالى په کال۱۲۸۰ هـ ق کې زیږیدلي ، حضرت اغای ګل صاحب ( قدس سره ) د خپلې رسالې ( رهنمای طریق ) د د و م مخ په حاشیه کې په دې هکله لیکي:

"حضرت شمس المشا يـخ اولين فرزند حضرت والد ماجدم مجدد مائه رابع العشر مولانا غلام قيوم قـد س سره هستند نام شان فضل محمد ولقب شان شـمس الـمشايـخ ذا ت ولايت صفات شان ايتى بود از ايات خداوندى خلعت خلافت وارشاد را از وقت حضرت والد ماجد خود در بر كرده اند دروقت حيات شان به تربيت مسترشدين مشغول بوده اند.... احوالات و خوارق شان در رساله عليحده ودر ضمن سوانح عمرى من نوشته شده است [1] "

---

(۲) انساب الأنجاب د عمدة المقامات دمولف خواجه فضل الله فرزند اوځای ناستي شمس المعرفة واليقين بدرالملة والدين حضرت خواجه حاجي حافظ محمد حسن قدس سره تالف دی چې دعمدة المقامات دپوره کولو په نیت یې لیکلی دی ، اود۱۳۴۰هة درجب په ۲٦ د صوبه سیند په ټنډو سایندادکې یې پوره کړی دی اوملک فضل الدین او ... په خپل زیار د چاپ له نبتې پرته له لاهوره چاپ کړی دی .

(۱) له بده مرغه چې هغه رساله اوعمری سوانح په لاس نه راغلل خوجناب الحاج حضرت صاحب محمد هاشم جان اغا او وروریې جناب حضرت صاحب عبیدالله جان اغا چې پاکستان ته یې تشریف راوړی وو وعده وکړه چې په اینده کې به یې له بهرنه راوړو دوی دواړه دجناب حضرت صاحب اغای ګل "رح" زامن دي .سلمهم الله تعالى.

www.abulhasanalinadwi.org

"انساب الانجاب په (۱۰۴) مخ کي [۲] دحضرت مولا ناومرشدناشمس المشایخ په هکله لیکي : " حضرت فضل محمد نخستین فرزند سجاده نشین حضرت قیوم جهان رحمه الله تعالی بوده وجودمبارک ایشان به انواع فضایل از علم وعمل اراسته وازنسبت خاص مجددی بهره کامل یافته درین وقت بحمدالله مسندارشاد حضرات کرام بوجود مسعود شان واقع در دارالسلطنه کابل مزین است ... .

نـوموړی د ۴۳ کالو په عمرکال ۱۳۲۳هـ کـې وفات دوه زامـن یې شاته د حضرت عبداللطیف اوحضرت ثنای معصوم په نامه پریښودل جناب حضرت ثنای معصوم مجددی رحـمه الله تـعالی علیه چې حضرت میاجان اغابه ورته ویل کیده یوعجیبه متوکل شخص اودکلکې ارادی او ټینګ عزم خاوندو. وقاراوشهامت یې له ورایه په مبارک مخ کې خلیده. [۲] اودی دحضرت شمس المشائخ صاحب (قدس سره) مشر زوی و په کال ۱۳۴۹هـ دلاهورپه ښا ر کې وفات شو.

## حضرت نور المشایخ فضل عمر مجددي رحمه الله

نوموړی دشنبې په ورځ دجمادي الاول په۸ مه کال۱۳۰۲هـ دکابل د سوربارارپه سیمه کې زیږیدلی تذکره لیکونکی دده دشخصیت ستاینه په دې القابوکوي: "شیخ الإسلام والمسلمین قطب العارفین بر هان الولایة المحمد یة حجة الشریعة المصطفویة، القیوم الربانی صاحب القدرالبازخ سیدنا ومرشدنا ومولاناحضرت خواجه نور المشایخ قدس الله تعالی سره العزیز ".

---

(۲) جناب حضرت میاجان اغاقـد س سره دډیرو فاضلواومجاهدو زامنو والد و چې مشر یې جناب حضرت صاحب صبغت الله مجددي دام ظلـه دی، دی جناب دملی‌نجات د جبهې مشردی‌چې دشوروي خلاف په جهادکې یوجهادي اومنل شوی تنظیم و اوهم دی جناب ددغه جهادپه وروستیو کلونو کې دافغان عبوري دولت رئیس و اوبیادجهاد د بریالیتوب په وخت کې په ازاد افغانستان کې د اسلامي دولت لومړنی جمهور رئیس و سلمه الله .

www.abulhasanalinadwi.org

ده هم له خپل والدجناب حضرت مجددمائة رابع العشرقدس الله سره العزيز څخه دعلم اوطريقت اكتساب كړی و او دهغه مبارک په ژوندکي كمال ته رسيدلی اوخپل خليفه يې ټاكلی و. جناب خادم شريعت وطريقت حضرت اغای ګل صاحب دخپلی رسالي "رهنمای طريق" د پنځم مخ په حاشيه کي د حضرت مرشدنا و مولانانورالمشا يخ ( قدس سره ) په هکله ليکي: نورالمشائخ فرزنددوم والد ماجد من و خليفه دوم اوشان هستند اسم شان فضل عمر ولقب شان نـور المشايخ است مراتب سلوک را حسب تربيت والد ماجد طی کرده وازحضور اوشان به خلعت خلافت مخلع ګرديده درحيات شان به تربيت طالبين مشغول بودندوجودشان ازمغتنمات وقت بود قبل ازدوسال رحلت نمودند رحمه الله تعالی احوالات شان را در سوانح عمری نوشته .[1]

نوموړی کال۱۳۶۱ هـ ق دغزني په ولايت کي دنورالمدارس په نامه ديوې ديني مدرسې دبنسټ ډېره کېښوده چې په سونوعلماووپه کې علم حاصل کړ[1].لکه چې وايي

---

[1] جناب اغاي ګل صاحب قدس سره ليکي"....وعلاوه ازشغل باطن هم فراغت نداشتندبلكه اولا بحضورفيض نشور حضرت سيدناومولينا قدوة السالكين زبدة العارفين مجددماءة اربع العشر هادي امت خير البشر كاشف اسرار مكتوم مولينا الشيخ خواجه غلام قيوم نورالله ضريحه (اين ذات قدسي صفات والدماجد محرر عاجزهستند وبعض احوالات شان درضمن ترجمه احوال خودم مذكور است) شرف انابت وتلقين طريقت نقشبنديه را حائز ګرديد بعضي لطايف را بحضور شان كسب نمودند وبعد از وفات حضرت معزي اليه ازحضورمعرفت ظهورمولينا الامجد ولي الله الاحدمرجع الشيوخ والمشايخ شمس المشايخ المجا هد في سبيل الله الصمد مولينا الحاج خواجه فضل محمد طاب الله ثراه برادر عيني محرر عاجز تجديد تلقين نموده سالک مسالک سلوک ګرديد ندومورد الطاف بيكران حضرت ايشان بودند زيراحضرت شمس المشايخ صاحب مرحوم وحضرت نورالمشايخ صاحب اطال الله بقاء هم هردونفر تلميذ ظاهري مولينا شهيد بودند وبنا برحق استادي انقدرعزيز وګرامي بودند كه درمسترشدين طريقه عاليه بلكي دراقوام وبني اعمام حضرات شخصر ديكري برتبه شان نميرسيد وبدرجه حرمت استادخودها را داشتند ودارندكه درحيز تحرير نمي ګنجد . مختصر البيان

(۱) ددغې سريزې ليكونكی هم دعلم اوسرېتوب په دغه بختوره زانګو کې روزل شوی . د ۱۳۴۲ لمريز كال د وري په مياشت کې له شهيد مولوی صاحب نصرالله منصور رحمه الله تعالی او نورو

www.abulhasanalinadwi.org

اساس مدرسهءعلم ودین به غزنه گذاشت=گزان برامده بسیارعالم و فاضل [۲]

شاه اغامجددي وفقه الله تعالیدحضرت مولا ناومرشدنانـورالمشایخ په هکله لیکي :"

پیشوای راستین مقتدای راه دین قطب عالم روحانی معدن حکمت ربانی عارف یزدانی جانشین امام ربانی حضرت فضل عمر نورالمشایخ مجددی حضرت شان فرزند قیوم "رح " بوده روز شنبه ۸ جمادی الأول سال ۱۳۰۲ هـ ش درشهرزیبای کابل پابه عرصه ء وحود گذاشت. قسمتی ازعلوم را نزدحضرت والدخودوقسمتی راهم نزدعلمای مشهور کشور(۱) به پایان رسانیده بهره ء کلی یافتند . ضمنا کسب سلسله ء عالیه ء نقشبندیه راازحضرت والدخود وبرادر بزرگ‌خودحضرت شمس المشایخ (رح) نموده صاحب شان عظیم گردیدند(۱) . حضرت شان صدق وهمت عالی داشته وریاضت کامل میکشیدند ،درورع وتقوی وزهد وعبادت قدمی راسخ و دراصول طریقت ۲) وفروع شریعت نظری نافذداشتنددرعلم تفسیروحقایق ان احادیث، دوم حضرت غلام طریقه عالیه نقشبندیه ازمعارف بلند شان اب و رنگ تازه یافت بالاخره این شخصیت ارجمند اسلام بتاریخ ۲۴محرم۱۳۷٦هـ به ع وداع گفته برحمت حق پیوست ودرجوار مسجد و خانقاه مجددیه واقع قلعه جواد کابل بخاک سپاریده شد .[۱]

---

فاضلانو سره یوځای یې هلته داخله کړې اود ۱۳۴۷ لمریزکال د لړم په میاشت کې په ممتازه اولومړی درجه فارغ شوی . ولله الحمد علی ذلک.

(۲)دغه بیت له هغې اوږدې مرثیه قصیدې څخه یو دی چې دده د مرقد مبارک د مرمر په تخته باندې حک شوی دی اودهیواد وتلی شا عـر ( محمد ابراهیم خلیل مرحوم ) له اشعارو څخه دی.

(۱) جناب حضرت سیدنا ومرشدنا الکامل المکمل ووسیلتنا عندالله مولا نا ضیاء المشایخ قدس الله تعالی سره المکرم دخپل والداومرشدپه گدی ناست اوخلیفه دهغه مبارک دوفات دغمجنې پینې په ورځ دخپلې عربي خطابې یوه برخه کې چې دده په وروکې رساله "اشک غم" کې چاپ شوې ده، دده جناب په هنوکړو ویناگانوکې چې دهند داحمداباد داسلامي پوهنتون محصلینو اواستادانوته یې کړې ده اوهغه چې دلاهور پوهنتون محصلینو اواستادانوته یې کړې ده اوهغه چې دفلسطین دپیښې په هکله یې کړې ده اوهغه چې داسلامي نړۍ د یووالي په هکله یې کړې ده اوهغه چې دنورالمدارس ددوم درسي کال دپیل په مناسبت یې کړې

www.abulhasanalinadwi.org

حضرت نورالمشایخ پیشوای سالکان = زبده ءال مجدد مرشد صاحب قران

در نبرد کفر شمشیری زتوحیدش بکف = در جهاد نفس خفتانی ز اخلاقش بجان[1]

جناب حضرت خواجه مولانا ومرشدنا نورالمشائخ صاحب ( قدس سره ) په دوو زامنو کې مشر، جناب حضرت صدر المشائخ " اغای شیرین"صاحب (قدس سره)و چې د علم او سلوک زده کړه يې له خپل والد اومرشد (قدس سره ) څخه کړې وه او دطریقې شریفې د تلقین اوتعلیم اجازه ورته شوې وه دخپل مرشد او والد صاحب له وفات نه وروسته چې د وخت د حاکمانو له ناروا کارونو څخه يې کرکه لرله هیواد يې پرېښود او د پاکستان د

ده ترټولومهمه هغه چې دهیواد د استقلال دجهادپه پیل کې يې دلويې پکتیا قامونوته يې دزرمت دحضرت روحاني باباپه زيارت کې اوروليي ده دا واره دده جناب قدس سره داسلامي فراست اوسیاسي تجربې اوپوهې څرګندويې کوي اودا واره په "اشک غم" کې چاپ شوي دی. همداڅیردنوموري هغه وينا وې چې دافغانستان داستقلال په اړه يې دروحاني باباپه زیارت کې يې دلويې پکتیایوزیات شمیرمجاهدینو ته دشعبان په ۱۱مه نیته کال۱۳۳۷ه کې کړې ده همداڅیردده جناب د هغې وینا عربي متن چې د فلسطین له مسلمانانو سره د همدردي په بنیادیې په کال ۱۳۲۷ ه کې کړې اودده جناب دهغې وینا فارسي متن چې د دویم نړیوال جنګ کې دافغانستان دبې طرفي په ساتنه کې په لویه جرګه کې چې دده په مشرتوب کال۱۳۲۰هـ کې دایره شوی،کړې په اشک غم کې راغلي ده.

باچا امان الله کله چې له اروپانه راستون شو اودپرنګیانو دود اودستوريې له خانه سره راوړل او غوښتل يې چې په مسلمانو افغانانويې په زور وتپي نوجناب حضرت میاجان اغا دخپل کاکا جناب حضرت اغای ګل صاحب قدس سرهما اود نورو مجاهدو اوشهیدو علماوو کرامو تر څنګ د مبارزې ډګر ته را ووتل اومسلمان ملت يې ددغه ارتداد او انحراف په ضد پاڅون ته وهڅاوه. هغه و چې ډیرعلمای کرام رحمهم الله تعالی علیهم يې شهیدان کړل اوجنابان حضرت اغای ګل صاحب اوحضرت میاجان اغا صاحب رحمهما الله تعالی يې بندیان کړل اواعدام حکم يې وړباندې وکړخوچې کله باچاامان الله دپاڅون په مقابل کې ماتې و خوړه اوتیښتې ته اړشونودوی‌ته الله تعالی نجات ورکړ.

(۱) دغه دواړه بیتونه هم له هغې اوږدې مرثیه قصیدې څخه دي چې دهیواد د نامتوشاعر (دعلامه صلاح الدین سلجوقي رح ) له اشعارو څخه دي اودده دمبارک قبر د مرمرو په تخته لیکل شوي دي

www.abulhasanalinadwi.org

لاهور په ښارکې یې دطریقې شریفې د منسوبینو پالنه کوله او په ۱۳۹۳ ق ه کې هلته وفات شو جنازه یې کابل ته راولیږدوله شوه او د خپل مرشد اووالدصاحب په خواکې خاوروته وسپارل شو رحمه الله تعالی. دده زامن جناب حضرت فضل علي اغا رحمه الله او جناب حضرت فضل الرحمن " امیر جان"اغا رحمه الله دواړه ډیر خواخوږي اونیک بزرګواران وو چې دهجرت او جهاد په وخت کې یې دمهاجرینو ،په تیره بیادخپلو مشرانو دخانقاه شریفې خدمت ته شپه او ورځ یوه کړې وه رحمهما الله تعالی نور تفصیل د حضرت صاحب شاه اغا صدیق په رساله "تسلسل تجدید"وګورئ.(۱)

## [۲] ـ حضرت ضیاء المشائخ محمد ابراهیم مجددي

دجناب حضرت خواجه مولانا ومرشدنا نور المشائخ صاحب (قدس سره) دوم فرزند اوپه ګدی (سجاده) ناست خلیفه او جانشین جناب حضرت مولانا و مرشدنا ضیاء المشائخ محمد ابراهیم المجددي و چې ابن عمر یې تخلص و، کال۱۳۲۰ ه په کابل کې زیږیدلی، دیني زده کړې یې دهیواد له نامتو عالم مولوی صاحب یارمحمد خخه سرته رسولې وې په خپل وخت کې دافغانستان، پاکستان، هنداودسیمې د هیوادونو د حضراتوکرامود غونډیدلو ځای ، دستونزو دهوارولو او نیکو مشورو مرجع و.

ددوی تقوی ، هوښیاري ، علمي او روحاني ستر مقام او معنوي هیبت په ټولنه او سیمه ستر اغیز درلود، دطریقې شریفې د لارویانو په سالمه روزنه کې یې ستر معنوي خواک او لوی لاس لاره، دهیواد، ګاونډیو اولرې پرتو هیوادونو د تصوف او طریقت مینان به دپتنګانو په څیر ورباندې راتوییدل او هر مابښام به په لس ګونو او شل ګونو کسان دتلقین، توجه اوسبق بدلولو لپاره دحجرې مخې ته ورته پنډ وو، لکه څنګه چې دنارینه وو لپاره د باندې پوره بندوبست و دزنانه وو لپاره هم په کور کې دننه د پردې،

---

(۱) تسلسل تجدید (۱۱۵) مخ

www.abulhasanalinadwi.org

خوراک، څښاک انتظام شوی و، دخاصومیلمنولپاره یې خانګړی میلمستون درلود چې هلته به دوی پخپله د ورځې اوهم دشپې میلمنو ته تشریف وووړ، او عام میلمانه به د خانقاه شریفې په سراچه کې اوسیدل، دوی جناب به له خاصو او عامو میلمنو سره د سترې مشې اوروغ بړ په وخت کې د سیمې د علماوو کرامو، مشایخو کرامو او نورو مخورو مسلمانانو دحال او احوال پوښتنه کوله، له شیعه خلکو سره به یې ښه رویه کوله او نورو ته به یې هم په دې خبره توصیه کوله.

ددوی ذاتې علمې زیرمه اوتېزه حافظه هرچاته د حیرانتیا وړ وه : زماپه یاد دې چې یوه ورځ یې په مجلس کې د قطبې دخطبې عبارتونه چې په یادو یې یاد و تردېره ځایه ولوستل، په تیره بیا هغه وخت چې زه ( دسریزې لیکونکی ) په نور المدارس کې نوی داخل شوی وم(او له ۱۳۴۲هـ ل نه تر ۱۳۴۷ هـ ل پورې هلته وم ) اود مدرسې سرپرستې ددوی په غاړه وه د سترو علماوو اوفقهاوو کرامو په غونډه کې به دعلمې مسائلو په څېړنه اوکړکیچنو موضوعاتو په حل کې ددوی علمې لوړ استعداد، حافظې اود فهم چټکوالې ته هرڅوک حیران او ګوته په غاښ وو.

دوی دخپل علمې اهتمام او لیوالتیا له امله دطریقې شریفې د بزرګانو تالیفات لکه عمدة المقامات، اورادبهائیه، مخزن الاسرار اونوردېرپه خپل لګښت چاپ او توزیع کړل اوهم یې دخپل والد اومرشد(قدس سره) سوانح د (اشک غم) او (معارف نورالمشائخ) په نومونو پخپله تالیف کړي دي، د یادولو وړده چې د"نفیس علمې ټولنه " ددغو دواړو رسالو دبیا خپرولو نیت لري.

ددوی دعلمې اوله وخت سره دسمو تقریرونوکسټونه به په هیواداو سیمه کې مسلمانانو لاس په لاس ګرځول اوپه ډېره مینه به یې اوریدل، دوی به د مدرسې پالنې لپاره کله ناکله له ټاکلې نیټې پرته غزنې نه له خانقاه( قلعه جواد )څخه مدرسې ته تشریف راووړ ، زماپه یاد دې چې یوه ورځ د درسې ساعت په وخت کې زمونږ صنف ته راغې اود دروازې پلو ته په زاړه ټغر یا درۍ بې تکلفه کیناست: هغه وخت به درس په زمکه ویل کیده ، زمونږ درسې مضمون " تاریخ الخلفاء" و، په نورو پوښتونو برسیره دوی جناب د خلفاو راشدینو﷡ دمحبت خبره یاده کړه، دنورو ملګرو له منځه

www.abulhasanalinadwi.org

مادخپل استاذ صاحب(شهید مولوی صاحب عبدالغفار چې دخدو خیلو دملاصاحب لمسی و) په اجازه ورته عرض وکړ چې : (.. ددوی ﷺ محبت دایمان ټوک دی ...) دا خواب په دوی جناب ډیر خوږ ولګیده اوبې اختیاره یې په زوره الله اکبر، بارک الله کلمات وویل او څوواره یې تکرار کړل.

په هیواد اوسیمه کې د وخت حکومتونو به په ځاکې چې دعقیدې او نفاق فساد نه و؛ دزړه له کومې اطاعت او احترام یې کاوه ؛ددوی جناب هره هڅه اواندیښنه د اسلامي عقیدې او عمل ښیرازي، داسلامي نړۍ یووالی، فکري ازادي او سمسورتیا، اوله الحاد او انحراف څخه د مسلمانانو ساتنې لپاره وه ؛ زه اوس له اغراق اومبالغې پرته وایم چې: ددوی جناب د جامع الجوانب شخصیت اړخونو څیړنه، نه زه اونه بل څوک "چې ددوی جناب شخصیت یې پوره پیژندلی وي" پوره کولای شي اوکه ملا ورته هم وتړي بیا به هم ددوی جناب دپوره حق اداکولو په بې وسې به یې ترپایه پوخ یقین وي ، څکه دداسې مبارک شخصیت د نیکو صفاتو پوره یادونه او وضاحت به څوک څرنګه وکړای شي چې دده والدصاحب مربې او مرشد( قدس سره ) به په دې لوړه کوله چې: " ... ابراهیم جان کبیره ګناه نه ده کړې ... " که څه هم زه د هغه (والدصاحب) جناب په لیدلو مشرف شوی نه یم خو داخبره ما دنورالمدارس له استاذانو کرامو څخه "رحمهم الله تعالی " په وار وار اوریدلې ده، د الله تعالیٰ ﷻ په بندګانو کې عصمت یوازې انبیاوو اوملایکو ته ثابت دی "علیهم السلام " مګر هغه جناب دغه خبره په اټکل او تخمین سره نه کوله بلکې دجناب ضیاءالمشائخ(قدس سره) ژوند له وړوکتوبه بیاترهغه وخته پورې دده دجناب والد اومرشد (قدس سره) تر سترګو لاندې تیر شوی او لوی شوی و اوترخپل څار او کتنې لاندې یې روزلی او کمال ته رسولی و، ان تردې پورې چې جناب حضرت ضیاء المشائخ صاحب ( قدس سره ) به دشپې هم دتهجد داوداسه او نورخدمت لپاره دجناب والد اومرشد صاحب په خونه کې استراحت کاوه ؛

تردې خبرې هغه کیسه هم رایاده شوه چې دحضرت ضیاءالمشائخ صاحب (قدس سره) د یومخلص اوخادم جناب خواجه محمد نعیم(صدیق)صاحب له خولې نه دنفیس ټولنې یوه غړي محمد اکرم نعماني را لیکلې وه: خواجه صاحب وایې چې: ( جناب

www.abulhasanalinadwi.org

حضرت ضياء المشائخ ( قدس سره ) فرمايل چې: يو وخت د افغانستان د مشهور مجذوب " جناب بابا خال محمد رحمه الله " ترڅنګ زه اوزما يو بل ملګرى تيريدو، زماملګري راته وويل چې داګوره مشر سړى دى اولوڅ ګرځي او دايو غيرشرعي عمل دى، ماهم دهغه خبره تاييدکړه کله چې کورته ولاړم نود شپې مې خوب ليده چې دجناب حضرت مجدد رحمه الله تعالى زيارت ته ورغلم اوله هغه سره دهغه کين اړخ ته دده دوه زامن شاه محمدسعيد اوخواجه محمدمعصوم قدس سرهما ناست دي، زه ورغلم اودحضرت مجددصاحب ښي اړخ ته کيناستم اوډيره مينه يې راسره وکړه، په همدې وخت کې مې ليدل چې يوسړى د افغانستان د جنرالانو په ډيره ښايسته دريشي کې راغى، ماچې په څيرڅير ورته کتل نودا سړى"بابا خال محمد" و، جناب مجدد صاحب ته يې سلام واچاوه له احوال پوښتنې څخه وروسته يې ورته وويل چې خيريت ده ولې راغلى يې ؟ نو " بابا خال محمد" ورته وويل چې خيريت ده نورهيڅ خبره نشته خو ستادغه لمسيان مابې ځايه څوروي اوزما طرف ته يې اشاره وکړه، مجدد صاحب زه په خپل غيږ کې ورخملوله اوزما غوږ يې تاو کړ، دومره يې تاو کړ چې غوږ مې درد وکړ اوچې کله په همدغه وخت کې د غوږ له درده راويښ شوم نوغوږ مې ګرم وو اودرد يې هم کاوه په همدغه وخت کې جناب والدماجد حضرت نورالمشائخ صاحب قدس سره؛ هم راباندې غږ وکړ: ابراهيم جانه! ما ورته وويل: بلې ! قربان نو راته يې وويل: بياچې چاته بې ځايه تکليف ورنکړې .

پته دې نه وي، دحضرت ضياء المشائخ صاحب( قدس سره ) دا معمول و چې جناب حضرت نورالمشائخ صاحب (قدس سره ) ته به يې دشپې دلمانځه لپاره د اوداسه اوبه تيارولې هغه به چې غږ وکړ چې (( ابراهيم جان )) نوده به سمدستي ورته اوبه وروړې، حضرت صاحب وايي چې ماکله دغه خوب ليده نو دا دمشرحضرت صاحب دلمانځه وخت و، دمعمول له مخې مې فکر کاوه چې دى به اوبه غواړي ، خوخبره نوره وه ... (فاعتبروا ياأولي الابصار)له دې خوب څخه په حضرت امام مجدد صاحب (قدس سره ) دجناب ضياءالمشائخ صاحب(قدس سره)دګرانښت اوولايت لوړه درجه هم څرګنديږي

نه حسنش غايتي دارد نه سعدي راسخن پايان

www.abulhasanalinadwi.org

بميرد تـشـنه مــسـتـسقـي و.دريا همــچنان باقــي

## [۳] ـ حضرت اغای ګل قدس سره

دحضرت مرشدنا ومولينا مجدد مائة رابع العشر قدس سره دريم فرزندجناب خادم شريعت و طريقت حضرت اغای ګل صاحب قدس سره دی ، دی هغه خوک ډی چې ګټور علمي ميراث يې راته پري ايښی دی يعني دده مبارک دوه رسالې " رهنمای طريق " او " مختصر البيان " او نورې ګټورې ليکنې په " سوانح عمري " اونورو يادښتونوکې يې هم کړې دي چې تراوسه پورې چاپ شوي نه دي " دنفيس علمي ټولنه هوډ لرې چې په لاس يې راوړې اوچاپ يې کړي"

مونږمخکې ددوی دمشرانوبزرګانو په هکله ددوی‌جناب له نومورو رسالوڅخه ډيرڅه راواخيستل، دوی جناب د " رهنمای طريق " په سريزه کې دځان په هکله پوره معلومات ليکلي دي چې دلته يې بياليکلوته اړتيا نه وينو، برسيره په دې مبارکه رساله کې دوی دتصوف او طريقت په هکله داسې چاپ کړی اومستندمعلومات راغونډکړي دې چې داوس وخت له غوښتنو سره سم ډير ګاخه، جامع اولند دې اوهيڅ يې پټ نه دې پرېښې ، جزاه الله تعالی خيرا عنا وعن جميع من كان في طلب ذكره تعالی ومعرفته بالطريق الموروث من اوليائه سبحانه.

څه موده مخکې ددوی جناب يوه مشرفرزند جناب حضرت صاحب هاشم جان اغا او کشر ورور يې جناب حضرت صاحب ډاکټر عبيدالله جان اغا دحضرت صاحب امين جان اغا کور " اسلام اباد " ته تشريف راوړی وو اود نفيس علمي ټولنې مشر محترم مفتي حبيب الله صاحب د معلوماتو اخستلو لپاره اسلام اباد ته ورغلی و او دغه لنډ معلومات يې ورڅخه اخيستې و :

" دحضرت منة رابع العشر قدس سره په ژوندکې دجناب والدصاحب قدس سره تر روزنې لاندې و له هغه نه وروسته په ۱۵ کلنی کې جناب حضرت شمس المشائخ صاحب

www.abulhasanalinadwi.org

قدس سره تر روحي روزنې لاندې و ترهغوچې خلافت ته ورسيده ، ديني علوم يې له جناب شهيد قاضي عبدالرحمن صاحب څخه ولوستل چې دتميز په محکمه کې به يې درس ورته وايه، جناب قاضي صاحب به ورته ويل چې " حضرت کيدل اسانه دي مګر ملا کيدل سخت دي " ، جناب قاضي صاحب به ورته ويل چې د درس کتابونه به پخپله راوړې نه په خادمانو او مريدانو باندې.

جناب نورالمشائخ صاحب د نادرخان په وخت کې له بهر نه راغلی و، نادرخان عدليه وزارت دوی جناب ته وسپاره، دوی جناب نه کاوه، نادرخان ورته وويل چې که تاسې مرسته اوهمکاری ونکړئ نوزه ددولت کارونه په چا وکړم؟ بیاجناب حضرت صاحب يواځې د شپږو مياشتو لپاره دغه وزارت ومانه، په نادرخان يې شرط کیښود چې دغه وزارت ته به دکارلانځه زه جوړوم اوبل داچې که ستازوی‌محمدظاهرمحکمې ته حاضرول وغواړم نوبيابه داخبره عملي کيږي، نادرخان دواړه خبرې ومنلې دوی جناب شپږ مياشتې هغه وعده پوره کړه بيايې حضرت فضل احمد صاحب ته عدليه وزارت وسپاره. په هغه وخت کې جناب والدصاحب ديرش کلن زلمی و ، نادر خان ددوی له انقلابي روحيې څخه په اندیښنه کې و ددغې اندیښنې په بنسټ يې مصر ته په ۱۳۰۸ هـ ل ـ کال کې د سفير په توګه واستاوه، په مصرکې دوی جناب د افغانستان لومړنی سفير و چې هلته يې پنځه کاله دغه دنده ترسره کړه، جناب والدصاحب وفرمايل چې زه په فقه او تفسير کې ښه وم اوپه علم حديث کې کمزوری وم، دالازهرله شيخ څخه مې دحديثودتکړه استاذانو پوښتنه وکړه هغه راته دوه علمائ کرام په ګوته کړل، يوشيخ سلماوتي چې په عباسي رواق کې به يې دسحرله لمانځه نه وروسته دحديثو درس ورکاوه، دوی جناب به سهار وختي د درس اخستلو لپاره الازهر ته ورته. بياچې دوی له مصر څخه سعودي عربستان ته د سفير په توګه واستول شو څلورکاله هلته سفير و، په مدينه منوره کې يې دافريقي د موريتانيا له مشهور محدث شيخ " شنقيطي " څخه چې اولاده يې اوس هم محدثين دي اوپه حرم شريف کې درس ورکوي دحديثو د درس اجازه ترلاسه کړه. بيا دوی جناب ته دمصر او سعودي د سفارت دواړه دندې په يوه وخت وسپارلی شوې چې تر لس کاله زياته موده يې دواړه دندې پرمخ بوتلې.

www.abulhasanalinadwi.org

دوی چې کله له مصر څخه سعودي ته تشریف راووړ نو زه (محمد هاشم جان) اوزمادوه مشران ورونه "حضرت صاحب جان اغا او"حضرت صاحب شعیب جان اغا" چې دقاهرې په دارالعلوم کې مو زده کړه کوله ټول یې له ځان سره سعودي ته راوستلو، دوی جناب د مصر له بې کچه ازادۍ څخه زمونږ په هکله اندیښنه لرله او فرمایل یې چې زه په سعودي کې دتنهايي ستونزي نه لرم خودتاسې په مصرکې یوازې پریښودل نه غواړم، هغه وخت په مصرکې عبدالهادي داوي سفیر و. په سعودي کې ددوی دسفارت په وخت کې باچا"عبدالعزیز" ژوندی و او"ملک فیصل" ولي عهد و، ملک فیصل هغه وخت دوی جناب اوددوی اولادته دتابعیت تذکرې ورکړې. جناب والدصاحب د رابطهء عالم اسلامي اواسلامي کانفرنس په تاسیس کې له ملک فیصل سره مرسته کوله او مشورې یې ورکولې نوځکه یې په موسسینو کې لوړ ځای درلود رحمه الله تعالی.

زمونږ مشر ورور محمد هارون " درد یار " رحمه الله تعالی چې په ۱۳۳۵ ه ق ـ کال په کابل کې زیږیدلی و۱۳۴۴ه دقاهرې ته ولاړاود هغه ځای له دارالعلوم څخه یې دعربي لغت لیسانس واخیست بیا یې د اسلامي حرکت " الاخوان المسلمون "کې داخل اوددغه غورځنګ ډیرکتابونه له عربي څخه په سني ایرانیانو باندې په فارسي وژباړل اوماته به یې کابل ته را استول هغه وخت زما دنده دتعلیم او تربیې په وزارت کې وه هلته مې بیاپه مسلمانو محصلینو ویشل. هارون جان اغا " رح " جمال ناصر په خپل وخت کې درې ځله بندي کړ په کال ۱۳۴۸ه له مصرڅخه وایستل شو اولبنان ته ولاړ، کله چې له ناصرڅخه وروسته انورالسادات عمومي بښنه اعلان کړه بیرته مصر ته ولاړ اوهلته یې ژوند کاوه، باالاخره په یوه ترافیکي پیښه کې دمحرم دمیاشتې د ۲۴ په شپه کال ۱۴۰۶ دیو ۷۱ کالو په عمرشهیدشو له اوس نه څوارلس کاله مخکې په ترافیکي پیښه کې په ٦٩ کلنۍ کې شهید شو رحمه الله تعالی، دده مشر زوی حضرت محمد فاروق په خوانۍ کې دده په ژوندکې وفات شو اودفاروق جان دوه خورګانې په مصریانو واده شوي. نور تفصیل به له جناب حضرت شاه اغاصدیق "مجددي " د تسلسل تجدید" له مولف صاحب څخه په دري ژبه واورو.

www.abulhasanalinadwi.org

حضرت محمد صادق مجددي عرف اقای گل فرزند سوم حضرت غلام قیوم " رح" بوده تحصیل علوم را ازوالد بزرگوار خود وقاضي عبدالرحمن شهید یغماني نموده وباکسب سلوک از برادر بزرگ خود حضرت فضل محمد شمس المشائخ " رح" بهرهء کلی یافته وصاحب کمال گردیده. حضرت شان درورع وتقوی وفتوت به نهایت رسیده بودند، درعلم تفسیر وحقائق ان ، احادیث، قرائت ومسائل ان علم بیان ولطایف ان کمال بینظیر داشتند. درفراست وسیاست یگانهء عصر بودند. وبعد از وفات پیر بزرگوارش حضرت شمس المشائخ "رح" وهجرت حضرت نورالمشائخ "رح" درکابل به ارشادخلق الله موظف گردیدند وبه تربیهء علماء پرداختند.......

حضرت محمدصادق اواخر عمر خودرا درجوار بیت الله وزیارت حضرت رسول اکرم ﷺ گذشتاند وتصانیف زیادی دارند که مشهورترین انها عبارت از اصول طریقهء نقشبندیه ، اداب مرید ، شرح ثلاثیات بخاری ومختصرالبیان درتاریخ شهید علم وایمان میباشند.....بالاخره پس ازعالمی خدمت به جهان اسلام در سال ۱۳۵۴هگ جهان فاني را وداع گفتنه به لقاءالله پیوشت ودر جنت البقیع مدفون گردید. هفت فرزندداشت مسمی به حضرات محمدموسی- مجددی که درطفلی وفات نموده، محمدهارون، محمدهاشم، محمدموسی ثانی، محمدشعیب، محمد صالح، عبدالله و عبیدالله.

[۲] - حضرت محمدهاشم مجددی فرزنددوم حضرت محمدصادق "رح" درسال ۱۳۰۱ هگ ش - چشم به جهان کشود وتحصیلات خودرا تادرجهء تخصص درپوهنتون الا زهر مصر به پایان رسانید ودرسال ۱۳۲۴ هـ - جهت خدمت به هموطنانش به کشور عودت نمود ودرپستهای ذیل ایفای وظیفه نموده است: عضوریاست تعلیم وتربیه، مسئول مدارس دینی، مدیرلیسهء حبیبیه ، رئیس فاکولتهء حقوق و رئیس پوهنتون کابل ، معاون ریاست دارالتالیف وترجمه ، معاون ریاست تدریسات مسلکی، مشاور ریاست محاکمات مامورین صدارت، عضو کمیتهء تسوید قانون اساسی ، عضولؤیه جرگه، عضو ورئیس انجمن قوانین مشرانو جرگه.

www.abulhasanalinadwi.org

......حضرت شان هجرت اختیار نموده وعازم عربستان سعودی گردیده درجامعه ملک عبدالعزیز به حیث استادعلوم اسلامی توظیف گردید وپس از کودتای منحوس " ثور" به پاکستان تشریف اوردند وهمچو برادر بزرگ شان در راه اتحاد و انسجام مجاهدین وتنظیمهای جهادی سعی بلیغی به خرچ دادند......وفعلا به عمر٦٦ سالگی الحمدلله حیات داشته عضویت موتمرقدس، عضویت مجلس عالی بین المللی اسلامی وعضویت هیئات اجرائیه موتمرعالم اسلام درکراچی را بدوش دارند.

حضرت شان صاحب دو فرزند هستند بنامهای محمدعاصم ومحمد قاسم . محمدعاصم مجددی شخص بافهم وفراست بوده نظربه لیاقت ودرایت شان در اوسط سلهای جهادبه صفت مسئول "رادیوی افغانستان ازاد" تعیین ودر راه انتشارحقایق جهاد رول شایسته را بازی نمودند ویک فرزند دارد بنام محمدحاتم مجددی. محمد قاسم مجددی درسال ۱۳۳۳ هگ ش - درکابل متولدگردیده تعلیمات ابتدائی وعالی را درلیسهء غازی به پایان رسانیده ونظر به لیاقت شان شامل انستیتوت ادارهء صنعت گردیده وبا رویکار امدن حکومت کمونیستی تحصیل علم را رها وجهت شرکت در سنگرهای جهادی به پاکستان هجرت نموده وبرعلاوهء پیشبرد امور جهاد به تحصیل علم نیز پرداخته وشامل پوهنتون انجینیری وتکنالوجی لاهور گردیده ........

[۳] - حضرت محمد موسی مجددی فرزندسوم حضرت محمدصادق " رح" سه فرزند دارد بنامهای محمدخالد مجددی، محمدحسن مجددی ومحمدعلی مجددی که ازجمله محمدخالد مجددی یک فرزند دارد بنام مهمند مجددی.

[۴] - حضرت محمدشعیب مجددی فرزند چهارم حضرت محمدصادق مجددی "رح" سه فرزند دارد بنامهای محمدسلیمان مجددی، محمدصادق مجددی و اسامه مجددی که ازجمله محمدصادق مجددی دو فرزند دارد بنامهای محمد عمر مجددی و محمد فیصل مجددی.

www.abulhasanalinadwi.org

[۵] ـ حضرت محمدصالح مجددی فرزندپنجم حضرت محمدصادق " رح " که توسط یکعده اوباش بدسیسهء حکومت وقت بشهادت رسیده؛ دو فرزند دارد بنامهای فضل غنی مجددی ومحمد طارق مجددی. فضل غنی مجددی دو فرزند دارد بنامهای محمد سلمان مجددی و محمد مروان مجددی.

[٦] ـ حضرت عبدالله مجددی فرزند ششم حضرت محمد صادق " رح" که در رشتهء طب در کشور المان تحصیلات خودرابه پایان رسانیده وتاسیس فابریکه هوخست در کابل از خدمات برجستهء حضرت شان به کشور ماست یک فرزند دارد بنام اسامه مجددی.

[۷] ـ حضرت عبیدالله فرزند هفتم حضرت محمدصادق "رح" نیز تحصیلات خودرا در رشتهء طب در المان به پایان رسانیده درتاسیس دفتر یونین اید که یک موسسه فعال کمک رسانی به مهاجرین افغان در عصر جهاد بود فعالیت شایانی نموده . سه فرزند دارد بنامهای محمد بلال مجددی، محمد زید مجددی ومحمد سالم مجددی که از جمله محمد بلال مجددی یک فرزنددارد مسمی به محمد هارون مجددی.

## [۴] ـ حضرت محمداسمعیل سرهندي مجددي

دجناب حضرت ضیاء المشائخ صاحب مشرفرزند او بالقوه جانشین چې کټ مټ خپل والد اومرشدصاحب ته ورته و؛ جناب حضرت خواجه ابواحمد محمد اسماعیل مجددي و،نوموړی‌په ۱۳۲۰ ھ کې په کابل کې زیږیدلی، دیني زده کړې یې دهیواد له نامتو عالم مولویصاحب سلطان جان اودکابل په دارالعلوم کې سرته رسولې وې، دده جسدي جوړښت اوځیره مبارکه کټ مټ لکه دخپل والد صاحب داسې وه، ددوی دواړو ظاهري ښایست، شرعي ښه اوشرعي لباس ښیخي خانګړی مظهر او منظر و چې لیدونکي به ورته حیران وو. حاجي صاحب عبدالباري ته ( چې ددوی کرامو له مخلصینو څخه

www.abulhasanalinadwi.org

دی ) دسوريي يوه عالم ويلي و چي: "مابه نړۍ کې ډيرمتشرع مشائخ عظام اوعلمای کرام ليدلي دي خودکابل دحضراتو په ښايسته صورت اونيک سيرت مې هيڅوک نه دي ليدلي"، رښتيا هم چاچې ذوی ليدلي دي هغه ددې خبرې تاييد کوي .

ددوی کرامو حال حضرت صاحب شاه اغا (صديق ) په"تسلسل تجديد"کې په دري ژبه داسې بيانوي :

حضرت محمد ابراهيم مجددي عرف شير پادشاه ملقب به ضياء المشائخ فرزند دوم حضرت مولانا نورالمشائخ " رح" اکتساب علوم را از مولوي يارمحمد که از علماي مشهور کشور بود حاصل و طريقت را از حضرت والد خود حاصل نموده واز طرف ايشان به ارشاد خلق الله توظيف گرديدند. جناب شان سجاده نشين والد بزرگوار خود نيز بوده وبعد از وفات ايشان وظايف ومسئوليتهای خطير شانرا بدوش گرفتند:

سـرانجام وپس از تسـخـير کابـل - بـد ست نـا امـينان شـد چپاول

بزنـــــدان رفت و م سرنوشتش ـ شـنيدم حق خواند سوی بهشتش

مرا زان مکتب اين معنـی بـياد است - چـراغ نقشبندان درجواد است

حضرت شان پنج فرزند داشت بنامهای: محمد طه بدون اولاد وفات نمود ، محمد اسمعيل ، محمد يعقوب ، محمد اسحق و ضيأ احمد که هر چهار برادر با والد بزرگوار شان به حبس کشيده شدند. حضرت محمد اسمعيل مجددي عرف سرهندي درسال ۱۳۲۰ ه درکابل متولد گرديده اکتساب علوم را از حضرت والد بزرگوار خود ومولوي سلطان جان که از علماي چيره دست کشور بود نموده ودر اکثر علوم بهرهء نيک ودر اصول طريقت و فروع شريعت نظري نافذ داشت ...... ، و سه فرزند دارد بنامهای احمد امين مجددی، فضل محمود مجددی وابوبکر مجددي .

حضرت احمد امين مجددي نيزهمراه باوالد و جد بزرگوارش درحاليکه ۱۱ سال از عمر شان ميگذشت به حبس کشانيده شد ولی نسبت صغر سن ومرضيکه عايدحالش بود پس از هشت ماه زندان باتوکل به خدای بزرگ رهاگرديد .

ايشان جوان بافهم وفراست وخوش خلق بوده و سرپرستي مريدان و

www.abulhasanalinadwi.org

اخلاصمندان پدری خودرا در دیار هجرت " پاکستان " مینماید ویک فرزند دارد بنام محمد عدنان مجددي . محمد اسحق مجددي فرزند دوم حضرت ضیاء المشایخ صاحب ؛ یک فرزند دارد بنام محمد شفیق مجددي . محمدیعقوب مجددي فرزند سوم حضرت ضیاء المشائخ صاحب. یک فرزند دارد بنام محمد جمیل مجددي. ضیاء احمد مجددي فرزند چهارم حضرت ضیاء المشائخ صاحب دارای احساس عالي اسلامي وجوان مبارزه ، بیدار وهوشیار بوده یک فرزند بنام سمیع الله مجددي .

دحضرت خواجه محمد اسماعیل مجددي(قدس سره)علمي اوروحاني روزنه د دغې لویې کورنۍ دعلم اومعرفت، مهرباني او عطوفت په لویه غیره کې شوې وه ، دی مبارک د ډیر اسلامي درد او ژور احساس خاوند و؛ داخبره هغه وخت پوره ډاګیزه شوه چې جناب والد او مرشد صاحب یې دی دخان په ځای د نورالمدارس سرپرست "رئیس" وټاکه، داهغه وخت و چې په هیوادکې دکمونستي پلیت فکر اوعقیدې نیالګي رالوی شوي وو ، دظاهرشاه د ۱۳۴۳ هـ ل ــ کال د دیمکراسی قانون راوتلی و، دغو خرڅ شویو خوانانو خرمستي پیل کړې وه، او الحاد ته یې برالا تبلیغ اوبلنه کوله، دهغه مهال د شوروي اتحاد زور اوپیسې یې دواړه ترشا وې، داوخت دحضراتو کرامو جنابانو اود اسلام په درد نورو دردمنو ته غرونه غرونه ستونزې اومشکلات رامخې ته شول .

جناب حضرت خواجه محمد اسماعیل (قدس سره)دغه وخت د نورالمدارس په انګړ کې د ۱۳۴۵ هـ ل ــ کال د لړم " عقرب " په پنځمه نیټه د "خدام الفرقان"دتاسیس ډېره کیښوده ،[1]خوددغه کارلپاره یې چې ذهینیتونه تیارول ډیرې اوښکې یې تویې کړې اوډیرې چیغې یې ووهلې هم دوی جناب د اسلام لپاره ژور درد او احساس وخلیده، دکارکولو لاره په هغه وخت کې داسې وټاکله شوه چې ټول محصلین او فارغان به د

(۱) دغه نیټه په " تسلسل تجدید " کتاب کې غلطه ښوولې شوې ده . ، ځکه چې زه هلته د دنورو محصلینو په پرتله دوی ته تریوه ځه حده نږدې او د اعتماد وړ بللم اویه ټولو جریاناتو خبر وم .

www.abulhasanalinadwi.org

عامې رخصتۍ په وخت کې د لرم د میاشتې له نیمایې نه دپسرلې د وري " حمل " تر میاشتې پورې د ورو کروپونو په بنه پخپله سیمه کې دهر کلي او بنارجوماتونو ته ورځي اوخلک به دکمونیزم په کفر او مرتدوالي اونورو فسادونو خبروي اوله چانه به هېڅ نغدي اومالي مرسته نه اخلي ، دغه کار له هماغې میاشتې څخه د هیواد په زیاتو ولایتونوکې په بنه درز سره پیل شو، دهیوادمسلمانان دکمونستانوپه کفر اونوور قبائحو خبر شول اود کمونستانو فعالیت په هغو سیموکې له ځنډ او ځنډ سره مخ شو اوله " خدام الفرقان " سره یې دسختې دښمنۍ تکل وکړ.

په ۱۳۴۸ه ل ــ کال کې زماله فراغت نه وروسته یې هم دوام درلود، د۱۳۴۸ه ل ــ

کال په وروستیوکې دیوه مرکزي نشراتي ارګان ( ندای حق ) د پیل کولو اوخپرولو پریکړه وشوه چې د امتیاز خاوند یې مولویصاحب عبدالستار صدیقي او مسئول چلونکی یې زه ونومول شوم. له دغه وخته ددغه کار په منډو ترړو کې له تدریس او کورنۍ ژوند نه بې برخې شوم. حکومت هم دجریدې دچلولواجازه نه راکوله. په دې ترخ کې (۱۳۴۹ ه ل ) دپل خشتي جوما ت پرله پسې ځلوینت ورځې دعلماوو کرامو مظاهرو شاهد و ، مظاهرې لومړی د کابل په شاوخواکې دهغه کاریکاتور له امله پیل شوې چې د اصلاح په دولتي ورځپانه کې خپور شوی و هغلته یوسړی په عربي لباس کې رسم شوی و او نه ( ۹ ) پټې مخې میرمنې دیو هوټل مخې ته ورپسې ولاړې وې ، دغه رسم شوی سړی ګواکې دخان او ورسره میرمنو لپاره دشپې تیرولو خونه غوښتله خود هوټل د څښتن له خولې لیکل شوي و. چې مونږ په هوټل کې داسې خونه نه لرو چې یو سړی او نه تنه میرمنې پکې ځای شي

www.abulhasanalinadwi.org

دا خبره مسلمانانو دشان رسالت ﷺ په هکله توهین وګڼله په لومړي سرکې مظاهرې د کابل له شاوخوانه دښار پل خشتي جومات ته رانوتلې ورپسې د نږدوو ولایتونو علمای کرام او مسلمانان په ګڼ شمیر کې کابل ته راغلل اودپل خشتي جومات ټول ډک شو، دکابل دښارمسلمانانو به هره ورځ په پنډو پنډو پخه ډوډۍ جومات ته راوړله اوله ښار نه بهر د څلور خواوو مسلمانانو ان ترلرې ولسوالیو پورې به یې پخه ډوډۍ او پریمانه شرومبې په موټرو کې رارسولې چې له دوه زرو زیاتو کسانو به دوه درې وخته خوړله اولا به امبار پرته وه، دپل خشتي په دوم پوړکې دغه امبارونه زما اوس هم په زړه دي چې څه کم څلویښت کاله یې کیږي، دهیواد په غیرتمنو مسلمانانودې افرین وي چې بیا یې دطالبانو دتحریک په پیل کې همدغسې پریمانه پخه ډوډۍ اوکتغ په موټرو کې پسې وړل اود کورونو پاکې بسترې یې پسې ور رسولې او بیرته یې کورونو ته نه وړې . جزاهم الله تعالی خیرالجزاء .

دپل خشتي په جومات کې به ټوله ورځ تقریرونه کیدل، بد رد او لمسونکې خبرې پکې نه وې ،د منبر واکمن جناب شهید مولویصاحب رحمت الله (۱) و اوهیڅوک یې ترخو او لمسوونکوخبرو ته نه پریښودل، داددې لپاره چې څوک بیاداسې ګومان ونکړي چې د ظاهرشاه دولت به ددوی په ضد په خپله د مظاهري علماوو کرامو رالمسولی وي ، بلکې ظاهرشاه اودولت یې له دغه ګڼ پاڅون، دمسلمانانوله کلک ملاتړ، خوراک رارسولو، دجګ پوړودولتي فوځي، نورووا کمنودمظاهري په غونډو اوتقریرونو کې له ګډون نه سخت وارخطا او په ویره کې و .

---

(۱) شهید مولویصاحب چې دلوګر دولایت و ، ډیر هوښیار، صوفي او دینداره شخصیت و دی هم د غمرګولي " جوزا" دڅلورمې شپې د پولیسو دیرغل په وخت ونیول شو اودعلماء کرامو په ډله کې و چې بیاتر ۷ ــ ۸ میاشتو پورې بندي و، بیاد ترکي له کودتا وروسته د کندز په ولایت کې و اوهلته یې عملي جهاد ته ملا وتړله چې بیاد ژمي د واورو په یوه ساړه مازدیګر له دښمن سره په مخامخ جګړه کې له خپلو ملګرو سره شهید شو رحمه الله تعالی .

www.abulhasanalinadwi.org

د مظاهرې ګډون کوونکودظاهرشاه له دولت نه دکاریکاتور جوړونکي اود اطلاعاتو اوکلتور وزیرمحاکمه اوسزاغوښتله، ورسره یې دکمونستانو برالا فعالیتونه اودهغو ددوو اونیزو (خلق او پرچم) بندول هم غوښتل چې کمونستي عقیده یې خپروله او نورې هم زیاتې ناروا وې رامنځ ته شوې وې چې د ظاهرشاه له دولت نه یې د مخ نیوې غوښتنه کوله، دتقریرونو فضا ډیره مسالمت امیزه وه او فوځي صاحب منصبانو به هم ګډون پکې کاوه، خود ظاهرشاه دولت بې له دې چې د مسلمانانو دزړه زخمونه مرهم اوپټي کړې هره ورځ به یې په جومات کې د مظاهرې د تیتولو اعلانونه د تهدید په لهجه کول. په دغه وخت کې جناب حضرت ضیاء المشائخ صاحب (قدس سره) د خپل لمسي امین جان اغا دعلاج لپاره له هیواد نه بهر تشریف وړی و او جناب حضرت محمد اسمعیل جان اغا ظاهرشاه ته دعلماوو کرامو ډلې په وار وار ورلیږلې خوهغه به سره له دې چې سخت وارخطاهم و په تهدید امیزه اوترخه لهجه ځواب رالیږه، پایله داشوه چې مظاهرې له خلویښت ورځې غوښتنو سره سره هیڅ لاس ته رانه وړل اود ۱۳۴۹ هـ ل ـ کال د" غبرګولي" جوزا په څلرمه شپه د ظاهرشاه امنیتي پولیسو په جومات چپاو ور ووړ ، علمای کرام یې په وهلو ټکولو اوتوهین سره له جومات نه وایستل، په جومات کې خوړند مبارک ایتونه، کلمه طیبه، کلمه شهادت اونوریې له دیوالونو راوشکول او ترپښو یې لاندې کړل، څوک یې بندیان اوځوک یې په سرویسونو کې یوپه بل امبار کړل اونږدې ولایتونو ته یې واستول، په دې ترڅ کې دچا پیزار ، دچاپټکی، دچا څادر او د چاکالي پاتې وو، خینې کسان یې دخپل ولایت په ځای بل ولایت ته رسولي وو، له هغه وروسته بیاپه ځینو ولایتونوکې په تیره بیاد زرمت دولسوالۍ په کلیوکې له یوې بلې میاشتې نه زیاته موده مظاهرو دوام درلود، دکمونستانو پټ نیتونه رالوڅ او مسلمانان ورباندې وپوهول شول په دغه کارکې د"خدام الفرقان"علماووکراموبنیادي برخه درلوده.

دا وې په اسلام اومسلمانانو دظاهرشاه ملنډې، ده په لوی لاس د کمونیزم په وړاندې دهیواد دروازه په دواړو پلو خلاصوله چې په پایله کې یې دده څلویښت کلنه شاهي لومړنۍ قرباني شوه .

www.abulhasanalinadwi.org

له مظاهرو وروسته چې د کور دخرڅ تنکسیااو ستونزې زیاتې وې ماد نفقې پیدا کولو لپاره یوې اوبلې خواته منډې ترړې وهلې اوهم د "ندای حق" دخپرولو د اجازې په انتظار کې وم ایله بیله د۱۳۵۰ ﻫ ل ــ کال د وږي"سنبله"په میاشت کې چې دډاکتر ظاهرحکومت و، دجناب سرهندي اغا ( خواجه محمد اسمعیل جان اغا ) دغیر مستقیمو هلو ځلو له برکته د " ندای حق " د خپرولو اجازه اعلان شوه اود ۱۳۵۰ ﻫ ل ــ کال د وږي په میاشت کې لومړۍ ګڼه له چاپه راووتله دغه کارله بې شمیره مالي ستونزو اود لیکوالانوله کمښت سره سره د ۱۳۵۲ ﻫ ل ــ کال د چنګاښ " سرطان " تر ۲٦ مې پورې دوام وکړ له دغې نیټې سره سمه د داوودخان کودتا وشوه " ندای حق" اوډیرې ازادې نشریې بندې شوې ځکه چې کمونستانو، روسانو د داوودخان په کودتاکې لوی لاس و، غټو کمونستانو ډیرحساس او کلیدي پوستونه " چوکۍ ګانې " اشغال کړې وې ، د داود خان په ۴ کلنه دوره کې یې د ۱۳۵۷ ﻫ ل ــ کال دغوایې "ثور" دکودتا تروخته له خپلې خوښې اوکړنلارې سره سم ساتلي وو.

دداودخان له کودتاسره سم کمونستان غښتلې اونورهم سپین سترګې شوي وو، د خدام الفرقان په غړواوټولوعلماووکراماوا مسلمانانو یې سترګې وربرګې کړې، د داود خان دکودتاد لمانځلوپه یوه غونډه کې چې دزرمت ولسوالۍ د لیسې په انګړ کې جوړه شوې وه ؛ زه او شهید مولویصاحب نصرالله " منصور " رحمه الله " هم دسیمې د مخورو په توګه ورغلې وو، زمونږ دکلې یوه کمونست (لالک) په خپل تقریرکې مونږ ته په اشاره سره ووېل ( دتورې ارتجاع مزدوران دلته هم دځان ځای لټوي ..) مونږ دغه خبره برالا دخطرزنګ وګڼله اوځانونه مو له خپلې سیمې څخه ګوښه کړل، زه د کندز ولایت ته ولاړم او هلته مې یو ځای اوبل ځای امامت کاوه او خوله مې له سیاسې پلوه چوپه نیولې وه، او شهید منصور صاحب رحمه الله یوځه وخت د شاهي کوټ په کلي کې تدریس وکړ اوبیا میرانشاه ته مهاجر شو. د داودخان له کودتا وروسته یو وخت دحضراتو کرامو "رحمهم الله تعالی " دلیدلو او زیارت لپاره کابل ته غلی ولاړم، جناب سرهندي اغا(قدس سره) دخبرو په ترڅ کې رانه وپوښتل: ( ... څه حال دی ؟ ماووېل

www.abulhasanalinadwi.org

خیریت دی . دوی وفرمایل خیر به بیا و نه وینې تول واک د کمونستانو په لاس کې کیوتلی دی، اوخبره هم هغسې شوه چې دوی "رحمه الله " فرمایلي و.

د ۱۳۵٦ هـ ل ـ کال په پای کې په ماپسې له زرمت نه د " کندز " " کنم " کلې ته د زرمت د ګل دادخیلو د قام استازي راغلل اودجناب حضرت ضیاء المشائخ صاحب "رحمه الله تعالی" لیک هم ورسره و، ماته یې لیکلي و چې : (... له دغو کسانوسره د تدریس لپاره زرمت ته ولاړ شه ... ) دغه وخت د داود خان وروستنی میاشتې وې اوحکومت یې علماوو کراموته ډیر لاس نه اچاوه، له دې نه یوڅه پخوا دی دخان په خپلو سیاسي تیروتنو پوهیدلی و چې: زما واک خو له کمونستانو او شوروي سره دی ، یوې خوا بلي خواته یې اسلامي هیوادونه ته سفرونه کول اوهڅه یې داوه چې له شوروي څخه خان راوشکوي : خو اوبه له ورخه تیرې وې . زه د ۱۳۵٦ هـ ل ـ کال د منې په اخیرکې یومخیزه ګل دادخیلو ته راغلم اوهلته مې تدریس پیل کړ اوتر پسرلي پورې روان و. د ۱۳۵۷ هـ ل ـ کال د غوایې " ثور " په اوومه نیټه دپنجشنبې په ورځ کمونستانو په کابل کې کودتا وکړه اوزه هغه وخت دجناب حضرت صاحب په کرامت اود امر په حکمت لا ښه وپوهیدم چې د هیواد له شمالي پولې څخه یې دهیواد سویل د جهاد د پیل سیمې ته راوستم، کودتاچیانو ! داودخان، میرمن یې " چې دظاهرشاه خور وه " ، ورور یې محمد نعیم خان او دکورنی نور غړي په ارګ کې ووژل، درې ورځې وروسته یې د ترکې په مشری خپل رژیم اعلان کړ.

دکودتا په سبا " دجمعې په ورځ " په کوزو دولت زو " (۱) کې د پیرصاحب په جومات کې د مولود شریف غونډه وه چې د شاوخوا علمای کرام او ګڼ مسلمانان راغلي وو ، په غونډه کې مو د کمونستانو کودتا تشریح کړه اودوی ته مو لاپخواکمونستان سم وریپژندلي وو، په سباموبیادولسوالی خواته غونډه راوبلله اومسلمانان مو ښه وپوهول،

---

(۱) "دولت زي" د زرمت د ولسوالی په حدودو کې راځي چې ډیردینداره اوپه علماوو مین خلک دي.

www.abulhasanalinadwi.org

دریمه ورځ "دثور په ۹ مه" موبیا ولسوالی ته غونډه راوبلله اودولسوالی په جامع جومات کې موغونډې ته ټول حقایق په ډاګه کړل اوپه نیمه نیمه کې مود جهاد فرضیت مسلمانانوته په ډاګه کړ، دا وخت د کودتاچیانو واک ولایتونو او ولسواليو ته وغزیده: نورمو ښکاره غونډې بس کړې اودجهادلپاره مو اړیکې ټینګول پیل کړل، په همدغه اونی کې جناب شهید مولویصاحب نصرالله منصور رحمه الله تعالی اوجناب مولویصاحب جلال الدین حقاني سلمه الله تعالی له میرانشاه نه له مجاهدینو سره د زیږوک غرونو ته رارسیدلي وو اود زیږوک په ولسوالی یې جهادي یرغل پیل کړی وو، په ماپسي یې ځوک راواستول چې له ملګرو سره دزدراڼو "فخریو"ته راشی، مونږ ځوک کسان ورغلو اودجهاد د پیل په نقشه مو خبرونه سره وپوهول، درې څلور ورځې وروسته بیرته زرمت ته راغلو اود مجاهدینو ډله په مونږ پسې پته زرمت ته راغله اوپه ولسوالی باندې یې دجهادي یرغل قومانده په غاړه وه، د غوایي " ثور " په " ۱۸ مه " یا " ۱۹ مه " شپه یې په ولسوالی باندې یې عملیات ترسره کړل اوکمونستان یې سخت وارخطا کړل، دغوایي " ثور " په شلمه ورځ د زرمت له ولسوالی نه دکمونستانو یو تن پیاوړی سړی زما د نیولو لپاره ګل دادخیلو ته راغی او راته یې وویل چې : ( د امنیې قوماندان صیب دې غواړي ) ماچې هرڅومره پلمې او دلایل ورته وویل دی پخپله خبره کلک ولاړ و اوپه زوره دبیولو تکل یې درلود، زه پوهیدم چې که ورسره ولاړشم بیابه مې پایله وژل وي اوتردغې ورځې پورې یې ځنې کسان تري تم کړي هم وو، له کلي نه بهر ورسره ولاړم او اخر دې ته اړ شوم چې دخپلې تمانچې په زور مې تېږې کړ اوزه په رڼاورځ له صحنې څخه ګوښه شوم، الله تعالی ﷻ نجات اوخلاصون راکړ، کورمې له کتابونو او هرڅه سره بې سرپرسته پاتې شو، کمکی اولادونه اووالده مرحومه یې دوه ورځې له دې واقعې نه مخکې د ماماخیلو کره تللي وو اوبیا مونږ اودوی یونیم کال وروسته د زرمت دخلکو دعمومي هجرت په وخت د میرانشاه د"دته خیلو"په دښتوکې سره وموندل، زه په هغه ورځ چې له صحنې څخه ګوښه شوم په شپه کې د سویل غرونو د زدراڼو د"فخریو" سیمې ته ولاړم اوهلته دمجاهدینوله ګروپونو سره یوځای شوم، بیامې نو دلسګونو کلونو په موده کې دغه لوری شو اوخپله سیمه مې ونه لیدله.

www.abulhasanalinadwi.org

دا وه د یوولس کلن یا (پنځه ویشت) کلن جهاد پیل ته په دغه سیمه کې یوه زغلنده کتنه، که څوک زیات معلومات غواړي نوزماد ځانګړي یادښت په پاڼو " کتابچه " کې به یې پیداکړي ، اوس چې زه دغه توري لیکم د ۱۳۸۴ ه ل ــ کال د غوایي "ثور" لومړۍ لسیزه ده، له هغه وخت نه پوره " ۲۷ " کلونه تیر شوي دي اوزه په هیواد د امریکې د تیري له امله دوم هجرت ته اړ شوی له کورنۍسره د " تربیلې " دپاخه سرک په څنډه په یوه کمپ کې اوسیږم.

## د حضرت صاحبانو دکورنۍ وروستی حال

اوس به د جنابانو حضراتوکرامو "رحمهم الله تعالی" په حال ځان خبر کړو چې څه ورپیښ شول ؟ له کودتا سره یوځای ددوی کرامو" رح" مخلصینوله هرې خواڅخه سړي ورواستول چې له قلعه جوادڅخه ځانونه اوکورنۍ په یوه حکمت سره وباسي، خو ددوی کرامو" رح" خواب داوو چې:(مونږ ایسار اودکودتاچیانو ترکلکې څارنې لاندې یو، دتیریدوپه احتمالې لاروکې یې پوستې جوړې کړي او ټانکونه یې ځای‌په ځای‌کړي دي ) حالت ریښتیا هم داسې و څکه کمونستانو له پخوا نه علمای کرام او مشایخ کرام دخپلوکفري تګلارو لومړۍ درجه،اونور مسلمانان یې دومه او دریمه درجه دښمنان بلل.

دکودتا له لومړۍ ورځې نه یې نیول پیل کړي وو اوترڅو چې په واک کې پاتې وو دغه یې کار وو، دهیوادڅومره مسلمانان چې دوی‌دخپل واک په موده کې نیولي او تري تم کړي دي شمیر به یې لکونو ته رسیږي، دحضراتوکرامو " رح" په ایساریدلو ټول مخلصین له کچې پورته خپه وو، ددوی‌کرامو له روحاني فراست اوددوی دخبري منابعو دشتون په بنسټ ددوی مخلصینو ګیلې اوپردو خلکو نیوکې کولې او سوال داو چې دوی ته به هرومرو له کودتاچیانو څخه لا پخوا پوره معلومات شوی وي نوبیاولې له ایساریدلو نه مخکې ونه وتل؟ د دوی‌کرامو" رح" له نیول کیدو وروسته په دغه خبره

www.abulhasanalinadwi.org

هم دجهاد په کلونو کې او هم له هغه را وروسته ډول ډول بحثونه کيدل چې ځينې يې بې خونده او نامناسبه وو.

اصلي خبره داده چې ددغې لويې کورنۍ بزرګان د( امام مجدد قدس سره اولاده ) داسې معمولي خلک نه دي لکه ځيني خلک يې چې فکرکوي بلکې په الله تعالی ﷻ، دهغه په رسول ﷺ اودهغه په پاک دين " اسلام " باندې مين خلک دي اوله الله تعالی ﷻ سره دډېرمحبت اومينې اودهغهﷻ د لقاء اوديدار د تلوسې له سوخته مونږ ددوی هغه چيغې، ژړاګانې، سوز اوګداز په هغو دعاګانو کې اوريدلی او ليدلی دی چې له ختمونو څخه وروسته به يې د دعا لاسونه دالله تعالی ﷻ دربار ته پورته کړي وو او اکثرو حاضرينو به هم ورسره ژړل. پخپله جناب حضرت ضياء المشائخ صاحب (قدس سره) په سنت او شريعت کلک ولاړ و، هغه شروط، صفات اوکمالات چې دنقشبنديې مبارکې طريقې ديوه کامل او مکمل مرشد لپاره ورته اړتيا وي؛ دوی جناب علما اوعملا هغه ټول د خپل بزرګ پلار اومرشداوخپلوبزرګانو نيکونو په شان(قدس الله تعالی اسرارهم العاليه) درلودل، دالله تعالی ﷻ دذکر رينتونی طالب به يې چې کله په طريقه شريفه کې داخل او مشرف کړ اودلومړی لطيفې" قلب" ځای به يې وروښود سملاسي به يې دالله تعالیﷻپاک نوم په زړه کې جاري شو، همدغه رنګه به يې پورته لطايف( روح، سر، خفي ، اخفی اونفسي ) کې په خپل وخت کې په توجه سره د الله تعالی ﷻ پاک نوم جاري کيده او دذکر رينتوني طالبان به يې کمال ته رسول ، ددوی جناب " رح " خلفاوو کرامو " رحمهم الله تعالی " پوره کمال، تاثير او تصرف درلود چې هغوی هم په سلګونو مسلمانان په طريقه شريفه کې وروزل اودا ددوی جناب ( قدس سره) دکمال اوتکميل ښکاره ثبوت دی، عجيبه لاداده چې اوس اوس هم ددوی جنابانو " رح " رابطه شريفه له ساليکينو سره پوره مرسته کوي.

دغسې بزرګانو قدس سرهم چې کله داسلام بيړی په ډوبيدلو وليدله نودا غميزه يې په هيڅ بيه نشوای زغملای که څه هم په دغه لاره کې يې سر او مال ولاړ شي؛ نو په داسې يوه حالت کې دمسلمان په وړاندې جوته اود رڼا لاره يواځې د شرعي جهاد لاره

www.abulhasanalinadwi.org

بلله او بس چې پایله به یې یا برى اويا شهادت وي. څکه خو دوى جنابانو " رح" د جهاد هغه لاره غوره کړې وه چې بري ته لنډه ښکاریده که څه هم خطرناکه وه هغه داچې دافغان فوځ په منځ کې یې تکړه اومخلص ډیرمنصبداران لرل چې یوه چټک او منظم پاڅون ته چمتو وو ، دغه کارددوی جنابانو په خپل ځای موجودیت او ژر ژرلاربنوونې ته اړتیا لرله، نو څکه جناب حضرت صاحب(قدس سره)په هغه وخت کې ددوی‌یوه مخلص جناب الحاج مولویصاحب محمدنادرخان(قدس سره ) ته چې د " میا دادخیلو " په مولویصاحب یادیده ؛ ویلي وچې که مونږ او تاسې ټول بهر ته ولاړ شو نو په هیواد کې مسلمانان چاته پریږدو؟ دوی‌کرامو "رح"په دغه جهادي پروګرام باندې دکودتا له وخته ان تر ژمي پورې کار کاوه که څه هم هغه وخت تردوی لاندې زمکه له تبې نه هم سره " توده" وه خودوی مبارکان "رح" د اسلام دډیوې پتګان او په جهاد اوشهادت مین بزرګان وو اودالله تعالیﷻد دیدار په مینه اوتلوسه کې یې ډیر ژړلي وو نو څکه په هغه سره تبې باندې د مطلب یعنې برى یاشهادت تروخته پورې په پوره متانت، ثبات، عزم ، وقار او توکل سره مستقیم او کلک ودریدل. ( اکـرمهم الله تـعالى و شـرفهم وقـدس اسرارهم العاليه واياناً معهم برحمته ومنه) .

په دغه وخت کې په وار وار پاڅون چمتو اود اقدام په وخت کې افشا شو پایله داشوه چې دوى جنابان له ټولوخپلوانو او مخلصینو سره اوټول مجاهد اومخلص منصبداران دالله تعالیﷻ په قضاء اوتقدير دجمعې په شپه دجمادي الاول په ٢٦ مه ١٣٩٩ھ ق چې د١٣٥٧ دمرغومي (جدي) له ٢٧ مې سره برابره ده د بې رحمه دښمن په لاس کیوتل، او الله تعالی ﷻ دوى ټولو ته د شرف اوسرلوړى لاره ( شهادت في سبيل الله ) غوره کړې وه( رحمهم الله تعالى) مونږ دالله تعالى ﷻ په قضاء د مسلمان رضا دایمان غوښتنه بلکې دایمان برخه ګڼو ( « انا لله وانا اليه راجعون » .

مولوي رحیم الله زرمتي

١٣٨٣ لمریز کال دغوايي اوومه

www.abulhasanalinadwi.org